**د کتاب معرفي**

د کتاب نوم: پیغام(خلورم ټوک)

لیکوال: زبیر افغان

د نشر کال: ۲۰۲۲م

د کتاب ټول حقوق له **پېروز د دیني مطالعاتو او څېړنو بنسټ** سره خوندي دي.

**پېروز د دیني مطالعاتو او څېړنو بنسټ**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست

اول پاک خواږه بیا نیک اعمال ........................................... ۷

ایمان او د صالحو اعمالو پایله ......................................... ۱۱

حجاب د اختلاف او اتفاق ترمنځ....................................... ۱۶

د بتانو ماتول، د جهالت پر ناسمه مفکوره وروستی گوزار ........... ۳۷

د تقدیر په اړه لنډ وضاحت............................................. ۳۹

د خرافات ختمونې له وسیلې یې ببرته د پنځونې هڅې............... ۴۳

د رؤیت هلال(میاشتې لیدلو) ستونزه .................................... ۵۳

د هدایت تر لاسه کولو وړ او ناوړ افراد/قومونه ....................... ٦٦

دین د نفرت په دام کې ................................................... ٦۹

دیني تعبیر د ارتجاع او تجدد ترمنځ .................................... ۷۹

زموږ په دیني تعبیر کې د عقلانیت خلا .................................. ۸۹

زموږ ماضي او حال؛ د عزت له مناره د ذلت تر کندې ............... ۹٦

طالبانو ته اخطار ............................................................ ۱۰۵

گڼ ودونه(تعدد زوجات)................................................... ۱۱٦

مقدس متن نامقدس تفسیرونه.............................................. ۱۲۷

د یهودو غندل شوي اعمال او زموږ ټولنه ............................. ۱۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعقل، تفکر او تدبر په قران کې ........................................ ۱۵۶
ايا په اسلام کې مذهبونه يوه اړتيا ده؟ .................................... ۱۷۸
اساسي او فرعي قوانين ................................................ ۱۸٤
د علم کتاب د بې علمو په لاس کې ..................................... ۱۹۱
عبادات او له ژوند سره يې تړاو.......................................... ۱۹۷
فقه که قانون ........................................................... ۲۰۲
دين او ساينس.......................................................... ۲۱۱
پر ديني سرچينو زياتونې او ترې کمونې................................... ۲۱۹
د دوو بنو د رضاعي اولاد نکاح ......................................... ۲۳۱
پرون او نن د مرېيتوب بنې ............................................. ۲۳٤
ايا د دوو ښځو شاهدي له يوه نر سره برابره ده؟ .......................... ۲٤۲
په ميراث کې د لمسي حق ............................................. ۲٤٦
په مصنوعي ډول اولاد پيدا کول........................................... ۲٦٦
استقلال او اشغال ...................................................... ۲۸۰
د رؤيت هلال (مياشتې ليدلو) ستونزه .................................. ۲۸٤
په دولتي محکمو کې د نکاح راجستړول (ثبتول) ........................ ۲۹۷
د انسان د بدني غړو پيوندکاري ....................................... ۳۰٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما حقیقت او ستا حقیقت ........................................... ۳۱۸
هم ملت او هم امت؛ توازن يې څنګه ساتلای شو؟ ................. ۳۲٤
د جنس بدلول ........................................................... ۳۲۹
مراجع ................................................................. ۳۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اول پاک خواړه بیا نیک اعمال

}يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ { [المؤمنون: ۵۱[

اې رسولانو! پاکیزه خواړه خورئ او صالح اعمال کوئ، زه ستاسو پر اعمالو علم لرم.

په دې ایت کې تر صالح عمل وړاندې د پاکو خوړو یادونه شوې ده او بیا د امر رسولانو ته شوی دی، د رسول عمل تر هغو د قبول وړ نه دی، څو په دغه حکم عمل ونه شي. که د رسول د عمل لپاره دا شرط وي نو ایا امتیان ترې مستثنا دي؟ په هیڅ صورت نه، حتمن به دغه معیار پوره کوي، یوازې اودس کول د لمانځه لپاره بس نه دی، نه یوازې د جامې پاکي د لمانځه د صحت لپاره کفایت کوي، که په بولو لړلې جامه باندې لمونځ نه کېږي، نو په مردار مال تغذیه شوي بدن باندې هم لمونځ نه کېږي، که د لمانځه لپاره د جای نماز پاکي لازمي ده، نو د ځمکې پاکي هم ورته اړینه ده چې نه به دې له چا غصب کړې وي، نه به دې په چلول او دوکه څنې اخیستې وي، نه به دې د خور، لور او نورو خپلوانو له حقه راګرځولې وي، دا ډېره جالبه ده چې زموږ خلک کوچنی جای نماز پاک غواړي خو دومره لویه ځمکه بیا که د هر چا له حقه راګرځول شوې وي، پروا نه په کوي، یو څاڅکی بولې پر جامه نه ایله کوي، خو که یې ټول بدن په حرام مال تغذیه شوي وي، بیا باک نه په کوي. په یوه حدیث کې راغلي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا، وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ، فَقَالَ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



{يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا، إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ} [المؤمنون: ٥١] وَقَالَ: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} [البقرة: ١٧٢] ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟ "(١)

له ابو هريره رض روایت دی چې رسول الله ص ويل: الله پاک دی یوازې پاک شی قبلوي، الله مسلمانان په هغه څه امر کړي دي چې رسولان يې په امر کړي: اې رسولانو! پاک خواړه خورئ او نیک اعمال کوئ، زه ستاسو پر اعمالو علم لرم، او ده ويل: اې مومنانو! له هغه پاک رزق څخه خوراک کوئ چې موږ په روزي در کړي. بيا يې يو کس ذکر کړ چې له اوږده سفره يې ويښتان ببر او بدن خيرن وي، لاسونه اسمان ته پورته کړي، په دعا کې وايي: اې زما پالونکې! اې زما پالونکې! د هغه خوراک حرام وي، څښاک يې له حرامو وي، جامه يې په حرامو وي او په حرامو تغذيه شوی وي؛ نو څنګه به يې دعا قبوله شي؟!

د دې حدیث په رڼا کې د خپلې ټولنې دينکارانو ته وګورئ، زياتره زموږ ډېر لمونځ کوونکي تر غاړې په ناسمو معاملاتو کې ډوب وي، دوی فکر کوي چې لمونځ کوم، نور به نو خدای له ما څه غواړي؟ تر لمانځه وروسته تسبيح وايم، روژه چې راشي، نيسم يې، که زياتې پيسې وګټم حج و عمره په کوم، له کور سره يو جومات په جوړ کړم، دغه دين شو، نو ولې موږ دعا نه قبلېږي؟ ولې ورځ تر بلې بدې ورځې پر موږ را رواني دي؟ زموږ د عمل کوم ځای ناسم دی چې بدې پايلې يې موږ زغمو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ خلک په دې نه پوهېږي چې له کومو قراني الفاظو چې موږ یوازې د لمانځه معنا اخلو، هغه جمله د مفهوم له مخې تر دې ډېره پراخه ده، هغه ټوله ټولنه د ټول وخت لپاره رانغاړي، هدف یې د الهي قوانینو په وړاندې تسلیمي ده، لمونځ یې عملي بېلگه ده چې څوک عملن دغه کار د یوه تمرین په شکل وکړي، خو که یوڅوک لمونځ کوي، اما په نور ژوند کې د همدې خدای احکام نه عملي کوي، نو لمونځ یې هم بې گټې دی.

روژه له حلال مال څخه د خدای د امر له امله بندېدل نه دي، بلکې دا عملي تمرین دی، څو د خدای په امر له حرامو مالونو څخه د بندېدا عملي تمرین په وشي، خو که څوک له روژې سره حرام خوري، روژماتی او پېشلمی یې په حرامو وي، نو بیا روژه هیڅ معنا نه لري، حج او عمره هغه وخت ښه دي چې د خدای پر ټاکلې لار انسان تر هغه ځایه ولاړ شي، نه دا چې په غلطو لارو تر لاسه شوی مال انسان حج ته ورسوي یا عمر په وکړي، دا نه یوازې د گټې سبب نه کېږي، بلکې د نور وبال سبب دی.

په لمانځه او حج مغرور شوي خلک دې لومړی دې ته وگوري چې گټه یې له کومه ځایه ده؟ معاملات یې څنگه دي؟ د خلکو حقوق یې ور کړي دي که نه؟ زما د شخصي تجربې له مخې زیاتره همدا ډېرو حجونو او لمنځونو والا په کور کې بد اخلاقه، معاملاتو کې سره گډوډ، له حرامو لارو د مال گټونکي، خپلو قریبانو ته حق نه ور کوونکي او ډېر تونده خویه خلک وي، وړه استثنا حتمن لري، مگر اکثریت یې زموږ د ټولنې دغه وږ کسان دي، نو دا لمونځ څه فایده؟ په روژه کې هر مازیگر زموږ بازارونو کې جنگونه وي، کنځل وي، یو د بل ښځې کنځل کېږي، که وس یې ورسېږي، هر عمل ورسره کوي، پر سودا شل قسمه درته کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمزوری شی د ښه شي په نوم در کوي، دا نو روژه شوه؟ تر دې روژې خو چې يې نه وي نيولې ښه ده، ځکه اعصاب به يې پر ځای وي، دوی هسې هم د روژې هدف نه پوره کوي، خدای ستا لوږه، تنده او د شپې بې خوبي څه کوي؟ د هغه هدف دادی چې ته په ټولنه کې داسې ژوند وکړې څو خلک له تا ډار ونه لري، د خلکو مالونه ونه لوټې، د يو څو ورځو لپاره عملي تمرين درباندې کوي چې که د خدای په امر حلال خواړه نه خورې، نو حرام به هم د دې خدای په امر نه خورې، او که موږ حلال د روژې په نامه ايله کوو، خو حرام بيا په همدې روژه کې ګټو څو ماښام روژه په ماته کړو، نو دا زموږ د عمل و عقيدې، د نيت او کردار پاراډوکس نه ښيي؟ خدای منافقانه عمل ته اړتيا نه لري، نه عمل خدای ته ګټه رسوي، عمل د انساني ټولنې د حفاظت لپاره لازم شوی دی نه خدای ته د ګټې رسولو په پار.

۲۰۲۲/اګست/۲۳

**سرچينه:**

۱)(مسلم، کتاب الزکاة، باب قبول الصدقة من الکسب الطيب وتربيتها، ح: ۱۰۱۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایمان او د صالحو اعمالو پایله

په قرن کریم کې ژمنه شوې ده چې که تاسو ایمان راوړئ او صالح اعمال وکړئ، نو د ځمکې او اسمان برکتونه به مو په برخه شي، یا به په ځمکه کې واک در کړل شي، نو اوس زموږ خلکو ته شکونه پیدا دي چې موږ ایمان هم لرو، او نیک اعمال هم کوو، ولې هغه ژمنه له موږ سره نه تر سره کېږي؟

لومړی به د قران کریم دغه ایاتونه راوړم، بیا به وروسته تبصره پر وکړم:

{وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ} [الأعراف: ۹۶]

ژباړه: او که د ښارونو خلکو ایمان راوړی وای او تقوا یې کړې وای، موږ به د اسمان او ځمکې برکتونه ور کړي وای.

{ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ} [النور: ۵۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الله ستاسو له هغو کسانو سره چې ایمان راوړي او صالح اعمال وکړي، ژمنه کړې ده چې په ځمکه کې به د پخوانو مومنانو په شان واک ور کوي، هغه دین چې ده ورته خوښ کړی، هغه ته به ځای ور کوي او تر ډار وروسته به یې حالت په امن بدلوي، دوی به زما احکام مني، له ما سره یوځای به د بل د احکامو منونکي نه وي، که چا له دې انکار وکړ، هغوی فاسقان دي.

{وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} [آل عمران: ۱۳۹]

ژباړه: که تاسو مومنان وئ، نو تاسو به برلاسي یئ.

دغه ډول ایاتونه د دې سبب دي چې خلك نیوکې وکړي، دوی فکر کوي چې قران کریم کړې وعده اوس له دوی سره نه پوره کېږي، نو العیاذ بالله قران هسې خبرې کړې دي او که زموږ په اعمل کې ستونزه ده؟

قران کریم د الله کتاب دی او الله تعالی بې ځایه ژمنې نه کوي او نه له وعدو مخالفت، مګر ستونزه هم زموږ په فهم کې ده او هم مو په عمل کې.

قران کریم موږ ته دا خبره کړې ده چې تاسو به د خپلې بریال لپاره په ذهني توګه چمتو یئ، سل سلنه به مو د برلاسی ایمان وي ځکه د الله قانون درسره دی، له هغه څخه د الهام په اخیستو د فطرت له قوانینو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هماهنگۍ عمل کوئ چې بريا يې حتمي پايله ده؛ خو له دې سره به تقوا او صالح اعمال کوئ، تقوا يا صالح اعمال چيش دي؟

مورږ تقوا په ډار يا پرهېز ګاري ترجمه کړې ده او صالح اعمال مو تر لمونځ، روژې، حج او د قران کريم تر ختمونو محدود کړي دي، له دې امله هغه اعمال چې قران کريم يې له مورږ غوښتنه کوي، مورږ نه دي ترسره کړي چې نتيجه يې هم زمورږ په وړاندې ده.

تقوا او صالح اعمال د خدای د احکامو رعايت، ور باندې عمل، له هغو هداياتو سره هماهنګه کار و کردار، دا لمونځ او دې ته ورته اعمال يوازې نښې دي د هغو اعمالو چې يو مومن يې په خپل ټول ژوند کې عملي کوي، لمونځ او دې ته ورته عبادات يوازې نيک اعمال نه دي، قران کريم تر لمانځه مخکې د الله تعالی حاکميت ياد کړی دی، بيا يې له انسانانو سره ښه رويه ياده کړې، بيا يې په کايناتو کې غور و فکر ياد کړی، د لمانځه او دې ته ورته عباداتو درجه وروسته راغلې ده، يو څوک د زړه له اخلاصه پر الله ايمان ولري، نو هغه يوازې په جومات کې د خدای لپاره رکوع او سجده نه کوي، بلکې ټوله ورځ او ټول ژوند يې د قوانينو په وړاندې دغسې سرټيټوي لکه په جومات کې د لمانځه مهال.

سمه ده يو چا ټول وخت د الهي قوانينو رعايت وکړ، نو د اسمان او ځمکې برکات څنګه تر لاسه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قران کریم انسان ته ویلي دي چې اسمان او ځمکه درته مسخر دي، تاسو د خپلو وړتیاو په کارولو له دې نړۍ څخه ګټه اخیستای شئ، انسان ته یې ویلي چې اسمان ته ختل او ځمکې ته ننوتل یوازې یوه قووت ته اړتیا لري(الرحمن: ۳۳)، انسان ته الله تعالی وایي چې موږ د فکر، تصور، خیال، ژبې، کار، تعمیر او تخریب وړتیا ور کړې ده(البقره: ۳۱)، قران کریم هغه فکر ته رابللی، د علم یادونه یې ورته کړې، د کایناتو په اړه یې دا ورته ویلي چې هغوی تر قوانینو لاندې دي، تاسو ورڅخه ګټه اخیستای شئ، په انساني ټولنه کې یې ظلم منعه کړ، له یو بل سره د همدردۍ امر یې وکړ، د عدالت او احسان امر یې وکړ، بشریت یې ټول د احترام وړ وباله(الاسراء: ۷۰)، بشریت ته د قوم، ملت، ژبې، مذهب، ډلې، ګوند، رنګ او بل هر شي چوکاټونه یې لغوه کړل، انساني غلامۍ ته یې پای ور کړ او د خدای د قانون له مخې یې هغه انسانان درانه وبلل چې خپل ور سپارلی کار په پوره وي(الحجرات: ۱۳)، که د قران کریم په ایاتونو کې دا ټول فکر وشي، دغسې عملي شي، دغه مفاهیم یې را برسېره شي، انسان هم تر خپل منځ د یوه کور د غړو په شان ژوند وکړي او هم د کایناتو په اړه هغه ډول عمل وکړي چې قران کریم ورته هڅولي دي، نو به یوه جنتي ټولنه جوړه شي، د اسمان او ځمکې برکات به د دوی په برخه شي، فساد به ورک شي، علم به وده وکړي، ټولنه به هوسا شي، خلک به خوشاله شي، د بشریت لپاره به د نن ورځې جوړ دوزخ په جنت بدل شي، ستړی انسان به پکې هوسا شي، د یوه خدای قوانین به عملي کېږي او ټول بشر به یې په وړاندې یوه مساوي درجه ولري، نه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



امير ترې مستثنا وي او نه به د خداى قانون د مسكين او بې اسرې و وسلې د پښو زولنې، په دې توگه به يوه بشريت شموله اداره جوړه شي، چې تر مخ به يې د يوه ملت مسله نه وي پرته، بلكې د ټول جهان، بشر، كايناتو، د دې ژوند او د يوه اوږده بل ژوند د خوندیتوب تصور وي. په دې توگه دغه صالح اعمال او تقوا موږ هغه مقام ته ورسوي چې قران كريم يې وعده راكړې ده، نه هغه اعمال چې موږ يې په خپله ټولنه كې كوو او نه هغه تصور چې موږ يې له قران كريم څخه لرو.

۲۸/۸/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حجاب د اختلاف او اتفاق ترمنځ**

حجاب د دوو شیانو ترمنځ بېلونکي یا پټونکي ته وایي(۱)، په قران کریم د ګڼو معناؤ لپاره کارېدلی دی، د همدې معنا لپاره په دې ایت کې دی:

{ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ} [الأحزاب: ٥٣]

ژباړه: او که مو له نبوي میرمنو پوښتنه کوله، نو د حجاب له بلې خوا یې ځنې وکړئ.

که دلته دوه نور ټکي هم واضح کړم چې له همدې موضوع سره اړه لري، نو ښه به وي چې د بحث په وضاحت کې له موږ سره مرسته کولای شي، زموږ خلك ستر او پرده تقریبن په یوه معنا کاروي، مثلن وایي: پرده وکړئ، ستر وکړئ، څه بې ستره ښځه وه، څه بې پردې ښځه وه. ستر په عربي کې پټولو ته وایي، لکه په یوه حدیث کې دي:

مَنْ سَتَرَ عَوْرَةَ مُسْلِمٍ فِي الدُّنْيَا سَتَرَ اللهُ عَوْرَتَهُ فِي الآخِرَةِ.(۲)

که په دنیا کې چا د یوه مسلمان عیب پټ کړ، الله به په اخرت کې د هغه عیب پټ کړي. دلته دواړه ځایه ستر د پټوالي لپاره استعمال شوی دی. پرده بیا زموږ خپل لفظ دی چې کله یې له حجاب سره مرادف کاروو او کله یې له ستر سره، که څوك ښځې ته ووایي: پرده وکړه را ووزه، نو هدف یې چادري یا هغه تور حجاب یا غټ پړونی پر ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچول وي، یا هم ورته وایي: حجاب وکړه، راځه! بیا هم عیني شی هدف دی. یا ورته وایي: ښه سمه په ستر کې راشه، یعنې محجبه او پردې کې راشه.

دویمه خبره د عورت ده، عورة د هیواد د سرحد هغه ځای ته ویل کیږي چې د نقص له امله دښمن حمله پر کوي یا ډار یې موجود وي، د الاشتقاق لیکوال وایي: عورةُ القومِ، هغه ځای ته دی چې د دښمن له لوري پرې د برید خطره وي، لکه په احزاب سورت کې دي: {إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ} [الأحزاب: ۱۳]، دلته یې همدغه معنا ده، ابن فارس وایي: عوره هر هغه شي ته ویل کیږي چې د خالي والي له امله یې ساتنه لازمي وي، همدارنگه هغه شي ته هم ویل کیږي چې شرم و حیاء ځنې کیږي، د نر یا ښځې فرج ته هم عورت ویل کیږي، موږ په پښتو کې هم دغه معنا ځنې اخلو، مثلن وایو: عورت دې پټ کړه، هدف ورڅخه یوازې فرج هم نه وي، د ښځې او نر د ستر ټول ځایونه ور ښیو، په قران کریم کې دي: عَوْرَاتِ النِّسَاءِ یعنې د ښځو له سیکس سره تړلې خبرې و کارونه، یو بل ځای هم د هغو درو وختونو لپاره کار شوی دی چې خلک پکې عمومن جامې کاږي، د سهار تر لمانځه مخکې، د ماخستن تر لمانځه وروسته او غرمه، قران کریم وایي: {ثَلَاثُ عَوْرَاتٍ لَكُمْ} [النور: ۵۸]، دا درې هغه وختونه دي چې تاسو پکې جامې ږدئ.

حجاب، عورت، ستر هر یو گڼې معناوې لري، البته په خپل خاص مورد کې راتگ یې ځانگړې معنا ور کوي، نو دلته د حجاب څخه پرده یا هغه جامه/چادري/کالی/ټوکر هدف دی چې ښځې یې له خپلو کالیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برسېره استعمالوي، تر دې وروسته چې د هر یوه لفظ په بنسټیزه معنا مو ځان پوه کړ، اوس نو اصل موضوع ته راګرځم.

د حجاب په اړه د مسلمانانو ترمنځ اختلافي او اتفاقي ټکي شته، په یوه مسلمانه ټولنه کې ټولې مسلمانې ښځې هغه اتفاقي ټکي رعایتوي، په خاص ډول زموږ افغاني ټولنه کې یې نامسلمانې ښځې هم رعایت کوي، ځکه د ټولنې لویه برخه مسلمانان دي، نو د هغوی تر تاثیر لاندې اقلیتونه هم اړ شوي چې زموږ مذهبي/کلتوري ارزښتونو ته درناوی وکړي. ستونزه له دې را جوړه ده چې زموږ خلک/ډلې خپل افکار پر نورو تحمیلوي چې له همدې ځایه فاجعه پیلېږي او د وخت په تېرېدو او خشونت کولو عمق ته رسېږي، اتفاقي ټکي یې باید عملي شي، که په یوه اسلامي ټولنه کې څوک د دې رعایت نه کوي حکومت یې د ټولنې له امله مجبورولای شي چې رعایت یې وکړي، اما په اختلافي ټکو کې پر خلکو جبر کول د هیچا حق هم نه دی حتا که حکومت هم وي، که د واکمنې طبقې خلکو ته خپل فکر سم معلومېږي نو یوازې د توصیې تر کچې نورو خلکو ته ویلای شي، اما جبري کول یې نه شریعت کې جواز لري، نه قانون کې او نه بشري اخلاق اجازه ور کوي.

د حجاب په اړه د طالبانو تر نوي فرمان وروسته د دیني عالمانو له لوري ډول ډول دریځونه ونیول شول، چا د طالبانو د فرمان حمایت کاوه، څوک د میرمنو پر خوا ولاړ وو نرمي یې کوله، چا د طالبانو د سخت موقف په وړاندې له حجابه د میرمنو د خلاصون په اړه میرمنو ته حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکاوه چې خپل واک يې دی، حجاب کوي که نه د يوه انسان په توگه د دې کار د انتخاب او نه انتخاب حق له ميرمنو سره دی؛ البته په يوه اسلامي سنتي ټولنه کې به هم د اسلامي احکامو رعايت کېږي او هم د هغې ټولنې د کلتور، هر افراط د تفريط لامل کېږي او په هره نوعه تفريط ډېر افراط ته زمينه سازي کوي. د حجاب په اړه دريځ بايد د واضحو نصوصو لارښونو ته په کتو ونيول شي چې خپله ټولنه به يې هم له پامه نه وي اچولې.

د حجاب په اړه لومړی لارښوونې قران کريم کړې دي، بايد لومړی د قران کريم هدايات تر نظر تېر شي چې د الله کتاب امت ته په دې اړه څه ډول هدايات ور کوي:

{ قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ () وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ} [النور: ۳۰، ۳۱]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: مومنانو ته ووایه: سترګې دې ټيټې ساتي او د خپلو فرجو ساتنه دې کوي، دا د دوی لپاره د پاکي ډېره ښه طريقه ده، الله د دوی په اعمالو خبر دی، او مومنو ميرمنو ته ووایه: سترګې دې کښته ساتي، د خپلو فرجو حفاظت دې کوي او خپل زينت دې نه ښکاروي، مګر هغه چې ښکاره وي، او خپل پړوني دې پر خپلو ګرېوانو را خپاره کړي او خپل زينت دې نه ځرګندوي، مګر خپلو مېړو، خپلو پلرونو، خپلو خسرانو، خپلو زامنـو، خپلو بُنځيانو، خپلو ورونو، خپلو وربرونو، خپلو خوربيانو، نورو ښځو، د دوی مرېيانو او هغه تر لاس لاندې بـې شـهوته سـړي و ماشـومان چـې د ميرمنو (د سيکسي خبرو/کارونو) په اړه پوهاوی نه لري، دوی دې په نـاز و نخرو مزل نه کوي چې پټ زينت يې ښکاره شي او اې مومنانو! ټول د الله لور ته رجوع وکړئ، چې بريالي شئ.

په دې ايت کې زه دوو نکتو ته تم کېږم: يوه يې د زينت پـه اړه ده او بل يې د پړوني ده. قران کريم دلته ويلي چې زينـت دې نـه ښـکاروي، مګر هغه چې ځرګند دی. خلکو له دې مخ اخيستی دی، په داسې حـال کې چې مخ يې هدف نه دی، د همدې احکامو په دوام اخير کې وايـې چې په ناز و خرو دې تګ نه کوي چې پټ زينت يـې ځرګنـد شي، لـه دې معلومېږي چې دلته يې هدف د زينت لپـاره اضـافه شـيان دي، لکـه پايزيبونه، نو له اوله سره هدف له زينته د ښګلا شيان دي، لکه ميخـک، غوږوالي، غـاړګۍ، پايزيبونـه، بنګـړي، ګـوتمۍ، رانجـې او داسـې نـور. ښکاره يـې ګـوتمۍ دي، د مـخ ميخـک دی او پـټ يـې پايزيبونـه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړوالي دي او نور. په قران کريم کې نور ځايونه هم زينت هغو اضافي شيانو ته کار شوی دی چې يا دنياوي ژوند په ښکلی دی يا د ځمکې د ښکلا باعث کېږي، يا هم نور، دغه لاندې اياتونه راځئ ولولو:

{قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ} [الأعراف: ۳۲]

ژباړه:ووایه: چا د الله هغه زينت حرام کړی چې د خپلو بندګانو د ګټې لپاره یې پيدا کړی؟

{وَقَالَ مُوسَى رَبَّنَا إِنَّكَ آتَيْتَ فِرْعَوْنَ وَمَلَأَهُ زِينَةً وَأَمْوَالًا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا}

[يونس: ۸۸]

ژباړه: او موسی ووېل: زموږ ربه! تا فرعون او د هغه ټولی ته په دې ژوند کې زينت او مالونه ور کړي دي.

{إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَهَا} [الكهف: ۷]

ژباړه: هغه څه چې پر ځمکه دي موږ ځمکې ته زينت کړي دي.

{تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} [الكهف: ۲۸]

ژباړه: ته د دنياوي ژوند زينت غواړې.

{الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا} [الكهف: ۴۶]

ژباړه: مال او زامن د دنياوي ژوند زينت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



{إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ} [الصافات: ٦]

ژباړه: موږ نژدې اسمان په ستورو ښایسته کړی دی.

{ فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ} [النور: ٦٠]

ژباړه: نو پر سپینسرو ښځو ګنا نه شته چې خپلې جامې کښېږدي خو خپل زینت به نه څرګندوي.

په دې اخیرې ایت کې بیخي واضحه شوه چې دلته هدف له زینت څخه مخ نه دی، ځکه سپینسرانو ته د حجاب د نه استعمال اجازه شوې ده خو زینت غړې به نه ښکاروي. د محاسن التاویل تفسیر لیکوال وایي:

أي يتركن التحفظ في التستر بها. فلا يلقين عليهن جلابيبهن ولا يحتجبن غَيْرَ مُتَبَرِّجاتٍ بِزِينَةٍ أي مظهرات لزينة خفية. يعني الحليّ في مواضعه المذكورة في قوله تعالى: وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أو المعنى غير قاصدات بالوضع، التبرج.(٣)

ژباړه: یعنې هغه جامه دې پرېږدي چې حجاب یې پـه کـاوه، نـه دې غټ پړوني یـا هـم حجـاب اچـوي او نـه دې سـتر کـوي، خـو د زینـت ښکارونکې به نه وي، یعنې هغه پټ زینت، هدف په همدې ځایو کې ورڅخه ګېڼې دي لکه چې وایي: زینت دې یوازې خپلـو مېړو او... تـه ښکاروي، یا دا معنا ده چې سپینسرانې دې له حجابـه ددې لپـاره ډډه نـه کوي چې هدف یې ځان ښکارول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په دې اړه د اخيري خبرې په توګه ووايم پر ګرېوان د پړوني تر اچولو وروسته يې ويلي دي چې زينت دې يوازې له مېړه او هلته ذکر شويو کسانو څخه نه پټوي، که هدف يې د مخ پټول وي، نو ولې يې ګرېوان ياد کړی؟ ولې يې نه ويل چې پر مخ دې پردې را ايله کړي يا دې هم مخ پټ کړي؟ ولې يې د زينت په برخه کې هغه ښکاره برخه ځنې بېله کړه؟ پر ګرېوان په پړوني اچولو غاړه او غاړه ګۍ پټېږي خو حتمي نه ده چې له خپل مېړه او يا نورو قريبانو دې غاړه او هم غاړه ګۍ پټه کړي او اصل هدف د غاړه ګۍ پټول هم نه دي، غاړه هدف ده، پايزيبونه نه دي، پنډۍ دي. قران کريم مسلمانه ښځه مکلفه کړه چې خپله غاړه، پنډۍ، لېچونه او... دې له پردو نارينه وو پټ کړي، اما که د خپلو نږدو قريبانو په منځ کې وي، حتمي نه ده چې پټ يې کړي، يوه ښځه په خپل کور کې د ورونو ترمنځ په دې نه ده مکلفه چې غاړه دې پټه کړي، لېچ دې نه ښکاروي، که په خپله يې ځوک وکړي، د هغې خپل واک دی.

هيله ده د زينت موضوع نوره روښانه شوې وي او که ځوک پکې ګډوډ شوي وي، هغوی دې يوځل په خپله د قران کريم همدې اياتونو ته رجوع وکړي، اوس د پړوني نکتې ته راځم:

که ستاسو د ايت ترجمه له ذهنه وتلې وي، يوځل بيا د ايت ترجمه تر نظر تېره کړئ، هلته يې ويلي دي چې پړوني دې پر ګرېوانو را ايله کړي، دا يې نه دي ويلي چې پر مخ دې هم را واچوي، نو مخ بيا له کوم ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه په حجاب کې داخل شو؟ که په دې اړه د قران کریم په نورو ایاتونو کې احکام راغلي وي، نو راځئ هغه ځایونه هم تر نظر وباسو:

{وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا} [الأحزاب: ۳۳]

ژباړه: او(اې د نبي میرمنو!) په خپلو کورو کې اوسئ، تر تاسو د وړاندې جاهلیت د زمانې په شان مه راوزئ، لمونځ کوئ، زکات ور کوئ او د الله و رسول یې اطاعت کوئ، حقیقت دادی چې اې اهل بیتو! الله غواړي ستاسو د ګنا چانس ختم کړي او تاسو ښه پاک کړي(چې د نورو لپاره نمونه شئ).

په دې ایت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم میرمنو ته لارښوونې دي، تر دې ایت وړاندې هم د یا نساء النبي په الفاظو خطاب ورته شوی دی او د دې ایت په اخیر کې هم اهل بیت بلل شوې، نو دلته احکام ټول له دوی سره تړلي دي، که فرض کړو چې ټولو میرمنو ته همدا عام دی، نو بیا د پخواني جاهلیت په شان له ګرځېدا منعه شوې ده نه دا چې په پرده کې هم منعه ده او مخ یې نه دی یاد کړی.

{ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا () لَئِنْ لَمْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لاَ يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلاَّ قَلِيلاً } [الأحزاب: ۵۹، ۶۰]

ژباړه: اې نبي! ستا میرمنو، لوڼو او د مومنانو ښځو ته ووایه: خپل غټې پړوني دې پر ځان را واچوي چې وپېژندلې شي، نو به اذیت نه ور کول کېږي او الله ډېر بخښونکی مهربانه دی، که منافقان، هغه کسان چې په زړونو کې یې مرض دی او په مدینه کې شته دروغ خپرونکي له خپلو کارونو لاس وانخلي، نو موږ به تا پر مسلط کړو، بیا به له لنډ وخت پرته دوی ستا سره په مدینه کې هستوګنه ونه کړي.

له دغه ایت څخه معلومېږي چې د مسلمانانو ښځې به بهر ته په وتلو کې د دې لپاره غټ پړوني کاروي چې د بازار/کلي له کوڅه ډبو، بد اخلاقو او مفسدو کسانو څخه ځانونه په خوندي کړي، دوی هر وخت ښځو ته مزاحمت کوي، که به ولیدل شول، یا به ښځو شکایت کاوه، نو دوی به ویل چې موږ د پلانۍ و پلانۍ خیال پر راغی، له دې امله په لار کې ورته ودرېدم، الله تعالی ښځې امر کړې چې د پردې یا حجاب په توګه دې غټ پړوني وکاروي چې د هغوی د بدن کابو ټوله برخه پټه کړي، څو خلک تاسو وپېژني چې دغه پاکې، نیکخویه او مومنې ښځې دي، په دې توګه به د لنډغرو له اذیته په امان شئ، البته که بیا هم هغوی مزاحمت ته دوام ور کړ، نو د هغوی پر ضد د حکومت له لوري د عملي ګام اخطار یې ور کړی دی چې له ښاره یې وباسي یا هم جلاوطنه یې کړي، د هیواد د یوه تبعه په توګه دې له ځینو حقوقو څخه محروم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي(مثلن: نه په دولت کې دنده ور کړل شي او نه په خصوصي سکتور کې)، که تر دې وروسته هم منعه نه شول، بیا په ځمکه کې تر امن وروسته فساد کوونکي دي باید ووژل شي؛ څو نور خلك عبرت واخلي او هم د فساد و بداخلاقیو مخه ونیول شي او ښځې د امن احساس وکړي. دلته حکومت کولای شي چې مداخله وکړي، که څوك ښځو ته مزاحمت کوي، یا ښځې داسې راوزي چې نارینه وو ته ستونزې جوړوي، یا په ټولنه کې د بداخلاقۍ د خپرېدو سبب کېږي، حکومت د ټولنې په وړاندې مسوولیت لري ، له دې امله به یې مخه نیسي- او که توصیه عملي نه شوه، نو له زوره هم کار اخیستلای شي.

جلابیب د جلباب جمع ده، جلباب ګڼې ترجمې لري، یوه عمومي ترجمه یې د اوږده یا غټ پړوني شوې ده، له دې څخه د مخ، لاس او پښو پر پټولو یا پرده کولو استدلال قاطع او پرېکنده نه دی، دا سمه ده چې د دې په اړه د تېرو پوهانو اقوال شته، مګر د ایت له مفهوم څخه دغه شی نه معلومېږي او په وچ زور مخ په حجاب کې ګډول بیا لازمي ګرځول یې له شرعي مفاهیمو سره بې انصافي ده، که څوك دغه مفهوم ځنې اخلي هم پر نورو یې د اجباري کولو حق نه لري، د هر چا د فهم شخصي مسله ده.

که دلته حجاب هم ځنې هدف شي، بیا مخ، لاسونه او پښې هم پکې پټ شي، اما بیا دا نکته هم باید له پامه وانه چول شي چې دا د خوف په حال کې ورته ویل شوي دي، که وضعیت داسې وي چې ښځې له کوڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر لنډغرو ډار لري، نو کولای شي چې حجاب وکړي، څو پاک لمنې ښکاره شي، مومنې او نیکخویه معلومې شي، د بد اخلاقه خلکو تمه ترې وشکېږي، که وېره نه وي، بیا حجاب لازمي کول هم نه شته، د النور په سوره کې خو د پړوني یادونه شوې ده او زموږ ښځې پړونی هر وخت لري.

{وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ} [الأحزاب: ٥٣]

ژباړه: او که له نبوي میرمنو پوښتنه کوئ، نو تر حجاب هاخوا یې ځنې وکړئ، ستاسو او د دوی د زړونو د پاکوالي دا ډېره ښه طریقه ده.

دغه ایت څخه پر دې استدلال کول چې له ښځو سره اختلاط حرام دی، سهي فکر نه دی، دلته یوازې د رسول الله صلی الله علیه وسلم میرمنو ته ځانګړی حکم دی، د ایت سیاق او سباق د دې شاهدي ور کوي چې دلته یوازې د نبوي میرمنو په اړه ځانګړي احکام دي، چې دغه حکم یې له هغو یو دی، د همدې ایت په اخیر کې ورته ویل شوي دي چې د رسول میرمنې ستاسو مندې دي تر ده وروسته یې نکاح نه ده روا، تر دې مخکې یې ورته ویلي دي چې له دې موجودو ښځو پرته نورې ښځې نه شې په نکاح کولای، یوازې د ټولنې د بوج اوچتولو لپاره شته مینځې که غواړې نکاح کولای یې شې، نورې نه؛ او تر دې مخکې ایت کې هم د رسول الله د نکاح او ښځو په اړه احکام دي، دا یوازې تر هغوی پورې مختص دي، نو عمومي کېدل یې خلکو ته ستونزې را

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړوي چې د الله پر کتاب به خلکو تـه د نیوکـو دروازه خلاصـه کـړي، داسې مفهوم ځنې اخیستل چې ټولنه ورسره وچه ودرېږي، میرمنو ته ګټې ستونزې را ولاړې کړي، د خلکو د نیوکو سبب شي، دین تـه د ګټـې پـر ځای تاوان ډېر کوي، د دین مسله د یو چا د شخصي ملکیت خبره نه ده چې هر ډول یـې اړوي را اړوي د هغـه خپـل ملکیـت دی، دیـن د ټـول بشریت لپاره دی، که هر څوک یې داسې تعبیر کړي چې بشر ته پکـې د ګټې پر ځای زیان رسېږي، ناسم او شخصي تعبیر یې دی، چې پر خلکو یې جبري کول، نه انساني اخلاق ایجابوي، نه په قانون کې جواز لري او نه شرعي مجوِز ورته موندلای شي چې په هغه سره خپل عمل توجیه کړي.

که له دې ایت څخه د اختلاط پر ناسموالي دلیل سهي هم وبلل شي، نو په یوه صنف کې دې د ښځو او هلکانو ترمنځ پـرده وځـړول شي، پـه قران کریم کې همدې شي ته اشاره شوې ده، نه دا چې حتمي دې ښځې ماپښین درس وایي نران دې سهار، یا دې یوه ډله په یوه صنف کې درس ته حاضر شي او بله ډله په بل صنف کې، په وطن کـې د خلکـو اقتصـاد ضعیف دی، دغه ډول کارونه یې له وسـه نـه پـوره کېـږي، نـو خلکـو او ټولنې ته په کتو باید په اجتهادي احکامو کې نرمي ورسره وشي.

د حجاب په اړه هغه ټکي چې د قران او سنت لـه مخـې اتفـاقي دي، خلک یې پر مفهوم سره یوه خوله دي، یعني پر یوه مفهوم باندې اجماع وي، هغه به مسلمانه ښځه حتمي کوي، هغـه لازمـي بڼـه لـري، کـه یـوه مسلمانه ښځه هر ځای وي تر خپله وسه یې په مرعات مکلفه ده، اما هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکي چې د علماؤ پر اختلاف دی، پر مفهوم یې اجماع نه ده شوې، قاطع او پرېکنده نه وي، هغه که یوڅوک په خپله مرعات کړي، د هغه د اجتهاد او علم له مخې به ضروري وي، خو پر نورو مسلمانانو یې جبري کول ناسم عمل دی، خپل فکر پر نورو تپل بې دینۍ ته لار جوړوي، هغه یې د ښکارولو او بیان حق لري، حتا خلکو ته توصیه په کولای شي، مګر وجوبي کول یې خپله انتشار، اختلاف، شخړو او بدبینیو ته زمینه برابروي، د دوی دا عمل په ټولنه کې د بې دینۍ سبب کېږي او له شرعي متن څخه اخیستی برداشت پر نورو تحمیل کول خپله غیر شرعي عمل دی.

راځم دې ته چې په دې اړه احادیثو کې څه راغلي دي؟ دا به بې انصافي وي چې یو څوک یوازې هغه احادیث راوړي چې د ښځې د لڅ مخ په اړه وي، یا هم یوازې هغه راوړي چې د میرمنې د مخ پټېدل ځنې ثابتېږي، زه دا منم چې په دې اړه دواړه ډوله احادیث شته، خو د دې دواړه ډوله احادیثو وجود هم د دې دلیل دی چې د ښځې مخ پټول د هغې واک دی، د رسول الله ص په وخت کې د ښځو مخ پټول یا لڅول خپله د ټولنې اختیار ښیي. زه به یې دلته د مخ لڅولو نمونې د امام الباني له کتاب څخه راوړم:

عن عائشة -رضي الله عنها- قالت: "كن نساء المؤمنات يشهدن مع النبي -صلى الله عليه وسلم- صلاة الفجر متلفعات بمروطهن ثم ينقلبن إلى بيوتهن حين يقضين الصلاة لا يعرفن من الغلس".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووجه الاستدلال بها هو قولها: "لا يعرفن من الغلس" فإن مفهومه أنه لولا الغلس لعرفن وإنما يعرفن عادة من وجوههن وهي مكشوفة فثبت المطلوب. ثم وجدت رواية صريحة في ذلك بلفظ: "وما يعرف بعضنا وجوه بعض" .(٤)

ژباړه: له عائشې صديقې رض روايت دی، دې ويل: د رسول الله ص د سهار لمانځه ته مسلمانې ميرمنې په خپل پړوني کې پټې راتلې، تر لمانځه وروسته به خپلو کورو ته تلې چې د تيارې له امله به نه پېژندل کېدې. د استدلال طريقه ځنې داده چې وايي: د تيارې له امله به نه پېژندل کېدې، مفهوم يې دادی چې که تياره نه وای، بيا پېژندل کېدې او پېژندګولي پر مخ کېږي چې کله لڅ يې، نو لڅوالی يې ثابت شو. بيا مې په دې اړه صريح روايت پيدا کړ، الفاظ يې داسې دي: زمونږ ځينو به د نورو مخونه نه پېژندل.

له دې حديث څخه د مخ پر لڅوالي استدلال شوی دی، امام الباني په دې بحث کې نور احاديث او اثار هم راوړي دي، چې زه يې د مشت نمونه خروار په توګه پر همدې يوه بسنه کوم، دی د همدې بحث په اخير کې داسې ليکي:

فثبت أن الوجه ليس بعورة يجب ستره، وهو مذهب أكثر العلماء كما قال ابن رشد في "البداية" "١/ ٨٩" ومنهم أبو حنيفة ومالك والشافعي ورواية عن أحمد كما في "المجموع" "٣/ ١٦٩" وحكاه الطحاوي في "شرح المعاني" "٢/ ٩" عن صاحِبَي أبي حنيفة أيضًا...لكن ينبغي تقييد هذا بما إذا لم يكن على

(c) ketabton.com: The Digital Library



الوجه وكذا الكفين شيء من الزينة لعموم قوله تعالى: {وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ} [النور: ۳۱] وإلا وجب ستر ذلك ولا سيما في هذا العصر.(۵)

ژباړه: نو ثابته شوه چې مخ نه عورت دی او نه یې پټول واجب دي، همدا د زیاتره علماؤ تګلاره هم ده، لکه چې ابن رشد په البدایه کې همدا خبره کړې، له دې پوهانو څخه امام ابو حنیفه رح، امام مالك رح، امام شافعي رح او یو روایت له امام احمد رح څخه نقل شوی لکه چې په المجموع کې هم دي، همدا شان امام طحاوي رح په شرح المعاني کې د امام صاحب له ملګرو(امام ابو یوسف او امام محمد) څخه هم دغه قول نقل کړی... خو دا مناسبه ده چې ووایو پر مخ او لاسونو به یې د زینت شی نه وي، ځکه ایت عمومي دی چې زینت به نه ښکاروي، که پر وي، بیا یې پټول واجب دي په خاص ډول نن.

اوس یې د پټولو په اړه روایت راوړم:

عَنْ عَبْدِ اللهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ.(۶)

ژباړه: عبد الله رض له رسول الله ص نه روایت کړی چې ښځه ټوله عورت ده.

له دغه حدیث او دې ته ورته نورو استدلال شوی دی چې د ښځې مخ هم عورت دی او پټول یې لازمي دي، که څه هم دغه حدیث ځینو محدثینو تر نیوکو لاندې کړی، خو بیا هم د بل لوري علماء یې صحیح

(c) ketabton.com: The Digital Library



بولي، که يې کره هم وبولو نو په مقابل کې يې نور کره روايات هم شته چې مخ يې نه دی پټ کړی، يوه ډله حق نه لري چې بله ډله له حديثو منکره وبولي، ځکه د رسول الله ص د وخت ټولنه په دې اړه خپلواکه وه، که چا مخ پټ کړی وي، هم يې خپل واک و، که چا لڅ کړی وي هم يې اختيار ور کول شوی دی، هر څوک چې په کوم حالت خوشاله وي هغه دې وکړي، څوک به په پټ مخ خوشاله وي او څوک په لڅ، دواړه ډلې حق لري چې له دې بشري، قانوني او شرعي حق څخه ګټه واخلي.

زما په نظر مسلمانې ښځې په کار ده چې د زينت پټولو لپاره غټ پړونی، يا د اوس وخت تور رنګه حجاب وکاروي، دا هم د ښځې لپاره ګټور دی او هم د ټولنې، په دې حجاب کې به يې غاړه، لېچونه، پنډۍ، ويښتان، غوږونه او سينه پټ وي، که په ځينو هيوادونو کې د سر له پټولو منعه کيږي، نو تر خپل وسه مکلفه ده، دا چې وس يې نه لري، بيا دې نه کوي، اما که څوک يې وس لري، دا پرې لازمي دي او د يوه شرعي مکلفيت په توګه به هره مسلمانه ښځه زينت پټوي، له دې پرته د پښو، مخ او لاسونو په پټولو نه ده مکلفه ده، که يې د خپل اختيار له مخې کوي، پروا نه لري او که يې نه کوي، خپل واک يې دی. هغه لومړي يې اتفاقي ټکي دي، حکومت پکې د مداخلې حق هم لري او دغه وروستي يې اختلافي ټکي دي، چارواکي پکې د مداخلې حق نه لري، که دوی ته د شريعت سهي تعبير ښکاري، نو خلکو ته يې يوازې توصيه کولای شي جبري کول يې غير شرعي عمل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې توګه د حکومت مسوولیت دی چې کوم کسان ښځو ته مزاحمت کوي، هغوی ته سزا ور کړي، حتا که لازمه یې وګڼله له یوه ښاره دې بل ته او یا کلیوالو سیمو ته وشړي، په دې توګه به هم نورو عبرت واخلي او هم به ښځې د خوندیتوب احساس وکړي، نه دا چې یوازې پر ښځو باید احکام عملي شي، ښځې په یوازې سر د اخلاقي فساد ترویج نه شي کولای، له ښځې سره حتمن کوم نر هم وي، نر ورته موټر برابروي، پیسې ور کوي، ټلیفون ورته کوي، ځای ورته سموي، زمینه ورته مساعدوي، زیاتره وخت لومړی نر دعوت ور کوي، نو باید چې نر هم سزا وویني، څوک چې ناسمې کړنې کوي، هغوی باید سزا وویني، په دې اړه باید واضح قوانین موجود وي چې خلك په خبر شي.

له دې هر څه سره باید ووایم چې د پردې یا حجاب په پلمه له ښځو خپل شرعي حقوق اخیستل غیر شرعي عمل دی، زموږ په ټولنه کې بدبختي داده چې نرواکه ده او هر تعبیر یې له دین څخه د نرواکۍ تر سیوري لاندې وي، د پردې په پلمه له جوماته منعه شوې ده، په تعلیمي غونډو کې نه کېني، له تعلیمه منعه شوې دي، له کاره بندې دي، په هغو مجلسو کې برخه نه شي اخیستلای چې نران پکې وي، د ټلویزیون پر پرده نه شي ښکاره کېدلای، دا ټول هغه موارد دي چې د پردې په پلمه له ښځو اخیستل شوي. په داسې حال کې چې ښځې جومات ته د تلو شرعي حق لري، نرانو ته دا حق چا ور کړی دی چې خپله دې لمنځونه په جماعت وکړي او میرمنې دې له دې خیر څخه محرومې کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې یوه ټولنه چې ښځې پکې یوازې د مسوولیت بوج پورته کوي او نران یې د حاکمانو په توګه یوازې د فرمان صادرولو امتیاز لري، د بې عدالتۍ نمونه او د بې انصافۍ پر وروستي حد ولاړه ده. زموږ د ټولنې خلک هم په ویاړ وایي چې اسلام ښځو ته داسې حقوق ور کړي دي چې په بل هیڅ قانون او دین کې نه دي ور کول شوي، دا خبره سمه ده چې اسلام ور کړي دي، خو کوم اسلام چې زموږ د ټولنې په عمل کې ښکاره شوی دی، هغه ورته هیڅ حقوق نه دي ور کړي، بلکې د شرمندګۍ وروستی حد دی زموږ لپاره.

په اسلام کې که میرمن په کور کې مسوولیتونه لري، نو حقوق هم لري، نران که پر ښځو حقوق لري، نو په وړاندې یې مسوولیتونه هم لري، داسې نه ده چې ښځې یوازې مسوولیت لري او نران بیا یوازې امتیازات لري. نر د کار حق لري، ښځه یې نه لري، چا ځنې منعه کړې ده؟ نر، ولې؟ ځکه بیا د هغه ټولواکي تر خطر لاندې کېږي، نر د تعلیم حق لري، میرمن یې محرومه کړې ده، چا؟ نر، ولې؟ ځکه بیا ښځه هوښیارېږي او له نر څخه د خپلو مسوولیتونو مساوي حقوق غواړي چې هغه یې د یوه باصلاحیته نر په توګه نه شي منلای، نر خپله بهر ته وزي، د بلې ټولنې یا نا مسلمانې ټولنې له ښځو سره ګډ مجلس کولای شي، خو زموږ مسلمانې ښځې دا کار نه شي کولای، چا منعه کړې؟ نرانو، ولې؟ ځکه له نرانو سره اختلاط یې د بدکارۍ امکان ډېروي او د هغه غیرت یې نه شي زغملای، نو دا دی چې له پردو نامسلمانو یا نامحرمو ښځو سره ناسته پاسته کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه کې د ده د بد کارۍ چانس نه ډېرېږي؟ پروا نه لري، هغه خو نر دی، که ووایم چې ښځه هم پروا نه لري، هغه خو ښځه ده، دوی وايي، نه، هغه د نر عزت ده، بايد نر خپل عزت وساتي، نو که ووایم چې نر هم د ښځې عزت دی، بايد ښځه يې ساتنه وکړي، بیا؟ زموږ د ټولنې نرپسنده استدلال ته مو پام دی؟ ښځه د نر عزت ده، په همدې خاطر يې بنديزونه پر لګولي دي، څو د خپل عزت ساتنه وکړي، که داسې وي، نو سړی د خپلو ښځو او کورنۍ لپاره عزت نه دی؟ د يوه نر په بد کار د هغې کورنۍ عزت ته صدمه رسېږي که نه؟ که رسېږي نو بیا ولې يوازې پر ښځه محدوديتونه وضع شوي دي او نران څنې بېل دي؟

دا سمه ده چې په ټولنه کې د اخلاقي فساد د له منځه وړلو لپاره اسلام ښځو ته لارښوونې کړې دي، اما تر څنګ يې نرانو ته هم کړې دي، که ښځه په دې مکلفه کېږي، نر هم بايد په ور کړل شويو هداياتو عمل وکړي، دواړه د دې اخلاقي فساد په وړاندې مسووليتونه لري، هممهال يې بايد دواړه عملي کړي، نه يوازې ښځه د دې په وړاندې مسووله وبلله شي.

۲۰۲۲/جون/۱۰

**سرچينې:**

۱)معجم اللغه العربية المعاصرة: ۱۳۳۰ ماده ح ج ب: ۴۴۴/۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲)معجم اللغه العربيه المعاصره، ماده: س ت ر: ۱۰۳۲/۲

۳) تفسير القاسمي = محاسن التأويل (۷/ ۴۰۷)

۴) جلباب المرأة المسلمة في الكتاب والسنة (ص: ۶۵)

۵) جلباب المرأة المسلمة في الكتاب والسنة (ص: ۸۹)

۶)جامع الترمذي، ابواب الرضاعة ۱۸ باب ح: ۱۱۷۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بتانو ماتول، د جهالت پر ناسمه مفکوره وروستی گوزار

انسانانو چې کله په کایناتو کې شته قوانین نه وو کشف کړي، نو زیاتره وخت به چې له یوه شي اغېزمن شو، د هغه عبادت به یې کاوه، د اور، لمر، ستورو، بتانو چې په اصل کې د هوښیارو او بانفوذه کسانو په نوم جوړ شوي وو، پرستش د دې مثالونه دي.

مگر دین هر وخت هڅه کوله چې انسان خپل اصل مقام ته متوجې کړي، د خدای استازو انسان ته د هغه مقام په گوته کاوه، دا یې ورته ښوده چې په کایناتو کې هر شی د خدای د قوانینو پابند دی، هیڅ شی هم له هغه سرغړونه نه شي کولای، نو انسان دې هم په خپل اختیار د هغه قانون عملي کړي چې پر ځمکه د فساد مخه ونیول شي، انسان له خپله لاسه وتلی مقام بېرته تر لاسه کړي او له کایناتو سره د انسان هماهنگي به د هغوی په گټه وي چې نتایج به یې ډېر هیله بښونکي وي. خو په دې لار کې ځینو انسانانو خنډونه جوړول، ځینې مفکورې همداسې وې چې دغه مقام ته د انسان په راوستلو کې یې خنډ جوړاوه، الهي استازي له دې پیغام سره نړۍ ته راغلي دي چې له بد وضعیت او تیاره جهان/تیاره مفکورې څخه انسان د رڼا نړۍ ته بوزي، له دې امله یې هغه انسانان چې د کایناتو د خالق لور ته د تلو لار یې پر مخلوق بنده کړې وه، هغه مفکورې چې انسان یې د انسانیت له مقام څخه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځاوه، رسولانو د دې انسانانو د پوهاوي او هغو مفکورو د اصطلاح هڅې کړې دي، کله چې په دې لار کې د مخالفینو له لوري زورزیاتی ورسره شوی، نو رسولانو هم یا له سیمې هجرت کړی، یا یې د هغوی سرکښان وژلي او هغه ناسمه مفکوره یې له بیخه ایستلې ده. دا چې انسان مړ شي او د هغه په نوم جوړ بت دې ولاړ وي، خلک دې ترې تاوېږي، دا خرافاتي عقیده د انسانیت پر لمن تور داغ وه، لکه د نن زمانې زیارتونه، ملنګان، منجروان او باباګان چې خلک ورته عبادت کوي، دروېږونه ورولي، پیسې ور کوي، اولادونه ځنې غواړي، حتا منجروانو ته یې خلک خپلې لوڼې هدیه کوي، نو د روښانتیا د لارویو کار دادی چې د جهالت په کندو کې پراته انسانان ترې راوباسي، علم ور زده کړي، له خپله مقامه یې خبر کړي او له دې هر ځای څخه چې د خپلو مشکلاتو حل غواړي دوی ورته د دې ستونزو د حل منطقي او معقوله لار ور وښيي، دا کار که د هغو سرکښانو په وژلو یا د زیارت په نړولو هم وشي چې پر خلکو زورزیاتی کوي، یا هم د شرک له دغې اډې د انسانانو د ګمراه کولو هڅې کوي، بد کار نه دی، رسولانو په خپل وخت کې د شرکي او خرافاتي عقیدې په وړاندې همدغه مبارزه کړې ده لکه نن چې یې ټول احساس لرونکي، روښان فکره او د رڼا د لارې لارویان کوي.

۲۰۲۲/جولای/۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تقدیر په اړه لنډ وضاحت

عمومن د تقدیر په اړه داسې فکر کېږي چې د انسان تر پیدایښت وړاندې الله تعالی د هغه لپاره هر څه لیکلي وي، پر تقدیر ایمان راوړل لازمي دي، او د مومن به شیانو په لیست کې ور زیات کړی دی. خلک اقرار کوي چې د خیر او شر دواړو تقدیر د الله له لوري دی، نو چې هره پرېکړه وي، دوی منلې ده او په راضي دي.

له تقدیر سره یوه موضوع د شر او خیر هم غوټه شوه، پر خیر او شر به بل وخت لیکل وکړم، اوس یوازې د تقدیر لنډ وضاحت غواړم.

قران کریم تقدیر د مومن به شیانو په لیست کې نه دی راوړی، ایت کې وایي: {وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا} [النساء: ۱۳۶]

ترجمه: او که څوک له الله، فرشتو یې، کتابونو یې، رسولانو یې او د اخرت له ورځې منکر شي، نو هغه د لویې گمراهۍ ښکار شو.

قران کریم دلته پر پنځو شیانو ایمان راوړل اړین گڼلي دي، له دې هر یوه انکار یې کفر بللی دی، خو په هغه بڼه تقدیر پکې نه شته چې زموږ عمومي مفکوره ده.

تقدیر اصلن قران کریم د بل شي لپاره استعمالوي، دا چې موږ په دې اړه ناسم مفهوم اخیستی، دا زموږ د فهم غلطي ده، قران کریم یوځای د مشرکانو په اړه وایي:

{سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا أَشْرَكْنَا وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَيْءٍ كَذَلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ حَتَّى ذَاقُوا بَأْسَنَا} [الأنعام: ۱۴۸[

(c) ketabton.com: The Digital Library



(په دنیا کې هر څه د الله په اراده کېږي)، نو مشرکان به ووایي چې که د الله مشیت نه وای، نه به موږ او نه زموږ اسلافو شرک کړی وای او نه به مو هيڅ شی حرام کړی وای، عيني همدغه خبره تر دوی وړاندې نورو د حقيقت درواغ ګڼونکو هم کړې وه چې بيا يې زموږ د عذاب خوند وڅکی.

که د انسان هر شی د هغه تر پيدايښت مخکې وليکل شي، نو بيا د مشرکانو دا خبره سمه ده چې زموږ هر عمل د الله له مشيت سره سم دی، هغه راته ليکلی دی او د هغه اراده ده، نو نه بايد بد وبلل شي او نه سزا ور کړله شي.

قران کريم ځکه دا خبره رد کړې ده چې هغه انسان د خپلو اعمالو مسوول بولي، ښه او بد د هغه په عمل پوري تړي، نيکي و بدي د هغه د عمل نتيجه ده، پر ده د بدې او ښځې ورځې راتګ د دوی د اعمالو پايلې ګڼي، له دې امله نو ورته وايي:{ وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى () وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى () ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَى} [النجم: ٣٩ – ٤١]

ترجمه: او د انسان لپاره يوازې د خپلو هڅو پايلې دي، او انسان به د خپلو کړنو نتيجه ژر ويني او هغه ته به بشپړه بدله ور کول شي.

{يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنْسَانُ مَا سَعَى} [النازعات: ٣٥]

هغه وخت چې انسان ته خپلې هڅې ور يادې شي.

{ وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} [الأعراف: ٤٣]

او ږغ به وشي چې دا ستاسو هغه جنت دی چې د خپلو اعمالو له کبله مو تر لاسه کړی دی.

له دې اياتونو په ډاګه معلومېږي چې انسان ته د هغه د عمل موافقه سزا ور کول کېږي، که ښه عمل وي، ښه بدله يې ده او که بدل عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، سزا به يې ګالي. زما د معلوماتو له مخې د انسان پر عمل همدې مرتبې نتيجې ته چې په کايناتو کې د مقررو قوانينو له مخې رامنځته کېږي، قران کريم/سنت د تقديراو اجل الفاظ کارولي دي:

{وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللَّهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوا مَا تَرَكَ عَلَى ظَهْرِهَا مِنْ دَابَّةٍ وَلَكِنْ يُؤَخِّرُهُمْ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِ بَصِيرًا}

[فاطر: ۴۵]

او که الله انسانانو ته د هغوی د اعمالو له امله دستي سزا ورکولای، نو د ځمکې پر مخ به هيڅ ژوی نه وای پاته؛ خو الله دوی ته تر هغو وخت ورکوي چې پر عمل يې نتيجه مرتبه شي، کله چې يې د پايلې وخت راشي، په رښتيا هم چې الله د خپلو بندګانو ښه څارونکی دی(نو هره قوم/فرد ته د هغه د عمل موافقه بدله ورکول کېږي)

{وَمَا تَفَرَّقُوا إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَبِّكَ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ} [الشورى: ۱۴]

او د علم تر راتلو وروسته دوی د خپل منځي کينې له وجې اختلافاتو ته مخه کړه، که ستا د رب له خوا تر ټاکلي وخته مقرر اصول نه وای، نو د هغوی ترمنځ به يې پرېکړه کړې وای.

دلته قران کريم يادونه وکړه چې په کايناتو کې مقرر اصول شته، پر کارونو نتيجه د هغو اصولو له مخې کېږي، او دغه قوانين ستاسو رب ټاکلي دي.

سنت کې چې د تقدير کومه يادونه شوې ده، هغه هم ښايي همدې اصولو ته اشاره وي او ځينې احاديث ممکن د صحت درجه هم ونه لري.

مثلن: پر ژوندي ژوي اوکسيجن بندول د هغه په مرګ تمامېږي، له غره ځمکې ته را ټوپ وهل د هر ژوی په مرګ او د هر مجسم شي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



متلاشي کېدو پاى مومي، اور سوځول کوي، که هر څوک په خپله خوښه ور ولېږي، نتيجه يې د هغه سوځول دي چې دی يې په خپل اختيار د ټاکلو واک نه لري، دا مقرر قوانين دي چې نه بدلېدونکي دي، نو انسان د خپل عمل د کولو واک هم په فردي کچه لري او هم په اجتماعي، پر دي اعمالو مرتبه نتيجه د الهي مقررو اصولو له مخې کېږي چې همدې ته تقدير ويل کېږي. يو مثال: زموږ پښتانه له ځمکې اوبه راکاږي، ډېمونه نه جوړوي، ځنګلونه نه لري، نتيجه به يې وچکالي وي، د ځمکې اوبه به کمېږي، دوړې به بادېږي او د خلکو کښتونه به وچېږي، د دې پايلې مخه يوازې هغه وخت نيوله کېږي چې د الهي مقرره اصولو سره هماهنګه عمل ته را ودانګو، اوبه را وګرځوي، د ځمکې اوبه دومره را وکاږي چې څومره ذخيره کېږي، ځنګلونه کښېږدي، بندونه او ډېمونه جوړ کړي، خپله به بارانونه وشي، د ځمکې اوبه به را پورته شي، کښتونه به وي او دوړې به په يخ شمال بدلې شي.

د نړۍ په کچه: که دتيلو د وسايلو ځای برقي وسايل ونيسي، جنګونه ورک شي، کارخانې خپل ايله کېدونکې ګازونه کنټرول کړي، ځنګلونو ته پاملرنه وشي، د نړۍ مخ پر ګرمېدو وضعيت کې به مثبت بدلون راشي، اما که انسان دې کار ته دوام ور کړي، نو پايله به يې د درست انسانيت لپاره خطرناکه وي، دا نه بدلېدونکي الهي سنت دي چې انسان بايد ورسره هماهنګي وکړي نه مخالفت.

٧/٣/٢٠٢٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خرافات ختموني له وسيلې يې بېرته د پنځونې هڅې

د قران کريم او عربي تاريخ له مطالعې معلومېږي چې عربي ټولنه تر اسلام وړاندې په خرافاتو کې غرقه وه، اصلن دا خبره ډېره پر ځای خبره ده چې «هر ځای علم نه وي، هلته به خرافات او اوهام پرستي ځای نيسي»، عربي ټولنه د ساينس په برخه کې بيخي د عهد طفوليت له دورې تېرېده او د دين تفسير يې مکمل پر خرافاتي ذهنيت ولاړ و، له علمه او عقلانيته خالي ټولنې په يوه وخت کې جالبت متناقض باورونه سره لري، د هغوی يو لور ته دا باور و چې که خدای هر څه کول هغه کېږي(الانعام: ۱۴۸، النحل: ۳۵) او بل لور ته يې پر فال هم باور در لود، کله چې به يې سفر کاوه، نو يوځل به يې په غشو خپل فال کتی، يا که به يې له مرغانو يا حيوانو د يوه جنس حيوان يا مرغه په مخه ورغی، بس پر ښه فال يا بد فال به يې نيوی، بيا يې يا هغه کار کاوه يا يې پر بدشگون نيوی، ځان يې ځنې ساته.

هره ټولنه چې پر خپلو اوهامو پرستيو د بيا نظر کولو لپاره تياره نه وي، د علم په تله کې خپل باورونه ونه تلي، هغه به په يوه وخت کې دغسې په خرافاتي متناقضو باورونو کې ډوبه وي.

قران کريم د هر شي د تقدير او په وړاندې يې د انسان د بې اختياره کېدو ادعا مشرکينو ته منسوبه کړه، د انسان دا وينا چې زما گټلې دنيا زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړتيا نتيجه وه او کله چې مسکين شي، بيا وايي خداى زه په مسکينولو ذليل او سپک کړم، قران کريم يې داسې ځواب کړى دى:

{كَلاَّ بَل لاَّ تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ () وَلاَ تَحَاضُّونَ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ () وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلاً لَّمًّا () وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا} [الفجر: ١٧ - ٢٠].

دغسې هيڅکله نه ده، تاسو د بې سرپرستانو درناوى نه کاوه، نه مو د بې وزلانو خوراکي موادو ور کړې ته خلک هڅول، او په ميراث درته پاته هر څه مو د ځان حق بلل او د مال (له ډېرولو يوځاى کولو سره) مو لېونى مينه در لوده.

وګورئ قران کريم د هغه تاوان د هغه اعمالو ته منسوب کړ، دا د تقدير مسلې نه دي چې تاته در کړې دنيا دې هم ستا د اهليت له امله خداى در کړې وي او که در څخه واخيستل شي، بيا هم خداى در څخه اخيستې ده او ستا پکې توهين شوى دى، دا شرکي ذهنيت دى، قران کريم ورته وايي ستاسو د غير منصفانه ټولنيزو اعمالو نتيجه وه چې په دې برخليک يې اخته کړې. هر عمل د خداى له خوا مقدر نه وي، بلکې د اعمالو نتيجه مقدره وي، نو ستاسو عمل پر دې منتج شو چې له دغسې پښېمانه کوونکي وضعيت سره مخ شوې.

تر دې وروسته قران کريم په ګڼو ځايونو کې له اسلاف پرستۍ منعه کړې ده، په مقابل کې يې انسان له خپله فکر او عقله کار اخيستلو ته هڅولى دى، مګر انسان تر دې هر څه وروسته بيا هماغه پخواني خرافاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهنيت ته وگرځېده او د تعقل لارې ته يې د الوداع په ويلو، پخوانۍ ناسمه تگلاره د ځان لپاره غوره کړه، قران کريم وايي:

{أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلاَ يَهْتَدُونَ} [البقرة: ١٧٠].

که څه هم د هغوی اسلاف نه په يوه شي پوه شوي وي او نه پر سمه لار وي.

{وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ يَدْعُوهُمْ إِلَى عَذَابِ السَّعِيرِ} [لقمان: ٢١].

او کله چې دوی ته وويل شي: د الهي نازل کړي قانون پيروي وکړئ، دوی وايي: بلکې موږ د هغه څه پيروي کوو چې خپل اسلاف مو پرې موندلي دي، نو که څه هم شيطان يې سوځونکي عذاب ته ور غواړي(بيا هم د دوی تگلاره همدغه ده، بدلولو ته يې تيار نه دي)

د قران کريم پر دې الفاظو فکر وکړئ، د رسول د زمانې خلک په اسلاف پرستۍ کې تر کومه ځايه غرق ول؟ زموږ حالت هم له هغو څخه ډېر بدل نه دی، يوازې دا توپير دی  چې هغوی ته د الهي قوانينو د تابعدارۍ خبره د رسول په خوله کېده، اوس رسول نه شته يو امتي ورته هماغه د رسول خبره تکراروي، د دوی ځواب بيا هم دغه دی چې تر موږ پخواني ښه پوهېدل، ځکه يې پر موږ تابعداري لازمه ده او په دينې تعبير کې همدا پخوانی راته کافي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر پوهاوي وروسته که د رسول په زمانه کې دا تګلاره ګنا ده، نو رسول له زمانې پرته هم تر پوهاوي وروسته دا تګلاره خپلول او نه ځنې اوښتل ستره ګنا ده، د خدای د کتاب قانون د رسول په زمانه کې هم قاطع و او له هغې زمانې پرته هم پر خپل قاطعیت پاته دی.

د عربو جاهلي خرافات یو په یو قران کریم رد کړل، احبار او رهبانو ته د دین واک ورکول، حلال و حرام د هغوی په خوله کول، مرض او روغتیا د هغوی په اختیار کې ورکول، خدای ته څوک نږدې کول یا دهغه په دربار کې یې شفاعت غوښتل یا هم ردول، دوی ته سپارل، د زیارتونو، بزرګانو او نورو خرافاتي عقایدو له مخې حیوانات ورته نذرانه کول، ذبح کول او بې ګټې خوشي کول، پر قبرونو منجوران کېنول، کاهن، فالبین، ساحر، عراف او داسې نور اوهام پرستان د الله کتاب ورټل، دا کړنې یې شیطاني معرفي کړې، خو تر دې وروسته خلک بېرته هماغه خرافاتو ته وګرځېدل، نه یوازې تر پخوا په ډېر شدت ور تاو شول، بلکې دا ځل یې د دې ټولو خرافاتو لپاره د قران کریم یا رسول الله ص ته د منسوبو احادیثو په مټ دیني توجیهات هم ورته وموندل او په دې توګه یې د خدای مخلوق یوځل بیا د کعبې پر ځای ترکستان ته روان کړل.

د قران کریم له الفاظو او اصطلاحاتو یې داسې ناسمې معناوې را وایستې چې نه په عربي ژبه کې پخوا پېژندلې شوې وې او نه د قران کریم په تفسیر کې چا کړې وې، د شریعت او طریقت په نوم دوې لارې ورته ایستل، د شریعت پیروان د هغه په تابعداری مکلف بلل او د طریقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیروان له دې مبرا کول، یا دا طریقتوالو دا ادعا چې دوی هم علم له هغه ځایه اخلي له کومه چې رسول اخیستی و، د یوه طریقتوال دغه لاندې کرښې ولولئ:

ابن عربي په فصوص الحکم کې لیکي:

"له کوم ځای څخه چې نبي علم تر لاسه کاوه، هغه ځای د کامل انسان، صاحب الزمان، غوث او قطب سرچینه هم ده... شریعتپوهان هغه دي چې له قران او حدیث څخه احکام ورکوي، که هلته صریح نه وي، قیاس پر کوي، اجتهاد کوي، خو د اجتهاد اصل هم منقول قران او حدیث وي، ددې برخلاف موږ داسې خلک لرو چې همدغه احکام د کشف او الهام په ذریعه ډاریک له الله څخه تر لاسه کوي. لهذا په دې شرعي حکم کې خلیفة الله دي. نو پر یوه طور د کشف و الهام او د وحې و رسول ماده یو شی دي. صاحب کشف له الله څخه د حکم د طریقې د زده کولو له امله د رسول سره موافق دی، له الله تعالی څخه د علم په اخیستلو کې عیني د رسول په شان دي".

موږ ځکه له دې حالت سره مخ یو، چې پر هغه شریعت مو بسنه ونه کړه چې الله تعالی نازل کړی دی، انسان ته یې په دې د عمل کولو امر کړی دی، له دې پرته یې په دیني چارو کې د نورو شیانو له پیروي منعه کړی دی حتا که له ځانه جوړه طریقه هم وي، یا له بل غیر الهي سرچینې تر لاسه شوې طریقه وي، قران کریم وایي: {اتَّبِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ} [الأعراف: ۳] ستاسو د رب له لوري د نازل شوي قانون پیروي وکړئ، له دې پرته د بل هیڅ د قانون پیروي (په دیني چارو کې) مه کوئ، تاسو ډېر کم په دې خبره پوهېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کرامتونو په نوم دين کې نوې اضافې همدا نتيجه لري، اوس نو ځوك د رسول په شان له خدای د ډاريک احکامو دعوه کوي، ځوك د بل نبوت دعوه کوي، ځوك په کرامت زنا او فحاشيو ته لاره جوړوي، ځوك د خدای په نوم ډېر حرامو ته د حلت مقدس (اصلن غير مقدس او شيطاني) جواز ليکونه جوړوي، نور يې بيا حلالو د حرمت فتواوې ور کوي او انسانيت ته د خدای پيدا کړي زينتونه د حرمت په ټاپه د خلکو له استعماله باسي، دا چې خلکو د خدای پر ور کړي نعمت بسنه ونه کړه، اوس به يې ناسمې پايلې په خپله زغمي او دا لړۍ به تر هغو روانه وي چې خلك په دې راز پوه شوي نه وي.

هغه ځوك چې د قران کريم رد کړي خرافات يې بېرته د روايت او لدني علم په مټ ژوندي کړل، هغه دې اوس د نبوت درواغجن مدعيانو سره د حق و باطل معرکه وکړي، ځوك چې د مهدي منتظر لارې څاري، ځوك چې په دې پلمه لاس تر زنې ناست وي چې يو غيبي مدد يې د خلاصون لپاره را روان دی، هغه به د ذلت په دغسې کنده کې د تل لپاره غوټې وهي او د ايستلو هيڅ لار به نه مومي.

قران کريم د عزت او ذلت لارې په خورا روښانه کرښو بيان کړې دي، دومره واضحې دي چې د انساني ژبې په قاموس کې تر دې نور وضاحت يې امکان نه لري، خو له دې وضاحت سره بې همته، مفت خور، خرافاتي او د هر څه تر شا د يوه پټ لطيف راز ليدونکي ذهنيت خاوند، دغه روښانه لار پرېښوده، يوه بله لار يې ځان ته جوړه کړه، د خدايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې نوم يې پر کېښود، له ځانه يې بې بنسټه تعبيرونه ورته وتراشل او د خرافاتي رواياتو په نوم يې د خدای په رسول پسې روايات غوټه کړل، په دې سره يې د خدای په روښانه دين کې داسې لار وايسته چې د خدايي دين اصل او څېره يې ورسره مسخه کړه، په دې سره نه يوازې دوی د دين اصل له انسانانو ورک کړ، خلک يې د خدای په پيدا کولو کې سرګردانه کړل، بلکې خپل ځانونه يې هم د هغو بني اسرائيلو په شان ورسره مخسه کړل چې قران کريم د خنزير او بېزوګيانو په نوم ياد کړي دي(البقره: ٦٥، المائده: ٦٠)، څوک چې د خدايي دين روښانه او پراخه لار پرېږدي، په مقابل کې يې له ځانه جوړه لار واخلي، نو حتمن يې ذهنيت مسخ شوی او د بشريت وړتياوې يې په خپل ځان کې کوټلې دي، ځکه قران کريم پخواني سرلاري يې په خنازيرو، بېزوګيانو او عبد الطاغوت ياد کړي دي.

د پيرانو، ملنګانو، منجورانو، زيارتونو، کاهنانو، ساحرانو او دې ته ورته نور ټولو خرافاتيانو اصليت قران کريم د خپلو هداياتو په ځلا او پړق کې ټولنې ته ښودلی و، خو کله چې هم خلکو د قران کريم هداياتو ته شا کړه، د خدای خبرې يې د هغه د کتاب پر ځای د خلکو له خولې اخيستل شروع کړل، نو د خرافاتو په يوه ګرداب کې ډوب شول، ذهنيت يې د سمې خبرې پر ځای کږې او وهمي خبرې ته جوړ شو، د خدای پر ځای د يوه انسان لور ته تګ يې خوښ کړ، د الهي عظمت پر ځای به خلک هر ځای ولاړ وي، انساني عظمتونه به بيانوي او د دې لپاره به د خپلو سلفو له خبرې او کتاب پرته بل هيڅ دليل نه لري، دوی به په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ښکرورو درواغو نه شرمېږي، خو که څوک د الهي کتاب هدايات ټولنې ته وړاندې کړي، هغه به په همدې جرم دومره بدنام کړي چې حتا خلک به يې له نوم اخيستلو ډډه کوي.

جالبه ده د دې خرافاتو په تاثر کې يوه اسلامي ټولنه دومره له سمې لارې لرې ولاړه چې د الهي کتاب پر ځای اوس ټولو خلکو د انسانانو کتابونه په لاس کې نيولي وي، هغه ورته مقدس ښکاري، ان دومره مقدس چې سم يې د خدای د کتاب مقام ته رسولي دي، قران د منحرفو په اړه ويلي دي:

{وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ}.

[البقرة: ۱٦۵]

او ځينې داسې خلک هم شته چې له الله ماسيوا يې هغه ته سيالان جوړ کړي وي، نو عيني د خدای په شان مينه ورسره کوي.

مينه يې څه ده؟ او سيالان څه معنا لري؟ مينه يې همدا ده چې خبره يې له هر ډول حجت پرته مني او حتا د حجت ځای ور کوي، دا خو پرېږده چې د هغه د خبرې لپاره حجت و برهان ولټوي، بلکې د هغه خبره برهان بولي، سيالي يې داده چې څنگه د خدای په کلام د يوه شي حرمت او حلت ورته مهم دی او دواړه په ثابتوي، په همدغه کچه د يوه سيال په خبره حرمت او حلت ثابتوي او په عيني سطحه عمل هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، سیال دې ته نه وایي، نو څه سیال ډول وهي او که خپله نارې وهي چې زه د خدای سیال یم؟!

الحمدلله د علم له پرمختګ سره هیڅ خرافات د هغه په وړاندې د ودرېدا توان نه لري، دنګې خیالي مانۍ یې هره ورځ را نړېږي، د خدای کتاب د یوه عادل فاتح په موډ کې تکي تنها هسکه غاړه پر میدان ولاړ دی او د علم له کاروان سره خوله په خوله یې هدایات د انسانیت د لارې مشال دي، هغه ورځ لرې نه ده چې خلک ټول هغه خرافات رد کړي چې د علم په لار کې یې خنډونه ایجاد کړي حتا که د مقدسو کتابونو نومونه پر پراته وي. له دې امله خرافاتیان په ټول زور هڅه کوي چې د علم د راتلو لارې بندې کړي، په یوه او بل نوم یې مرکزونه بدنام کړي، خلک ترې متنفر کړي، د بې دینۍ او الحاد په نوم یې ځنې را وګرځي او دې ته ورته نورې ډېرې حربې کاروي چې د علم د کاروان دلته له راتلو منعه کړي، ځوک چې له دې کاروان سره ملتیا غواړي هغه تر ګنو نومو لاندې بدنام کړي او له خپلې سیمه و وطنه یې ایستلو ته مجبور کړي، څو دلته د علم رڼا خپره نه کړي او هغه د علمي کاروان مل کس وشړي، دلته یې علمي جلوې خپرې نه شي او دوی ته ټولنه هم داسې بې نوره او بې علمه په لاس ور شي، څو یې بشري توان په غلطو لارو کې مصرف کړي، د علم په مخ کې خنډونه په جوړ کړي، خرافات یې په ذهنیت کې ور پیچکاري کړي، د خدای په نوم داسې مسلک پر وتپي چې نه یې دنیا په ودانه شي او نه اخرت، هم یې له ځان سره په جنګ کړي هم یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ سره، نه ځان په وپېژني او نه نور، نه دین ورته معرفي کړي نه یې د دنیا عشقونو ته ایله کړي، نه دلته ښه ورځ ځنې وویني او نه هلته د ښې ورځې توښه ور ایله کړي، نه خدای ځنې راضي شي ځکه تر اخیره یې سم ونه پېژني او نه انسانان ترې راضي شي ځکه هیڅ وخت یې د هغوی له کاروان سره د ملتیا تکل ونه کړ او هر وخت د بشریت په لار کې خنډ ول.

که په دومره تېزي د علم پلوشې خپرېدلې، ډېره لرې نه ده چې د دوی تیارې به ټولې شي، ځکه د رڼا را تگ په هغه دم د تیارې د مرگ پیغام راوړي، لامل یې دادی چې تیاره وجود نه لري، بلکې د رڼا له عدم وجود څخه را پیدا شوې وه او د رڼا بېرته راتگ سمدستي د تیارې ځای نیسي، زما په نظر د علم په وړاندې دغه غورځې پرځې د تیارې د له منځه تلو وروستۍ شېبې ښیي او دا هم لرې نه ده چې د علم په گېڼه سمبال بشري کاروان به د خدای له کتاب څخه د خرافاتو او وهمیاتو گردونه ایسته کړي او د علم و الهي کتاب په سره مختلطه جلوه و پړقا کې به انساني کاروان مخ په وړاندې د خپل رب لور ته گړندی سفر وکړي. وما ذلک علی الله بعزیز!!!

۵/۹/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رؤیت هلال (میاشتې لیدلو) ستونزه

د ۲۰۲۲ میلادي کال چې له ۱۴۴۳ هجري قمري سره سمون لري، د واړه اختر مسله ډېره جنجالي وه. په اسلامي نړۍ کې ناجیریا، مالي، افغانستان او د وزیرستان خلکو د مې پر یوه تاریخ اختر کړ، په دوه تاریخه یې د سعودي په شمول ۲۵ هیوادونو اختر کړی و او پر درېیم تاریخ یې د پاکستان و ایران په شمول پاته هیوادونو اختر کړی جوړ کړ.

بل خوا یوازې په پاکستان کې هم درې اختره وو، وزیرستان پر اول تاریخ اختر کړ، پېښور، چمن، کلا سیف الله، د بلوڅو ځینې سیمې او زیاتره پښتني علاقو کې په دویم تاریخ اختر وشو او په درېیم تاریخ یې رسمي دولتي اختر کړ.

دا اختلافات هر وخت وي، په اسلامي دنیا کې اصلن د رؤیت هلال په اړه نظریاتي اختلاف موجود دی چې په نتیجه کې یې د اختلافي اختر عملي بڼه هم په را وینې.

د مسلمانان یوه ډله په دې باور دي چې د هر هیواد لپاره خپل مطلع معتبر دی، که په هغه هیواد کې میاشت ولیدل شوه، خبر یې رسمي دولتي کمیټې تایید کړ، نو اختر باید وشي، که روژه وه، باید روژه ونیول شي او که چا د میاشتې لیدو خبر ور کړ، خو شاهدي یې کمیټې ونه منله، بیا اختر او روژه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه بله ډله مسلمانان په دې نظر دي چې که د هر ځای څخه باوري شاهدي د مياشتې ليدلو را ورسېږي، هغوی يې ورسره مني، که روژه وه، روژه نيسي او که اختر و، اختر جوړوي.

که د دې دواړو ډلو په اړه پلټنه وکړو، چې د کومو دلايلو له مخې هغه او دغه تګلاره لري، نو د شريعت په نصوصو کې دواړه خپل دريځ ته ملاتړي دلايل موندلای شي. لومړی به پر همدې نصوصو سرسرکي نظر وکړو:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ غُمِّيَ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعَدَدَ».(١)

ژباړه: له ابو هريره رض روايت دی چې رسول الله ص وويل: د مياشتې په ليدو روژه نيسئ او د مياشتې په ليدو يې خورئ، که مو مياشت ونه ليده، نو شمېر يې پوره کړئ.

له دغه حديث څخه د دويم مذهب خاوندان استدلال کوي چې ليدل د هر مسلمان معتبر دي، نو که هر چا وليده، شاهدي يې ور کړه، نورو مسلمانانو ته يې شاهدي په باوري ډول نقل شي، بس همدا معتبره ده او د روژې يا اختر فيصله پر کېږي. يو بل حديث کې دي:

عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ الْحَارِثِ الْجَدَلِيُّ، أَنَّ أَمِيرَ مَكَّةَ خَطَبَ، ثُمَّ قَالَ: «عَهِدَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَنْسُكَ لِلرُّؤْيَةِ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَإِنْ لَمْ نَرَهُ، وَشَهِدَ شَاهِدَا عَـدْلٍ نَسَـكْنَا بِشَـهَادَتِهِمَا»، فَسَـأَلْتُ الْحُسَـيْنَ بْـنَ الْحَارِثِ مَنْ أَمِيرُ مَكَّةَ، قَالَ: لَا أَدْرِي، ثُمَّ لَقِيَنِي بَعْدُ، فَقَالَ: هُوَ الْحَـارِثُ بْـنُ حَاطِبٍ أَخُو مُحَمَّدِ بْنِ حَاطِبٍ، ثُمَّ قَالَ الْأَمِيرُ: إِنَّ فِيكُمْ مَـنْ هُـوَ أَعْلَـمُ بِـاللَّهِ وَرَسُولِهِ مِنِّي، وَشَهِدَ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَوْمَـأَ بِيَـدِهِ إِلَى رَجُلٍ، قَالَ الْحُسَيْنُ: فَقُلْتُ لِشَيْخٍ إِلَى جَنْبِي مَنْ هَذَا الَّذِي أَوْمَأَ إِلَيْـهِ الْأَمِـيرُ؟ قَالَ: هَذَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، وَصَدَقَ كَانَ أَعْلَمَ بِاللَّهِ مِنْهُ، فَقَالَ: «بِـذَلِكَ أَمَرَنَـا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ».(٢)

ژباړه: له ابو مالک الاشجعي روايت دی، ده ويل موږ تـه حسـين بـن الحارث الجدلي حديث بيان کړ، چې د مکې امير بيـان وکـړ، زياتـه يـې کړه: موږ ته رسول الله ص امر کړی چې د ليدلو له مخې عمل وکړو، کـه موږ مياشت ونه ليده او دوو عادلو کسانو يې د ليـدو شـاهدي ور کـړه، د هغوی په شاهدي عمل وکړو. ما له حسين بن الحارث څخه پوښتنه وکـړه چې د مکې امير څوک و؟ ده ويل: زه نه پوهيږم، بيـا وروسـته راسره مـخ شو، وې ويل: هغه حارث بن حاطب د محمد بن حاطـب ورور و، اميـر پسې زياته کړه: په تاسو کې داسې څـوک شـته چـې تـر مـا هـم د الله او رسول الله ص پـه اړه ښـه خبر دی، دغـه کـس لـه رسـول الله ص څخـه شاهدي ور کوي، نو په لاس يې يو کس ته اشاره وکړه، حسين ويل: ما د څنګ يوه بوډا ته وويل: هغه کس څـوک دی چـې اميـر پـه لاس اشـاره ورته وکړه؟ هغه ويل: عبد الله بن عمر رض، او امير رښتيا ويـل چـې ابـن

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر تر هغه د رسول الله ص په حال ښه خبر و ، هغه ویل: موږ تـه رسـول الله ص دغه امر کړی دی.

له لیدو څخه هدف د هر سړي لیدل نه دي، بلکې موخه یـې بـاوري کول دي، نو که دومره کسان یې ووینې چې د نـوور مسـلمانانو بـاور پـر وشي، همدا لیدل دي، چې د اختر او وروژې دواړو لپاره کفایت کـوي، لکه د اوس وخت لپاره چې کمېټې ټاکل کېږي، د هغوی کار همدا لیدل دي، نو که هغوی اعلان وکړي، خلـک یـې ورسره اخـتر کـړي، کـه یـې اعلان ونه کړ، خلک یې نـه اخـتر کـوي او نـه روژه، یعنـې د هغـوی پـه شاهدي خلک عمل کوي.

د لومړي دریځ د خلکو دلیل دغه حدیث دی:

عَنْ كُرَيْبٍ، أَنَّ أُمَّ الْفَضْلِ بِنْتَ الْحَارِثِ، بَعَثَتْهُ إِلَى مُعَاوِيَـةَ بِالشَّـامِ، قَـالَ: فَقَدِمْتُ الشَّامَ، فَقَضَيْتُ حَاجَتَهَا، وَاسْتُهِلَّ عَلَيَّ رَمَضَانُ وَأَنَـا بِالشَّـامِ، فَرَأَيْـتُ الْهِلَالَ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ، ثُمَّ قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فِي آخِرِ الشَّهْرِ، فَسَأَلَنِي عَبْـدُ اللهِ بْـنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، ثُمَّ ذَكَرَ الْهِلَالَ فَقَالَ: مَتَـى رَأَيْـتُمُ الْهِـلَالَ؟ فَقُلْـتُ: رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ، فَقَالَ: أَنْتَ رَأَيْتَهُ؟ فَقُلْتُ: نَعَمْ، وَرَآهُ النَّاسُ، وَصَامُوا وَصَامَ مُعَاوِيَةُ، فَقَالَ: " لَكِنَّا رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ السَّبْتِ، فَلَا نَزَالُ نَصُومُ حَتَّى نُكْمِلَ ثَـلَاثِينَ، أَوْ نَرَاهُ، فَقُلْتُ: أَوَ لَا تَكْتَفِي بِرُؤْيَةِ مُعَاوِيَةَ وَصِيَامِهِ؟ فَقَـالَ: لَا، هَكَـذَا أَمَرَنَـا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " (٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: کریب روایت کړی چې زه ام الفضل بنت الحارث په شام کې معاویه رض ته ولېږلم، ده ویل: زه شام ته ولاړم، د هغې غوښتنه مې پوره کړه او پر ما په شام کې روژه شوه، د جمعې په شپه میاشت ولیدل شوه، بیا د میاشتې په اخیره کې مدینې ته راغلم، له ما عبد الله بن عباس رض پوښتنه وکړه، په خبرو کې د میاشتې یادونه راغله، ده ویل: تاسو میاشت څه وخت ولیده؟ ما ویل: موږ د جمعې په شپه ولیده. ده ویل: تا په خپله ولیده؟ ما ویل: هو، خلکو هم ولیده، خلکو روژه کړه او معاویه رض هم روژه ونیوه، ده ویل: خو موږ د شنبې په شپه ولیده، نو تر هغو به روژه نیسو چې دېرش پوره کړو یا میاشت ووینو. ما ویل: ته د معاویه رض لید او روژه بس نه بولې؟ هغه ویل: نه، موږ ته په دغه ډول رسول الله ص امر کړی دی.

پر دغه حدیث امام نووي رحمه الله هم باب ایښی دی چې د هر ښار لپاره خپل لید دی، ده هم دغه فهم ځنې اخیستی دی چې د هر ښار د خلکو لیدل د هغه ښار د خلکو لپاره معتبر دي. د لومړي دریځ خلک هم دغه فکر ځنې اخلي، ابن عباس رض چې کومه خبره کړې ده، هغه واضحه نه ده، دغسې حدیث چې د هر ښار لپاره خپل رؤیت دی، په دې الفاظو حدیث نه شته، ابن عباس رض چې وایي، موږ ته دغه ډول امر رسول الله ص کړی دی، هدف یې هماغه عمومي حدیث دی چې رسول الله ص ویلي له لیدو یې نیسئ او له لیدو یې خورئ، ابن عباس رض له دې حدیث څخه همدا فهم اخیستی دی، چې د هر ښار او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمې لپاره خپل لید معتبر دی، نو ځکه یې ویلي چې رسول الله ص موږ ته دا امر کړی دی، په داسې حال کې چې هغه نور حدیث نـه دی بیـان کړی چې رسول الله ص څنگه امر ورته کړی دی؟ چېرې یې ورته کړی؟ بل چا ولید په دغه ډول حدیث نه دی نقل کړی؟

دا مسله اجتهادي ده، زمـا پـه نظـر تـرجیح دا ده چـې د هـر مسـلمان شاهدي که په باوري ډول نقل شي، هغه معتبره ده، د هر ښار لپاره نه ده، بلکې د ټولې نړۍ لپاره. هغه وخت چې ابن عباس رض دغه اجتهاد کړی دی، د خپل وخت له شرایطو سره سم یې کړی دی، په هغه وخت کې د دې امکان نه وو چې یو کس دې له افغانستان څخه د مـدینې خلکـو تـه شاهدي ور کړې وای، نو دوی چې د رؤیت اعتبـار تـه کـتلي دي، نـو د خپل وخت حالاتو او شرایطو اړ کړي دي چې تر هغـه ځایـه یـې معتـبر وبولي چې په یوه ورځ یا یوه شپه کې یې د رسولو امکان وي، له دې امله یې د شام لیدلو ته اعتبار نه دی ور کړی، ځکه له شامه مدینې ته شاهدي په یوه ورځ نه شي رسول کېدای او نه له مدینې و مکې ته، له دې امله یې د هر ښار لپاره خپله مطلع معتبره بللې ده. البته نن شرایط له هغو شرایطـو سره توپیر لري؛ موږ کولای شو چې په یو څو دقیقو کې ټوله نـړۍ خـبره کړو، شاهدي هم تر پخوا په ډېر باوري ډول نقل کېږي. دویمـه خـبره د ابن عباس پر اجتهاد دا هم کېدلای شي چې هغه د یوه ښار لپـاره معتـبره بللې ده، د بسته هیواد لپاره یې نه ده بللې، که د ټول هیواد په کچـه وای، بیا خو مدینه او شام د یوه هیواد دوې بېلې بېلې سیمې وې، نو ابن عباس

(c) ketabton.com: The Digital Library



رض ولې د خپل خلیفه په لیدو نه روژه کوله او نه یې اختر کاوه؟که خبره د یوه ښار شي، نو اوس خلک تر یوه ښاره محدود نه دي، بلکې له همدې حدیث څخه د درست هیواد لپاره استدلال کوي، په داسې حال کې چې دا استدلال یې له دغه حدیث څخه زما په اند سم نه دی. درېیمه خبره دا هم ده چې پاس د ابن عمر رض په حدیث کې راغلي دي چې یا لید معتبر دی یا هم د عادلو شاهدانو شاهدي، له عادلو څخه هدف د شاهدي کره او باوري کول دي، چې دروغ پکې نه وي او خبره پاکه و صافه شي؛ هلته هم ابن عمر رض ویلي دي چې موږ ته رسول الله ص دغه ډول امر کړی دی. که د ابن عباس رض له حدیث څخه هغه ډول استدلال کېږي، نو د ابن عمر رض له حدیث څخه پر دې بل ډول استدلال کېدلای شي. ابن عمر رض هم ویلي دي چې موږ ته رسول الله ص دغه امر کړی دی. نه یې د شاهدۍ لپاره حدود ټاکلي دي چې له کومه ځایه شاهدي تر کومه ځایه معتبره ده او نه یې د لید لپاره ځایونه تعین کړي دي چې له دې ځایه تر هغه ځایه لید معتبر دی او له هغه ځایه ور هاخوا به خلک خپله میاشت ویني، بیا تر پلاني ځایه د هغوی لید اعتبار لري. څلورمه خبره داد چې د هیوادونو جغرافیې غځېږي او کمېږي، یو وخت د افغانستان جغرافیه ډېره لویه وه، نن بیا ډېره وړه ده، پاکستان یو مهال بیخي وجود نه در لود، نن شته، په دې توګه هر هیواد د وړېدو او لویدو امکان لري، نو که نن یو ښار د یوه هیواد برخه وي، د هغه هیواد لید او شاهدي به پکې معتبره وي، که سبا هغه ځان ته بېل هیواد شي یا له بل هیواد سره پیوست شي، بیا به ځان ته لید او شاهدي لري یا به د بل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لید او شاهدي تقلید کوي، په دې توګه شرعي احکام د پسخند او استهزاء درجې ته را کښته کېږي، د مسلمانانو اتحاد او یووالی ماتوي، هیوادونه د خلکو په شخصي عبادت کې خپل سیاستونه ور ننباسي، دا او دې ته ورته زیانونه له همدې پېښېږي چې د هر ښار خپل مطلع د هغه ښار یا هیواد لپاره معتبر وګڼل شي.

دا اختلاف خو د ډېر وخت دی، فکر نه کوم چې د یوه سړي، یوې ډلې، یو عالم، یوه مفتي او یوه لیکوال په فتوا، سپارښتنه یا راجح و مرجوح دې خبره حل شي، اوس یې د حل وخت تېر شوی دی، پر دې اختلاف کتابونه لیکل شوي دي، د هر دریځ په ملاتړ او رد کې ویناوې و مناظرې شوې دي، په اسانه د خلکو یوه کول اوس د عامو خلکو د وس خبره نه ده، که پر دې مسله د امت اتحاد غوښتل کېږي، باید په دولتي کچه څو کارونه وشي چې اتحاد ته لار جوړه شي:

اول: د اسلامي نړۍ په کچه دې یوه کمېټه جوړه شي، دې کمېټې ته که له هره ځایه د میاشتې د لیدو خبر ورسېد، تر خپلو څېړنو وروسته دې روژه یا اختر اعلان کړي چې په اعلان یې باید ټول مسلمانان عمل وکړي، هیڅ هیواد دې له دې څخه ځان نه باسي او دغه یوه کمېټه له سیاستونو او هر هغه څه څخه لرې وساتل شي چې د هغوی پر کار اغېز کوي، دا که د کمېټې د غړو پر کار وي یا هم د هغوی د اعلان پر تاثیراتو وي. دا وړاندیز ښایي په اوسنیو حالاتو کې د عملي کېدا شونتیا ونه لري، ځکه مسلمانانو تر خپل منځ یوه د بل ګرېوان ته لاسونه اچولي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاستونه یې سر ټکر دي، د اختلاف او جنګ لپاره ګنې نورې پلمې هم پیدا شوې دي چې د اسلامي نړۍ اتحاد ته یې کلکه ضربه ور کړې ده، له دې امله به څوک په دې خبره د پوهاوي کولو زحمت هم ونه کاږي. هغه وخت یې د منلو امکان زیات دی که اینده په اسلامي نړۍ کې د اسلامي اتحادیې څرکونه ولیدل شول، یا هم پر شرعي عباداتو یې د یووالي هوکړه وکړه، دغه وړاندیز به منل کېږي او عملي جامه به ور اغوندي.

دوه: د اسلامي نړۍ علماء دې د اوس وخت شرایطو ته په کتو پر دې مسله بیا فکر وکړي، یوځل دې بیا وارزوي، په دې اړه راغلي شرعي نصوص دې ټول یو د بل ترڅنګ کښېږدي، وخت، مکان، ټولنه، غوښتنې، زموږ حالات او د شرعي نصوصو صحت و سقامت، د اجتهاد سموالی و ناسموالی دې ټول وارزول شي، د علماؤ په څنګ کې دې د فلکیاتو ماهرین هم وي، د هغوی پرېکړه دې دوی هم وارزوي، هغوی دې ځانو، دولتونو، ملتونو او د هر ځای مسلمانانو ته قانع کوونکې دلایل وړاندې کړي چې دغه لوری د مسلمانانو د اتحاد لپاره ګټور دی، له نصوصو سره برابر دی، له حالاتو، ځای، مکان، غوښتنو او ټولنو سره سمون لري، پر عبادت د سیاست او نورو اغېز ته اجازه نه ده ور کول شوې او فردي عبادت د حاکمې طبقې د سیاستونو قرباني شوی نه دی، بلکې یوازې د مسلمانانو اتحاد، د نصوصو واضح مفهوم، د خلکو فردي عبادت او له خپل خالق سره یې د مخلوق اړیکې ته پکې پام شوی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه فتوا دې د اسلامي امت د اتحاد لپاره یو ښه قوي مصدر وګرځي او خلك دې عمل په وکړي.

درې: په مسلمانان کې د اختلاف د مخنیوي لپاره یوه بله لار د فلکیاتو د ماهرینو او ساینس پوهانو ده. د کال له سر څخه دې جنتري/کلینډر جوړه شي، د متخصصو کسانو په مټ دې د ټولو عباداتو ورځې ورټاکل شي او هیڅ اختلاف ته دې زمینه نه برابروي. البته دا تر هغه وروسته چې د جنتري په اړه خلك یوه خوله شي، جنتري د رؤیت ځای ناستې وګڼله شي، که څه هم د ساینس پوهانو دغه کار د رؤیت هلال کمېټې تر اعلاناتو ډېر باوري دی، یو شی چې ممکن د اختلاف سبب شي هغه له دې کار سره ظاهرن د نصوصو نه همږغي ده چې ممکن د ځینو کسانو د اختلاف سبب شي. زما په اند که د دین او شریعت کلي پیغام ته متوجې شو، پوهېږي چې پر جنتري اختر او روژه ستونزه نه لري، په حدیث کې د روژې او اختر لپاره د میاشتې لیدلو امر هم د اتحاد لپاره و، دا چې خلکو ګڼ مفاهیم ترې واخیستل او د یووالی امر یې د اختلاف سبب کړ، دا یوه بدمرغي وه چې اسلامي امت ورسره مخ شو، خو موږ کولای شو چې نویو حالاتو ته په کتو یې د نوي اجتهاد په مټ مخنیوی وکړو او یوځل بیا د دین اوشریعت کلي پیغام او اصل روح ته امت رهبري کړو. له دې هر څه سره په احادیثو کې دوه داسې شیان ذکر شوي دي چې موږ یې ددې لپاره لاسوند ګرځولای شو، لومړی به دغه دواړه حدیثونه راوړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذَكَرَ رَمَضَانَ فَقَالَ: «لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوُا الْهِلَالَ، وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ، فَإِنْ أُغْمِيَ عَلَيْكُمْ فَاقْدِرُوا لَهُ». (۴)

ژباړه: ابن عمر رض له رسول الله ص څخه روايت کړی چې ده رمضان ذکر کړه، وې ويل: روژه د مياشتې په ليدو ونيسئ او د مياشتې په ليدو يې وخورئ، که مياشت درڅخه پټه شوه، نو اندازه ور ته وکړئ.

«إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ، لَا نَكْتُبُ وَلَا نَحْسُبُ، الشَّهْرُ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا» وَعَقَدَ الْإِبْهَامَ فِي الثَّالِثَةِ «وَالشَّهْرُ هَكَذَا، وَهَكَذَا، وَهَكَذَا» يَعْنِي تَمَامَ ثَلَاثِينَ. (۵)

ژباړه: موږ نالوستی امت يو، چې نه ليکل کولای شو او نه حساب(علم نجوم) مياشت دومره، دومره او دومره ورځې ده، په دريم وار يې بټه ګوته کت کړ او مياشت دومره، دومره او دومره ده، يعنې پوره ديرش ورځې.

په لومړي روايت کې د اندازې يادونه او په دويم کې دا ذکر چې موږ نالوستي يو، په علم نجوم نه پوهېږو، له دې امله نو د ليد او شاهدی خبره شوې ده، که امت اوس له هغه حالت څخه را ووزي، هم نالوستی نه شي په ليک لوست پوه شي او هم د فلکياتو ماهرين پکې داسې دقيقه وړاندوينه وکړي چې يوه ذره غلطي پکې نه وي، بيا هم موږ په دې مکلف يو چې مياشت به وينو؟ زما په اند دغه حديث علت ذکر کړی دی، د مياشتې ليد ځکه ضروري و، چې موږ له بلې لارې نه شوای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای چې د میاشتې راختل باوري کړو، یوازې په هغه صورت کې اجازه ور کړل شوې ده چې وربېځ وي، افق نه لیدل کېږي، نو له اندازه کوونکو څخه د مرستې طلب شوی دی، چې هغوی د خپل علم نجوم له مخې دا معضله حل کړي. که په حدیث کې هغه وخت د دې جواز ور کول شوی دی، چې اټکل یې باوري هم نه و، نو اوس چې یوه ذره خطا نه لري، دا کار به څنګه جواز نه لري؟ ایا لید به ډېر باوري وي که د همدې علم لـه مخې د میاشتې راختل؟ د لیدو خبره باوري نه ده، که وای دومره اختلاف به نه وای، په یوه ښار کې د چا اختر وي او د چا روژه. نو که د لید اعتبار دومره ضعیف شوی وي، بیا نو د فلکیاتو د ماهرینو دریـځ پـرې پیـاوړی دی، هغوی کولای شي چې د ټولې اسلامي نړۍ لپاره یـوه ورځ پـه ډېـر دقت وټاکي، څو د مسلمانانو اختلاف ختم کړي، ټول مسلمانان پـه یـوه ورځ اختر او ورژه وکړي او په دې سره د مسلمانانو اتحاد او یووالی بېرته خپل لومړني حالت ته را وګرځي. دا د دین له کلي پیغام او عمومي روح سره ښه لګېږي.

که دا هیڅ نه وي، بیا نو زما په اند شاهدي معتبره ده، که د هـر ځـای شاهدي په باوري ډول هر مسلمان ته ورسېږي، نـو روژه یـا اخـتر ورسره کولای شي، په دې کې د حکومتونو د ټاکلې تګلارې اطاعت ته اړتیا نـه شته، خلک په شریعت کې په لیـد او شـاهدي مکلـف شـوي دي، نـه د فردي عبادت په چارو کـې د حکومـت پـه تصـمیم، حکومتونـه د خپـل سیاست له مخې نه یوازې ټولنیزې چارې کله ناکله ناسم لور ته وړي، حتا

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـردي شرعـي چـارې هـم پـه خلکـو کـې د اخـتلاف وسـیله ګرځـوي. مسلمانانو ته لازمه ده چې خپل فـردي عبـاداتو د وخـت د حکومتونـو د ناسم سیاست قرباني نه کړي، دولتونه دې هم د فردي عبـادت بـې قیـده ازادي ور کړي چې خلك روژه نیول او اختر کول یوازې د خپـل خـالق لپاره وکړي، نه د ټولنې لپاره او نه د حکومت له امله.

٥/٥/٢٠٢٢

**سرچینې:**


١)صحیح مسلم، کتاب الصیام، بـاب وجـوب صـوم رمضـان لرؤیـت الهلال...، ح: ١٠٨١.

٢)سنن ابي داؤد، کتاب الصوم، باب شاهدة الرجلین علی رؤیة هلال الشوال، ح: ٢٣٣٨.

٣)صحیح مسلم، کتاب الصیام، باب بیـان ان لکـل بلـد رؤیـتهم...ح: ١٠٨٧.

٤)صحیح مسلم، کتـاب الصـیام، بـاب وجـوب صـوم رمضـان لرؤیـة الهلال... ح: ١٠٨٠.

٥)تېره حواله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هدایت تر لاسه کولو وړ او ناوړ افراد/قومونه

د خپلو اعمالو په نتیجه کې کله انسانان دې ځای ته رسیږي چې له هغه ځایه بېرته شاتګ ورته ګران شي(البقره: ۱۵)، زړه یې سخت شي(البقره: ۷۴)، واضح حقایق په سترګو نه ویني او د حق خبرې له اوریدو یې غوږونه داسې کاڼه شي لکه بند چې وي.(البقره: ۱۸، الانعام: ۲۵)، دوی د انسانیت د فلاح او بهبود لپاره دومره څه نه شي کولای چې حتا یاد یې کړي، له خیر او ښېګنې بیخي خلاص وي، نه د انسانیت چغارې اوري او نه د هغوی په اړه د تبصرې څه لري، له خیره یې داسې یو مخیز لاسونه کښلي وي لکه هیڅ چې نه پوهیږي، الله دغه ډول بې خیره کسان بدترین حیوانات، بلکې تر حیوان هم بدتر ګڼلي دي(الانفال: ۲۲، الاعراف: ۱۷۹، الفرقان: ۴۴)

هغه کسان چې خپله ملامتیا نه مني، پر خپل ناسم دریځ ټینګار کوي، د بل خبرې ته غوږ نه ږدي، پر بدی دلایل وایي او بدي یې د خپل ژوند هدف ګرځولې وي، دغه د شیطان پیروان دي، څوک چې هر وخت له خپل ځان سره محاسبه کوي، د خپل عمل لپاره معیار مني، که له هغه معیار څخه مخالف عمل یې وکړ، توبه پر کاږي او د کړې خطا له امله نه یوازې بخښنه غواړي، بلکې د عمل اصلاح هم کوي، دغه کسان د ادم پر لار روان هغه مصلحین دي چې په خپلو اعمالو یې خپلې انساني وړتیاوې نه دي ځپلې، دوی دا وړتیا لري چې له خپله ځانه تر جهانه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه انقلاب رهبري وکړي، د نورو انسانانو لپاره الګو شي، هر وخت له حالاتو سره د ټکر پر ځای توافق کوي، خپل سري نه کوي، بلکې هر ګام تر ښه فکر وروسته اخلي، د خپلو اعمالو مسوولیت پر خپله غاړه اخلي، له دې امله هم هر وخت بخښنې او اصلاح ته چمتو وي او هم له پیله یې خپل اعمال د احساساتو او جذباتو زېږنده نه وي، بلکې پوره محاسبه یې ورته کړې وي، د انسانیت مقام یې ساتلی او هر وخت له حق سره د ملګرۍ او له باطل څخه د ځان خوندي کولو وړتیا لري.

قران کریم وايي: په دې کتاب سره الله تعالی هغه کسان ژوندي کوي چې د ژوند وړتیا پکې وي او هغه کسان چې د ژوند وړتیا یې بایللې وي، هغوی همداسې مړه پاتېږي، دلته حقیقي مرګ او ژوند هدف نه دي، بلکې بې حسه کېدل او د احساس خاوند کېدل یې مراد دي.(الانفال: ۴۲)

یو قوم چې د خپلو اجتماعي خطاګانو له تکراره لاس نه اخلي، د دې پر ځای چې خپلې خطاوې د عبرت سبب کړي، دوی افتخار په کوي او بیا هم دغه خطاوې تکراروي، نو دا قوم په اجتماعي لحاظ مړ دی، دوی نه په ځان کې د تغییر وړتیا لري او نه په جهان کې، دغه قوم که د بني اسرائیلو په شان د الهي کتاب او پیغام رسوونکي هم وي، الله تعالی دغه اعزاز ځنې اخلي او بل قوم د دې لپاره را ټوکوي، چې هغه به د دوی په شان نه وي(محمد: ۳۸، الواقعه: ٦١).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله نبي صلي الله علیه وسلم ویلي دي چې د مومن په توګـه دې یـو ځوک دوه ځله له یوه غاره نه چیچل کېـږي(١)، کـه ځـوک لـه دې سره چې مومن هم وي، پر قران کریم ایـمان هـم لـري، هلتـه پکـې د قومونـو د عـروج او زوال اصول هم ویني، د الله د قوانینو په وړاندې نه یوازې د انسان بلکې د ټولـو کاینـاتو بـې بسي هم ګوري، د تاریخ واقعې هم د شواهدو په توګه ورتـه بیـان شـوې دي چې کـه ځوک عبرت نه اخلي، نو څنګه د خپلو اعمالو په نتیجه کې اخیر الهـي قهـر وهـلي او بیا یې پر پښو د درېدو توان بایللی دی، خو بیا هم مسلسل خطـا کېـږي، تکـرارن هغـه څه کوي چې هر وار یې پایله ناسمه راوتلې ده، نـو دغـه اصـلن مـړه دي، دوی د پنـد قبلولو، عقل کارولو، له سترګو د سم کـار اخیسـتلو او پـر ځـای د غـوږو لـه اسـتعماله محروم دي، الله نه دي محروم کړي، خپله یې ځانونه همداسې کړي دي، له عقله کـار نه اخلي، نتیجه به یې خرابه وي، په سترګو ژوندیو بېلګو ته نه ګوري، نو حالت به یـې وخیم کېږي، په غوږو د ناکامو داستانونه نه اوري، نو خـود بـه لـه عـذاب او کړاو سره مخېږي، دغه ډول قوم او ملت نور د دې وړ نه دی چې د بل راهـنما دې شي، دوی په خپلو ځانو کې د تغییر وړتیا حتا نه لري او د نړۍ د تغییـر لـومړنی شرط د خپل ځان تغییر دی، که له خپله ځانه تغییر ور پیل نه شي، هغه تغییر، تغییر نـه پـاتېږي او نه داسې ثمره ور کوي چې محسوسه وي او خلک یې په لیدو هماغه تګلاره خپلـه کړي.

٢٠٢٢/جولای/٦

**سرچینه:**

١)بخاري، کتاب الادب، باب لا یلدغ المومن من حجر مرتین، ح: ٦١٣٣، مسـلم: ٢٩٩٨).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دین د نفرت په دام کې

موږ چې په کومه ټولنه کې سترګې غړولې دي، هلته نفرت پـه مجسـم ډول موندل کېدی. یوه تربور له بل څخه ګانګې کولې، یوې بنې له بلـې سره دښمني کوله، د یوې بنې اولاد د بلې کور جارو کېدل غوښـتل، یـوه سړي په خپلو میرمنو کې له یوې سره مینه کوله او نورې یې هسې په نـوم هغه ته منسوبې وې، نو هغوی ورته د نفرت په اور کې سوځېدلې، په دې وړه کې دنیا کې تر دې نفرتونو وروسته بلې مرحلې ته ځو، چې پلرونه مو د دیني اعمالو د زدکړې لپاره د کلي جومات ته بیایي، دلته ملا هڅه کوي یوه بله دنیا مو په ذهن کې ترسیم کړي، ملا د یوه داسې چا نفرت زمـوږ ذهن ته را پیچکاري کـوي، چـې نـه مـوږ لیـدلی و او نـه پـه دې خـبرو پوهېدو، ځکه زموږ تر درک لوړې وې، خو یوه نامعلوم چا ته له غوسـې او کینې ډک و.

ملا صاحب به د نصیحت په ورځ، اخترونـو، د جنـازې پـه وعـظ، د استسقاء په بیان او هره بله موکه کې د یوه داسـې چـا د نفـرت خـبرې پـه دیني پوښ کې راته کولې چې موږ لیدلای نه شوای، د هغوی پـه اړه مـو فکر یوازې د ملا صاحب د معلوماتو او خبرو تر بریده وو، په دې توګـه زموږ په لاشعور کې د یوه نامعلوم چا لپاره نفرت ځای ونیوی، دغه نفرت په نااګاهانه توګه زموږ پـر ژونـد، کـارونو، فکـر، تعبیـر، لیکنـو، اعمالـو، اړیکو او هر شي سیور غوړولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ پر تاوتریخجنو اعمالو، خشن فکر او له دینه جګړه ییز تعبیر د همدې لا شعور ډېر اغېز دی، ماشوم په همدې کې پیدا شي، په همدې محیط کې لوی شي او بیا دغه د نفرتونو ډکه دنیا ورته مقدسه هم شي، هغوی به خود د خدای رضا، د دې او بل جهان بریا، له جهنمه خلاصون او جنت ته د تګ په نفرت او خشونت کې لټوي. ښایي ډېری لوستونکي له ځان سره فکر وکړي چې زه دغسې نه یم، زما کورنۍ هم دغه ډول نه ده، زموږ د کلي ملاصاحب هم دغسې نه و، پلانی و پلانی هم نه دي، نو بناءن زه دروغ وایم، مګر دا خبره دروغ نه ده. زموږ په ټولنه کې یوه جدي ستونزه دا ده چې هر څوک مو ځان سپینه ملایکه جوړوي، که د پلار ورځ شي د هر یوه پلار ښه سړی وي، که د استاد ورځ شي استاد یې ښه سړی وي، که د مشرانو ورځ شي مشران مو ښه خلک وي، که د کشرانو ورځ شي کشران فرشتې وي، که د مور ورځ وي د هر یوه مور سر پر ځمکه جنتي ده، نو بیا په کور کې خشونت څوک کوي؟ له تربور سره چا پر پنډل و پټي مړه کړي وي؟ د ښځو حقونه څوک نه ور کوي؟ په نجونو باندې تعلیم ولې نه کوي؟ د خپل ځان بریا د بل په ناکامي کې ولې غواړو؟ او...

زموږ ستونزه داده لکه چوپړک د حقیقت له لیدو سترګې پټوو، زما پلار به ویل: «خدای ته یو څاڅکی وینه تویول تر هر شي ډېر ارزښت لري»، فکر وکړئ چې په دغه فکر به هغه څنګه یوه ښه کورنۍ وروزي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقریبن د هر یوه په مشرانو کې دغه ستونزه وه چې مور نن له نه ختمېدونکو ستونزو سره مخ یو.

زمونږ په دیني تعبیر کې خدای د کربوړي په وژلو هم خوشاله کېږي!!! اوس خو به درته معلومه شوې وي چې د لا شعور په سنگر کې ناست نفرت، کینې او د خشونت نا مرئي عواملو مونږ کوم ځای ته رسولي یو؟

زمونږ په دیني تعبیر کې دا شته چې یو ذمي باید په اسلامي هیواد کې د خپل ځان د سپکوالي احساس وکړي، دا هم د قران کریم تفسیرونو د (التوبې) د ۲۹ ایت په تفسیر کې ښه په مد او شد وړاندې کړی دی، هم یې د روایت په زور زمونږ مغزو ته راوستلی دی او هم زمونږ بډایه! فقهي کتابونه په دې تعبیر ډک دي.

زمونږ د جمعې هره خطبه زمونږ مخالفو انسانانو ته په ښراوو ډکه وي، که تاسو یې په مفهوم نه پوهېږئ، د کلي له ملا څخه پوښتنه وکړئ چې غیر مسلم ته ښراوې کول په دیني لحاظ څومره د ثواب کار دی؟ هغه به دا مسله ښه په زور و زیر درته تشریح کړي، بیا انکار ونه کړئ چې زمونږ نفرت دیني و مقدسه جنبه نه لري؟

که مونږ خدای په وینو نه خوشاله کولای، یا د جنت ټیکټ مو غوښې نه وای، یا له دوزخه د خلاصون ډال مو وینه نه وای، نو د یوه سنت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندي کولو ته به مو په یوه ورځ میلینونه څاروي نه قرباني کولای، چې په هر ځای کولو یا یوازې په مکه کې کولو باندې یې اختلاف هم شته.

هدف دادی چې زموږ د وینې تویولو، نفرت ته د مقدسې جنبې ور کولو موارد بیخي ډېر دي، موږ یې په خپل ژوند کې نمونې ډېرې لرو، البته زموږ د ټولنې دوه مخي دې ته رسېدلې ده چې کله یې ناسم عمل ور په گوته شي، دوی سمدستي د انکار مخ درته را واړوي، بیا که بل ځای همدا عمل ښه وستایل شي، دوی ورته د انقیاد څېره را مخته کړي. که پر چا بده لگېږي یا نه، زه دا اقرار کوم چې زموږ ټولنه د منافقت او دوه مخۍ په تر ډولو ناوړه او کرغېړن ترین ډول اخته ده، چې په نتیجه کې یې موږ په ډېره اساني له یوه عمل یو ځای انکار کوو او بل ځای یې دین بولو، یو ځای دروغ وایو او بل ځای هغه دروغ راته رښتیا ښکاري، یو ځای د یوه عمل په کولو ویاړ کوو او بل ځای د خجالت تظاهر. همدې متضاد کشمکش له موږ د انسان په جامه کې هغه درندگان جوړ کړي دي چې د یوه عاجزه انسان داړلو ته هر وخت پلمې لټوو، له دې امله نو چې په عام بازار کې د زرگونو کسانو مخته د فرخندې لپاره دغه پلمې په لاس ورغلې، نو په داسې ډول یې خپلې عقدې سړې کړې، داسې خشونت یې وکړ، د وحشت داسې مثال یې وړاندې کړی چې که د بشریت په تاریخ کې داسې بل مثال وي، نو حتمي به د دې مشابه وي، په هیڅ وجه به ترې بدترین نه وي او ښایي که بل وخت همداسې وحشت وشي، بیا به هم څنې ډېر وحشي نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نفرت او وحشت دغه قوه/ملکه موږ چېرې پټه کړې ده؟ موږ د دغې قوې له امله خورا ډېر سنگين جرايم کړي دي، د دې تراژيدی تاريخ ډېر اوږد او مثالونه يې بيخي ډېر دي، هغو ته به نه گرځم، يو بل لوری به يې را واخلم چې د نفرت او کينې د دغې شيطاني قوې سرچينه چېرې ده؟ زما په نظر گڼ شيان د دې سبب کېږي چې دغسې يو شيطاني صفت په موږ کې وپنځوي، يو عامل يې ناسم خشن ديني تعبير دی.

د خشونت او نفرت لپاره چې يو ښه مقدسه چپنه وگندله شي، هر څومره بده څېره يې په همدې قباء کې پټه شي، بيا نو انسان د هر ډول غير سالم عمل او فکر کولو ته زړه ښه کوي. انسانان نه ټول يو ډول فکر لري، نه وړتياوې، نه فزيکي جوړښت او نه له يو شي برداشت، عينن يې کارونه هم سره بېل وي، صفات يې هم سره جلا وي، له دې وجې د هغوی د اعمالو نتيجه خير او شر يا گټه او زيان وي.

زما په نظر تر مقدس پوښ لاندې نفرتونه د نورو په نسبت خطرناک دي، دا لکه د بريښنا مزي لاس ور وړل له مرگ سره لوبې دي، ځکه پر دې سپېڅلی پوښ غوړېدلی او هر څه چې کېږي، د خدای د رضا لپاره، د هغه د دين په روا کوونکي سند، د جنت د ټيکداري په نيامت او له دوزخه د لرې والي په نيت ترسره کېږي، نو پښتانه وايي: يو به د برق په تارو گوتې نه وهي او بل د خدای په کارو. دغه کار چې د خدای لور ته منسوب شو، د خلکو له گوتو وهلو يې خبره وايسته او زموږ د واک لپاره يې وروستی ټکی کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دین باید له دې انساني دام څخه خلاص شي، بشر د نفرت پر ځـای مینې ته اړتیا لري، خدای ته د نفرتونو د لارې پر ځای د مینې لارې ډېرې لنډې دي، خدای هغه څوک چې د هغه پیغام ومني وروڼه بللي او هغـه څوک چې دغه سند پـه لاس کـې ونـه لـري لومړنیـو کسـانو تـه خنډونـه جوړوي، د مینې وړ بللي دي(فصلت: ۳۴) او که څوک چې پـه ځمکـه کې فساد کوي، خلک له خپلې ازادۍ محرومـوي، ژونـد پـر تنگـوي او شیطاني قواوې یې بدو ته هڅوي، د ټول بشریت د سمون پـه پـار یـې د هغوی لپاره تر چانسونو وروسته د له منځه تگ پریکړه کړې ده.

د خدای په کتاب کې درې کټگورۍ انسانان دي: یوه د مومنـانو ډلـه ده، یوه یې د نامسلمانو او بله د بغاوت کوونکـو کـافرانو ټـولی ده. قـران کریم خپل پیروانو ته عمومي لارښوونه کوي:

{وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّـذِي بَيْنَـكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ} [فصلت: ٣٤]

ژباړه: د (ذات او پایلې له مخې) ښېگڼه او بدگڼه سره برابر نـه دي، د بدۍ ځواب دې باید په ډېره ښه طریقه وي، په دې سره به ستا دښمن هم ستا نژدې دوست شي.

{وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى}.

[المائدة: ٨]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او له خلکو سره شخړه دې تاسو اړ نه کړي چې عدالت ونه کړئ، عدالت کوئ، تقوا ته عدالت ډېر نژدې دي.

{وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا} [البقرة: ۸۳].

ژباړه: او انسانانو ته ښې خبرې کوئ.

دا د قران کريم هغه هدايات دي چې بشريت شموله دي، د قران کريم پيرو بايد د يوه مومن په توګه دغه اصول مخې ته کښېږدي او بيا خپل تعبير پر همدې اصولو استواره کړي. د درېيمې کټګورۍ په اړه وايي:

{وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ} [البقرة: ۱۹۰].

ژباړه: او د الله په لار کې (د ټولنې د ګټو لپاره) له هغو سره وجنګېږئ چې له تاسو سره جنګېږي، تاسو تېری مه کوئ، په حقيقت کې د الله تېريګر نه خوښېږي.

دغه باغي ډله ده، مفسده ده، جګړه ماره ده، ترهګره او د بشريت ضد ده، دا چې ټول بشريت ترې زيان ويني، له دې امله مومن ته امر شوی چې که يې په فساد لاس پوري کړ، تاسو يې د ټولنې د خلاصون، د بشريت د ژغورنې او د يوې سالمې ټولنې د رغېدا له امله ووژنئ چې اينده ته دا خطر پراخ نه شي، د ټولنې د نامتوازن کېدو اسباب بايد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نطفه کې خنثی شي او که بالفرض د ژوند او جگړه ‌ډا موکه یې ومونده نـو چې هر ځای مو د ټکولو او کوټلو موکه پـر تـر لاسه کړه، تـر هغـو یـې وټکوئ چې زور یې اوبه شي او نور پکې د جنگ او فساد توان پاتـه نـه شي. قران کریم په ډېر بلیغ ډول د دې ټولی په اړه احکام ور کړي دي:

{ فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا} [محمد: ٤]

ژباړه: که تاسو له کـافرانو سره مـخ شـوئ، تـر هغـو یـې سرونـه غـوڅ کړئ(حتمي یې ووژنئ) چې د فساد وړتیا پکې ختمه کړئ، بیا یې ټینگ وتړی، نو د احسان یا بدلې په عوض کې یې خوشي کړئ، څو په هغوی کې د جنگ او فساد وړتیا پاته نه شي.

قران کریم ویلي دي چې کافران ووژنئ، هغـه څـوک چې د خـدای حکم نه مني، په ځمکه کې فساد کوي او د بدمعاشیو یوه نه ختمېدونکې سلسله یې د بشریت لپاره د خطر زنگ وي، د یوه او دوه کسانو وژل نـه دي، یا؛ ریښې یې وباسی چې اینده یـې خطـر ورک شي، د هغـوی لـه پاتې کسانو که په چا کې مو د هدایت وړتیا او څرکندونه ولیدل، په ټولنه کې د اوسېدو داسې واک ور کړئ لکه نور مصلح کسان او که بیا مو هـم خطر څنې احساساوه، نو مشروطه اجازه ور کړئ، خو دا چې تر اوسه یې د فساد وړتیا نه لري، ډله یې نه شته، نو د نفرت پـر ځـای کـه ښـه ورسره وشي، د بدو له لوري به یې ښو ته پام شي، هم به خپله اینده ورغـوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د نورو خلکو لپاره ممکن ښه کارنامې وکړي ځکه بالقوه د دې هر څه وړتیا لري.

د قران کریم له مفاهیمو سره دا ظلم کېږي چې خلک د خپلو ګټو لپاره کار ځنې اخلي، زموږ پر تعبیر زموږ د ټولو صفاتو، لاشعور، ټولنې او فزیکي وجود تاثیرات لوېږي. د دې لپاره چې د ناسم تعبیر پر ناسموالي خلک پوه شي، قران کریم ځینې عمومي لارښوونې کړې دي او ځینې یې خصوصي، ځینې یې موقتې دي او نورې یې بیا ابدي، د قران کریم د تفسیر لپاره باید دا هم په نظر کې ونیول شي چې د هغه له یوې موضوع سره تړلي ایاتونه یا احکام ټول یو ځای نه دي، قران کریم کله په لنډو الفاظو بیان کوي او کله تر یوه حده تفصیل ور کوي، کله د مسلې یو اړخ روښانه کوي او کله یې بل اړخ، په یوه حالت کې یې یو نوم ور کړی وي او که له هغه واوړي بیا بل نوم، نو د هر یوه حالت لپاره یې عمومي و خصوصي او موقت و ابدي احکام شته، چې د همدې ګډوډلو ته ظلم وایي، که څوک د قران کریم له ژبې سره نابلده وي، د بیان طرز یې ور معلوم نه وي، د قران کریم احکام د هغه په رڼا کې نه تفسیروي، بلکې د یوه خاص فکر له مخې چې له وړاندې یې ورته جوړ کړی، تفسیروي، موقت او ابدي احکام یې نه سره پېژني، محکم و متشابه یې سره ګډوډ کړي، مقید و مطلق ته یې نظر نه کوي، عام و خاص یې نه رعایتوي، هغوی به په خپل تفسیر سره هم ځان ته زیان واړوي، هم ټولنې ته، هم دین ته او هم ټول بشر ته، هغه دین چې دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د استازیتوب دعوه لري، خلک به ورته د راتګ پر ځای نفرت ځنې وکړي، دوی به د دین استازي نه د نفرت استازي او مجسم سیمبولونه وبولي، دوی به د خپلو نفرتونو په زولنو کې بند وي، له خپلو عقدو سره به په جنګ وي، په خپل ځان به خپله خولې لګوي، دنیا به د پراخۍ پر ځای ورته تنګه ښکاري، اینده به تاریکه وي، له جهنمه د لرېوالي پر ځای به ورته د نژدېکت اعمال کوي، جنت ته د تلو اعمالو به یې هېڅو نه وي، خدای ته د تللې لارې پر ځای به د شیطان لور ته په منډه وي، کعبې ته د ورغلې لارې پر ځای به یې د ابرهه کلیسا ته مخه کړې وي، بشریت او ټولنې ته د قدرداني پر ځای به یې په سپک نظر کتلي وي، چې نتیجه به یې په دنیا او اخرت کې د هغوی خپله سپکوالی وي.

۲۰۲۲/جون/۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



##ديني تعبير د ارتجاع او تجدد ترمنځ

اه! محکومی و تقلید و زوال تحقیق

په دينپاله ټولنو کې د ديني تعبير مسله خورا ډېر اهميت لري، ناسم تعبير د يوه امت د زوال له مهمو عواملو څخه يو حتمي دی او سم تعبير يې د پرمختګ يوه پړاو ته ضرور نژدې کوي.

د فرانسې تر انقلاب مخکې که په اروپا کې د عيسوي شريعت تعبير ته نظر وکړو، نو د ټولنې په وروسته پاتې والي کې ناسم شرعي تعبير غوښن رول در لود، يوه تر ټوله عمده ستونزه چې ديني تعبيروال يې لري، هغه پر خپل تعبير د تقدس مهر وهل دي چې بيا يې خلک د ننګولو جرأت نه شي کولای او که څوک دا جرأت وکړي، نو ظاهرن د مقدس او اصلن د نامقدس بشري سوټې داسې ګواز وخوري چې دغه جرأت يې د ژوند په بيه ورته تمام شي؛ په دينپالو ټولنو کې له ديني ريفورميستانو (ديني چپ اړخو) سره دغه ډوله ناځوانمردانه برخورد د دې سبب شوی دی چې خلک خاموشي غوره کړي، ان تر هغو چې خلکو ته تحول راوستل تر ژوند هم مهم شي، بيا د يوه حتمي تحول لپاره پاڅېږي او تر هغو نه ارامېږي چې بدلون يې نه وي راوستی، دا نو په اروپا کې د فرانسې انقلاب او ترې وروسته د رنسانس دوره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ټولنه له عيني حالت څخه تېرېږي، ديني تعبيروال مو پر دوو برخو وېشل شوي دي، يوه يې ښي اړخي اسلامپالي دي او يوه يې چپي اسلامپالي دي، لومړۍ ډله يې تل هڅه کوي چې ديني تعبير پخوا زمانې ته يوسي، هغوی ته مهمه نه ده چې تعبير يې له مکان او زمان سره سر خوري که نه، د ټولنې غوښتنې يې په نظر کې نيولې دي که نه، خلکو ته يې په عملي ميدان کې ګټه رسېږي که زيان، د هغوی په اند دين او دنيا سره جلا ده، دين اصل او هدف دی او دنيا وسيله ده، نو د وسيلې حالات پر دين تاثير نه کوي، که دا تاثير پکې ومنل شي، بيا به هدف د وسيلې تابع شي او اصل موخه به ضايع شي.

بالمقابل چپ اړخي اسلامپالي په دې اند دي چې دين د انساني ټولنې د سوکالۍ لپاره دی، زموږ په ژبه راغلی دی او د نزول په زمانه کې يې هم د بشر توان، وخت، مکان او ټولنه په نظر کې نيولې وه او نن هم لازمه ده چې ديني تعبير دا هر څه په نظر کې ونيسي-، د دين احياء په تجدد کې ده نه په ارتجاع کې، پر ټولنه هغه وخت ديني تعبير ښه اغېز کوي چې شته ستونزې يې په حل شي، پوښتنو ته يې مناسب او معقول ځواب وموندل شي، واقعيت له پامه ونه غورځوي، ژوند ورسره ونه درېږي، بلکې حرکت او خوځښت پکې رامنځته کړي، نه د جمود او وچ ځای پر ځای درېدا سبب شي.

يوه عالم څومره ښه ويلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د انسان په وړاندې دوې لارې دي: یا به مخته ځي یا هم شا ته. پـر یوه ځای درېدل، په کایناتو کې شته اصولو ته د ټکر بلنه ده(ځوك چې مخته نه شي تلای، هغوی په تاخته شا ته ځي)، د ژوند د لرغونـو کلېشـه کارونو پېښې تنزل دی، په دې توګه هم ژوند دوام لري، مګر له هـر ډول لاس ته راوړنې پرته، د یو ډول تهذیب ننداره به پکې وي، خـو حقیقـت یې بقا نه لري، کوم تهذیب چې په خپل همت د وړانـدې تلـو تومنـه نـه لري، هغه پـه خپلـه تبـا کېږي، د مـاضي عظمـت هـم هغـه ځـوك ښـه پېژنـدلای شي، د چـا چـې اینـده روښـانه وي، لـه هـر ډول حرکـت و خوځښت پرته د ماضي علم، خپله د ماضي پیغام بې ارزښته کوي، د یوه ژوندي تهذیب لپاره د علم سخته اړتیا ده، چې پـه همـدې علـم ځـان د وړاندې تګ جوګه کړي".

یو بل وایي:

"ایا موږ په دې فکر یو چې په اخلاقي چارو کې غور کول سـتره ګنـا ده؟ نو موږ به دا منو چې په پټو سترګو هغه اصول او قواعـد بایـد عمـلي کړو چې په خپل شاوخوا کې یې وینو؟ که موږ یوه ثانیه هم فکر وکـړو، په دې پوهېږو چې د دې پوښـتنو ځـواب حـتمن منفـي دی، د اخلاقـي تعلیم بنسټیز اصل دادی چې انسان به خپله فکر کوي، کـوم انسـان چـې خپله فکر نه کوي، د ژوند په ټولو جزئیاتو کې د نورو تقلید کـوي، هغـه داسې وګړه چې هیڅ کریکټر/شخصیت نه لري؛ براډ ځومره ښـه ویـلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چې هیله لري شخصیت یې د خپل چاپېریال په نسبت ډېر ښه شي، په دې پوه شه چې هغه د تلپاتې ژوند په دهلیز کې ولاړ دی"[1].

د ارتجاع او تجدد دا شخړه خورا ډېره مخینه لري، د ارتجاع پلویانو هر وخت ریفورم غوښتونکي په الحاد، بې دینی، د عقیدې په خرابوالي، له دینه په انحراف او دې ته ورته ډول- ډول نومونو تورن کړي دي، بل پلو ریفورمیستانو د هغوی تعبیر د دې سبب بللی چې ټولنه وروسته پاتې کړي، په دین کې خرافات ځای ونیسي، تعبیر یې زوړ او کلېشه شي، د وخت، مکان، ټولنې، واقعیت او ستونزو له درکه او ورته ځواب موندلو عاجزه شي، په دې توګه بې دینان پر دین نیوکې شروع کړي او دینپالي سوکه سوکه له دینه مخ اړوي؛ په دې توګه دین د نفرت، تفرقې، کرکې، خپګان، شخړو، جنجالونو او حتا وژنو وسیله شي.

لومړی ډله د صدر اسلام تعبیر ته د اصل او هدف په سترګه ګوري، د هغوی فکر دادی چې د مسلمانانو په تېر عظمت کې د همدې پخواني تعبیر لاس و، دوی هڅه کوي چې مسلمانان ګام پر ګام هماغه پخوانی تعبیر تعقیب کړي، څو بېرته پخوانی برم تر لاسه کړي، له دې امله د هغوی په لیکنو او وعظونو کې د مسلمانانو د یوې شانداره ماضي یادونه ډېر دي، د خپلې ماضي تر یادولو وروسته حتمن دا خبره د تفریع په توګه کوي چې نن مسلمانان له دینه لرې شوي دي، که دوی هم د خپلو اسلافو په شان پر دین ودرېږي، عمل په وکړي او د خپلو اسلافو پر نقش

---

[1] پاس دواړه اقتباسونه له انسان نې کیا سوچا اردو کتاب څخه اخیستل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



و قدم ولاړ شي، هماغه برم به یې حتمن په برخه شي. له دې ډول کسانو که پوښتنه وشي چې دا اوسنۍ ستونزې ولې را منځته کېږي او حل یې څه دی؟ د دوی یو ځواب دی او هغه دا چې مسلمانان له دینه لرې شوي دي او په خپل دین عمل کول یې حل دی، په دین له عمل څخه د دوی هدف د پخوانو پر لار تګ او د هغوی تعبیر د هر وخت لپاره کافي و شافي بلل دي.

زه نه دا خبره یوه مخیزه ردوم او نه یې بالکلیه تایید کوم، دا په خپل ذات کې سمه خبره ده چې مسلمانانو ته په ځینو برخو کې ناسم دیني تعبیر ستونزې جوړې کړې دي، ژوندي مثالونه یې زموږ په ټولنه او وخت کې بیخي زیات دي(د خلکو د حساسیت له امله به یې تر یادولو تېر شم)، اما داسې هم نه ده چې ټولنې ستونزې په دین له نه عمل کولو را پیدا دي، عمل هم په هغه تعبیر چې پخوانو کړی دی، دغه نکته یې خپله د ستونزو سبب کېږي نه د حل، نه په واقعیت کې ټولې ستونزې له دینه را پیدا کېږي او نه له بې دینۍ، ځینې مشکلات د انساني ټولنې او ژوند برخه وي، هغه په هر حال را پیدا کېږي، حتا که یوه ټولنه بیخي هیڅ دین هم ونه لري. مثلن: د فقر او بېکارۍ ستونزه له دین او بې دینۍ نه ده را ولاړه شوې، د منابعو بې عدالت وېش دې ته لار جوړه کړه چې یوه ډله خلک هر څه په لاس کې واخلي او غوځ اکثریت انسانان د فقر او بېکارۍ په داسې جهان کې لالهانده پرېږدي چې نه مري نه رغېږي، هغوی د خپل نیم ژوانده حالت د ساتلو لپاره د همدې ثروتمنې طبقې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول ډول غلامۍ ته غاړه ږده او دا طبقاتي وېش او د منابعو ناسم تقسیم، مدریت او مصرف په ټولنه کې د خورا ډېرو او جدي ستونزو د را پیدا کېدا سبب کېږي. که اوس له مرتجیعنو یا شاتګپالو پوښتنه وشي چې ستاسو د اسلافو په دیني تعبیر کې د دې ستونزې د حل لپاره تاسو څه حل لار لرئ؟ نو د ډېریو ځواب یې دا وي چې دا خدای همداسې طبقې طبقې پیدا کړې ده، څو انسانان امتحان کړي، ښه او بد یې سره بېل کړي او هر یوه ته د خپل عمل سره مناسبه بدله ور کړي. د ځواب او حل لارې لنډیز او خلص یې همدغه دی.

اوس بله پوښتنه باید ترې وشي چې تاسو نارې سورې وهئ چې ستونزې له بې دینۍ را پیدا دي، که دین ته مخ کړئ خپله به هوارې شي او سوکاله اسلامي ټولنه به ولرو، نو اوس د منابعو د غیر منصفانه وېش او ټولنې د طبقاتي سیستم په اړه ستا رایه همدا ده چې خدای همدا غواړي، نو دا یې ستا په دیني تعبیر عمل، ستونزې خو دې بیا هم پر ځای پرېښودې، بلکې لا دې دیني توجیه ورته وکړه او ډېرې ستونزې پر طبقو د ټولنې له وېش او د منابعو له نا عدلانه تقسیم څخه سرچینه اخلي. د دې ستونزې د حل لپاره د شاتګپالو په دیني تعبیر کې هیڅ ډول حل نه شته.

دوی هر څه ته په یوه سترګه ګوري، د هر شي لپاره یو ډول عینکې لري، تر هغو ور ګوري، هغه لیدلورې د هغوی د اسلافو دیني تعبیر دی چې باید ټکي په ټکي یې پیروي وشي، بس خلاص!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ته تر ماهیت شکل مهم دی، تر واقعیت ورته خپله اسلاف پرستي ارزښتناکه ده، تر حال ورته ماضي د قدر وړ وده، د واقعیت تر درک ورته په خپل زوړ تعبیر کې ورکېدل خوند ور کوي، د ستونزو تر واقعي حل ورته د حل تشې ادعاوې او لاپې خوندورې برېښي، د دې پر ځای چې له عینیت څخه مسوولانه درک ولري، نن ته د پرون په هنداره کې داسې وګوري چې د ستونزو درک یې ورته ممکن کړي، دوی نن د پرون په میزان کې تلي، که بې وزنه شوه، د پرون پر تله یې برابروي، چې هغه وار په وار خپل وزن نور هم بایلي. دې ته فکر نه کوي چې د مسلمانانو نن بده ورځ سبا بدتره کېږي او په دې کې زموږ د اسلاف پرستۍ او کلېشه دیني تعبیر مهم رول دی، بس لکه ونه مستقیم پر خپل مکان دي، نه د ستونزو په دې لوی سیلاب کې خپلو خطاو ته متوجې کېږي او نه د خپل مقابل لوري فشار و پرلپسې نیوکې یې یو ګام مخته تلو اړ کولای شي.

زموږ د اسلافو هڅې پر خپل ځای د قدر وړ دي، هغوی د خپل وخت او ټولنې غوښتنو ته په کتو له دینه دغه تعبیر کړی دی، له یوه کس څخه هم دا نقل قول نه دی شوی چې زموږ په تعبیر دې راتلونکې نسلونه خپلې ستونزې اوارې کړي، دا تعبیر د هر وخت لپاره کفایت کوي او راتلونکي نسلونه د دې حق نه لري چې بل تعبیر ته لیځې را ونغاړي.

د هغوی دیني تعبیر تر هغه ځای د منلو او پیروي حقدار دی چې زموږ د وخت ستونزو ته ځواب وایي، موږ ته د پرون په اینه کې د نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې تصميم نيول را وښيي، خپلو حالاتو ته په کتو زموږ په ديني تعبير کې د لا ښه فهم وسيله شي، علمي ذخيره مو په بډايه شي، د خپل تاريخ د هرې کړۍ کړۍ ښه زرين انځور راته وړاندې کړي، زموږ د حال و د ماضي د تنسيق ذريعه شي، د اسلامي ټولنې په هره ارتقايي دوره کې زموږ د تکاملي سير چټکوالی په وشي، که د هر وخت تعبير په همدې تول پوره وي، هغه د قدر وړ دی، البته که د يادو ټکو د هر يوه پر ځای يې برعکس رول ادا کړی وي، بيا يې نو پيروي، ورته دعوت، په دغه توگه دينپالنه، ساتنه، احياء، د بې دينو له نيوکو خلاصون او د خپلو خلکو پر دين پاته کېدل د بادرکه خلکو چاره نه ده، هغوی به دا کار کوي چې نه له دينه سم فهم ولري، نه د ټولنې، وخت او ځای غوښتنې په نظر کې نيسي، نه د ماهيت او شکل په مسله پوه وي، نه د انساني ژبې په دې راز پوهېدلي وي چې د ژبې په قاموس کې دا اصل ثبت دی چې د ژوند او ټولنې تغيير د الفاظو او اصطلاحاتو په تغيير کې لاس لري، که يو لفظ/اصطلاح پرون يو مفهوم ور کاوه، نن لازمي نه ده چې هغه لفظ دې پر خپل زاړه مفهوم پاته وي، بلکې د مفهوم له مخې د الفاظو دايره پراخېږي، حتا دا لا مشلکه کېږي چې په ديني متن او پخواني تعبير کې دغه لفظ يا اصطلاح زموږ د نوي مفهوم لپاره کارېدلې ده که يوازې زاړه مفاهيم پکې نغښتي دي؟ دواړه را نغاړي او که اساس يې د همدې نوي مفهوم لپاره شوی دی چې د هغه وخت لپاره به د متشابهاتو له جملې بلل کېدی او زموږ علمي پرمختگونو به يې له مخې پرده پورته کړې وي، هغه علمي حقيقت به يې زموږ د سترگو او عقل په وړاندې مجسم کړی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د هغه وخت سترګې او عقل يې له ليدو عاجز ول او د متشابه ګومان يې پر کړی و؟ يوه يادونه بايد وکړم چې د الفاظو او اصطلاحاتو د مفاهيمو دايره پراخېدل داسې نه ده چې متعين تاريخ لري، خو پر ژبو ډېر ګرځېدل يې دا ثابتوي چې دغه پخوانی لفظ/اصطلاح له زړو مفاهيمو سره د دې نويو لپاره هم کارېږي، له دې امله نو دا معلومول چې د دې فقيه عالم په وخت کې به دغه مفهوم ته کارېدلی وي که نه؟ دقيق نه شي معلومېدلای.

د ارتجاع پلويان د دين تجدد هم دا بولي چې بېرته يې پخوانی تعبير را تازه شي، خلك پر پخواني تعبير تلو ته وهڅېږي، هماغه زوړ مفهوم بېرته تکرار شي، نه دا چې نوې جامه ور واغوستل شي، له حالاتو سره تطابق يې حتمي شي، له دې ښکاري چې دوی د تجدد لفظ په مفهوم کې هم ستره تېروتنه کړې ده، نه يوازې د لفظ سمه معنا يې نه ده فهمولې، بلکې د واقعيتونو له درك څخه هم عاجزه دي.

لنډه دا چې ديني تعبير د ارتجاع او تجدد ترمنځ په راګېرېدا کې د ستونزو په وړاندې له ځواب ويلو څخه پاته دی، دوی په واقعي ډول د عينيت له مسلې څخه بيخي غافله دي، دواړه ډلې يو له بل سره ښکر په ښکر دي، خپله ټولنه، ستونزې، دين او دنيا ټول څنې پاته دي، دغه اختلاف ښايي پر دين د ټولنې باور راکم کړي، جدې ننګونې يې په وړاندې وټوکوي، شته ستونزو ته د حل پر ځای نورې ګڼې نوې ستونزې را ولاړې کړې، زما په نظر فعلن دوی نه د دين ژبه او موخه سمه فهمولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، نه یې د خپلو اسلافو تګلاره په رښتنې معنا تعقیب کړې ده، ځکه هغه د ابتکار وه نه د زاړه فکر د تکرار، نه خپله ټولنه پېژني، نـه یـې غوښـتنې معلومې، نه ژبني تغیراتو باندې علم لري او نه ور څخه په را پیښېدونکو مسایلو باندې یې سر خلاصېږي، نه د ستونزو د حل کیلي ورسره ده او نه یې هغه عوامل ور معلوم دي چې ستونزې ور څخه پیښې دي، تر دې بې ځایه شخړو به ښه دا وي چې د ټولنې له مخې دغه خنډونه ایسته کـړي، څو دغه جمود مات شي او د زمانې غوښتنې خپلـه د انسـاني وړتیـاؤ پـه غوړولو اینده هغه خلک را پیدا کوي چې هم په دین پوه شي هم په دنیا، د هر یوه د استعمال او استفادې مواقع به په ګوته کړي، نه بـه دیـن د نیـا وسیله کړي او نه به دنیا په دین خرابه کړي، تر هغو چې مـوږ بـې ځایـه دیني مسایل له دنیوي هغو سره خلطـو یـا هـم دینـوي سـتونزو تـه دینـي ناسمې نسخې وړاندې کوو، تر هغو به زموږ بده ورځ سمه نه شي بلکـې لا به خرابه شي.

۲۰۲۲/سپټمبر/۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږ په ديني تعبير کې د عقلانيت خلا

عقل په انسان کې هغه امتيازي ځانګړتيا ده چې انسان له نورو حيواناتو بېلوي، د بشر هر څه لاس ته راوړنې د همدې عقل په مټ دي، انسانان په خپله ټولنه کې هغه چا ته لېونی، ماتو يا دې ته ورته نور الفاظ کاروي چې عقل نه لري يا که د چا عقل وده نه وي کړې، هغه ته کمعقل يا بې عقل وايي، له دې ښکاري چې عقل په بشري ټولنه کې څومره مهم دی.

د خپل چاپېريال په شاوخوا کې فکر وکړئ، د بشر په لاس جوړ هر څه چې تاسو وينئ هغه د عقل په مټ جوړ شوي دي، که نه يو لېونی هيڅکله هم توليد نه شي کولای او حيوان يوازې د ځان د مړولو او له ځانه د دفاع شعور لري، د تغيير او ابداع وړتيا يوازې انسان ته د عقل په ور کولو ور کړل شوې ده.

هغه کسان چې له ور کړل شوي عقل څخه کار نه اخلي، قران کريم سخت غندلي دي:

{ لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ} [الأعراف: ۱۷۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: هغوی زړونه لري، د پوهاوي په برخه کې ګټه نه ور څخه اخلي، سترګې لري، لیدل نه په کوي، غوږونه لري، اورېدل نه په کوي، دوی لکه حیوانات بلکې تر حیواناتو هم ډېر غافله دی.

حیوان ته چې کوم شعور ور کول شوی دی، هغه په کامله توګه له خپل شعور څخه کار اخلي، د خپلې دفاع حس، ځان مړول اوبه کول، له یخه ګرمي له ګرمي یخ ته کېدل، د ډار له ځایه ځان کښل او خپل نسل اضافه کول، دا د هغو کار دی او په سم ډول یې مخته وړي. د اوزې سېرلي ته چا خوراک نه دی ښودلی، چې پیدا شي، بس د خپلې مور شیدې روي، پر پښو د ولاړې هڅه کوي او واښه خوري، د زمري زوی بیا غوښې خوري، واښه نه خوري، دا شعور هغوی ته په فطرت کې ور کول شوی دی، نو نه د اوزې بچی غوښه خوري او نه د زمري بچی واښه، هر یو په خپل کار ښه پوهېږي، بل خوا انسان ته له شعور سره عقل ور کول شوی دی، د عقل برسېره وحې او رسول ورته راغلي دي، هغه ته یې د ژوند لار ښودلې ده، مګر بیا هم خپل کار په هغه توګه نه کوي لکه حیوان چې یې کوي، له دې امله دغه ډول انسانان تر حیواناتو هم غافل بلل شوي دي.

د دین او مشاهدې له مخې د عقل له دومره ډېر اهمیت سره زموږ په دیني تعبیر کې عقل منزوي شوی دی، دا ډېر جالب تناقض دی چې دوی په کومو دلایلو د عقل منزویتوب ته دلایل تراشي، هغه ټول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې عقل په مټ باندې کوي، چې دوی یې منزوي کولو ته مټې رانغښتې دي!!!

اصلن د خدای د وجود اقرار، په دین پوهاوی، د رسول په دعوت پوهېدل، د قران کریم پیغام درک کول او په ټولو دیني او دنیوي پدیدو پوهېدل د همدې عقل په مټ ممکن شوي دي، که عقل نه وای، نو دا هیڅ به هم نه وای. که د اسلام تر ټولو معتبر متن قران کریم وکتل شي، له ګڼو ایاتونو یې بیخي په وضاحت ښکاري چې عقل ته مخاطِب دی، قران کریم وایي چې دا د عقل د خاوندانو لپاره دی، د عالمانو لپاره دی، د تفکر، تعقل، تدبر ذکر خو یې ځای پر ځای کړی دی، د خپلې ادعا د اثبات لپاره یې خورا زیات د عقل د تجربې په تول پوره دلایل ویلي دي، د کایناتو لور ته یې زموږ پام اړولی دی، دا هر څه په عقل ممکن دي، که عقل نفې شي، هر څه ورسره نفې کېږي.

البته دا خبره سمه ده چې ځینې موضوعات داسې دي چې د هغو حکمت ظاهرن په عقل نه ښکاري، د هغه لپاره عقلي توجیه یا هغه وخت ګرانه وه یا ښایي نن هم ځینې مسایل په عقل حل نه شي، قران کریم یې حل وړاندې کړی دی او موږ یې له دې پرته چې په اصل حقیقت یې سل سلنه پوه شو، منو او ایمان پرې لرو، خو دا خبره بیا هم په عقل درک کوو چې دلته زموږ د عقل ځواب ممکن نه دی، موږ نه پوهېږو زموږ علم او تجربه ځواب راکوي، دا حقیقت هم بېرته په عقل درک کوو، تر دې وروسته چې دلته وحې څه راته وایي بیا یې هم په عقل حقیقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوموو او تر پوهاوي وروسته ایمان پر را وړو، نو دلته هم عقل خپل رول ادا کړی دی، که عقل نه وای، دغه اوس چې موږ څومره په همدې پیغام پوه شوي یو، دغه پوهاوی او دغه ایمان و باور به هم نه وای.

له بده مرغه زموږ د زمانې دیني تعبیر کې عقل ته خپل ځای نه دی ور کول شوی، دوی که مازې عربي توري ولیدل، په هغو پسې مبتلي، نور دې ته نه ګوري چې یا له علم سره ټکر دي، یا تر خپل منځ سره ټکر دي، یا له واقعیت سره اړخ نه لګوي، یا ټولنې ته زیان رسوي، یا هم عقل یې نه مني، دوی ته عقل نه دی مهم، دلیل یې دا وړاندې کوي چې په دین کې نقل مهم دی عقل نه چلېږي، د عقل له مخې جنت او دوزخ څنګه ثابتوې؟ دا خبره پر خپل ځای سمه ده چې نه په عقل جنت ثابتېږي او نه دوزخ، دې ته ورته نور مسایل هم شته چې تش عقل په هغه میدان کې کفایت نه کوي، بلکې وحې باید ورسره ملګرې شي او د هغه سوال ځواب ته ووایي، مګر زموږ مشکل له دې سره نه دی چې جنت دې په عقل ثابت شي که ثابت نه شو، موږ یې نه منو، یا دې په دې کې له نقل سره عقلي دلایل هم ملګري شي، خبره داسې ده چې په کوم ځای کې مسله منصوصي نه وي، اجتهاد او قیاس وي، یا د خبر واحد مسله وي، دلته باید هر څه د عقل په تول پوره وخېژي، که دلته هم عقل ته ټیله ور کول کېږي، بیا نو دغه اجتهاد هم د عقل پر مټ شوی دی، دغه خبر واحد هم عاقلانو را نقل کړی او عاقل سړي له دې څخه مفهوم اخیستی دی، په دغه برخه کې یې ولې عقل معتبر ګڼي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا امکان نه لري چې عقل دې د خپلې تجربې له مخې ثابته کړي چې شمسي نظام کې لمر محوري حیثیت لري، ځمکه پر هغه راگرځي، اما دلته زموږ په دیني تعبیر کې له قیاسونو او اجتهادونو یا روایاتو څخه دا ثابتوو چې نه بالعکس خبره ده، یا هم د ځمکې دوه گونی حرکت عقل په خپله تجربه ثابت کړي او زموږ تعبیروال د خپل اجتهاد او قیاس په مټ له دې چورلټ انکار وکړي، ساینس د هوا د حالاتو وړاندوینه وکړي، زموږ ملا صاحب وایي په دې څوک نه پوهېږي، هر څوک چې دا خبره مني کافر دی، ډاکټر د ښځې په نس کې د ماشوم په اړه معلومات ور کړي، ملا صاحب په خپله ناخبري کې د دیني تعبیر له زاویې بیا ټاپه را کش کړي او دا یوازې د خدای په صفاتو کې شمار کړي، که څوک یې د خبرېدو ادعا وکړي، هغه کافر وبولي، د ملا په تعبیر کې باران له اسمانه اوري، د علم له مخې باران له ورېځې اوري، اوس به د علم خبره منو که د دیني تعبیر؟

دغه ته ورته په سلهاؤ نور موارد شته چې علم یو څه وایي، زموږ د تعبیروالو خبره بل څه وي، دوی دلته عقل ته په دې پلمه گونډه ور کوي چې د نقل په مقابل کې عقل نه چلېږي، په داسې حال کې چې د دوی کړی اجتهاد هم د عقل په مټ وي، نو څنگه ستا شوی قیاس د عقل په مټ دومره قوي او باوري دی چې تر تجربو وروسته ثابته شوې خبره به ستا د دیني تعبیر له مخې پاتېږي او ستا د فارمول پر بنیاد په نقل کې عقل نه چلېږي، سره له دې چې نه دلته نقل دغه خبره کړې ده او نه هغه نقل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د انساني عقل د لاربنوونې لپاره نازل شوی، داسې کېږي چې له عقل سره په ټکر کې واقع شي، هغه نقل هادي دی، لار ښود دی، انساني عقل ته هدايت کوي، ښه څنګه امکان لري چې عقل دې تر مخکې شي او له هغه سره دې په ټکر کې راشي؟

زموږ د ديني تعبير يوه لويه خامي دا ده چې له مسايلو سره برخورد يې عاقلانه نه دی، منطقي چلند نه کوي، بلکې تر ډېره پرې د اسلافي پرستی اغېز دی، دغه يې د ضعف هغه نکته ده چې هم يې له دينه ناسم تعبير ته لار جوړه کړې ده، هم يې ټولنې ته ستونزې په جوړې کړې دي، د علم مخه يې هم په نيولې ده، بلکې که ووايم دنيا ته يې هم ډم په اچولی او اخرت يې هم په زيانمن کړی دی.

دا خبره ډېره بې ځايه ده چې عقلانيت له دين سره ټکر دی، بلکې د الحاد او بې دينی بنسټ پر عقلانيت دی، عقل د هر شي بنسټ دی، دين او بې ديني دواړه په عقل کېږي، نه لېونی تر ننه چا ليدلی دی چې ډېر ښه ديني عالم و او نه چا وليد چې ډېر لوی فيلسوف يا ساينسپوه و.

حقيقت دادی چې عقل د هر شي لپاره معيار دی، ديني تعبير چې پرې تلل کېږي هم عقل دی، که غير ديني ايډيالوژي په تلل کېږي، هم عقل دی. موږ وينو چې کومو ټولنو له خپل ور کړي عقل څخه پر ځای کار اخيستی دی، نو ښه ژوند لري، ښه يې ټولنې دي، د دې برخلاف چې چا پر عقل پرده غوړولې، د نقل په کارتوس يې د عقل جنازه اخيستې ده، د نقل په تقدس يې د عقل سپېڅلتيا او ارزښت کم کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، نو هغه ټولنې په ډېرو بدو شرایطو کې ژوند کوي او په ډېرې میدانو کې عقل پرستو ټولنو محتاجې دي.

له دې خبرې څوک انکار نـه شي کـولای چـې عقـل ټولـو مسـلو تـه ځواب نه شي ویلای، تر ننه د انسان او کایناتو د پیدایښت په اړه د عقـل په مټ فلسفي بحثونه کېږي، خو معقـولې نتیجې تـه نـه دي رسـېدلي، د ټولنیز ژوند په اړه د هر هیواد او سیمې قوانین سره بېل دي، چې بیا هم د عقل لور ته ګوته پکې نیول کېږي، نه یوازې غیر دیني ټولنې سره وېشـلې دي، بلکې دیني ټولنې هم په خپل تعبیر کې سره یـوه خولـه نـه دي او د عقل په مټ کېدونکی تعبیر یې سره جلا جلا دی، دا هر څه مـوږ تـه پـه زبات رسوي چې عقل د ټولو ستونزو حل نه وړاندې کوي یا یې پـه یـوه وخت کې نه شي وړاندې کولای، د وحې مشال ورته اړین دی، مګر لـه دې هر څه سره د عقل پر اهمیت یوه ذره اغېز هم نه کـوي، ځکـه بېرتـه خبره هماغه ځای ته ځي چې که دین دی که دنیا ده، الحاد دی که دین پرستي، د ټولو بنیاد پر عقل دی، هر یوه ته خپله تګلاره د همدې عقل په مټ ښایسته ده، له عقل پرته دا نړۍ ویرانه بویه، له عقله پرته د دیـن تعبیـر هـم د نـړۍ په برخلیک اخته وګڼه او د تعمیر پر ځای به تخریب ته لار جوړوي، انساني ټولنې تـه د ګټې او سوکالۍ پر ځای به تاوانانونه او مشقتونه را پیدا کوي، که موږ غواړو چـې لـه دین او دنیا دواړو سره منطقي او مناسب برخورد وکړو، عقل ته بـه پنـا وړو، نـو راځئ بېرته په خپل تعبیر کې عقل ته هغه مقـام ور کـړو چـې د دیـن او دنیـا دواړو لـه مخـې ورته مناسب دی.

۴/۹/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زموږ ماضي او حال؛ د عزت له مناره د ذلت تر کندې

هغه ټولنه چې بالفعله په بدو شرایطو کې واقع وي، خو ماضي يې ښه يادونه لري، نو دوی د خپل اوسني حالت د بدلون پر ځای، د ماضي پـه وياړونو بسنه کوي، د برتر قوم/ملت په وړاندې د خپل تېر بـرم خـبرې او کيسې يې نه خلاصېږي، حتا هغو ته پېغورونه ور کوي چې ستاسو اوسنۍ ترقي زموږ د اسلافو د کړيو خدمتونه نتيجـه ده؟! دا ډېـره جالبـه ده چـې دوی د خپلو ميراثخورو په توګه د خپلو اسلافو له کړو خدمتونو هغه ډول استفاده نه ده کړې لکه دښمن چې يې ځنې وکړه!!!

دا يو ډېر لوی تناقض دی چې زه د پستۍ په اخيري کنده کې پـروت يم، خو هغه څوک چې د ترقۍ پر معراج ولاړ وي، زما له پېغوره ځان نه شي خلاصولای چې دغه ترقـي دې زمـا د پـلار او نيکـه لـه کـړو علمـي خدمتونو تر لاسه کړې ده، نو که دښمن دومره ترقي په کـړې ده، تاسـو د هغوی د وارثانو په توګه ولې د ترقـي پـر ځـای شـاتګ وکـړ؟ دلتـه دوې خبرې دي: يا دا چې موږ د دې وړتيا نه در لوده او يا دا چې زموږ ادعـا بې بنسټه ده.

دلته زموږ ټولنه له يوه بل تناقض سره مخېږي، نه موږ په دې اعـتراف کوو چې هو د خپلو اسلافو نا اهله خلف يو او نه عملن دا ثـابتولای شـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زموږ اسلافو دا هر څه کړي دي يا يې بنياد ايښی موږ يې دا دی عملن ثابتوو چې دومره ترقي مو په دې بنيادونو سره کړې ده.

د مسلمانانو په تاريخ کې خورا زياتې پېښې داسې ثبت دي چې د خپلې ټولنې هوښيار عالمان او مفکرين يې شړلي دي، تکفير کړي يې دي، منفور شوي دي، بدنام کړي يې دي او حتا د مرګ فتواوې يې ور کړې دي، که اوس پوښتنه وشي چې په هغه شانداره ماضي کې هم زموږ د عالمانو او مفکرينو دغه حالت و او اوس چې بالفعله د پستۍ او ذلت په کنده کې پراته يو هم مو د زغم او صبر چندانې فرق له ماضي سره نه شته، خپل ټول مفکرين او عالمان مو يا ووژل يا مو بهر ته وشړل.

زموږ ليکوال او ويناوال چې د کومې شاندارې ماضي يادونه د ژړا په لهجه کوي او پر اوسني حالت افسوس کوي، دوی اصلن د خپلې تېرې ټولنې سم انځور نه وړاندې کوي، دوی دا نه وايي چې د عباسيانو په خلافت کې ولې امام احمد بن حنبل رحمه الله پر يوه نظرياتي اختلاف ووهل شو؟ دا نه وايي چې امام ابو حنيفه رحمه الله ولې د اسلامي خلافت د خليفه له لوري لومړی بندي او بيا په بند کې د وهلو له وجې مړ شو؟ امام بخاري دې ولې له خپلې سيمې وشړل شول؟ ابن المسيب دې ولې د خپلو چارواکو له لوري په دورو وهل کېدی؟ داسې نو بيخې ډېرې پېښې دي چې د هرې يوې يادونه دلته نه شي کېدلای. تر دې ښه ده چې د يوه بل حقيقت پانه را خلاصه کړو، امويانو د خپل خلافت بنياد د ابن زبير رض پر هډونو کېښود، عباسيانو د خپل خلافت ماڼۍ د امويانو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



جسدونو وداني کړې، فاطميان د همدې دواړو د اختلافاتو په نتيجه کې را پيدا او د همدې عباسي خلافت ريښې يې د وينو په شان ووهلې او مصر کې يې ځان ځای کړ، د خلافت په همدې نس کې چې زنگيان، ايوبيان، سلجوقيان، ملوکيان، برمکيان او شل نورې وړې و غټې واکمنۍ را پيدا کيدې، ان د خليفه د عزل او نصب واک يې له ځان سره در لود، د خلافت پر مرکز به يې لښکرې ور ځغلولې، تاج و تخت يې هر وخت د شخړو او اختلافاتو سبب شوی دی، د زر او زور لپاره يې هر د وخت د زرگونو او لکونو انسانانو ککرۍ الوزولې دي، د قدرت او ثروت په نشه کې د مستو چارواکو او خليفه گانو د حرم سرايونو پوښتنه دې څوک نه کوي چې هلته څه تېرېدل؟ د هغه دين په نوم يې د انسانيت غاړې ته د غلامۍ او ملوکيت طوق ور اچولی و چې د همدې غلامۍ د ختم او ملوکيت د زوال لپاره راغلی و، هغه دين چې ډلې ټپلې يې ممنوع اعلان کړې، رنگ، نژاد، وطن، ژبه او قوميت يې د شيطان لارې وگڼلې، د ټول انسانيت بشري کرامت ته تر قايلېدو وروسته يې مسلمانان يو امت وبلل او خدای ته يې هغه کسان ډېر نژدې وگڼل چې د هغه له قانون سره سم د دنيا او دين چارې په ښه توگه مخته وړي خو د تخريبي پايلو پر ځای تعميري نتايج ور کړي، خو بل پلو موږ د همدې شاندارې ماضي په هنداره کې وينو چې هغوی امت پر ډلو ووېشه، نژاد، رنگ، ژبه، قوم، گوند، مسلک او د طبقاتو لپاره هر بنياد يې معتبر وباله او د امت بېړه يې په همدې اختلافاتو ور غرقه کړه، د نن هر رنگه اختلاف د دوی د اختلاف نتيجه وه، نن که مسلمان د مسلمان په لاس تذليل کېږي، پرون

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دغسې کېدل، کوم تېمور د عثماني خليفه ميرمن د هغه په مخکې هغه وخت بې عزته کوله چې خليفه يې په کېس کې لاس او پښې ولچک کړی او په سپينو سترګو يې د خپلې ښځې بې عزتي ته کتل، دواړه زموږ د ماضي شانداره ځلي دي، د مسلمانانو په تاريخ کې ځلانده ستوري دي، پر شخصيتونو يې لوی لوی کتابونه ليکل شوي دي.

د ماضي شانداره تصوير په ځينو برخو کې سم دی، مګر تر علمي خدمتونو مو بيا هم جنګي تاړاکونه زيات دي، نه يوازې له نورو سره بلکې په خپل منځ کې مو يو پر بل رحم نه دی کړی. دا خبره سمه ده چې په مسلمانانو کې علم ته کار شوی دی، تاريخ پوهان، ټولنپوهان، ساينسپوهان، سياستوال او سياست پوهان، د نظامي برخې ماهرين، بيخي کم يې عادل پاچاهان او خليفه ګان د امويانو له دورې بيا د خلافت تر سقوطه تېر شوي دي، مګر ټوله ماضي شانداره بلل، له عدالته ډکه يې ګڼل، د علم او پوهې زمانه ورته ويل، پر ځای کار نه دی، اروپايانو به له موږ په ځينو برخو کې حتمن زده کړه کړې وي، موږ به هغه وخت علمي لاسته راوړنې در لودې، خو هغه هم په انفرادي توګه وې يا يوازې د پوره امپراتورۍ په يوه برخه کې کېدلې، که دغه وړې هڅې د دې وړ وي چې موږ نن پر نړۍ وياړ په وکړو او هغوی ته د اوسنۍ ټولې ترقۍ پېغور ور کړو چې زموږ ميراث يې وړی دی، نو دا خو اوس هم شته، اسلامي دنيا کې خورا ډېر علماء او پوهان لرو، د هرې برخې کادرونه لرو، اسلامي هيوادونه د علم نوموتي مرکزونه لري، په انفرادي توګه د هند عبد الکلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یادونې وړ دی چې د خپل علم په مټ یې هند غونډې یوه هیواد کې ولسمشری ته ځان ورساوه، د علم په نورو ځانګو کې دومره خدمتونه شوي دي چې غټې نړۍ والې جایزې یې تر لاسه کړې دي، نو بیا ولې یوازې د ماضي یادونه کېږي؟ دا خو اوس هم شته، اسلامي دنیا خپل حکومتونه لري، د علم مرکزونه لري، علماء لري، خدمتونه کوي، ډېری اسلامي هیوادونو د خپل ملت او وطن جوړولو ته توجو کړې ده او پخواني تاړاکونه یې ایله کړي دي، که دغه نکته د هغوی د ضعف وي، نو اوسني شرایطو کې دا د ضعف نکته نه بلکې د قوت نکته ده، خپل ځان ته کار کول، خپل قووت زیاتول، ځان بسیا کول، علم او اقتصاد ته کار کول، نن اصل کار او همدغه خدمت دی، نه دا چې نور هیوادونه لاندې کړه او د بشریت پر لمن تور داغونه تاریخ کې په خپل نوم ثبت کړه.

موږ ته ولې یوازې د ماضي هغه یادونه مهم دي چې زما خوښ دي هغه یې بیا نه کوم چې زه په شرمېږم؟ ما که له چینه تر اروپا امپراتوري در لوده، د پخوانۍ نړۍ زړه مې قبضه کړی و، بشري قوه مې در لوده، ثروت را سره و، یوه داسې امپراتوري وه چې نوره نړۍ مې ډارولې وه، دا خبرې ټولې پر ځای دي، خو په عیني حال کې دا پوښتنې هم کېږي چې له دومره امکاناتو او وسایلو سره مو څو فیصده خدمت وکړ؟ بشر ته تعمیري هڅې مو د خپلو همدې امکاناتو او وسایلو په نسبت څومره دي؟ له دې سره چې دومره لویه امپراتوري مو در لوده، بیا مو هم په خپله دومره لویه غېږه کې ځینې نابغه مسلمان علماء نه دي منلي، هغوی که

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شا له يوه ځايه بله ته کوچېدل او په همدې سره يې قيمتي وخت ضايع شو او زموږ اسلامي ټولنې په خپله غېږه کې را لوي شوي نابغه ګان له لاسه ورکول. په دومره لويه امپراتورۍ کې زموږ زور يو د بل پر وهلو وختی، له منګوليانو سره په جنګ کې لومړی خوارزم شاه يوازې مقاومت ته ولاړ و، د هغه تر ماتېدو وروسته يې د اسلامي نړۍ يوه يوه واکمني را ټينګوله او تبا کوله يې څو په همدې توګه تر مصره ورسېدل، که موږ په دومره پراخه امپراتورۍ نازېږو، نو دا هم بايد ياد کړو چې دغسې د اسلامي امت خښتې يو د بل له وجوده بېلې وي، دا احساس يې نه در لود چې د يوه مسلمان واکمن په تلو دويم نوبت د هغه دی، حتا په مصر کې د منګوليانو تر ماتې وروسته د يوه مسلمان فاتح واکمن سلطان قطز ژوند ته څنګه د هغه د يوه قومندان بيبرس له لوري خاتمه ورکول کېږي او تر هغه وروسته څنګه د هغه پر تخت خپله کېني؟

حقيقت بايد په رڼو سترګو وليدل شي او د انکار پر ځای يې منل ډېر ښه دي، له واقعيته په سترګو پټېدو هغه نه تغييرېږي او نه له منځه ځي، بلکې زموږ له هر څومره انکار او چشم پوشي سره واقعيت پر خپل ځای پاتېږي او موږ له خپل چاپېريال سره په نه هرېغي کېدو، خپل ځانونه خپله له منځه وړو.زما په نظر زموږ ماضي هم ښه لري او هم بد، ښه يې بايد وستايل شي او له بدو يې عبرت تر لاسه شي، په تاريخ، وينا او ليکنو کې د ټولو يادونه حتمي ده، ځکه ډېر وختونه له تعميري کارونو عبرت دومره ښه نه اخيستل کېږي، لکه له تخريبي چې تر لاسه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ که په ماضي کې ښه او بد دواړه در لودل، اوس يې هم لـرو، کـه مو ځمکه در لوده، اوس هم شته، که حکومتونه مـو قـايم ول، اوس يـې هم لرو، که علماء ول، اوس هم شته، که علمي مرکزونه موجود وو، اوس يې هم لرو، که بشري قوه مو در لوده اوس يـې پـه څـو چنـده لـرو، کـه ثروت او د ثروت منابع مو په لاس کې وې، نن يې په څـو چنـده زيـاتې لرو، نو بيا څه بلا را شوې ده چې د اوس پر ځای ماضي يادوو؟ د خپـل ظرفيت د لوړولو پر ځای د يوه تېر باظرفيته کس په يـادونو نـه مړېـږو؟ د خپل تېر برم يادونه کوو دا فکر نه کوو چې اوس هم وخت دی چې هغه برم بېرته را ژوندی کړو؟ د دې پر ځای چې د مـاضي پـر يـادونو يـوازې وژاړو، ولې عبرت نه ځنې اخلو؟ ولې د مـاضي پـه هنـداره کـې د خپلـو ځينو ستونزو عوامل نه تشخيصوو او حل لارې نه ورته وړاندې کـوو؟ او بالاخره د کمترۍ له اوسني حالت څخه د خلاصون لپاره ولې مـاضي تـه پنا وړو، ولې اوس پر خپلو وړتياو او منابعو په خپله ګټه کار نه کوو چې د ابد لپاره له دې کمترۍ خلاص او ښه انساني ژوند مو په برخه شي؟

ماضي که مو شانداره وه، نو د وحشت او بربريت هغه کيسې يې هـم په غېږ کې تازه ساتلې دي چې د هر بااحساسه انسان د بدن وېښـته ورتـه شخص درېږي، موږ که د تېر برم او تېرو ځلانده ستورو يادونه کوو، نو دا هم بايد هېره نه کړو چې د هماغو ځينو ستورو د ناسمو اعمالو پـه نتيجـه کې موږ دا يو نن دلته د کمترۍ او خوارۍ په پسته ترينه کنده کـې پراتـه يو، زموږ د برم په نشه کې ځينې داسې کارونه مو کړي دي چې تر نه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور نسلونه نتايج زغمي، نه ټول تېر ښه دي، نـه بـد، نـه اوس مکمـل شر دی نه تېر مکمل خير، نه يو مخيز موږ اوس ملامت يـو نـه تېـر لـه يـوې مخې سلامت، زموږ د نن ورځې د بدبختۍ ځينې عوامل له پخـوا راپاتـه دي او ځينې يې موږ اوس ايجاد کړي، يـو څـه يـې زمـوږ د خپـل لاس کرلي دي او يو څه يې دښمن را باندې تپلي، يوه برخه يې زموږ له دينـه ناسم فهم ته ور گرځي لويه برخه يې له ناسمو دنياوي پرېکړو را پېښه ده، نه بايد داسې شي چې يو مخيز اوس ته په توجو کې تېر بيخي هېر کړو او نه داسې وکړو چې د تېرو په تذکرو اخته شو، حال را څخه هېر شي، نه د خپلو ټولو ستونزو پړه پر تېرو ور واچوو او ځان سلامت ترې وباسو او نـه داسې وکړو چې هغوی سپينې ملايکې خپل ځانونه راته شيطانان ښـکاره شي، د بشري ټولنو د تقاضا له مخې هم تېر اړين دی او هم اوس، بشر د دې جهان د تکاملي لړۍ يوه کړۍ ده، موږ ته له خپلو اسلافو ډېر څه پـه ميراث پاته دي، چې واقعن هم زموږ د وياړ سـبب دي او وو، ډېـر ناسـم کارونه هم شوي دي چې زموږ د خجالت سبب دي او وو، کـه د تېـر او اوس په لوبه کې داسې را گېر نه شو چې خپل ښـه او بـد را څخـه ورک کړي، نو تېر ټول بايد د عقل او واقعيت په ترازو کې وتلو، وزنداره به يې منو او بې وزنه به يې ملامتوو، د ښو به يې پيروي کوو او له ناسمو به يـې عبرت اخلو، د عقل تقاضا همدا ده چې خپل تېر او اوس ټول د همدغه معيار له مخې وتلو، هم له تېر سره عاقلانه برخورد وکـړو او هـم لـه اوس سره، حال مو له ماضي سره وتړئ، د ښو يې تسلسل په کار دی او له بدو يې اجتناب، د خپل حال لپاره حتمن د ماضي بنياد لټول ناسم کار دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ټولنه انجماد ته بیایي، بشري ټولنه د تغییر لـه باثباتـه اصـل سره مـخ ده، هر وخت تېر بنیادونه زموږ د حال مانېۍ ثابته نه شي سـاتلای، بلکـې نوی بنیاد غواړي او د اتباع و تکرار پر ځای ابتکـار او ابـداع غـواړي، را ځئ د تېر او بېر تر کشالې تېـر شـو، لـه هـر څـه سره عاقلانـه برخـورد را واخلو، ټول پر همدې معیار وتلو، کم ته یې کم ووایـو او زیـات تـه یـې زیات، سالم یې سلامت وبولو او ناقص یې ملامت، له خپلو اسلافو په را پاته میراث کې هغه څه را واخلو چې نن هم زموږ په کار راځي، زموږ له واقعیت سره سمون خوري، زموږ ستونزې په اوارېـږي او ټولنـه مـو ورتـه اړتیا لري، هغه څه چې دوی یوازې د خپلې ټولنې او وخت د تقاضـا لـه مخې کړي دي، هغه د ماضي په یادونو کې یوازې د هغوی د کارنامو پـه توګه یادګار وساتو او بس، له نویو ستونزو، مسلو او حـادثو سره د ابتکـار تګلاره لار واخلو، وېره ځنې ونه کړو، هره ستونزه حل لري، د هر څه تـر شا علت شته، هر څه د یوه قانون له مخې کېږي، د هغـه قـانون کشـف د انسان په وس کې شته، که څه هم نن نه وي کشف شوی، خو سبا حتمن کېږي، نو همت را کش کړو، له نویو حالاتو سره په نوي فکر مخ شـو، د تېر د اتباع پر ځای له خپـل بشري وس څخـه پـه اسـتفادې ابـداع تـه را وړاندې شو او په خپله ټولنه کې زموږ له لاسه را پېښو مسلو تـه پـه خپـل لاس او توان حل پیدا کړو، بیا به نه د ماضي په شانداره خوبونو کې ورک یو او نه به په حال کې د کمترۍ احساس را څخه د ژوند خوندونه تروړلي وي.

۴/۹/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طالبانو ته اخطار

په هیواد کې د جمهوري نظام تر سقوط وروسته په جنګي او له کړکیچه ډکو حالاتو کې په زور د طالبانو واک ته رسېدلو هغوی ته په کور دننه د دوو ډلو وسله وال مخالفت را وټوکاوه، یوه یې اسلامي دولت او بله یې د مقاومت جبه ده او په نړۍ واله کچه یې مکمل منزوي کړل. که طالبانو د جذبې پر ځای له هوښه کار اخیستی وای، دغه ګواښ به نه وای رامنځته شوی او نړۍ به نه ګوښه کول. زموږ یو بد عادت دا دی چې د ننني بریا په نشه کې مو د پرون شکست هېر وي، د نن خوږې شېبې د پرون ترخې لحظې را نه هېرې کړي. طالبانو ته هم د نن بریا د دې سبب شوه چې پرونی وضعیت یې هېر شي.

د طالبانو د تېر واک په اخیر کې، دوی د امریکا په مشرۍ نړۍ والو ته زارۍ کولې چې د هر ډول ستونزو د حل لپاره دې خبرې وشي، جنګ دې د حللارې په توګه نه غوره کېږي، له امریکا سره د مخالفت یو عمده ټکی د اسامه او ډلې شتون یې وو چې په کابل کې د امارت په بلنه راغلو علماؤ له اسامه وغوښتل چې هیواد پرېږدي او زموږ له خاورې پټ ووزي څو موږ له نړۍ سره په شخړه وانه ړوي، خو د دغه اقدام مخالفت یې د طالبانو امیر وکړ، لنډه دا چې جنګ پیل شو، په درې اونۍ کې طالبان له واکه ګوښه شول، بیا یې د ژوندي پاته کېدا لپاره هره لار وړه، خو هره غلطي چې وه هغوی د پاکستان منګولو ته ولوېدل او د جمهوري نظام پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضد یې وکارول، تر دې چې بیا له طالبانو سره خبرو اترو ته جمهوریت پالو زاری کولې خو طالبانو هیڅ نه اورېدل، د ملت، نړۍ او حکومت هر ډول غوښتنې یې یوازې اورېدې، نور یې د عمل په میدان کې هغه څه کول چې دوی غوښتل. لاندې ځینې هغه ټکي لیکم چې ممکن د طالبانو لپاره د نابودۍ په قیمت تمامې شي.

واک ته تر رسېدو وروسته هم طالبان هماغه څه کوي چې په تېرو شلو کلونو کې یې کول، دوی اوس هم د هر چا مخالفت د خپل ځان په نابودي حسابوي، نو ځکه هر مخالف کس د زندان میلمه کوي، د ښځو په اړه یې نړۍ او ملت ته ژمنه ور کړې وه چې د کار له ساحې به یې نه منعه کوي، مګر واک ته تر راتلو وروسته یې له محرم پرته پر راوتلو لا بندیز ولګاوه، کار خو د هر چا هېر شو.

د نجونو پر زدکړو یې هم ډېر وعدې کړې وې، توافقات یې لاسلیک کړي وو، اما قدرت ته تر رسېدو وروسته یې د نجونو له ابتدایي تعلیم پرته متوسطې او عالي لیسې تعلیق ته واچولې، په یوه او بله پلمه یې دروازې بندې کړې او نجونې د تعلیم حق نه لري.

د اردو جوړ چوکاټ یې خراب کړ، د پولیسو تیار نظام یې له منځه یووړ، د ملي امنیت اداره یې له بیخه وکښه، د حکومت په ملکي برخه یې تر اوسه غوښنه برخه نیولې ده او لا هم لګیا دي نور هم په دې برخه کې خپل نااهله کسان ځایوي او مسلکي کسان رخصتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خدماتو برخه يې ډېره کمزوې ده، دوی هر وخت ملت ته دا غوږې کوي چې موږ نوي يو، هر څه به سوکه سوکه سم شي، خو د يوه کال په پوره کېدو لا هم حتا خلک له بانکه خپلې پيسې نه شي ايستلای، نور خدمات يې پر ځای پاته.

د فساد په برخه کې دوی تل د جمهوري نظام پر لمن داغ لګاوه چې مفسد نظام و، دا خبره يې سمه ده، د هغه نظام په رګ رګ کې فساد داسې ځای نيولی و، چې اصلاح يې يا يو مخيز له منځه تګ باندې ممکنه وه لکه طالبانو چې يو وړی يا هم دا چې طالبان ورسره يوځای شوي وای، د جنګ بوج پر کم شوی وای، نو که په مشرتابه کې يې د اصلاح اراده وای، نو سخته وه، خو له امکانه نه وه وتلې، يعنې يوې پرېکنده ارادې چې تر شا يې قوي ځواک هم ولاړ وای، د دې کار شونتيا رامنځته کوله، خو له بده مرغه چې طالبانو دا کار ونه کړ. دلته يې هم د نړۍ او ملت خبرو ته غوږ ونه نيوی.

بل لور ته يې د فساد په پلمه د ايسته کړي مفسد نظام پر ځای بيا هم د يوه بل مفسد نظام بنياد کېښود، دوی له هر ډول تخصص او مسلکيتوب پرته خپل کسان پر لوړو بستونو ګوماري، سياسي، نظامي او تخنيکي برخې يې ټولې په خپلو کسانو ډکې کړې دي چې د فساد بنسټ له دې ځايه پيلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي سیمبولونه یې ختم کړل، لکه بیرغ، ملي سرود او د جمهوریت نوم. ملي بنسټونه یې له بیخه وکښل، لکه اردو، پولیسي، استخبارات، ملکي دولتي چوکاټ، او د ادارو چور ته دوی کسان ایله کړل، د همدوی کسان د دې ادارو وسایط ګاونډیو ملکونو ته وړي، له ځانو سره یې پټوي او د دې هیڅ یوه عامل ته علني سزا نه ده ورکړل شوې. په داسې حال کې چې د ملت غوښتنه وه، چې دا هر څه دې پر ځای پاته شي، مګر طالب بیا هم د ملت غوښتنې ته غوږ ونه نیوی.

د ټول شموله حکومت جوړول، نه یوازې د افغانانو قانوني، بشري او اسلامي حق دی، بلکې له نړۍ سره یې توافق هم کړی و، د نړۍ والو غوښتنه هم وه چې ټول اقشار او قومونه به د طالبانو په نظام کې ځانونهویني، خو دوی واک یوازې طالب شموله کړ، هر څوک چې د دوی د فکر او لیکو کس وي، هغه په دې نظام کې ځان ویني، که د دوی له لیکو بهر، د دوی له فکره مخالف، د دوی په جامه کې نه وی، هغه که مسلکي هم وي، متخصص وي، کاري تجربه ولري، له هیواد او ملت سره اخلاص ولري، هیڅ بده او مفسده سابقه ونه لري، بیا هم د دوی په اند یو اخوند یوازې له دې امله پرې ښه دی چې د دوی ملا فلانی اخوند دی، دغسې یو شرمناک، بې اصولو، غیر متوازن او بې سابقې معیار رامنځته کول تر ټولو لوی فساد دی، له قانونه بغاوت دی، د الله په دین کې حرام دی او د بشري اخلاقو له مخې سنګین جرم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وړو شیانو کې دومره مصروفیت چې مهم او اساسي کارونه ځنې هېر شول، د ښځو د مخ پټولو موضوع ته دومره هوا ورکول چې حتا نړۍ پر ورېغېده، خو په هیواد کې د فقر، بېکارۍ، له هیواده د خلکو د وتلو ستونزه، وچکالي، د نرخونو جګېدل، لوږه، ناروغۍ، غلاوې، فساد، د خدماتو ځنډ، له نړۍ سره خرابې اړیکې او ګڼې نورې ستونزې ټولې پر ځای پاته دي، دوی د نجونو ښوونځي ته کمېسیون تعین کړ، د امر بالمعروف ادارې ته واک ور کړي چې ښځې په زور مخ پټولو ته اړې کړي او داسې نور نمایشي کارونه.

له هیواد سره د ګاونډیو ملکونو پر پولو زموږ له وطنوالو سره غیر انساني کړنې او بد اخلاقۍ بل هغه پواینټ دی چې که طالبانو یې د حل لپاره لاس په کار نه شي، نو خلکو ته به چانس ور کړي چې له داعش او مقاومت جبهې پرته د طالبانو پر بل بدیل فکر وکړي.

طالبانو په خپل شل کلن جنګ کې د خپلو افرادو ترمنځ یو نوښت وکړ چې د ځانمرګو فکتري یې فعاله کړه، نور یې ټول توان پر دې صرف کړ چې خپل کسان څنګه د جنګ لیکو ته سوق کړي، دوی چې کله د یوې جنګي ډلې پوست کېښ او د یوه باصلاحیته ملي دولتي خپلواک نظام؟! په شکل را څرګندېدل، نو دغه ظرفیت یې نه درلود، شعور یې دومره تکامل نه وو کړی چې د یوه دولت ځای ډک کړي، د دولت مقام وپېژني، د همدغه مقام صلاحیت ته په کتو له نورو نظامونو سره مناسب برخورد وکړي، دغه مقام ته راجع ملي او نړۍ والو مسوولیتونه وپېژني، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاونډيو سره د يوه همسايه په توګه داسې تعامل وکړي چې هم يې خپل ګاونډی سم درک کړی وي او هم يې خپل زور او ځواک معلوم کړی وي، دوی نه د همسايه ځواک درک کړ، نه يې خپل، له تاجکستان، ايران او پاکستان سره اخته شول، د ګوانښ په ژبه يې خبرې ورته وکړې او د ځان په اړه په نړۍ کې رامنځته شوی مثبت انځور يې د ځينو په ذهنو کې تت او د نور په اذهانو کې ختم کړ او ځای يې منفي ونيوی.

د کانونو بې سابقې استخراج د طالبانو کمال نه دی، بلکې د ملي شتمنۍ چور دی چې يوازې يې ګاونډي ته ګټه رسېږي، دا ټکی بايد په ياد ولري چې په دې کانونو کې نه يوازې د ملت د ټولو اقشارو او قومونو سهم شته، بلکې راتلونکي نسلونه هم په دې کې ونډه لري، چې د قانون او اسلام دواړو له مخې ورته ثابته ده. دغه ټکی پر طالبانو د ملت منفي فشار زياتوي، په تعمير کې يې نه په تخريب کې شمارل کېږي او له دوی څخه د ولس هغه ډول خپګان رامنځته کوي چې پايله به يې د دوی له منځه تګ وي.

د ملت له احساساتو سره لوبې کول، بله هغه نکته ده چې د طالبانو په زوال به تمامېږي، نه د انتخاباتو غوښتنه مني، نه د نورو اقشارو او قومونو روا بشري هيلې په نظر کې نيسي، د هر قوم خپه کول به د دوی واک ته ډېرې جدي ننګونې را پيدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل واک او ځواک باندې د تکبر تر حده مغروره کېدل، د دوی بل منفي ټکی دی، د همدې خمار په ټس کې نه له ملت سره سمه خبر کوي، نه له نړۍ سره، دوی فکر کوي چې نه په ملت کې نور داسې ځواک پاته دی چې د هغوی د ځواک په وړاندې ودرېږي او نه نړۍ کې ځوک شته چې د هغوی په مقابل کې یو بل مخالف ځواک حمایه کړي، خو دا فکر یې ډېر بې ځایه ده، هم ملت د دې وړتیا لري چې دغه ډول ځواک تولید کړي او هم نړۍ د دې وس لري چې په کمه موده کې د طالبانو ښه یا بد بدیل پیدا او ځای ناستی کړي.

د طالبانو په وړاندې د یوه داسې ملي او افغان شموله محور نه شتون دې طالبانو ته دا احساس ور نه کړي چې ملت په هر حال راضي دی او نړۍ زموږ د هیڅ ډول عمل په وړاندې یوازې د خبرو له عکس العمل پرته د بل عکس العمل وړتیا نه لري. ملت نه دی راضي، ستونزه داده چې ملت د طالبانو پر یوه ښه بدیل غور کوي او دا ښه بدیل یې په سترګه نه دی ورغلی، داعش د دې ظرفیت نه لري چې د طالبانو خلا ډکه کړي دا خو پر لویه لار پرېږده چې د یوه دولت خلا دې ډکه کړي، نه بشري قوه لري او نه ظرفیت. په فکري لحاظ تر طالبانو هم ډېر سختدریځي دي، په ملت کې نفوذ نه لري، له فکر سره یې ملت جوړ نه دی، د مذهب له مخې دلته بستر ورته هوار نه دی، نو هغوی د طالب په وړاندې یو کمزوری، بې انډوله او بدتر بدیل لا هم نه شي کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دویم بدیل په توګه یې سمدستي د مقاومت جبه د افغانانو ذهن ته ورځي، چې په هیڅ توګه تر طالبانو ښه نه دي، بلکې ډېر بد بدیل یې ګڼلای شو. هغوی اصلن د نورو د لاس اله ده، له نظام سره د دې لپاره لاس او ګرېوان نه وي چې اصلاح غواړي، بلکې دوی د خپل واک او جیب غم اخیستی او په نتیجه کې یې ملي خپلواکي هم د نورو په لمن کې د سوغات په توګه ور کوي.

که وضعیت همدغسې دوام وکړي، نو ملت او نړۍ به د یوه بهتر بدیل لپاره حتمي جدي هڅې پیل کړي چې په نتیجه کې به یې طالب نه یوازې له قدرته پرزول کېږي، بلکې ډېر مالي او فزیکي تاوانونه به هم ورسره مله وي، چې ملت او هیواد دواړه به هم لازمي زیان ویني. داسې یو تحول به وي چې د طالب د اینده سیاسي او نظامي وجود لپاره به وروستی ټکی کښېږدي، د خپل بد تاریخ او ناوړه نوم له ایله کولو سره به اسلامي دین ته هم ډېره سخته صدمه ورسوي چې جبیره کول به یې له اسلامپاله اصلاح غوښتونکو داعیانو څخه لسونه کلونه جدي هر اړخیزه هڅې وغواړي.

طالبان باید په دې پوه شي چې د هر چا مخالفې خبرې نه د هغوی د دښمنۍ معنا لري او نه د هغوی واک ته جدي ګواښ متوجې کوي، ځیني وخت نیوکې او مخالفتونه د سمون لپاره وي، هر مخالف کس د یوه وسله وال جنګیالي په تله باید ونه تلل شي، له هر مخالف افغان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دښمن چلند غوره کول د طالبانو پر تنګنظري، بې زغمي او کمظرفيتـي دلالت کوي.

دوی چې پر کوم مسند ناست دي، بايد هغه سـم درک کـړي، کـه د دې مسند څخه سو استفاده وکړي، نو د هر ډول ناوړه پېښو مسووليت بـه د طالب پر اوږو پروت وي، طالبان دې ملت او نړۍ دې ته نه مجبوروي چې لازمي د طالب پر غوره او همه شموله بديل فکر وکړي، دا اوس هم که دوی سياسي بصيرت ولري په دې به پوهېږي چې د هغوی هـر ناسـم ګام د يوه افغان شموله سياسي محور جوړېدو ته لار جوړوي، د ځوانـانو يوه کتله په همدې فکر ده، هغوی د دې لپـاره هڅـې هـم کـوي، حتـا د وسله والې مبارزې ملاتړي هم دي، تاسو به يې حتمن پېژنئ، خو زما پـه شمول زرګونه نه لکونه کسان دغه حالت نه شي زغملای او جنګ هم نه غواړي، موږ دغه د جمود حالت نـه غـواړو، اقتصـادي او علمـي رکـود زموږ اينده ګواښي، له ملت سره د مور او ميرې چلند د هيواد تجزيـې تـه لار جوړوي، د خلکو پر افکارو بنديز ناسم اقدام دی، د مذهبي لښـکيو سره غير منصفانه چلند له اسـلامي لارښـوونو سره مخـالف عمـل دی، دا ټول کارونه بايد اصلاح شي او ژر اصلاح غواړي، د مکتبونو دروازې بـه حتمي خلاصېږي، ښځو ته بـه د تعليـم، کـار، تلـو راتلـو او ټولـو بشري اسلامي حقوقو ور کول تضمينېږي، لـه نـړۍ سره بـه د اړيکـو پـر رغولـو جدي کار کېږي، زموږ د هيواد ګوښه پاتېدل زموږ د ملـت او هيـواد سره ستر ظلم دی، دغه ډول انزوا ته ټېله کول، ستاسو پر عدم بصيرت دلالـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، چې په نتیجه کې به یې ملت او نړۍ دواړه په دې باوري شي چې تاسو د دې مسند اهل نه یئ، نو بناءن باید ایسته شئ.

زه بیا هم وایم چې له طالبي فکر سره په ډاګه مخالفت لرم، د نظام لـه سټرکچره، تر ملي مسایلو، د دین له تعریفه بیا د فرعي مسلو تـر حلـه پـه هره برخه کې ورسره مخالف یم، دا زما انساني او اسلامي حق دی، زه چا ته حق نه ور کوم چې له ما مې خپل حق واخلي، د دې ټولـو بـاوجود د دې پلوي نه یم چې په اوسنیو حالاتو کې د طالبانو پر ضد دې وسله واله مبارزه وشي، دغه فکر اوس د زیاتره ځوانانو دی، ډېر کم کسان د وسـله وال مقاومت ملاتړي دي، خو که حالات د اوس په شان دوام وکړي، نـو دغه شمېر زیاتېږي، د دې فکر ملاتړي ډېرېږي، مقاومت له یوې سیمې بلې ته پراخېږي، د ملت، سیمې او نـړۍ پـه کچـه یـې حمایـت حتمـې کېږي، پایله به یې ستاسو له واکه د سیمو وتل وي، چـې یـا بـه ستاسـو د مخالفو کسانو لپاره ستاسو په څنګ کې دویم ملک جوړېږي او یا به ټول افغانستان ستاسو له وجوده پاکوي، هر څه که کېږي، مسـوولیت یـې یـو مخیز ستاسو دی، پر خپل ځان، ملت، هیواد او دین رحم وکړئ، مه ځان ته ګواښونه زیاتوئ، مه د درست ملت په سرنوشت لوبې کوئ، جالبـه ده یوه وړه ډله د خپل ناسم فکر په پلي کولو هر وخت د دې سبب شوې ده چې هم ځان ته زیان ورسوي، هم ملت او وطن ته، ستاسـو فکـر د ټـول ملت فکر نه دی، ستاسو پرېکـړې د درسـت ملـت فیصـلې نـه دی، څـه وخت به تاسو دا حقیقت درک کوئ او منئ چې تاسـو د دې ملـت یـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه یاست، ټول ملت نه یاست، نو بناءن خپلې پرېکړې او فکر پر ملت مه تپئ چې هر وخت یې نتیجه منفي راوتلې ده. له تاریخ څوک عبرت اخلي، خو موږ یې د عبرت پر ځای بیا تکرار وو، هیڅ یوه نظام دا کار ونه کړ چې خلکو ته غېږ خلاصه کړي، ټول په غېږ کې ونیسي او هیچا ته د پردیتوب احساس ور نه کړي، په مساوي توګه د دې ملت ټولو خلکو ته د خدمت، کار، تعلیم، ژوند او نورو چارو زمینه برابره کړي، زموږ هر نظام چې راغلی دی، بس یوازې یې انتقام ته کار ویلی، د خپل همفکره کسانو ګومارنې یې خپل حق بللې دي او د خپل ځان اینده ثبات یې یوزاې په وسله کې لیدلی دی، چې دغه فکر یې تل د خپل ځان په مرګ او ملت په زیان تمام شوی دی.

هیله ده طالبان له خپلې دې تګلارې تېر شي، ملت محکوم نه کړي، بلکې د خپل قدرت د مشروعیت مرجع او د خپل ځان د بقا ضمانت یې وګڼي، د پردیو په زور د واک ساتل همیشه نه وي، د بل کټ تر نیمو شپو وي، خپل ملت ته د پردیتوب احساس مه ور کوئ، که نه تاسو به له دې وطن او ملت څخه خپل ځانونه پردي کړئ، دا یوه حتمي پایله ده، چې هم تجربو ثابته کړې او هم الهي نه بدلېدونکي سنت دي.

۲۰۲۲/جون/۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګڼ ودونه(تعدد زوجات)

ما داسې کور نه دی ليدلی چې هلته دې د يوه سړي دوې ميرمنې وي، هغوی دې په ارامه ګوله پورته کړې وي، نه مې تر اوسه په کتابونو کې لوستي دي، چې په يوه کور کې د يوه سړي څو ميرمنې وې، هغوی ښه ارام ژوند سره کاوه، بلکې ګڼو ودونو هر ځای د خلکو شخصي ژوند د دوزخ ژوند ګرځولی دی، نه يوازې دا چې د ښځو ترمنځ ستونزې وي، له مېړه سره يې اختلاف او جنجالونه وي، بلکې د دوو بنو د کورنيو ترمنځ هم نفرت وي، د اولادونو کرکه يې هم د هېرولو نه وي او له هرې ښځې سره چې څوک تعلق لري، د هغې ملګرې او اړيکپاله ښځې لا د هغې له بنې څخه بد وړي.

ګڼ ودونه انسانانو ته د ستونزو سبب شوي دي، ما چې څومره کسان پوښتلي دي، لومړي سر کې دويم واده ته پلمې لټوي، خو چې خپله يې تجربه کړي، بيا توبې کاږي. له دې سره چې نتيجه يې خوندوره نه ده، بيا ولې په اسلام کې ګڼو ودونو ته اجازه ور کول شوې ده؟

دا ډېره مهمه مسلمه ده، ټولنې ته له دې اړخ ګڼې ستونزې ور پېښې دي، په خورا دقت يې څېړل او تر خپله وسه داسې هڅه کول چې د ټولنې له اغېزه په دې برخه کې خپل ذهنيت پاک شي او بيا په دې اړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قران کریم پر هدایاتو فکر وشي، نو به خبره روښانه شي چې قران هغه څه نه دي ویلي چې زموږ خلکو ترې اخیستي دي.

په اسلام کې ګڼو ودونو ته مطلق اجازه په هیڅ صورت نه ده ور کول شوې، قران کریم د مېړه او مایني په اړه وایي:

{ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ} [الروم: ۲۱].

ژباړه: او د هغه د(قدرت او شتون) له نښو یوه داده چې تاسو ته یې له انساني نوعې ستاسو جوړې پیدا کړې دي چې تاسو د هغوی په خوا کې ډاډمن کېږئ، ستاسو ترمنځ یې مینه او رحمت پیدا کړی، د هغو خلکو لپاره چې پر دې د فکر وړتیا لري، د عبرت نښې شته.

په دې ایت کې که فکر وکړئ الله تعالی د مېړه او مایني ژوند یو بل ته د ډاډ وسیله وبالی، دغه زندګي یې د مینې او رحمت د پیدا کېدو ذریعه کړه او په دې توګه د ژوند تېرولو ښې نتیجې یې د مفکرینو په وړاندې ایښې دي چې تاسو د دې ټولنې او هغې ټولنې ترمنځ پر شته توپیرونو فکر وکړئ چې کومه یوه یې د پایلې له مخې د انسانیت په ګټه ده؟

تر دې وروسته که فکر وکړو چې د هیڅ ښځې بن نه خوښېږي، نو که د هغې له خوښې پرته بن کور ته راوستل کېږي، دا به د کور ډاډمنه، له مینې ډکه او د امن و خوشالۍ فضا حتمن تبا کوي، تاسو فکر وکړئ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قران کریم څنګه د یوه کور د تباهۍ اجازه ور کوي؟ قران کریم یو لورته د کور په اړه هغه پاسنۍ نقشه زموږ مخې ته ږدي او بل لور ته بیا د هغې د ضد اجازه ور کوي؟

د نرانو د بې مهاره جنسي خواهشاتو د سړولو لپاره هغوی د ښځو د استعمال ګڼې طریقې ایجاد کړې دي، په جنګونو کې د میرمنو نیول او بیا ورڅخه بې قیده و شرطه جنسي استفاده، د دې بې مهاره جنسي سرېدنې ښه بېلګه ده، پر انسان چې له یوې خوا سختي را شي، بلې لارې ته تښتي، که یوه موکه خطا کړي، بل چانس ته پټ شي، په نړۍ کې چې د غلامۍ ظالمه ښه ختمه او د بشریت پر لمن د دغه داغ د ختمولو لپاره خلک لاس په کار شول، ورسره سمدستي په عقلي او مذهبي لحاظ د نرواکې ټولنې همدا وکمنه طبقه په دې لټه کې شوه چې د همدې تسکین لپاره یو بل حل پیدا کړي.

حل یې ګڼو ودونو ته د اسلام بې قید وشرطه اجازه وبلله، پر دې موضوع په عقلي لحاظ هم خلکو دلایل وړاندې کړل او له شرعي متن څخه هم د دې لپاره ډېر کار واخیستل شو. په ځینو اسلامي هیوادونو کې پر ګڼو ودونو بندیز دی، خو نور بیا دا د اسلام یوه ښېګڼه بولي چې خلکو ته یې د ډېرو ودونو اجازه ور کړې ده، څو د بدیو مخه ونیول شي او اسلامي امت ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې استدلال مهال موږ دې ته نه ګورو چې که د بدیو مخه نیسو، نو هغه بدي به څنګه کوو چې له ګډو ودونو په یوه کور کې را پیدا کېږي؟ که اسلامي امت په دې توګه ډېروو، نو د خوراک، تعلیم، کار، کور، صحت او ګډو نورو اړتیاوو په اړه به څوک تضمین راکړي چې له ډېروالي سره یې موږ د دې شیانو غم خورو؟ که خبره د الله لور ته حواله کېږي، نو الله تعالی هیڅا ته په خوله کې ګوله نه ور کوي، نه یو مریض په خپله جوړېږي، وږی به ډوډۍ په خپله همت تر لاسه کوي، بیا به ځان په مړوي او مریض په ډاکټر ته ځي، هغه به دوا ور کوي، بیا به رغېږي، تر دې وروځنۍ مشاهدې وروسته، دا خبره کول چې الله یې ور کوي، یوازې احمق وګړي کولای شي، چې له عقل او فکر څخه هیڅ کار هم نه اخلي، څوک چې یوه ذره عقل ولري، هغوی د دې ګډو ستونزو ځواب دا نه ور کوي چې الله یې ور کوي، هوښیارې ټولنې له دې زاویې را پیښو ستونزو ته حل لارې لټوي، زموږ خلک یې یوازې اسباب او علتونه چمتو کوي. موږ په خپله ټولنه کې هره ورځ خلک وینو چې د یوې ګولې لپاره سوال کوي، ښځې او ماشومان وینو چې بازارونو کې په دوکانو ګرځي او فقر کوي، ډېر کسان وینو چې په خوار ځواکۍ اخته دي او د کال په لکونو کسان مړه کېږي، که دا پوښتنه وشي چې خدای ولې دې کسانو ته خوراک او څښاک ور نه کړ، نو ځواب به مو چشی وي؟!

په دې برخه کې د رسول الله ص له ډېرو ودونو څخه هم په ناسم ډول استدلال کېږي، خلک یوازې دا ګوري چې رسول الله ص ډېر ودونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي وو، دا نه ګوري چې رسول الله ص څه وخت ډېر ودونه کړي وو؟ پر دې چا فکر نه دی کړی چې رسول الله ص د خپل ژوند اوله مرحله کې له یوې کونډې سره واده وکړ، هغه هم تر ده په عمر مشره وه. تر هغو چې رسول الله ص له مکې هجرت کاوه، همدا یوه میرمن یې وه، د ژوند یو بل پړاو چې په مدینه کې تر هجرت وروسته پیل شو، رسول الله ص د ټولنې حالاتو دې ته اړ کړ چې خپل روش بدل کړي، قران کریم هم په دې وخت اسلامي ټولنې ته د ګڼو ودونو اجازه وکړه، دا کومه مرحله وه؟ دا هغه مرحله وه چې مسلمانانو له ګڼو دښمنانو سره په جنګ اخته شول، په ټولنه کې ښځې د مېړه، پلار، ورور او نورو خپلوانو له سیوري بې برخې کېدې، د یوې کورنۍ که به یو سرپرست موجود و، د هغه په له منځه تلو، یوه دوې، درې یا هم ګڼې ښځې له سرپرست پرته د مسلمانانو ټولنې ته ور له غاړې کېدې، په دې وخت کې به یا نژدې خپلوانو هغوی ته لاس ور کاوه، یا به هغوی په فقر او بدکاریو خپل ځان ته یوه ګوله موندله یا به اسلامي ټولنې په ګډه د هغوی ستونزو ته د حل لار موندله، د رسول الله ص په وجود کې سوال نه پیدا کېده چې یوازې دوه لومړي اپشنه دې فعاله شي، بلکې ټولنې په ګډه دې ستونزو ته اوښه ور کوله، رسول الله ص له ټولنې ځان بر نه ګاڼه، هغه په هره مرحله کې له خپلو کسانو سره اوږه په اوږه ولاړ و، نه یې په جنګ کې ځان شاته کړ، نه په راحت کې مخته، نه یې له واکه د خپلو شخصي ګټو لپاره استفاده وکړه او نه یې د مسلمانانو په مال ځان او کورنۍ ته مانۍ جوړې کړې، هغه خپل ټول وخت د مسلمانانو د یوې پیاوړې، ډاډمنې، سوکاله، خپل واکې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهي احکامو ته د پابندۍ ټولنې پر جوړولو صرف کړ، په دې لړ کې رسول الله ص هم ګڼ ودونه کړي دي او اصحابو رضي الله عنهم ته يې هم اجازه ور کړې ده. که د رسول الله ص د بيبيانو ژوند ليک وګورئ نو رسول الله ص له عائشې رض پرته ټولې کونډې ښځې کړې دي، هره يوه يې تر هغې وروسته کړې ده چې په ټولنه کې بې سرپرسته پاته شوې ده.

زه به يې دلته څو مثالونه ذکر کړم: د عمر فاروق رض لور تر هغه وروسته د رسول الله ص په نکاح شوه چې هغه کونډه شوه، يوه نږدې ملګري ته په دغه ډول دروند غم کې د مرستې لاس ور کول، د باهمته خلکو کار وي، رسول الله ص په دې غم کې خپل نږدې يار او ملګری يوازې پرېنښود، بلکې د هغه تر شکايت وروسته يې سمدستي ورته وويل چې ستا له لور سره زه نکاح کوم، په دې سره د هغه بې اطمينانې ختمه شوه او د رسول الله ص په دې وړانديز ډېر خوښ شو.

د ابو سفيان رض له لور ام حبيبې رض سره يې تر هغه وروسته نکاح وکړه چې هغه په حبشه کې يوازې پاته شوه، د تاريخي رواياتو د اختلاف له مخې يا يې مېړه له دينه واوښت يا هم مړ شو، خو په هر حال هغې ته ډېره لويه صدمه ورسېده، هغه له مېړه جلا شوه، کورنۍ يې په مکه کې وه او له رسول الله ص سره يې سخت اختلاف در لود، ابو سفيان د هغو جنګونو مشري کوله چې د مسلمانانو د له منځه وړلو لپاره يې کول، نو په دې حال کې به د يوې ښځې څه حال وي چې په پردي وطن کې له خپل ملګري جلا شي او له هر ډول مرسته کوونکي محرومه شي؟ رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ص هغې ته د مرستې لاس ور کړ، هغه یې تر خپله ژونده د احسان پوروړې وه.

که د ټولو حالات یې بیان کړم، نو خبره به اوږده شي، په دې برخه کې زما په نظر دا خبره بس ده چې رسول الله ص یوازې په مدني ژوند کې ګڼ ودونه کړي او هغه یې هم ټول له کونډو سره کړي دي، دا خپله په زبات رسوي چې ګڼ ودونه په اسلام کې د جنسي خواهشاتو د سړولو لپاره نه دي شوي او نه ورته اجازه ور کول شوې ده، بلکې د اړتیا او مجبوریت له مخې دې کار ته اجازه شوې او که هماغه ډول حالات پیدا شي چې رسول الله ص په مدني ژوند کې ورسره مخ شو، بیا هم خلک له دې اپشن څخه استفاده کولای شي، یا هم د یوه فرد لپاره سختې کورنۍ اړتیاوې، لکه: د یو چا اولاد نه کېږي، یا هم مېرمن یې ناجوړه وي او یا هم دې ته ورته اړتیاوې.

یوه نکته چې په دې برخه کې ډېره مهم ده او خلک ور څخه غافل دي، هغه وېره، شک او عدم اطمینان دی چې زموږ یوه ښځه به یې د خپل مېړه په اړه هر وخت لري، زموږ ښځې به هر وخت دا فکر کوي چې نن به د یوې بنې اواز را باندې وشي او سبا به راباندې وشي. نه یوازې دا چې ښځې به له دې حالت څخه ډار لري، بلکې نران یې په دې سره ګواښي هم. تاسو فکر وکړئ چې په دغه صورت کې به د یوې ښځې په کور کې څه حالت وي؟ د دغه ډول یوه کور میرمن به څومره ډاډمنه، له شکونو خلاصه، په ارامه فضا کې ژوند کوي؟ دا د دې نتیجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې موږ خلکو ته بې قیده و شرطه له اسلامه د ګڼو ودونو جوازلیکونه د خدای او رسول په نوم ور کړي دي او زموږ ټولنه یې نن دې ځای ته را رسولې ده!!!

اوس به یو څه د هغه ایت تفسیر ته هم تم شو چې په دې برخه کې ور څخه د ګڼو ودونو استدلال کیږي:

{ وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَّا تَعُولُوا} [النساء: ۳].

ژباړه: او که تاسو ډار در لود چې د بې سرپرسته میرمنو په حق کې به بې انصافي وکړئ، نو چې ستاسو خوښې وي، له هغوی څخه دوې، درې او ځلور په نکاح کړئ، که له تاسو سره د نه عدالت ډار وي، بیا یوه په نکاح کړئ او یا هم په ټولنه کې له شته مینځې سره نکاح وکړئ، دغه صورت ډېر دې ته نژدې دی چې تاسو ظلم ونه کړئ.

تاسو وګورئ چې قران کریم په دې ایت کې په څه ډول ګڼو ودونو ته اجازه ور کړې ده؟ په ټولنه کې بې سپرسته میرمنې پاته دي، که ټولنه کې باصلاحیته خلک یا هم واکمن کسان پر دې ډارېدل چې له هغوی سره په همدې حالت کې انصاف نه کېږي، یا د انصاف معنا دا چې خلک کم دي، ښځې په ټولنه کې زیاتې دي، اوس که یو سړی یوه ښځه وکړي، نو ښځې په ټولنه کې اضافه دي، هرې ښځې ته داسې مېړه نه پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي چې بله ښځه دې ونه لري، که دا بې سپرسته ښځې په ټولنه کې همداسې پاتېږي، دا هم انصاف نه دی او که مېړه ورته موندل کېږي، نو داسې کسان نه موندل کېږي چې بله ښځه نه لري، اوس به له دې ښځو سره څه کېږي؟ دا په ټولنه کې یو استثنایي حالت وي، دا عمومي قاعده نه ده چې هر څوك دوه درې یا څلور ودونه کولای شي، زموږ خلکو دا یو عمومي حالت بللی دی، د ایت پای او سر ته یې پام نه دی کړی، یوازې یې هغه برخه عملي کړې ده، چې دوی یې د ځان په ګټه ګڼي.

تر دې وروسته په ایت کې راغلي دي چې ستاسو خوښې ښځې، له دې ښکاري چې د نکاح وخت تر بلوغ وروسته دی، ځکه ماشوم په دې برخه کې په هیڅ نه پوهېږي، خوښې او ناخوښې یې نه چلېږي، واړه ماشوم ته کوزده کول غیر اسلامي طریقه ده او وړه نجلۍ ور کول بیا هم له اسلام او عقلانیت څخه وتلې چاره ده. اسلام ښځو ته هم د خپل مېړه د انتخاب حق ور کړی دی(البقره: ۲۳۴) او نرانو ته هم په هغه لوړ ایت کې اجازه ده، زموږ ټولنې وړو ماشومانو ته د نکاح کولو جواز له کوم ځای څخه تر لاسه کړی دی؟!

په همدې ایت کې ور پسې وایي چې که عدالت مو نه شوای کولای، د ګڼو ښځو حقونه مو نه شوای ور کولای، له خواره کوره جهنم جوړېدی، نو بیا یوه ښځه درته کافي ده، همدا د کورني ژوند په اړه د اسلام اصل هم دی، که له ازادې ښځې سره د نکاح وس نه وي، یا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل هر عامل یې د مخنیوي سبب شي، کولای شئ چې لـه مینځـې سره نکاح وکړئ.

لکه په لومړي سر کې چې د بې انصافۍ له امله د جـواز یـو صـورت وړاندیز شوی دی، همدغه ډول یې پـه اخیـر کـې لـه بـې عـدالتۍ بېرتـه عمومي حالت ته پنا وړې ده، په عامو حالاتو کې یوه ښځه ده، د اسـلام عمومي اجازه ده، که د نرانو د سر لو ګډ شو، ښـځې پـه ټولنـه کـې پاتـه شوې، د ټولنې باصلاحیته وګړو یې بله لار ونه لیده، نو کولای شي چې د خپلې خوښې له ښځو سره نرانو ودونه وکړي، هغه ښـځې چـې د خلکـو خوښې وي، ځکه نو به د کور چاپېریال نه خرابېږي، داسې هم نه کېـږي چې د سړي خوښه وي، خو د ښځې بیـا نـه وي خوښـه، قـران کـریم پـه میراث او زور د ښځو له وړلو منعه کړې ده(النساء: ۱۹)، کور یوه کوچنۍ ټولنه ده، یا هم که ووایم کور د ټـولنې بنیادونـه دي، کـه د هـرې ټـولنې بنیادونه محکم او پیاوړي وي، هغه ټولنه به هـم مضـبوطه وي، کـه دغـه بنیاد یې خراب او فاسد شو، ټولنه خپله ورسره شړېږي، له دې امله د مېړه او ښځې په انتخاب کې د اسلام له مخې څوک د مداخلې حق نـه لـري، یوازې مشوره ور کولای شي.

اوس نو د خپلې ټولنې له خلکو پوښتنه وکـړئ چـې د کـوم ایـت پـر بنسټ تاسو د ګڼو ودونو جواز تر لاسه کړی و، د هغه ایت په سر کې کوم شرایط بیان شوي دي او په اخیر کې یې څه راغلي دي، تاسـو چـې ګـڼ ودونه کوئ، یو مو هم په دې شرایطو پوره ختلی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله خبره داده چې دا یوازې له دې حالت سره د مقابلې یو صورت دی، که د ټولنې وګړي یو بل صورت وړاندیز کړي، نو حتمي نه ده چې خلك دې له ښځو سره ودونه وکړي، په دې شرط چې نه به د ښځو حقونه ضایع کېږي او نه به په ټولنه کې د اخلاقي فساد سبب کېږي، ځکه په اسلام کې د عفت ساتل یو مستقل ارزښت دی، چې په دې سره د انسان نفس پاکېږي، ترقي کوي او انسان د بدی پر ځای نیکی ته هڅوي، نو د عفت ساتنه په اسلام کې خورا لوی ارزښت لري، که د ټولنې د اخلاقي فساد سبب نه کېږي، لازمي نه ده چې بې سرپرسته ښځې دې حتمي ودونه وکړي، دا د هغوی خوښې ته پاته معامله ده، البته د ټولنې د ګټې په خاطر ممکن داسې صورت پیښ شي چې له ښځو سره په دې معامله کې د ټولنې باصلاحیته وګړي مشوره وکړي، ممکن هغوی ورته یو وړاندیز وکړي چې د هغوی په اند د ټولنې په ګټه دی، حتمي نه ده چې هغه دې د ګټو ودونو وي، مګر هغه چوکاټ به په نظر کې نیول کېږي چې نه به له ښځو سره ظلم کېږي او نه به د ټولنې د اخلاقي فساد سبب کېږي، که هر صورت د هغوی په ګټه وي، ورته وړاندیز دې کړي، د اسلام له اړخه ستونزه نه لري.

۲۰۲۲/جولای/۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مقدس متن نامقدس تفسیرونه

د انسان په ژبه نازل شوي اسماني کتابونه او هر راغلی پیغام د انساني کچې کتاب او پیغام وي، د خدای په کلام کې د دې ټولنې اړتیاوې په نظر کې نیول شوې دي، خنډونو ته پام شوی دی، انساني کمزوري يې له نظره نه ده اچولې، بېړنيو او عامو حالاتو ته يې ځانګړي احکام را لېږلي دي، نو که ووايم چې خدای خپل پیغام د انساني الفاظو په چوکاټ کې د انساني ټولنې د اړتیاؤ په نظر کې نیولو سره رالېږلی دی چې پیغام يې دوې برخې لري، یوه يې د احکامو برخه ده چې نه د زمانې قید پکې شته نه د مکان و ټولنې، یوه برخه يې هغه دي چې دې هر څه ته يې پام کړی دی، لومړۍ برخه يې د دين احکام دي او دويمه برخه يې د شريعت. دا پیغام هر شی د نوم په اخیستلو نه بیانوي، بلکې د عمومي فارمولو په بڼه يې زموږ مخې ته ږدي چې په دې توګه انسانانو ته د خپل برداشت او اجتهاد دروازه پرانيزي، څو دوی له دې عمومي قواعدو څخه د خپلې ټولنې، زمانې او اړتیاؤ سره سم قوانين جوړ کړي، دا قوانين يې هم دوه ډله دي: يو؛ هغه قوانين چې د پوهانو ترمنځ پرې د نظر اختلاف وي، دويم؛ هغه قوانين چې پرې اتفاق نظر وي. لومړی ډول يې مختلف فيه دي، په دې کې د يو چا اختلاف ګڼې لاملونه لري، دا هم امکان لري چې وچ تعصب نيولی وي، البته دا د زړه معامله ده، څوک پرې ټاپه نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لګولای، دویمه کټګورۍ یې اتفاقي احکام دي چې تـر انکـار او تـرک عمل وروسته یې په اړه حکم ور کول کېږي.

هغه احکام او مساویل چې د پوهانو ترمنځ اختلافي دي، په هغو کـې یوه رایه ورکول او بیا په پوره شدت سره پرې درېدل، کـه څـوک یـې نـه عملي کوي، هغه ګمراه بلل، خپل فهم او برداشت ته مقدسه بڼه ور کول ناسم عمل دی، انساني فهم په هره کچه چې هم وي، بیـا هـم د خطـا او صواب امکان لري، هر شی چې دغه دواړه احتماله ولري، هغه د تقـدس درجې ته لوړول ناسم عمل دی، پـه دې توګـه دوی خپـل برداشـت او د دین و شریعت متن په یوه درجه کې سره بردي، چې دا ډېره لویه تېروتنـه ده او له دې ځای څخه د ډېرې لویې ګمراهۍ بنسټ ښودل کېږي.

دا په خپله ذات کې سمه خبره ده چې د دین او شریعت متون مقدس دي، معصوم دي، محفوظ دي او تر کومه ځایه چې د یوه انسان فهم پـه ورسېږي، واجب الاتباع دي، مګر له انسـاني برداشـت سره عینـي معاملـه کول د دې دواړو مقامونه سره ګډول دي، د خدای د کلام او انساني فهم ترمنځ شته پوله په دې توګه له منځه ځـي، د کـومې ګمراهـۍ د لـه منځـه وړلو لپاره چې دا کتاب راغلی، ببرته د همدې کتـاب پـه تفسیر هماغـې ګمراهۍ ته بنیادسازي کېږي، چې دا هم له الهي دین سره ظلم دی او هم د انساني ټولنې و افرادو په حق کې بې انصافي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې د يوه انسان فهم او برداشت ته د خـدای د كـلام درجـه ور كـول شي؟ په هماغه درجه مقدس، معصوم او واجب الاتباع وبلل شي؟ دويـم په ټولنه كې ولې د يوې زمانې، يوې ټولنې او يوه شخصيت پـه اړه نـورو انسانو ته دا تصور ور كول شي چې د هغه فهم مقدس دی؟ برداشت يې حق دی؟ اتباع يې واجبه ده او ستاسو د وخت و ټولنې ټول مسايل يې په خپل فهم حل كړي دي؟ د بشر قووتو، فهم، ټولنې او محدوديتونو ته په كتو، دا امكان لري كه هسې د خپلو ګټو په خاطر خلكو ته دوكه ور كوو او په دې نومونو يې يوازې غلوو؟

هر انسان خپلې وړتياوې لري، هره زمانه خپلې اړتياوې لري، هره ټولنه د خپلو ضرورتونو پر بنياد تقاضاوې لري چې د پوره كولـو لپـاره يـې هـر وخت افراد او ټولنه دواړه انفرادي او اجتماعي هڅې كوي، همدا هڅـې رنګ راوړي او نوي ابتكارات كيږي، تولنـه مختـه ځـي، د ديـن او دنيـا دواړو په اړه نوي انكشافات كيږي او دا هر څه د انسان روح و جسم ته د سكون و ډاډ سبب كـېږي، دنيـا او اخـرت يـې ورسره جـوړيږي، بشري ټولنې ته يې خير رسيږي، د شر لمـن ورسره ټـوليږي، علـم و شـعور وده ورسره كوي او انسان د خپل ژوند له پيله همـدا تكـاملي سـير وهلـی دی چې نن پر همدې معراج يې ولاړ دی. نو له دې هـر څـه سره او دې هـر څه ته په كتو ولې پر نامقدس فهم و برداشت د مقدس نوم كښيږدو او بيا يې د ټولنې د هر پرمختګ په وړاندې خنډ جوړ كړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دا خبره په خپلو نورو ليکنو کې هم کړې ده چې انساني ايډيالوژي که د تقدس پوښ يې پر غوړولي وي يا نه، دا په خپل ذات کې د ښه او بد، خطا او صواب، حق و ناحق، گټې او زيان، خير او شر دواړو احتمال په هر وخت کې لري، پاته شوه د خدای د کلام موضوع، هغه په خپل ذات، الفاظو او هماغه خپل متن کې مقدس دی، له خطا معصوم دی او هر څوك چې يې په هر څومره برخه پوه شي، په هماغه کچه واجب الاتباع دی، کله چې انسان له دې مقدس متن څخه خپله برداشت اخلي، گڼ عناصر پر همدې تفسير يې تاثير کوي، د انسان علم، زمانه، مکان، ټولنه، اړتياوې، اقتصاد، رواني حالت، د هغه پخواني فکر، له يوه فکري متکب سره يې تړاو، جسمي امراض، ډار او... نو دې لوی فهرست ته په کتو ويل کېدای شي چې انساني برداشتونه مقدس نه دي، له خطا معصوم نه دي، حتمي د هر چا لپاره واجب الاتباع نه دي، نه پيروي يې د يوه چا د گمراهۍ سبب نه کېږي، څوك چې خپل برداشت کوي هر وخت بايد دې ته اماده وي چې د هغه برداشت به خطا لري او ممکن يو څوك يې ورته په گوته کړي، که اصل پنځونکی يې نه وي، متبع يا پيرو يې وي، هغه هم بايد په دې فکر وي، چې زما مسلك د خطا امکان لري، مقدس نه دی، څوك که عمل نه په کوي، د هغه د بې لارې کېدو وسيله نه ده، دا له ديني متن څخه د يوه انسان يا يوې ډلې خپل برداشت دی چې د گڼو عواملو تر تاثير لاندې حتمي راغلی دی، نو تر کومه ځايه چې موږ ته صواب ښکاري عمل په کوم او هر ځای چې يې خطا را برسېره شوه، پرېښودلو ته يې اماده يم، په دې توگه به د مقدس او نامقدس توپير

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوت شي ، خلک به پوه شي چې اصل حقیقت چشی دی، هغه څه بـه معلوم شي چې واجب الاتباع دي او دا به هم په ډاګه شي چې انسـاني ټولنه د تکامل پړاونه وهي، نو په دې لړ کې هر وخت د یوه فکر پـیروي ټولنه جمود ته بیایي چـې لـه دې سره جوخـت زمـوږ تکـاملي سـیر ورو کېږي او دا پـر ټولنـه نـاوړه اغېـزې کـوي، انسـاني ټولنـه یـوه ژونـدۍ او خوځنده ټولنه ده، ژوندی شی هر وخت په نوي وضعیت کې وي او نوي شیان غواړي، فرد هم او ټولنه هـم، خوځښـت او حرکـت بایلـل د ژونـد بایلل دي، قران کریم ځینو همداسې ټولنو ته د مرګ الفاظ کارولي دي، د خوب حالت یې مرګ بللی دی، ځکه مرګ سکون دی، حرکت پکې نه وي، هره ټولنه چې په اجتماعي لحاظ له حرکته ولوېږي، هغه مـړه ده، که د دې مرګ لامل یې له دینه شوي برداشتونه وي، نـو دا نـه یـوازې دا چې په دې نړۍ کې د ذلت او رسوایي سبب شوي دي، په اخرت کې به تر دې هم د بـد ذلـت او خـوارۍ سـبب کېـږي. دیـن بشرـ اجتماعـي او انفرادي هڅو ته را بولي، هر څوک چې له دې انقلابي متن څخـه د بـې انقلابۍ پیغام را باسي، پر خپل فهم دې نظر ثاني وکړي، هر څوک چـې له دې متن څخه پر کاره ټولنه بېکارۍ ته را بـاسي، هغـه فهـم خطـا دی، هغه متن چې جنت او دوزخ دواړه ستا د عمل نتیجه بولي، لـه هغـه مـتن څخه ټولنې ته دا پیغام ور کول چې هر څه په ازل کې لیکـل شـوي دي، ستا هڅې په عیني شرایطو کې هیڅ بدلون نـه راولي، بـس لاس تـر زنـې کېنه او یوازې ننداره کوه چې څه پیښېږي، د دې فهم خاوند اصلن د هغه پیغام د راتګ په اساس نه دی پوه شوی، دغه خطاوې موږ په خپل ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مشاهده کړې دي او اوس يې هم شاهدان یو، نو دا د هغه نامقدس فهم تېروتنې دي چې د خلکو د مخالفت له ډاره یې پرې مقدس پوښ غوړولی دی او په دې توګه یې د ساتنې لپاره شپه او ورځ ولاړ وي. دوی فکر کوي چې څومره نه فتح کېدونکې کلا يې ودانه کړې ده، څومره محکم او مضبوط فکري مکتب یې رغولی دی، دې ته بیا نه ګوري چې محکم او نه فتح کېدونکی بیا د یوې خښتې له تلو سره نه لوېږي، نه دومره څوک پر ډارېږي چې په څنګ کې يې څوک د ناستې او ارام لپاره هم نه ایله کوي.

اوس هم وخت دی چې له خپل دې ډول فکر څخه تېر شي، په دې توګه به هم له دین سره انصاف وشي او هم له مخلوق سره، خلکو ته به د فکر او عمل لار خلاصه شي، ټولنه به له جمود څخه ورسره ووزي او د دین کلېشه شوی تفسیر به نوی رنګ واخلي، را ژوندی به شي او نوې سا به واخلي، خلك به په حرکت شي او یوه نوي سالم انقلاب ته به لار جوړه شي چې د خدای پر ځمکه د خدای له قانون سره سم د بشر په ګټه یو داسې انسان محوره نظام جوړ شي چې د ګرده انسانیت خیر و فلاح يې د همدې قانون په چوکاټ کې د عمل د ابتدا او انتها سرخط وي.

۲۰۲۲/اګست/۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یهودو غندل شوي اعمال او زموږ ټولنه

یهودو ځینې داسې اعمال کول چې د هغو په نتیجه کې یې جوړه امپراتوري له منځه تللې ده، د خپل وخت ښه ژوند یې بایللی دی، د بې همتۍ هغه ځای ته رسېدلي دي چې حتا د خپلې قومي خپلواکي لپاره هم مبارزې ته چمتو نه وو. د محکومیت او غلامۍ بدترین ژوند یې در لود، دومره د بادار ذهنیت تاثیر پر کړی و چې د خپلې خپلواکۍ ازاد فکر یې لا نه شوای کولای، موسی علیه السلام چې ورته د خپلواکۍ پیغام راوړی، په وارونو وارونو یې ورته پېغور ور کړل چې تر دې خپلواکه ژوند چې دومره ستونزې ورته ګالو هماغه د محکومیت ژوند لا ښه و.

دلته به یې لنډه یادونه او ورسره مل تبصرې راوړم چې په هنداره کې یې موږ خپل حالات هم ولیدلای شو:

۱ـ {وَإِنْ يَأْتُوكُمْ أُسَارَى تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ} [البقرة: ۸۵] او که به مو خپل خلك بندیان شول، تاسو یې فدیه ور کوله په داسې حال کې چې له خپلو سیمو پسې اخیستل یې درباندې حرام و.

غداره او ریاکاره ټولنه یو څو کارونه د دې لپاره کوي چې د خلکو تر نظر ځانونه ښه ور ولي، خو اصلن د ټولو ستونزو ریښې دوی وي، یهودو د بدې ټولنې بنیادونه ایښي ول، جنګ جګړې به یې کولې، خلك یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو محتاج کول، بیا به یې د هغوی د لاسنیوي لپاره له خلکو کومونـه را غونډول، قران یې دغه ریاکارانه کار غندلی دی.

۲ـ {أَوَكُلَّمَا عَاهَدُوا عَهْدًا نَبَذَهُ فَرِيقٌ مِنْهُمْ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ}

[البقرة: ۱۰۰]

او هر وخت چې دوی ژمنه کړې ده، نو د دوی یوې ډلـې بېرتـه هغـه ماته کړې، بلکې زیاتره یې اصلن پر الهي قانون ایمان نه راوړي.

له اصـولو مخالفـت او پـر خپلـو کـړو وعـدو نـه درېـدل، دا هغـه بـد خاصیت دی چې قران ګڼ ځایونه غندلی دی، له دې امله هغـوی خپـل اعتبار بایللی و، له بده مرغه زموږ په خلکو کې دغه وبا بیخي زیاته شوې ده، نه یوازې افراد، بلکې مذهبي و نامذهبي ډلې مو ټولې په دغه مـرض اخته دي.

۳ـ { وَأَخْذِهِمُ الرِّبَا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ}.

[النساء: ۱٦۱]

او دوی سود اخیستی، په داسې حال کې چې ځنې منعه شـوي ول او د خلکو مالونه یې تر خپل منځ په باطله طریقه خوړل.

سود او ناروا طریقې زموږ په خلکو کې هم کمې نه دي، بلکې د یتیم مال خوړل، له کونډې حق اخیستل، خوندو ته حق نه ور کول، د ظلم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروا هغه طريقې په معاملاتو کې رواج کول چې په هغو سره شتمن نور شتمن شي او غريبان نور هم غربت وځپي.

۴ـ { أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ} [المائدة: ٤٢].

دوی هغه حرام مالونه خوړل چې په حرمت کې يې هيڅ شک نه و. سحت له بيخه د يوه شي کښلو يا سوکه سوکه بېلولو ته وايي، قران کريم وايي: {فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ} [طه: ٦١] هغه به داسې سزا در کړي چې يو مخ به مو تبا يا هم سوکه سوکه به مو له منځه يوسي. د محيط ليکوال د کليات په حواله کښلي چې سحت هغه حرام ته وايي چې ښکاره حرام وي او هيڅ شک پکې نه وي. نو يهودو مطلق حرام خوړل، زموږ ټولنه هم تر کمه نه ده، فساد، رشوت، قاچاق، غلاوې، په زور غصبونه او د ضعيفانو مالونه ځنې وهل يو عام رواج دی.

۵ـ {كَانُوا لاَ يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ}.

[المائدة: ٧٩]

د دوی په ټولنه کې چې بد کارونه کېدل له هغو يې منعه نه کول، دوی ډېر بدکرداره ول.

منکر يو ډېر جامع لفظ دی، په دې کې له شرعي قانونه واخله تر هغو رواجونو پورې چې د شريعت له چوکاټه بهر نه وي، ټول راځي، نو له دې هر څه مخالفت منکر دی، په هغوی کې دا وبا دومره عامه شوې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هیڅوک یې شریعت او قانون ته پابند نه ول. لکه عین نن زموږ ټولنه، خلک نه د اخلاقیاتو خیال ساتي، نه د قانون، نه د شریعت، نه د کلتوري رواجونو، بس د خپل مفاد لپاره تر هر څه پښه اړوي، دا ډېره لویه ټولنیزه بدي ده چې د ټولنې د زوال لوی عامل دی.

۶ـ {اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ} [التوبة: ۳۱] یهودو خپل ملایان او پیران له الله ماسیوا خدایان کړي ول او د مریم زوی عیسی یې هم خدای بالی، په داسې حال کې چې دوی ته د یوه خدای د بندگۍ امر شوی و چې له هغه پرته بل معبود نه شته، هغه د دوی له شرکه پاکه دی.

ملا او پیر څنگه خدای کېږي؟ حدیث کې راځي: عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ. فَقَالَ: «يَا عَدِيُّ اطْرَحْ عَنْكَ هَذَا الوَثَنَ»، وَسَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فِي سُورَةِ بَرَاءَةٌ: {اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ} [التوبة: ۳۱]، قَالَ: «أَمَا إِنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا يَعْبُدُونَهُمْ، وَلَكِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا أَحَلُّوا لَهُمْ شَيْئًا اسْتَحَلُّوهُ، وَإِذَا حَرَّمُوا عَلَيْهِمْ شَيْئًا حَرَّمُوهُ»(۱)

له عدي رض روایت دی، ده ویل: زه رسول الله ص ته راغلم په غاړه کې مې د سرو زرو صلیب و، هغه ویل: عدي! دغه بت ایسته کړه. او له ده مې واورېدل، چې سوره توبه کې یې دا ایت تلاوت کاوه: هغوی خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملایان او پیران له الله پرته خدایان کړي ول، ده ویل: حقیقت داسې دی چې هغوی یې عبادت نه کاوه، خو دوی چې به یو شی ورته حلال کړ، خلکو هغه حلال بالی او چې هغوی به ورته حرام کړ، نو خلکو هم حراماوه.

دین خپل اصل رنګ بایللی و، یوازې یو څو رسمي اعمال پاته ول، نور ټول د هغوی د ملایانو په خوله حرام او حلال ټاکل کېدل، پیران یې د خپلو ناسمو کړنو له امله هغوی مقدس ګڼلي ول، تر مذهبي جامه لاندې یې هم د هغوی مالونه په ناروا طریقه خوړل او هم یې خلک د خدای له اصل دین څخه را منعه کول، د التوبې په ۳۴ ایت کې الله تعالی همدا خبره کوي چې دوی مالونه په ناورا خوړل او خلک یې له الهي لارې منعه کول.

۷ـ {فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا الْكِتَابَ يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَذَا الْأَدْنَى وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَإِنْ يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِثْلُهُ يَأْخُذُوهُ} [الأعراف: ۱٦۹]

( نو تر دې اولنو وروسته یې) داسې کسان ځای ناستي شول چې کتاب په میراث ورته پاتې شو، د هغوی چې هر ډول مفاد ته لاس رسېدی هغه یې( له هر ډول اصولو او قانوني پابندیو پرته) اخیستی او ویل به یې چې د دې به موږ ته معافي وشي او که به بیا هم داسې څه ورته مهیا شول، بیا یې هم اخیستل( او لاس اړول نه ول، تر هره ځایه یې چې وس کار کاوه، هغه هر څه یې اخیستل).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډېره غټه اخلاقي نیمگړتیا ده، دوی قانون ته نه کتل، اصول او ضوابط نه ول، بس لاس رسی ورته مهم و، که هر ډول مال ته به یې لاس ورسېدی، هغه یې اخیستی، یوازې دنیاوي گټې یې په نظر کې نیولې وې، په دې اړه یې نه شرعي قانو ته کتل، نه ټولنیز عدالت ته، نه یې د اخلاقیاتو پاس ساتی نه د قومي او ملي قوانینو، هر څه ته یې یوازې د خپلو گټو په رڼا کې کتل چې زموږ ملت هم په دې مرض اخته دی. خلک فکر کوي چې یوازې لمونځ کول، یو څو واره تسبیح ویل، ایت الکرسي ویل، روژه نیول او څو رکعته نفلي لمونځ دین دی او تر دې وروسته نو چې وس یې کار کوي هغه به کوي، نه به د چا د مال خیال ساتي نه د خپلوي، نه اخلاقیات، نه قانون، هر څه ته د چانس په سترگه گوري، دا له دینه د ناوړې استفادې تر ټولو بد ډول دی.

۸ـ { لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَفْرَحُونَ بِمَا أَتَوْا وَيُحِبُّونَ أَنْ يُحْمَدُوا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوا فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِنَ الْعَذَابِ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} [آل عمران: ۱۸۸]

ته فکر مه کوه چې کوم کسان په ور کړل شویو نعمتونو خوښي کوي او زړه یې غواړي چې پر ناکرده کارونو یې ستاینه وشي، بیا هم ته فکر مه کوه چې هغوی له عذابه وژغورل شي، د هغوی لپاره دردناکه عذاب دی.

شتمن او واکمنه طبقه زیاتره خپل شته د ځاني وړتیا محصول بولي، له دې امله غرور او فخر په کوي، له خلکو غواړي چې په ناحقه یې ستاینې او صفتونه وکړي، قران کریم دا ډېره بده گڼي چې بې هیڅه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څوک وستایل شي، د قران کریم لـه مخـې جنـت او جهـنم تـه د تلـو معیار عمل دی، په دنیا کې د بریا او ناکامۍ معیار عمل دی، که عمل نـه وي، یوه دنیا هم نه رغېږي، ځکه نو هغو ته د عذاب اخطار دی چې لـه عمل پرته د ځان صفتونه غواړي.

**۹ـ** {وَلَقَدْ بَوَّأْنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ مُبَوَّأَ صِدْقٍ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ فَمَا اخْتَلَفُوا حَتَّى جَاءَهُمُ الْعِلْمُ} [یونس: ۹۳]

او ربښتیا موږ بني اسرائیل داسې ځای مېشت کړل چـې هلتـه د ژونـد وسایل زیات وو، پاکه د عزت روزي مو ور کړه، نو دوی تر هغه وروسته اختلافات وکړل چې وحې/دین ورته راغی.

دین د اختلاف او شخړو وسیله جوړول ډېر بد عمل دی، اهل کتـاب له دې امله غندل شوي دي چې هغوی د خپل ځان ښودلو، فریبکـاري، شتمنۍ تر لاسه کولو، واک ته رسېدو او نورو دنیاوي کـارونو لپـاره دیـن وسیله کاوه، له همدې دین څخـه یـې د انسـانانو د اخـتلاف او جنګونـو ذریعه جوړه کړې وه، په داسې حال کـې چـې دیـن د اتحـاد، هـدایت، سمې لارې ته د رسېدو، خپل منځي مینې، ښو کارونو ته د تشویق او که لنډ ووایم د دې ژوند او بل ژوند د ښه کولو لپاره راغلی و، مګـر دوی د خپلو اهدافو وسیله کړ، بل ځای قران کریم وایـي: {وَآتَيْنَـاهُمْ بَيِّنَـاتٍ مِـنَ الْأَمْرِ فَمَا اخْتَلَفُوا إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْـنَهُمْ} [الجاثیـة: ۱۷] او موږ دوی ته د دین په اړه واضح او روښانه احکام ور کړل، دوی تر هغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د خپل منځي کيني له امله اختلاف سره وکړ چې دغه روښانه احکام ورته ورسېدل. قران کريم دا هم وايي چې دوی امت ټوټې ټوټې کړی و، پر ډلو ټپلو تر وېشل کېدا وروسته هره ډله په خپل مسلك خوشاله وه: { فَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ زُبُرًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ} [المؤمنون: ۵۳] نو دوی د خپل دين له وجې اختلاف سره وکړ، هره ډله په هغه څه خوشاله وه چې ورسره وه. { وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ (۳۱) مِنَ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ } [الروم: ۳۱، ۳۲] او تاسو د هغو مشركانو په شان مه کېږئ چې خپل دين يې ټوټې ټوټې کړ، دوی پر ډلو تر وېشل کېدا وروسته يې هره ډله په هغه څه خوشاله وه چې دوی عملي کول. دې اختلاف کې هرې مذهبي ډلې د خپل ځان د غالب ښودلو په پار د مقابل جانب مقابله کوله، که به هر څومره هم يوه خبره ورته حقه معلومه شوه له دې وجې يې نه منله چې بيا يې خپله ډله ناکامه کېده، همدا معامله زموږ د امت هم ده.

۱۰- {فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا } [البقرة: ۷۹]

نو پر هغو کسانو ته افسوس دی چې په خپلو لاسونو کتابونو وليکي، بيا وايي: دا د الهي شريعت کتابونه دي، څو دوی په دې توګه يو څه پيسې تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډېر لوی افت دی، تېر امتونو هم ور څخه کړېدل او موږ هم، په دين کې دا لوی خيانت دی چې خپلو اجتهاداتو او ليکنو ته د الهي شريعت نوم ور کوي او پر خلکو يې داسې عملي کوي لکه د خدای شرعي احکام، دا خلك د افسوس وړ دي.

۱۱ـ {وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَى تَهْتَدُوا} [البقرة: ۱۳۵]

او دوی ويل: يهوديان يا نصارا شئ، سمه لار به وموميئ. { وَقَالُوا لَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَى} [البقرة: ۱۱۱] او دوی ويل: له يهوديانو او نصرانيانو پرته به بل هيڅوك هم جنت ته ولاړ نه شي. {وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ} [المائدة: ۱۸] او يهوديانو و نصرانيانو ويل: موږ د الله زامن او د هغه دوستان يو.

دا چې ځانونه يې د خدای وليان بلل او عمل يې هيڅ نه و، جنت يې د يهوديت او نصرانيت په ټيکه بالی او بل څوك د خپلې ايمانداری په ګړځ کې نه ور معلومېدل او دا چې يوازې يې خپل ځانونه پر حق بلل ټول يې باطل ګڼل، دا هغه بنيادي تېروتنې وې چې هغوی يې په محرف دين غره کړي ول او دنيا و اخرت يې په خراب کړ. د خدای په دين کې نومونه، قومونه، نژادونه، سيمې، رنګونه او دې ته ورته هيڅ شی اعتبار نه لري، يوازې د قانون له مخې بريا او ناکامي ده، معيار معلوم دی، له هغه سره موافق يې بريالي او له هغه سره ناموافق يې نامراده، دا چې څوك ځانو ته يو نوم ږدي او دا حق بولي، بل بيا بل نوم ور کوي هغه حق، دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقانيت معيار نه دی، د دغه فکر بنيادي غلطي په دې کې ده چې د الهي دين سم معرفت يې نه دی تر لاسه کړی، له دې امله يې پر وسيله د هدف گومان کړی او په همدې کاذب ډاډ لاس تر زنې ناست دي، په خپل دې ژوند کې هم د ناسم فکر له امله بدې ورځې تجربه کوي او اخرت کې به هم.

۱۲ـ{ وَقَالُوا قُلُوبُنَا غُلْفٌ بَلْ لَعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلاً مَا يُؤْمِنُونَ}.

[البقرة: ۸۸]

او دوی ويل: زموږ زړونه قلف دي،(الله وايي) بلکې د هغوی د انکار له وجې الله لعنت پر کړی دی، نو ډېر کم به يې ايمان راوړي.

ړوند تقليد د انسانيت د تباهي سبب کېږي، دا چې خپل ځان درته سل سلنه حق ښکاري او حتا د بل خبرې اورېدو ته چمتو نه يې، دا ډېره ستره غلطي ده چې اهل کتابو وکړه، قران کريم وايي: { فَبَشِّرْ عِبَادِ () الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُولَئِكَ هُمْ أُولُو الأَلْبَابِ} [الزمر: ۱۷، ۱۸] زما هغو بندگانو ته زېری ور کړه چې خبرې ته غوږ ږدي، بيا يې سمه خبره مني، همدغه کسان الله هدايت کړي او دوی د عقل خاوندان دي. د خبرې د منلو معيار دا نه دی چې که زموږ خپل همفکره کس وکړه، منو يې او که مخالف کس وکړه، بايد رد يې کړو، قران کريم مسلمانانو ته دا ور ښيي چې ويونکی مهم نه دی، خبره په خپل ذات کې مهمه ده چې ښه ده که بده؟ سمه يې منئ او بده يې ايله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوئ، اهل کتابو همدا تېروتنه کړې وه چې یوازې د خپلو کسانو خبرې ورته د منلو وړ وې، بل څوک یې د دې اهل نه بلل چې دوی دې د هغو خبرې واوري او ودې مني.

۱۳ـ {قُلْ إِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الآخِرَةُ عِنْدَ اللَّهِ خَالِصَةً مِنْ دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ () وَلَنْ يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ () وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَى حَيَاةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا}.

[البقرة: ۹۴ - ۹۶]

ووایه: که د اخرت کور د الهي ژمنې له مخې رښتیا هم یوازې ستاسو وي، له نورو خلکو پرته، نو که په دې اعتقاد کې رښتني یئ(د خدای په لار کې جدوجهد وکړئ) چې پر همدې مړه شئ، مگر دوی به د خپلو ناسمو اعمالو له امله هیڅکله د عمل میدان ته ور مخکې نه کړي، الله په ظالمانو پوهېږي، او ته به د دوی په دې خاصیت پوه شې چې تر ټولو خلکو له ژوند سره ډېره مینه لري حتا تر مشرکانو هم.

دا هغه طبقه وه چې له عمل پرته یې د دنیا او اخرت د بریا ادعاوې کولې، قران کریم ورته چیلنج ورکړ چې که اخرت او بریا ستاسو وي، نو ونیسئ د خدای په لار کې جدوجهد ته را وراندې شئ، که مړه شوئ، هم به مو بریا وي او که دنیاوي عزت مو تر لاسه کړ هم به بریالي یئ، مگر دوی د بل په ډوډۍ پالل شوي کله دا کار کولای شي، هغوی چې د بل مالونه یې په ناروا توگه خوړل، هیڅ وخت د اجتماعي حرکت ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې نه کاوه، د خپل ژوند جوړولو له هڅو يې ځانونه کښل، نو هغه په في سبيل الله کې ځان ور کوي؟ دوی له مرگه ډارېدل، ځکه بد کرداره ول او د خير يې هيڅ کار نـه وو کـړی، لـه دې املـه يـې ژونـد خـوښ و او تـر مشرکانو لا هم ډېر پر ژوند او زندگي مين ول، ښتانه وايي چې مجـرم نـه يې له پاچا مه ډارېږه، نو چې د خدای پـه لار کـې خـدمت کـوې، بيـا د خدای حضور ته لـه تلـو ولـې ځـوک وډار شي؟ دا چـې دوی د خـدای حضور ته د وړاندې کولو څه نه در لودل، له دې امله يې هغه مبـارزه نـه شوای کولای چې په هغه کې يې د سر خطر ليدی او ژوند ته يې ترجيح پر ور کوله.

١٤ـ {أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ}.

[البقرة: ٢٤٣]

تا د هغو کسانو پر تاريخ فکر نه دی کړی چې له خپلو سيمو په داسې حال کې وتښتېدل چې شمېر يې زرگونو تـه رسـېدی يـوازې د مـرگ لـه ډاره( يې سيمه خوشي کړه او خپل عزت، شته او واک ټول يې پر دښمن ليلام کړل).

اهل کتابو دا ډېره لويه تېروتنه کوله چـې اجتماعـي هڅـو کـې بيخـي کمزوري ول، هغوی د ملت او امت په کچه کارونو کې برخه نه اخيسته، يوازې يې د خپل جيب مفاد ته کتل، که به هغه نه پکې ډکېدی، بيـا يـې کار نه کاوه، له دې امله په سخت ذلالت اخته ول، دوی به د زرگونو پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر کې ول، له دښمنه به فراري کېدل چې مړه مو نه کړي، خو خپل وطن به یې ایله کړ، مالونه به یې ایله کړل، عزت به یې ختم شو، یوازې د دې لپاره چې ژوندي پاته شي، هیڅ انقلابي حرکت کې یې برخه نه اخیسته، خو ژوند اصلن د مبارزې نوم دی، که هر څوک د مبارزې هیلې وبایلي هغه ژوند هم بایلي، یوازې دا ژوند نه دی چې په انسان کې سا چلېږي، ژوند هغه دی چې د ژوندیتوب پر معیار پوره وي، له هغه معیار سره ژوند یو نعمت دی او بې هغه ژوند یو عذاب دی، له دې امله هغه قومونه مړه دي چې په خپل ژوند کې یې دغه معیار نه دی پاللی. اهل کتابو خپل نبي ته ویل: {قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا أَبَدًا مَا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ} [المائدة: ٢٤] دوی ویل: اې موسی! موږ هیڅکله نه ور داخلېږو څو هغوی پکې وي، ته او مشر وررور دې ولاړ شئ وجنګېږئ، موږ به دلته نندارې ته ناست یو. د ازادی مبارزه زور غواړي، په دې لار کې حتمن سختی راځي، هر څوک چې دې ته ځان نه شي تینګولای هغوی به ازادي هم ونه ګوري.

١٥ـ {وَاسْأَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِي السَّبْتِ}.

[الأعراف: ١٦٣]

او له دوی د هغه کلي پوښتنه وکړه چې د سمندر پر ساحل ودان و، هغه چې خلکو یې د شنبې په ورځ کې تېری کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډول ایاتونه د یهودو هغه خصایل بیانوي چې دوی د ډېرو وړو قانوني پابندیو خیال نه ساتی او د ټولنې نظم ته یې زیان رساوه، تېری، ناروا او له قانونه مخالفت یې عادت جوړ شوی وی، وړاندې مو هغه ایاتونه راوړل چې قوانین یې ټوټه ټوټه کول، د خپلې خوښې هغه یې منل او نور یې ردول. لکه زموږ خلك چې حتا د ترافیکي قوانینو عملي کول هم ورته سخت وي.

۱٦ـ {فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَا نُهُوا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ}.

[الأعراف: ١٦٦]

دوی چې له کوموکارونو منعه شوي ول، له هغو یې تېری وکړ،(عملي یې نه کړل) نو موږ د خپل قانون مکافات له مخې هغوی د ذلت او خوارۍ مجسم سیمبول کړل.

قران کریم ګڼ ځایونه پر اهل کتابونو د لعنت او غضب خبره کړې ده، لعنت او غضب د هغوی د بدو اعمالو بدلې ته ویل کېږي، یعنې دوی مو د خپلو اعمالو په نتیجه کې د ژوند له خوشالیو او ښېرازیو څخه محروم کړل. د دغه ایت یو مطلب دا هم دی چې څوك خپل افکار نه شي تولید کولای، هغوی د نورو په افکارو کې د خپل ژوند لپاره د نجات لارې لټوي، له دې امله د خپلو قوانینو پابندي نه شي کولای، ځکه بل ځای تولید شوي افکار د هغوی له قانون سره موافق نه راځي، خپل رواجونه، د ټولنې عنعنات او کلتور د بل تر نظریاتو قرباني کړي، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلن د ابتکار وړتيا بايللې وي، له دې امله تل د بل تقليد کوي، د هغوی په پښو کې دومره مخته ولاړ شي چې د ټولنې خپل ټول ارزښتونه ورته مات کړي او په دې توکه له منعه شويو شيانو څخه سرغړونه رامنځته کيږي.

۱۷ـ {وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ} [المائدة: ٦٤]

او تر ډېره وخته مو(د خپلو اعمالو له وجې) د دوی ترمنځ دښمنۍ او کينه را پيدا کړه.

هغوی خپل زور په همدې خپل منځي کشمکش کې اوبه کاوه، يوې ډلې به بله وهله، اختلاف و، فرعون هم د هغوی د اختلاف څخه ګټه واخيسته، دوی يې محکوم کړل، يوه ډله چې د ازادۍ او خپلواکۍ حس يې در لود وټکول، کمزوري يې کړل، وې وژل او بله ډله چې د فرعون خدمت ته يې تن ور کړی وو، ونازول، قارون هم د يهودو له ډلې و، مګر فرعون په خپل دربار کې ځای ور کړ، موسی او هارون عليمها السلام هم د بين اسرائيلو له جنسه وو، خو له هغوی سره يې دښمني کوله، دا عمل د هرې زمانې فرعون کوي، خلك سره ووېشه بيا حکومت پر کوه، يهود چې د خپلې خپلواکۍ لپاره سره په يوه خوله نه ول، څوك يې مبارزين وو او ځينې يې بيا د فرعون درباريان، چاګوښه والی غوره کړی و په هيڅ يې کار نه در لود، څوك يې بيا تر فرعون وړاندې د خپلو خلکو په ټکولو اخته ول، دغه ډول بې اتفاقه قوم به څنګه خپله خپلواکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وساتلای شي او د هغوی په خپلمنځي چارو کې به څوک څنګه مداخله نه کوي؟ بني اسرائیلو د خپل ضعف له امله په کور دننه ازادي هم نـه در لوده، د هغوی افکار، دین، شریعت او د عبادت طریقې لا فرعـون ورتـه ټاکلې، هر قوم چې سره بېل شي، هغـه بـل تـه محکـوم شي، د ازادۍ او خپلواکۍ لومړنی شرط دادی چې یو موټی کېږي به، د خپلو حقوقو لپاره مبارزه کېږي، حاکمه طبقه په خپله خوښه هیڅ کله ټولو خلکو ته د قانون په رڼا کې حقوق نه ور کوي، بلکې هغوی قانون د خپلو ګټو په رڼا کـې تفسیروي، د قانون وجود د دې لپاره وي چې د خلکو خولې پـه وتـړي، نور یې مساوي عملي کول، د انسانانو په ټولنه کې ډېـره سـخته خـبره ده، ځکه نو انسان حق لري چې د خپل حق لپاره مبارزه وکړي، خو فرعـوني قوتونه به یې هر وخت کوټي او په خپله کورنی کې به یې د اخـتلاف لـه امله دې ته نه ایله کوي چې سره یو موټی شي خپل بشري قانوني حقوق تر لاسه کړي.

۱۸ـ {وَمِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ وَمِنْهُمْ مَنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَا يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَائِمًا} [آل عمران: ۷۵]

او ځیني اهل کتاب داسې ول چې که دې پر یوه درسته خزانه امانتداره وټاکل، نو سالمه به یې در وسپاري او نور یې بیا داسې ول چې که دې یو دینار ور کړ، تر هغو یې نه در کوي چې ورته شله نه شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امانت کې لاسوهنه خیانت دی، یهودو دا بد صفت در لود، په معاملاتو کې یې خورا لویه نیمګړتیا وه، موږ وړاندې ذکر کړل چې دوی د خلکو مالونه په باطله طریقه خوړل، سود پکې رواج و، حرام کاروبار یې کاوه، شتمنو یې مسکینان زبېښل، پر ټولنه یې (په اصطلاح) سرمایه داري نظام حاکم کړی و، د هغه په نیتجه کې یوه ډله پړسېده او بله یې خوارې ده، چې عملي نتیجه یې د بشریت تذلیل، فقر، بېکاري، دوکه، خیانت، شخړې، لوږې او له دې راولاړې شوې ډېرې ټولنیزې ناخوالې وې.

۱۹ــ {إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلاً أُولَئِكَ لاَ خَلاَقَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ وَلاَ يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ وَلاَ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلاَ يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ} [آل عمران: ۷۷]

هغه کسان چې د الله په وعدو او خپلو قسمونو یو څه پیسې تر لاسه کوي، دوی په اینده کې (د خپل اعتبار په بایللو) هیڅ ډول برخه نه لري، نه به د الهي خبرو جوګه پاته شي(ځکه دا پاک نفس غواړي)، نه به د اعمالو د بدلې پر وخت الله ورته نظر وکړي او نه به یې هم پاک کړي، د دوی لپاره دردناکه عذاب دی.

څوک چې په دروغو او چل ول له خلکو په کاروبار کې پیسې خوري، هغه کسان که هر څومره مالداره هم شي، اعتبار یې په ټولنه کې له منځه ځي، د دغسې ټولنې د وګړو بد ژوند په برخه وي، دوی هر یو بل ته په کمین کې وي، په دې ټولنه کې شتمن کېدل هم تر ډېره ناشاپي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او بېرته مسکينېدل هم ناشاپي وي، ځکه ټول خلک ستا شتمنۍ ته غله وي، نه تا په قانوني توګه ګټلې وي او نه يې بل په قانوني ډول در څخه وړي، ته يې هم په دوګه، فريب او چلول وړې، ګټې او ډېروې او دوی هم عيني معامله درسره کوي، ځکه نو دا خلک خپل راتلونکی له خطر سره مخوي، د دې وړ نه پاتېږي چې د الله قانون ته غاړه کښېږدي، ځانونه له بدو پاک کړي، خدای رحمت پر وکړي او په ځان کې د خدايي صفاتو د را پيدا کېدو وړ شي، دوی سنګ دله شي، رحم او بخښنه يې هېره شي، خلکو ته روزي ور کول، خپلوي پالل، تر دنياوي مفاد بشر مهم بلل ورته غير مهم شي، هر سړی د خپل ځان لپاره لګياوي، دغه جهنمي ټولنه ده او دغه ژوند يې هم د دوزخ ژوند وي، دوی په ګڼو عذابونو اخته وي چې له ژونده يې زړه ور تور کړی وي، که څه هم دوی به دا نه محسوسوي چې دا الهي عذابونه دي، خدايي عذابونه د انساني اعمالو نتيجه وي، خدای وايي چې موږ دفعتن د دې لپاره سزا ور کوو چې خلک متوجې شي او له خپلو بدو کړنو منعه شي، خو که دوام ور کړي، نو عمومي تباهي به يې په برخه وي(الاعراف: ۱٦۸) {ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ} [الروم: ٤١] په وچه او سمندر کې د انساني کړنو له امله فساد خپور شوی دی، څو انسانانو د دوی د ځينو اعمالو سزا ور کول شي ښايي له خپلو ناسمو اعمالو لاس واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۰ـ** {يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تَلْبِسُونَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ} [آل عمران: ۷۱]

اې اهل کتابو! ولې حق و باطل سره ګډوئ او له پوهاوي سره حق پټوئ؟

له واقعیت سره د زړه او خولې خبرې موافقت ته حق وایي، حق رښتونولۍ ته هم وایي، حق د خدای کتاب او دین هم دي، نو دوی نه یوازې دا چې په دین کې یې دوکه له خلکو سره کوله، بلکې د حق لفظ دا ښیي چې حق که د دین په برخه کې و یا د اموالو و صداقت په برخه کې، دوی پټاوه، دا کار یې په ناپوهۍ هم نه کاوه، بلکې ښه په خبر ول، بیا یې هم دا کار کاوه. زموږ ټولنه اوس پر دې معیار وتلئ، څومره خلک به د خپل قریب په مقابل کې رښتیا ووایي؟ څومره کسان به سمه له واقعیت سره برابره شاهدي ور کړي؟ دا هم لوی مرض دی چې په اهل کتابو کې خپور شوی او اوس زموږ ټولنه هم په اخته ده. دانسته دین پټول، پر خلکو حق و باطل داسې خلطول چې خلک پر باطل هم د حق ګومان وکړي، خورا اوږده مخینه لري.

**۲۱ـ** {وَلَا تُؤْمِنُوا إِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِينَكُمْ} [آل عمران: ۷۳]

او یوازې پر هغه چا باور وکړئ چې ستاسو په دین وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهل کتابو ځانونه دومره سپیني ملایکې جوړې کړې وې چې د بل چا خبره یې د دین په اړه بیخي نه اورېده، په ایت کې راغلي چې دوی یوازې او یوازې د خپلو خلکو پر خبرو او د دوی په اند علمي څېړنو باور کاوه، همدا خبره یې ترخپل منځ تبلیغوله هم چې پر بل چا باور مه کوئ. له بده مرغه چې په مسلمانانو کې د ګڼو ډلو تر پیدا کېدا وروسته عیني معامله روانه ده، یو کس له دې وجې حتمن بد دی چې شیعه دی، که هغه په خپل ذات او دیانت کې هر څومره ښه سړی هم دی، خو یوه اهل سنت ته له دې وجې بد دی، اهل تشیع ته بیا یو اهل سنت یوازې د همدې نوم له وجې بد دی، که په خپل ذات کې هغه هر څومره ښه کس هم وي.

**۲۲ـ** {هَا أَنْتُمْ هَؤُلَاءِ حَاجَجْتُمْ فِيمَا لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَاجُّونَ فِيمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ} [آل عمران: ٦٦]

ستاسو دغه یهودو د هغه شي په اړه دلیل وایی  چې پرې پوهېدئ، د هغه شي په اړه ولې(ناحقه) دلایل وایئ چې تاسو یې په اړه هیڅ علم نه لرئ؟

له پوهي پرته د یوه شي په اړه حکم ور کول، حق و باطل بلل، د ټولنې لپاره خیر او شر ګڼل، دا کار ډېرې بدې پایلې لري، ستا د استدلال میدان باید هغه وي چې ته پکې پوهېږې، کله چې د یوه شي په اړه پوهاوی نه لرې، بیا ولې په هغه کې ناحقه خبرې کوې؟ دلایل وایې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک ګمراهان کوي؟ کوم ضعف ته چې قران کريم ګوته نيولې ده، راشئ يوځل يې پر خپله ټولنه عملي کړئ، بيا به درک در کړي چې له سره څو ډوډۍ پخېږي؟!

**۲۳**ـ{وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصَارَى عَلَى شَيْءٍ وَقَالَتِ النَّصَارَى لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلَى شَيْءٍ وَهُمْ يَتْلُونَ الْكِتَابَ} [البقرة: ۱۱۳]

او يهودو ويل: نصارا پر هيڅ دين نه دي او نصرانيانو ويل: د يهودو هيڅ دين نه دی، په داسې حال کې چې دوی دواړو د کتاب علم هم در لود.

تر دې وروسته نو زموږ ټولنې ته نظر وکړئ چې څه حال دی؟ هلته خو يوې کتابوالې ډلې بله کتابواله ردوله، دلته د يوه کتاب خاوندان دې يو بل سره تکفيروي او يو بل سره لمونځ نه کوي، هر يې بل دوزخي او ځان جنتي بولي.

دا پر قران کريم د يوه سرسري نظر په ترڅ کې مې د هغو اعمالو لنډه تذکره وکړه چې له امله يې يهود تبا شوي او غندل شوي وو. دا هغه ټولنيزې او فردي، اخلاقي او له قانونه د مخالفت کړنې وې چې له امله يې هغوی د حاکم قوم په حيث پاته نه شول، بلکې وځپل شول، فقير او ذليل شول، خوار او محکوم شول، عزت و سلطنت يې ولاړ، د ځمکې په ډېره برخه کې وپاشل شول، دومره کمزوري شول چې پر خپل هر شي يې واک له لاسه ووتی، سيمه يې ولکه شوه، د هغوی منابع بل وکارولې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ته حتا دیني ازادي هم نه منل کېده، هغوی نور د ژوندي قوم په توګه مطرح نه ول، حتا حاکمې طبقې د هغوی د ذات په اړه لا د کمترۍ داسې احساس در لود چې کله موسی علیه السلام فرعون ته د دوی د ازادۍ او د یوه خدای د منلو له پیغام سره ورغی، نو درباریانو یې د پېغور په لهجه ورته وویل چې قوم یې زموږ محکوم او تر لاس لاندې دي، دی راغلی دی موږ ته دعوت راکوي{ فَقَالُوا أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ} [المؤمنون: ٤٧] د فرعون ډلې وویل: ایا زموږ په شان پر هغو دوو کسانو ایمان راوړو چې د دوی قوم زموږ غلامان دي؟ حاکمه طبقه په محکومه طبقه کې داسې کسان نه ایله کوي چې هغوی د اتبکار وړتیا لري، د محکوم قوم ټولې وړتیاوې ځپل کېږي، بیا که هغوی یو نظر وړاندې کوي، نو حاکمه ډله ور پورې خاندي، اخیر هغوی د کمترۍ احساس واخلي، نور خپل نظریات نه شي وړاندې کولای، په هر شي کې د بل پیښې کوي، دوی فکر کوي چې په دې سړی ډېر ښه ښکارېږي چې د هغو کسانو او ټولنو پېرې وکړي چې د دوی په نظر لوړ او اوچت مقام لري، هغه حاکم او دوی یې محکوم دي، موږ فعلن په اسلامي نړۍ کې همدغه وضعیت وینو، خلک د غرب پېرې کوي، دوی فکر کوي چې له ښځې پرتوګ وکاږه دا پرمختګ دی، له ښځې پړونی ایسته کړه، دا تمدن دی، ښځه دې نیکر واغوندي، دا ازادي شوه او له دې سره هر څه جوړېږي، هره ټولنه ځان ته ارزښتونه لري، که پردیپاله خلک پر خپلې ټولنې د بل د کلتور تپلو هڅه وکړي، نو هم به ټولنه پراګنده کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هم به خپله له نامرادۍ سره بدنام هم شي، باید د یوه ژوندي قوم حیثیت ته لومړۍ راشو، هغه معیارونه معلوم کړو چې په نړۍ کې یو قوم او ملت عزت په تر لاسه کوي، موږ چې تر څو د یوې مړۍ لپاره لاس بل ته اوږد کړی وي، هره دعوه مو دروغ بلل کېږي او هیڅوک مو پر یوه خبره باور نه کوي، خلك په موږ پوري خاندي چې موږ ورته دعوت کوو، موږ ازادي او خپلواکي لمانځو، په دې خپگان ښکاره کوو چې څوك ولې زموږ په چارو کې مداخله کوي، او دې ته ورته تشې ادعاوې نورې هم، زما په نظر ټوله اسلامي دنیا او په خاص ډول زموږ ملت او پښتون قوم په ژوندیو امتونو، ملتونو او قومونو کې اوس بیخي شمار نه دي، دوی د بل د ګټو لپاره سره جنګیږي، یو بل وژني، د خپل کور شته بل ته وړي، خپل ورور د بل لپاره وژني، د بل جنګ خپل کور ته راوړي، خپل منابع بل ته په واک کې ور کوي، د بل په اشارو چلیږي او د خپلو ګټو په رڼا کې له نړۍ سره تعامل ته نه دي راوړاندې شوي، تر هغو چې موږ د بل له اړتیا خلاص نه شو، دا که مادي اړتیاوي یا غیر مادي، موږ خپل تولید ونه لرو، افکار وي که وسایل، ابتکار د بل په لاس کې وي، موږ یوازې د هغوی پیښې کوو، هر څه ته د هغوی له عینکو ور ګورو، علم د هغوی په غېږ کې زده کوو، د حکومت موډل مې د هغوی وي، حتا فیشن مو هم خپل نه وي، د هغوی په فیشن ویاړ کوو، موږ نه ژوندی امت یو، نه مو نړۍ ژوندی بولي.

۲۰۲۲/اګست/۲۲

**سرچینه:**

۱)(سنن الترمذي، ابواب التفسیر، باب: ومن سورة التوبه، ح: ۳۰۹۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تعقل، تفکر او تدبر په قران کې

قران کریم عقل ته ډېر ارزښت ور کوي، اصلن د دین بنیاد پر همدې عقل دی، که عقل نه وي، نو دین حقانیت نه ثابتېږي، د خدای وجود، د دین حقانیت، د رسول رسالت او د کتاب الله صداقت ټول له همدې عقل سره اړه لري. لېونی د دې یوه په حقیقت نه پوهېږي، ځکه عقل یې ګډوډ وي، سالم عقل انسان تر خپله منزله رسوي، له دې امله نو قران کریم د عاقلانو کتاب دی او هر ځای یې همدغه خبره په پرېګنده انداز کړې ده.

په دې مقاله کې به هڅه وکړو چې د قران کریم له مخې د عقل، تفکر او تدبر پر اهمیت او ور څخه کار اخیستنې رڼا واچو، تر هر څه لومړی د قران کریم دغه ایت ته مو پام غواړم:

{ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا} [الإسراء: ٣٦].

او د هغه څه پیروي مه کوه چې علم نه پر لرې، یقینن غوږونه، سترګې او زړه ټول پوښتل کېږي.

د دې ایت پیل په دې شوی دی چې په ناخبري کې د یوه شي تابعداري نه ده په کار، ور پسې درې شیان ذکر شوي دي چې د علم لپاره وسیلې دي، غوږونه او سترګې معلومات تر زړه نقلوي او زړه تر فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تدبر وروسته یې په اړه پرېکړه کوي، چې دا سم دي، نو علم شو، او که یې له واقعیت سره اړه نه در لوده، نو ردوي یې او دا د وسایلو پر خطا حواله کوي، په اخیر کې وایي چې درې واړه د خپلو اعمالو په اړه مسوول دي، انسان د یوه با اختیاره او اراده لرونکي ژوي په توګه باید له ټولو وسایلو څخه پر ځای او سمه ګټه واخلي، غوږ پر خپل ځای وکاروي، سترګې همداسې او زړه یا ذهن پر خپل ځای، که له دې هر یوه پر ځای کار وانه خیستل شي، نو د ټولو مسوولیت یې هم خاوند ته ور ګرځي. قران کریم بل ځای وایي:

{ فَبَشِّرْ عِبَادِ () الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّهُ وَأُولَئِكَ هُمْ أُولُو الْأَلْبَابِ} [الزمر: ۱۷، ۱۸]

نو زما هغو بندګانو ته زېری ور کړه چې خبرې ته غوږ نیسي-، بیا یې ښه خبره مني، دوی ته الله تعالی هدایت کړی او همدوی د عقل خاوندان دي.

ګورئ د غوږ مناسب کار دادی چې د خبرو له اورېدو ځان ګوڼ نه کړي، بلکې خبرې په واورېدل، شي پر خبرو تر غور وروسته دا ثابته کړي چې دغه یې سمې دي او هغه یې ناسمې، نو سمې یې ومنل شي او ناسمې یې رد شي، دا د یوه سالم عقل تقاضا هم ده، له دې وجې قران کریم په اخیر کې وویل چې دوی ته الله تعالی هدایت کړی او همدو د عقل خاوندان دي، ځکه د خپل عقل پر مقتضا یا غوښتنه ولاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کسان چې د عقل، سترګو او غوږو له کارولو ډډه کوي، الله تعالی یې په اړه داسې وايي:

{لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ} [الأعراف: ۱۷۹].

دوی زړونه لري، علم نه پرې تر لاسه کوي، او سترګې لري، لیدل نه پرې کوي او غوږونه لري، اوریدل نه پرې کوي، همدغه کسان د چارپایانو په شان دي، بلکې تر چارپایانو هم بې لارې او همدوی ناخبره دي.

په دې ایت کې وینو چې کوم څوک له عقل، فکر تدبر څخه کار نه اخلي، د معلوماتو په وړاندې له شته وسیلو (سترګو او غوږونو) کار نه واخلي، الله تعالی چارپایان هم ترې ښه بللي دي او دوی یې تر هغو هم ډېر غافله او بې خبره یاد کړي دي، بل ځای هم وايي:

{أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا} [الفرقان: ٤٤].

او که ته ګومان کوې چې د دوی زیاتره حقایق اوري او په اړه یې فکر کوي، هغوی لکه حیوانات بلکې تر دې هم ډېر بې لارې دي.

دغه ایت موږ ته د غوږ نیولو او فکر کولو ډېر اهمیت په لاس راکوي، هغه څوک چې د یو چا خبره نه اوري، یوازې خپله یې تر سر نیولې وي، نه پر خپل کار فکر کوي نه د بل پر کار، هغوی داسې دي لکه حیوان،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې حیوان عقل نه لري، هغه یوازې شعور لري، له دې امله د یوه شي په اړه تعقل او تدبر نه شي کولای، د خبرې مفهوم نه شي اخیستای، له دې امله هره خبره هغه ته فقط داسې معلومېږي لکه د پسې اخیستلو یا را گرځولو لپاره چې اواز ورته وشي، دوی نور نه پوهېږي، مگر انسان چې له خپل عقل سره دا کار کوي، نو ځکه تر حیوان هم بدتر او بې لارې بلل شوی دی.

زموږ په دنیا کې چې هر شی جوړ شوي دي، دا ټول د عقل په مرسته جوړ شوي دي، که عقل نه وي هیڅ هم نه کېږي، عقل د علم وړتیا په انسان کې پیدا کوي، که نه تر ننه چا لېونی عالم لیدلی دی؟ د عقل وجود انسان دې ته هڅوي چې هم خپلې گټې خوندي کړي هم د نورو انسانانو، هم ځان ته فایده ورسوي او هم نورو ته، هم ملت ته گټور ثابت شي او هم وطن ته، هم خدای په وپېژني او هم دین.

د انسان بدن داسې جوړ دی که هر غړی یې ونه کاروي، هغه خپل ور کړی استعداد بایلي، که د پښو مزل ونه شي، بیا پر پښو تگ انسان نه شي کولای، که د مکتب یو استاد روزانې ته بوزې، یوه ورځ کار وکړي، نو ټول بدن به یې درد کوي، ځکه هغه ورسره ناآشنا دی، یو کس چې زیاتې خبرې یې نه وي کړې، که یې ډېر ورغوې، د هغه پر سر درد کېږي، عقل هم دا ډول دی، که له عقل څخه کار وانه خیستل شي، هغه هم کمېږي، دغه ایاتونه چې مخکې تېر شول، دا ثابتوي چې دغو قومونو له عقله کار نه اخیستی، ځکه یې له عقل در لودلو سره فکر نه کاوه، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو يې بدکارونه ليدل، خو ايله کـول يـې نـه، پـه غـوږو يـې د نـورو قومون کيسې اورېدې، خو عبرت يې نه ځنې اخيستی، لـه دې وجـې الله تعالی وويل داسې دي لکه هيڅ چې نه لري او حيوانات لا تر ښه دي.

عقل د عمر له زياتوب سره مخ پر زوال کېږي، لـه دې وجـې بايـد د خپل عمر په اوله مرحله کې انسان له عقل څخه کار اخيستل پيـل کـړي، قران کريم وايي:

{وَمَنْ نُعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ أَفَلَا يَعْقِلُونَ} [يس: ۶۸].

او که موږ چا ته زيات عمر ور کړو، نو هغه بېرتـه خپـل اولنـي حالتـه بيايو، دوی پر دې فکر نه کوي؟

نکس پر بل مخ اړولو يا ړندولو ته وايي، عرب وايي: إِنْتَكَسَ فُلانٌ، پلانی سر پر چړی ولوېدی. نو د ايت د دې برخې معنا دا ده چـې خپـل اولني حالت ته يې بيايو، هغه وخت چې ماشوم وي، په هيڅ نه پوهېږي، نو که لوی شي او ډېر زوړ شي بېرته د ماشوم پـه شـان کېـږي، بـل ځـای وايي:

{وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ ثُمَّ يَتَوَفَّاكُمْ وَمِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْ لَا يَعْلَمَ بَعْـدَ عِلْمٍ شَيْئًا} [النحل: ۷۰].

او الله تعالی تاسو پيدا کړي ياست، بيا مو مړه کوي او ځينـې مـو هغـه اخير عمر ته بيايي چې تر پوهاوي وروسته په هيڅ شي نه پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قران کریم په اړه غور:

{أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا}. [النساء: ۸۲].

ایا دوی د قران کریم په اړه فکر نه کوي چې که له الله ماسیوا د بل چا له خوا وای، نو دوی به ډېر اختلاف پکې موندلی وای.

دلته وینو چې د قران کریم په اړه الله تعالی مشرکانو ته بلنه ور کوي چې فکر وکړي، تر فکر وروسته به درته ثابته شي چې دا کتاب د الله له لوري دی، ځکه په **۲۳** کاله نزول کې یې هیڅ داسې مثال نه شته چې یو حکم دې له بل سره ټکر وي، یوه مسله دې له بلې سره تعارض ولري، یوه خبره دې له علمي ساینسي حقیقتونو سره په ټکر کې واقع شي، نو دا خبره د دې ثبوت ده چې دغه کتاب د الله دی، نه د بشر.

{أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا } [محمد: ۲٤].

ایا دوی د قران کریم په اړه فکر نه کوي او که یې زړونو ته نه کښته کېږي(زړونه یې بند دي)؟

مشرکان چې له عقله یې د دین په برخه کې کار نه اخیستی، قران کریم دلته ورته یادونه کړې ده چې زړونه مو ولې بند کړي دي؟ ولې پر قران کریم غور و فکر نه کوئ؟ تاسو خپل دین او د الله دین سره پرتله کړئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا سوچ پر وکړئ نو خپله د انصاف پرېکړه وکړئ چې کوم دین حق دی او کوم یې ناحق؟

{ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ} [البقرة: ۲۴۲].

په دغه ډول الله تعالی تاسو ته خپل ایاتونه(قوانین) بیانوي چې تاسو فکر پر وکړئ.

{ قُلْ لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا تَلَوْتُهُ عَلَيْكُمْ وَلَا أَدْرَاكُمْ بِهِ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِنْ قَبْلِهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ} [یونس: ۱۶].

ووایه: که د الله خوښه وای(چې دا کتاب نازل نه کړي) نو ما به نه پرتاسو تلاوت کړی وای او نه به مې په خبر کړي واست، یقنن ما تر دې پخوا ستاسو په منځ کې ډېر ژوند کړی دی، تاسو غور نه پرې کوئ؟

که زه په خپله دعوه کې درواغجن یم، نو خورا ډېر عمر مې ستاسو ترمنځ تېر کړی دی، هلته مې ولې داسې دعوه نه کوله؟ دا چې تر ډېر وخت وروسته دا دعوه کوم، معلومه ده چې وحې راته شوې ده؟ او زه خپل ژوند څکه په مثال کې راوړم چې ما په تېر ژوند کې نه دروغ ویل، نه مې بل بد کار، دا چې له خلکو سره په معامله کې مې دروغ نه ویل، نو له خدای سره په معامله کې به څنګه دروغ وایم؟

{الر تِلْكَ آيَاتُ الْكِتَابِ الْمُبِينِ (۱) إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ}.

(c) ketabton.com: The Digital Library



[يوسف: ۱، ۲].

الف، لام، راء، دغه د روښانه کتاب اياتونه دي، موږ په عربي ژبه نازل کړی دی، چې تاسو پکې فکر وکړئ.

{لَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ} [الأنبياء: ۱۰]

يقينن موږ تاسو ته داسې کتاب نازل کړی چې ستاسو لپاره پند پکې دی، نو تاسو فکر نه پر کوئ؟

په دې قران کريم کې تاسو غور وکړئ چې د دې کتاب په احکامو عمل کول تاسو ته د دنيا او اخرت د ښېګڼو دروازه خلاصوي، تاسو ولې عمل نه په کوئ او له منلو څخه يې انکار کوئ؟

{قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ (٦٦) أُفٍّ لَكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ} [الأنبياء: ٦٦، ٦٧]

(ابراهيم ع) وويل: نو ايا تاسو له الله ماسيوا د هغه شي عبادت کوئ چې نه ګټه در رسوي او نه زيان، پر تاسو او له الله ماسيوا ستاسو پر معبدانو دې افسوس وي، ايا دومره سوچ هم نه شته درسره؟

{ وَهُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ}.

[المؤمنون: ۸۰].

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دی هغه (ذات) دی چې ژوند ور کوي او دی يې مړه کوي، د شپې او ورځې يو په بل پسې راتګ د هغه په امر کېږي، ايا د دې نظام په اړه فکر نه کوئ؟

تاسو پر دې فکر ولې نه کوئ چې څنګه الله تعالی يوه انسان ته د مور په رحم کې ژوند ور کوي، هلته يې د ژوند لپاره اوکسيجن ور رسوي، د خوراک او څښاک انتظام يې ورته کړی دی، يو چيچې په هګۍ کې ژوندی کېږي او همالته ورته د خوراک ترتيب نيول شوی، يو دانه په ځمکه کې لوېږي، تر ځمکه لاندې شنه کېږي، وده کوي او اخير مېوه، بيا د دې هر ژوندي شي اخيري برخليک مرګ دی، دغه د ژوند او مرګ سلسله چا روانه کړې ده؟ شپې او ورځې ته نه ګورئ، چا دغه نظم ساتلی دی چې لمر راځي ورځ جوړوي، بيا لمر ځي، تياره کېږي؟ که دغه لمر تر خپل وخت ډېره موده په ګرمي کې ودرېږي، نو د ګرمۍ درجه به څومره لوړه شي، ژوندي موجودات به ټول مړه شي، او که په يخ کې لمر وځنډېږي، د شپې موده اوږده شي، نو څومره به يخ شي او د ژونديو موجوداتو به څه حالت وي، دغه نظم چا برقراره کړی دی او تاسو و ټولو ژويو ته يې د ژوند چانس په لاس ور کړی؟ پر دې ټولو اړخونو يې فکر نه کوئ؟

{اعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ}. [الحديد: ١٧].

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې پوه شئ چې الله تعالی تر مرګ وروسته څمکه ژوندۍ کوي، یقینن موږ تاسو ته واضح ایاتونه بیان کړل چې ښایي تاسو فکر پر وکړئ.

څمکه دلته د حاکمو قوانیو له مخې داسې کېږي چې یو وخت شیان پکې شنه کېږي، دا یې د ژوند حالت دی او بیا پکې یخ شي، څمکه ورسره کنګل شي، هیڅ نه شنه کوي، دا یې د مرګ حالت دی، دغه قانون چا داسې جوړ کړی دی؟ فکر نه ور باندې کوئ!

{كَذَلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ} [یونس: ۲٤].

دغه ډول موږ خپل ایاتونه د هغو خلکو لپاره تفصیلي بیانوو چې سوچ و فکر کوي.

{وَهُوَ الَّذِي مَدَّ الْأَرْضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنْهَارًا وَمِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ جَعَلَ فِيهَا زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ () وَفِي الْأَرْضِ قِطَعٌ مُتَجَاوِرَاتٌ وَجَنَّاتٌ مِنْ أَعْنَابٍ وَزَرْعٌ وَنَخِيلٌ صِنْوَانٌ وَغَيْرُ صِنْوَانٍ يُسْقَى بِمَاءٍ وَاحِدٍ وَنُفَضِّلُ بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ فِي الْأُكُلِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ} [الرعد: ۳، ٤].

دی هغه (ذات) دی چې څمکه یې غوړولې ده، په دې کې یې غرونه پیدا کړي، ویالې یې پکې جوړې کړې، هر ډول مېوې یې پکې پیدا کړې په څمکه کې د مېوو دوې دوې جوړې پیدا کړې دي، پر ورځ شپه راولي، په دې ټولو نښو کې د غور کوونکو خلکو لپاره د عبرت نښې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په ځمکه کې ځينې برخې يو له بل سره مښتې وي ورسره په خوا کې د انګورو باغونه وي، کښتونه وي او د خورما داسې ونې وي چې ځينې پر يوه تنه را شنه شي بيا سره بېل شي او نور يې جلا جلا را وټوکېږي، دا هر څه په يوه ډول اوبو اوبېږي او په خوراک کې مو ځينې مېوې له نورو جلا کړې دي، په دې هر څه کې د عقل لرونکو کسانو لپاره د درس سترې نښې دي.

په دغو اياتونو کې د عقل لرونکو، فکر کوونکو او هوښيارو خلکو لپاره د الهي نظام خورا په زړه پوري او دلچسپ اړخ ذکر شوی دی، دا ځمکه څنګه پيدا شوې ده؟ غرونه او دريابونه پکې شته، د ځمکې د هوا په بدلون کې خورا لوی لاس لري، غرونه د ځمکې ذخيرې هم دي، د اوبو لويې زيرمې همدلته خوندي کېږي اوبه يا د کاريز و چينو په شکل را بهېږي، واورې نيسي او د ګرمي په موسم کې سوکه سوکه ويلېږي په ويالو او دريابونو کې را وبهېږي، دغه ډول دقيق نظام چا جوړ کړی دی؟ هر ډول مېوې په همدې اوبو پيدا کوي، دغه ځمکه يې د را زرغونېدو محل ده، جالب اړخ دادی چې مېوې هم جوړې لري، نر و ښځه لري، څکه يې په دې ايت کې الله تعالی يادونه کړې ده. تر دې وروسته د شپې او ورځې يادونه له حکمت څخه خالي نه ده، د مېوو په پخولو او خوږولو کې شپه او ورځ دواړه اغېز لري، ټول وخت که لمر وي هم به ګرمي زياته شي چې مېوو ته ښايي له ګڼو اړخونو ستونزې جوړې کړي، او که شپه يوازې وي، بيا يخ ورسره زياتېږي هم مېوو ته مشکلات

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایجادوي، دا چې دواړه شته، او په دې سره یې د نظام توازن ساتلی دی، نو دا کار چا کړی دی؟

ځنګ پر ځنګ ځمکې وي، په یو ډول اوبو اوبېږي، مګر یو لور ته د انګورو باغ وي، بل خوا کښتونه وي، له دې سره جوخت بیا خورماوې ولاړې وي، ګڼ شیانو نور هم په همدې یوه ځمکه کې زرغونه وي، دا سیستم چا پنځولی دی چې پر یوه ځمکه ولاړ باغونه په ډول ډول اوبو اوبېږي، خو بیا یې هم میوې له نورو سره توپیر لري، جلا جلا خوندونه لري، ځینې یې تر نورو په خوراک کې د انسانانو لپاره بهترې وي، چا ته یوه مېوه خوند ور کوي چا ته بله، دغه ډول دقیق او محاسبه شوی نظام کوم ځواک را منځته کړی دی، پر دې تاسو فکر نه کوئ؟

{ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ () وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِلْعَالِمِينَ () وَمِنْ آيَاتِهِ مَنَامُكُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَابْتِغَاؤُكُمْ مِنْ فَضْلِهِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ () وَمِنْ آيَاتِهِ يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيُحْيِي بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ} [الروم: ۲۱ - ۲٤].

او د ده د قدرت له نښو داده چې تاسو ته یې له خپلو ځانو جوړې پیدا کړې چې تاسو ور سره ډاډ پیدا کوئ او ستاسو ترمنځ یې دوستي و رحمت پیدا کړی دی، یقینن په دې کې د فکر کوونکو خلکو لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبرت نښې دي، او د قدرت له نښو يې د اسمانو و ځمکې پيدايښت، ستاسو د ژبو او رنګو اختلاف هم دی، په دې کې د جهانيانو لپاره د عبرت نښې دي، او دا يې هم د قدرت نښه ده چې په شپه کې خوب کوئ او ورځ کې يې د فضل لټه کوئ، په دې کار کې بيا هم د هغو خلکو لپاره درس دی چې خبره اوري، د هغه يوه بله نښه دا هم ده چې تاسو ته برېښنا د ډار او تمې دواړو لپاره در ښکاروي، له لوړې خوا اوبه را نازولي او په دې سره ځمکه تر مرګ وروسته ژوندۍ کوي، د فکر کوونکو کسانو لپاره دې کې هم د عبرت نښې دي.

{وَسَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِنْهُ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ} [الجاثية: ۱۳].

او تاسو ته ده د اسمانو او ځمکې هر څه په خپله مسخر کړي دي، په دې کې فکر کوونکو خلکو لپاره غټې نښې دي.

اسمان او ځمکه کې هر شی د قانون تابع دي، که تاسو وغواړئ د هغو قوانينو تر کشف وروسته يې د خپلې ګټې لپاره استعمالولای شئ، دلته ټول کاينات د فطرت له مخې همداسې پيدا شوي دي، انسان ته دا وړتيا ور کول شوې ده چې دغه قوانين کشف او په خپله ګټه يې وکاروي، لکه نن چې د ساينس په مټ انسان همدغه کار کوي.

{ لَوْ أَنْزَلْنَا هَذَا الْقُرْآنَ عَلَى جَبَلٍ لَرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُتَصَدِّعًا مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ} [الحشر: ۲۱].

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د مثال په ډول) که موږ دغه قران پر غره نازل کړی وای (او هغه ته مو د دې احساس ور کړی وای)، نو تا به غر لیدلی وای چې د الهي ډار لـه کبله به لړزره پر راتله او چاودلی بـه وای، دغـه مثالونـه مـوږ د دې لپـاره خلکو ته بیانوو چې هغوی فکر پر وکړي.

دغه ایت فرضي مثال بیانوي، چې که موږ غره ته د قران کـریم پـه اړه احساس ور کړی وای، نو هغه به د مخالفت په صورت کې د الهي ډار له کبله لړزېدلی او چاودل شوی به وای، مگر انسان د خپل ډېر واړه صورت په در لودلو سره بیا هم د قـران کـریم پـه وړانـدې نـه ټيټېـږي او د الهـي احکام تعمیل ته غاړه نه ږدي، سره له دې چې انسان ته شعور او عقل ور کول شوي، وړتیا یې لري او له دې سره الهي پیغام هم ورته راغلی، مگـر بیا هم د خدای د کـلام پـه وړانـدې یـې نرمـي غـوره نـه کـړه او پرلپسـې مخالفت کوي.

دغه مثالونه د تعقل، تفکر او تدبر یوازې یوه نمونه دي، په قران کریم خورا ډېر ځایونه الله تبارک وتعالی زموږ پام دې شیانو ته را اړولی دی، د اسمان، ځمکې، ونو، اوبو، مرگ و ژوند او دې تـه شـیانو یـادول دا پـه گوته کوي چې قران کریم انسانانو ته پر دې ټولو شیانو د غور او فکر بلنه ور کوي، انسان د دې هر څه وړتیا لـري، پـر دې هـر څـه فکـر تـر علـم وروسته کېدای شي، انسان چې پر همدې شیانو تجربې کـوي او خپلـې تجربې راتلونکي نسل ته ایله کوي، په دې توگه اخیر انسان هغه ځای ته رسېږي چې الله تعالی یې ځنې غواړي، قـران کـریم یادونـه وکـړه چـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمان او ځمکې هر څه په قانون کې دي او مخالفت يې نه شي کولای، په دې توګه ستاسو لپاره اېل شوي دي، نو علم وکولای شول چې د دې کايناتو ترمنځ شته قوانين کشف کړي او د لمر د تورېدو وړاندوينه وکړي، د سپوږمۍ د تورېدو وړاندوينه وکړي، د باران اټکل وکړي، د مور په نس کې د ماشوم حالت بيان کړي، د انسان د مرضونو تشخيص وکړي، د مرض لپاره مختلف ډولونه دواوې د تداوي لپاره جوړې کړي.

د کايناتو په اړه د قران کريم دې يوه ايت ته پام وکړئ:

{ وَكَأَيِّنْ مِنْ آيَةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ}.

[يوسف: ۱۰۵]

او په اسمانو و ځمکه کې د الهي قدرت داسې ډېرې نښې شته چې دوی پر تېرېږي او له دې نښو څخه غافله دي.

دغه ايت څومره ډېر وخت مخکې دې ته اشاره کړې ده چې په اسمان او ځمکه کې د قدرت نښې دي، انسان به پر تېرېږي، ور لوړ به شي، پر وبه درېږي، له دې هر څه سره به د دې نښو له خالقه غافل وي، د هغه قانون به نه مني، دې ته به فکر نه کوي چې په دغو کايناتو کې د چا قوانين جاري دي؟ که دغه ځواک دومره لوی نظام د خپلو قوانينو په مټ درولای شي، نو انسان ته يې هم بايد ژوند تېرولو لپاره قانون لېږلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای، هغه قانون قران کریم دی، خو د نړۍ څومره ډېر انسانان له دې حقیقت څخه غافل دي؟

وګورئ دغه ایت ډېر په خوا د کایناتو لوړو ته د پورته کېدو خبره کړې ده، دا کار څه وخت ممکن دی؟ کله چې موږ علم وکړو، کله چې ساینس زده کړو، هغه وخت چې په کایناتو کې طبیعي قوانین کشف کړو، تر دې وروسته موږ کولای شو چې د قران کریم دغه وړاندوینې نړۍ ته ثابتې کړو او د الله کتاب د یوه رښتني کتاب په توګه را مطرح کړو، که موږ په هره برخه کې د نړۍ نامسلمانو ته سترګې نیولې وي، نو دقران کریم دغه حقایق به هیڅ وخت را برسېره نه شي او خلکو ته به یې حق دعوت هم ونه رسېږي.

{وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَحْفُوظًا وَهُمْ عَنْ آيَاتِهَا مُعْرِضُونَ} [الأنبياء: ۳۲]

او موږ اسمان (شاوخوا کاینات) د یوه خوندي چت په توګه جوړ کړي دي او دوی د اسمان له دې حقیقت څخه په ناخبري مخ اړوي.

دا څومره لوی ساینسي انکشاف دی؟ نن د ساینسي برخې علماء موږ ته وایي چې ځمکه په خورا ښه ډول له اسماني اجرامو او لمرینو زیان رسونکو وړانګو څخه خوندي شوې ده، که دغه لوړ چت ورته نه وای، ښایي له ځمکې سره ډېرې لویې اسماني ډبرې ټکر شوې وای چې دلته به یې قیامت جوړ کړی وای، یا هم د لمر تېزې سوځونکې تاواني وړاندې تر ځمکې راغلې وای، انسانیت به یې تبا کړی وای، ژوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیان به یې یو مخیز هلاک کړی وای، دلته به یې د زراعت او کښتونه مخه نیولې وای، دا چې د دې هر څه لپاره چا زمینه برابره کړه؟ قران کریم ددې ځواب وایي او انساني علم ورته زموږ په بشري نړۍ کې شواهد پیدا کوي چې دا خبره نوره هم باوري او یقیني کړي.

یو بل ځای وایي:

{ يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنْفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانْفُذُوا لَا تَنْفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ} [الرحمن: ۳۳].

اې جنیاتو او انسانانو! که ستاسو په وس پوره وي چې د اسمانو او ځمکې اطرافو ته ووزئ، نو دا کار وکړئ، مګر تاسو یې له قوت او زور پرته نه شئ کولای.

په دې ایت کې دا خبره شوې ده چې که تاسو د کایناتو په منځ کې پرواز کوئ، نو د دې لپاره قوت ته اړتیا ده، باید هغه قوت تر لاسه کړئ چې همدا کار په وکړئ، ځکه هلته به له داسې څه سره مخ شئ:

{ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِنْ نَارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرَانِ} [الرحمن: ۳۵].

(که لوړ ولاړ شئ) نو بې دوده اور سره به مخ شئ او (که په ځمکه ننوزئ) نو هلته به د مسو (ګرم ویلې) کانونه ستاسو مخه ونیسي، نو تاسو به بریالي نه شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه ایاتونه په خورا لوړه کچه د نن زماني ساینسي انکشافاتو ته ګوته نیسي ـ، اول یې دا خبره وکړه چې که تاسو تګ غواړئ نو په سلطان(ټیکنالوجي) سره کولای شئ چې ولاړ شئ، مګر د دې لپاره ستاسو په وړاندې دوې ستونزې دي: یوه یې په اسمان کې ده چې تاسو به له سخت اور او ګرمۍ سره مخ شئ دویمه یې په ځمکه کې ده چې کانونه او مس همداسې ویلې پراته دي، که په ځمکه کې ځئ یا هم اسامان ته باید د ځان حفاظت په داسې توګه وکړئ چې هلته مو ژوند بچ کړي، که نه دواړه ځایونه به ویلې شئ او د بېرته راتلو یا راختو وس به در پکې نه وي.

سلطان په قران کریم کې بل ځای هم د غلبې یا قوت لپاره کارېدلی دی:

{ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ إِلَّا أَنْ دَعَوْتُكُمْ فَاسْتَجَبْتُمْ لِي}.

[إبراهيم: ۲۲].

ما پر تاسو هیڅ غلبه و زور نه در لود، مګر دا چې ما تاسو ته دعوت در کړ، تاسو را سره ومانی.

{إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ} [الحجر: ٤٢]

زما پر بندګانو ته هیڅ ډول غلبه او زور نه لرې.

دا چې انسان قوت او زور پیدا کړي، بیا کله ناکله د شر کارونو ته مخه کوي، له دې امله په قران کریم کې ګڼې لارښونې ورته شوې دي چې که

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو د خدای له قانون سره سم عمل وکړئ، علم ته ترقي ور کړئ، خپل استعدادونه وغوړوئ، په کایناتو کې شته قوانین چې تاسو ته مسخر دي، کشف کړئ او ګټه ځنې واخلئ، نو تاسو سره به دلته ټول الهي قوانین هماهنګه شي، موفقیت او بریا به ستاسو وي، الله به مو غیبي مرسته وکړي، خو تاسو مخالفت ته مخه کړئ، نو نه یوازې دا چې د الله په عذابونو به اخته شئ، بلکه دلته له شته قوانینو سره نه همږغي به تاسو تبا او برباد کړي، له دې امله انسان ته په کار ده چې تر خپلو حدودو ونه وزي، د خپل علم په مټ د الهي قوانینو مخالفت ونه کړي، انسان د علم او وسایلو په برخه کې یې له خورا ډېرو محدودیتونو سره مخ دی، نو د انساني علم لپاره د الهي وحې د ډېوې خورا ډېره اړتیا ده چې هغه په تیارو کې ورته رڼا وکړي او خپل منزل ته ځان په ورسوي.

خیر ښېګڼه ده او شر بدګڼه ده، په مجموع کې خیر له الهي قانون سره سم تګ دی او شر یې مخالفت دی، که هر څوک د خدای له قانو سره سم تګ وکړي، نتیجه به یې هم ښه وي: مثلن: انسان ته د اوکسیجن اړتیا ده، که څوک پر ځان اوکسیجن بند کړي، حتمي به مري او دا د هغه لپاره شر دی، که څوک له لوړ ځای څخه ځان را ایله کړي، نو د ځمکې جاذبه قوه یې کښته کشوي او هغه به ځان ووژني یا به سخت خوږ شي، دا یې د ځان په خیر کار ونه کړ بلکې شر دی، همدا شان اور سوځول کوي، که څوک په اور کې ځان واچوي، نو دا شر شو، خو که بل کار وکړي، له اوبو د تندې ماتولو کار واخلي، دا خیر دی، له لوړ ځای څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د را ټوپ وهلو پر ځای پر ځینه(زینه)کښته شي یا هم د رسۍ په مټ کښته شي، نو روغ به ولاړ شي او له دې قوانینو سره دا هماهنگي به یې په خیر تمامه شي، اور زموږ د ژوند له بیخي نه جلا کېدونکو اجزاؤ څخه دی، مگر د انسان د مرگ او سوځولو سبب هم کېږي، که ناسم یې استعمال کړو شر پیدا کوي، مثلن: کور په وسوځو، بازار ته اور ور کړو یا بل همداسې کار، نو دا له الهي قانون څخه سرغړونه ده او نتیجه یې شر ده، خو همدغه اور د انرژۍ د پیدا کېدو سبب ده چې انسان ته سوکالي ور کوي، په دې توگه دلته ټول هغه قوانین چې الله تعالی د دې نظام په منځ کې وضع کړي دي، که موږ ورسر هماهنگي وکړو، په خیر مو دي که ور سره ټکر وکړ، شر راته پیدا کوي، په همدې توگه د انسانانو خپل منځي روابط دي، معاملات دي، سیاست دی او داسې نورې برخې د دې هرې برخې لپاره الله تعالی ځینې کلي فارمولې بیان کړې دي، چې د هغو په رعایت کولو زموږ ژوند ښه کېږي او د هغو په نه رعایت له نړۍ څخه ځنگل جوړېږي چې هر زورور به کمزوري پکې خوري او دغه کُره به د انسانیت لپاره جهنم جوړه کړي، لکه نن چې موږ د دې هر څه شاهدان یو.

{إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ (۱۹۰) الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ}.

[آل عمران: ۱۹۰، ۱۹۱]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسمانو او ځمکې په پیدایښت او د شپې و ورځې یـو پـه بـل پسـې راتلو کې د عقل خاوندان ته د عبرت غټې نښې دي، دوی هغه کسان دي چې د الله دين پاس په ولاړه، ناسته او پر اړخ په پروتـه سـاتي (يعنې ټـول وخت يې پرې نظر وي عمل په کوي) د کایناتو د لوړو او کښتو برخو په اړه تر فکر وروسته وايي: اې زما ربه! دغه ټول نظام دې بـې ګټـه نـه دی پیدا کړی، له بې ګټې کارو څخه ته ډېر لرې او منزه يې.

{أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ (۲۷) وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَابِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَلِكَ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ}.

[فاطر: ۲۷، ۲۸]

دې ته دې فکر نه دی کړی چې الله له اسمانه اوبـه نـازلوي، مـوږ پـه همدې يو رنګه اوبو ګڼ رنګه مېوې را پیدا کوو، غرونو ته دې پام نه دی کړی چې ځینې تکسپین، نـور يـې سره او يـو بـل ډول يـې تکتـور دي، څنګـه يـې رنګونـه سره مختلـف دي، همـدا شـان خلـک، خزنـدې او چارپایان هم بېلابېل رنګونه لـري، بېشـکه چې يـوازې د الهـي حقيقـت پېژندونکي بندګان د هغه په وړاندې خپل ځانونه کم بولي.

دغه دواړه ایاتونه د هغو شیانو د علم یادونـه کـوي چـې ټـول يـې لـه ساینس سره تړلي دي، د ایت په پای کې يې يو ځای د عقل خاوندان او بل ځای هغه علماء بللي دي چې د خدای عظمت په خپلو سترګو ویني،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې وروسته خپل ځان د هغه په وړاندې کم ګڼي او د علم، معرفت، سمې پېژندنې او مينې له مخې د هغه قوانين عملي کوي او ځان ته دا حق نه ورکوي چې د داسې يوه ستر او عظيم رب له قوانينو مخالفت وکړي. د يخشی اصل معنا هم دغه ده چې د يو چا د عظمت تر پېژندلو وروسته خپل ځان دهغه په وړاندې کم وبلل شي؛ که څه هم په عربي کې ځينې الفاظ د نورو پر ځای کارېږي، مګر يو د لفظ خپله اصلي معنا وي او بله يې مجازي، د يخشی اصل معنا همدغه ده او که بل ځای د خوف لپاره وکارېږي، نو هغه به يې مجازي معنا وي.

۱۴/۹/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایا په اسلام کې مذهبونه یوه اړتیا ده؟

د اسلام له پیل را وروسته یوازې د رسول الله ص زمانه هغه موده وه چې په اسلام کې دننه د اسلام په نوم ګڼې ډلې او مذاهبو وجود نه درلود، د هغه تر مړینې وروسته د اصحابو له زمانې فکري اختلاف پیل شوی دی چې په را وروسته پېړیو کې دې اختلافاتو دومره شدت ومونډ چې مسلمانانو یو له بل څخه لارې جلا کړې، یوې ډلې خپله لار سمه وګڼله او بله یې رد کړه، حتا سره تکفیر یې کړل او جنګونه وشول.

فکري اختلاف خو د بشري ژوند یوه برخه ده، اختلاف تنوع ده او بې تنوع ژوند خوند نه کوي، بلکې ژوند ورسره درېږي، اختلاف که تنوع ته لار جوړوي، ابتکار را منځته کوي، کلېشه شوی فکر ځای نوي ته په دې توګه ایله کړي، نو بد نه دی، بلکې هدف دی.

مګر که اختلاف شدت ومومي، فزیکي شخړو ته ورسېږي، جمود ته لار جوړه کړي او د تنوع پر ځای د جمود داسې یو وضعیت را پیدا کړي چې هر څه ورسره ودرېږي، د انساني ذهن د فکر برخه ورسره فلج شي او وچ کلک ړوند تقلید کې خلک په ځنځیرونو تړلي خوشاله وي، دغه ډول اختلاف یې مردود دی او پایلې یې هم بدې راوزي.

موږ دواړه ډوله اختلاف وینو، خو لومړی ډول یې په کمه کچه دی او دویم ډول یې په لویه پیمانه شته. په ژوند کې اصلن لومړی اختلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



هدف وي او دويم يې مردود، موږ مردود اختلاف ته لار جوړه کړې او هغه ښه مو ايله کړې دی. له اختلافه تېښته نه شته، ځکه انساني افکار، استعدادونه، پوهه، د ژوند شرايط، رواني حالت، له خپل چاپېريال او نړۍ څخه معلومات او پر بنا يې ليدلورې، په ديني متن پوهه او تر څنګ يې د هغې ژبې علم، مذهبي تعصب او ګڼ نور عوامل ټول توپير سره لري، له دې امله اختلاف حتمي دی او د تېښتې هيڅ لار ځنې نه شته.

تر دې پاسنيو عواملو ور هاخوا انساني ژبه هم هر وخت د تغيير په حال کې وي، الفاظ يې د وخت، ځای او ټولنې په بدلېدو خپل مفهوم بدلوي، له دې حقيقته هم سترګې نه پټېږي چې له يوه متن څخه ګڼ خلک ګڼ مفاهيم را باسي، دا د انساني ژبې يو داسې خصوصيت دی چې هم ښې پايلې لري او هم بد عواقب. بيا د ديني متن نزول په يوه خاصه زمانه کې کېږي چې د هغه زمانې، مکان او ټولنې ځانګړې تاثير پر حتمي دی، ځکه د هغوی په ژبه وي، اصطلاحات، محاوره، متلونه، مجاز و حقيقت، تفصيل و اجمال او ګڼ ورته ژبني مسايل يې ټول په پام کې نيول کېږي، که داسې ونه شي، نو د يوې نوې ژبې اختراع به کوي چې په هغه ژبه بيا د انسانانو پوهاوی ممکن نه دی، سره له دې چې دغه ديني متون اساسن د انساني پوهاوي لپاره راغلي دي، نو که د انسانانو د ژبې ټول مسايل په پام کې ونه نيسي، بيا زموږ پوهاوی ور باندې ممکن نه دی او اساسي هدف يې له منځه ځي، نو دا خبره يو روښانه حقيقت دی چې د ټولنې کلتور د دين پر ژبه، احکامو، عملي طريقې ټولو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاثیر لري، دا چې دین په څنګه شرایطو کې نازلیږي، دا یو اړخ، او بل یې دا دی چې وروسته انسانان د دغه وخت په شرایطو پوهیږي که نه؟ له دیني متن څخه خپلې ټولنې ته په کټو فهم اخلي، هغه د نزول د وخت شرایط یې یو مخیزه له پامه اچوي او که دواړه په نظر کې نیسي، وروسته فهم ور څخه اخلي، یا هم یوازې د نزول وخت ته پام کوي، د دوی ټوله هڅه دا وي چې دیني متن پخوانی زمانې ته کش کړي، د هغه وخت خلکو چې څنګه فهمولی وي، دوی یې هماغه ډول فهم کافي بولي، تر دې وروسته بله ډېره جدي ننګونه را منځته کیږي، هغو کسانو چې له دې متن څخه فهم اخیستی دی، ایا هغوی خپلو حالاتو او غوښتنو ته په کټو برداشت ځنې کړی او که د نزول د وخت شرایط یې ورسره رعایت کړي یا هم یوازې د پخوانی زمانې شرایط یې مدنظر نیولي، ورسره جوخت دا مسله پیدا کیږي چې دوی د هغه وخت په حالاتو څومره سم خبر شوي دي، دغه انتقال د هغوی تر زمانې څومره دقیق شوی دی او دوی څومره په ښه توګه ور باندې پوه شوي دي؟ د هغوی له برداشتونو څخه بیا زموږ برداشت اخیستل هم دوه حاله لري، یو یې زموږ د وخت شرایطو ته په کټو ور څخه فهم اخیستل دي او بل د هغوی حالت ته په کټو فهم دی، دا خبره چې په دې توګه څومره سره اوړدوې، همدومره ستونزې ایجادوي او قرن پر قرن خبره سختیږي، پیچلیږي کیږي، له خلکو څخه دیني ماهیت ورکیږي او حتا د تېرو خلکو برداشتونه هم د ګڼو تعبیرونو له امله ګن جوړیږي او د یوه مسلک د بنسټګر اصل خبره هم په ګڼو تعبیرونو کې ورکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ټولو ستونزو سره نو د مذهب څومره اړتیا پاتېږي؟ هو دا خبره هم حقیقت ده چې اختلاف اړین دی بې اختلافه هم نه کېږي، اوس پوښتنه داده چې بیا خو مذهب سهي شو، له دې سره چې مخکې یې په وړاندې د غرونو غوندې غنډونه موږ بیان کړل، مګر دا چې اختلاف حتمي دی، نو تر اختلاف او ځان ځانی ښه خبره داده چې مذهب جوړ شي او خلک په یوه تار وپېیل شي، څو ناوړه وضعیت رامنځته نه شي.

مګر زه په دې نظر نه یم، د اختلاف د ختمولو لپاره مذهب او بیا په پوره شدت پرې درېدل یې حل لار نه ده، دا سمه ده چې اختلاف به حتمي وي او ډېر زور ور کول، فزیکي شخړې را منځته کول یا زموږ د وخت ډلو ډلبازیو ته یې رسول، هم یو ډېر بد عمل دی، ښه نو کومه لار به غوره کوو، دا خو سمه د پاڼ او پړانګ ترمنځ شوه؟! هر سړی چې خپل لیدلوری ولري، د هغه یو څه پیروان پیدا کېږي او دغه د مذهب بنیاد دی، دا تسلسل پسې اوږدېږي او د نني مذهبپالنې بڼه اخلي، په دې کې څه خرابي ده، لوړو تشریحاتو ته په کتو خو دا یوه حتمي پایله نه ده؟

زه وایم: ده؛ مګر په دغه توګه نه لکه اوس چې رواج ده. مذهب اړین دی، له دې عوام خلک هیڅ چاره نه لري، خو یوه خبره بېرته شته، له دیني متن څخه چې د مذهب امامان برداشت کوي، د هغوی په متن څوک پوهېږي؟ که هر سړی د هغوی له متن څخه تشریح او ترجمه کوي، هغه بېرته همدې پاسنیو مشکلاتو سره مخېږي، نو که دا تسلسل پسې اوږد شي، بیا یې هغه غرونه خنډونه په وړاندې درېږي لکه وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مې لنډه اشاره ورته وکړه، تر دې دا ښه ده چې پوهان خلک دې پـه هره زمانه کې د نویو مسلو د ځواب لپاره د شریعت متن ته رجوع وکړي، له خپل فهم او بشري توان سره سم چې یې څه برداشت څنې واخیستی، دا به تر هغه ښه وي چې د پخوانو پر فهم تکیه کېږي، دا کار دې یوازې پوهان کسان کوي نه عوام الناس، هغه کسان چې د اجتهـاد پـه شرایطـو پوره وي، په دې کې به هم نویو مسلو ته نوی حـل ومونـدل شي، نـه بـه مذهب په دومره سخته بڼه عملي کېږي لکه نن چې یې موږ وینو، قران او سنت پاته وي، خلک په مذهبي اختلافاتو اختـه وي او د دینـي مـتن پـر ځای خلک د نورو په لاس لیکل شوي متون په شد او مـد زده کـوي. دا خبره هم باید یاده شي چې له اجتهاد څخه هم اوخ باید جوړ نه شي او نه دې عنقا مرغه جوړوي چې پخوا یې وجود و اوس ختـم شـوی دی، تـر هغو چې ژوند وي، اجتهاد به وي، خو نه د سفلیانو په شان چې نالوستی یې هم مجتهد وي او نه د مذهبیانو په شان چې لوی نومور علماء یې هم د واضح نص په مقابل کې د یوه فقیه د کتاب تر متن نه شي تېرېدای، نه باید د سلفیانو په شان وي نه د مذهبیانو، بلکې بین بین لار به ورته غوره وي.

زما په نظر ښه حل لار ورته دا ده چې هر کس و ناکس دې لـه مسـلو بند شي، بلکې یو کس ته دې د مسلو ورکولو اجازه نه ورکول کېږي، د مسلمانانو په هیوادونو کې دې ځانگړې اداري جوړې شي چې د دولـت تر چتر لاندې به فعالیت کوي، عوام خلک دې له رسمي ادرسونو پوښتنه کوي، که مسله په واضحو نصوصو ثابته وي، بیـا دې لـه همـدې ځـواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، که اجتهادي وي، بيا دوې لارې دي: نوی اجتهاد دې ورته وشي يا دې هم د پخوانو په اجتهاد حل کړي، په دې شرط چې نه اوس ستونزې وټوکوي او نه په مجموع کې له ديني پيغام او ماهيت سره تصادم ولري، په دې توگه به خالصه اسلاف پرستي ختمه شي، خلک به د دين تابعداري شروع کړي، د هر چا خبرې به د دين په توگه نه منل کېږي، د فتوا مرجع به معلومه وي، له رسمي ادرسونو يې نشر و اشاعت به خلک مطمئن کړي، اختلافات به کم کړي، د دين په نوم سوداگرۍ، دوکاندارۍ، مناظرې، د تکفير ټاپې، شخړې او حتا وژنې به ورسره ختمې شي، د خلکو له لارې بايد ټول خنډونه ايسته شي، په خلاصه فضا کې دغه اداره پر ټولو مسلو بحث وکړي او هر څه چې ديني جنبه لري، راسن دې يا په ديني نص ثابت کړي يا دې هم داسې اجتهادي لار غوره کړي چې نه پکې ديني پيغام تر پښو لاندې شي، نه کليات د جزئياتو په تول خرڅ شي، نه ځانگړي احکام عمومي شي او نه عمومي ځانگړي، نه مقيد مطلق شي او نه مطلق مقيد، په دې توگه به خلک له ديني متن سره ډېره اړيکه پيدا کړي، مسايل به درست شي، ديني و غير ديني امور به سره بېل شي، د خدای او دين په لار کې يې ولاړ پاڼونه به ونړېږي او د اسلاف پرستۍ پر ځای به د دينپالنه را منځته شي او د مسلکونو په نوم شخړې به ورسره پای ته ورسېږي.

۱۰/۹/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اساسي او فرعي قوانین

د نظام لپاره اسلام ځیني اصولي لارښوونې کړې دي، یو نظام بایـد د هماغـه اصـولي هـدایاتو پـه عمـلي کولـو د فرعـي مسـلو، قضـایاوو او موضوعاتو لپاره د وخت له غوښتنو سره سم قوانین جوړ کړي.

د فرعي قوانینو لپاره دې اساس هماغه د اسلام اصولي او کلي هدایات شي، د اسلام دغه اصولي لارښوونې دې د نـورو قوانینـو لپـاره د اسـاسي قانون حیثیت ولري، بلکې د اساسي قانون په مادو کې دې ځای پر ځای شي، له دې ماسیوا قوانین به ټول پر هماغه معیار لیکل کیږي چې اساسي قانون یې ورته ږدي، په دې توګه به هم یو نظـام اسـاسي اسـلامي قـانون ولري او هم به یې د وخت لـه غوښـتنو سره سـم د ټـولنې سـتونزو تـه لـه قانوني پلوه رسېدګي کړې وي.

یو نظام په دې نه اسلامي کیږي چې یوازې د اسلامي نظام نوم پر ولاړ شي، اسـلام د ټـولنیز او فـردي ژونـد لپـاره لارښـوونې لـري، کـه هغـه لارښوونې یې عملي نه شي، هر څـو چې یـو فرد/ډله/ټولنـه د اسـلامیت نارې ووهي، څوک یې نه ورسره مني او نه د الله په دربار کې د قبولیـت مقام خپلولای شي.

اسلام د یوه دین په توګه له سیاسته، بیا تر سولې، اقتصاده، نړۍ والـو اړیکو، فردي او ټولنیزه ژونده ځیني اصولي او کلي لارښوونې کړې دي، چې پېژندل او عمل په کول بیخي اسانه کار دی.

که داسې ووایم چې د قران کریم دغه لارښوونې د نورو موضوعاتو د حل لپاره د قوانینو ایجاد ډېر اسانه کړی دی، مثلن: قران کریم عـدالت د ټولنې/فرد لپاره لازمي بولي، د پرېکړې پـه وخـت کـې یـې خلکـو تـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدالت امر کړی دی، خو عدالت يې نه دی تعريف کړی، په دې توګه يې موږ ته يوازې يو اصل راکړ، دا چې هره ټولنه ممکن د عدالت لپاره بېل تعريف ولري، نو په فرعي قوانينو کې به يې هم توپير حتمي ترسترګو کېږي، دا پروا نه لري، خو چې هغه ټولنه د عدالت پر همدې معيارونو سره متفقه وي، خلک پکې متضرر نه وي، قران د همدې امر کړی دی او ټول افراد يې په رعايتولو مکلف دي. نو هر قانون چې جوړېږي، عدالت به په نظر کې نيسي، دغه ډول نور هدايات هم.

په دې سره به هم اوس د بې قانونۍ خلا ډکه شي، هم به د خلکو ستونزو ته د قانون په چوکاټ کې د حل مرجع وموندل شي.

نور هغه وخت تېر دی چې ټولنه به په هر ډول مسايلو کې د يوه ملا او مفتي په فتوا چلېده، په نړۍ کې ددې لپاره نن قوانين موجود دي، د هغو قوانينو لپاره دې د قران کريم اساسي کلي ټکي معيار شي او نور دې په ازادانه توګه قوانين وليکل شي، اسلام يې ممانعت نه دی کړی، بلکې د ټولنې اړتيا ته په کتو بايد دا کار حتمي شي .

د عباداتو په برخه کې دې يوازې يوه مرجع وي چې ټول علماء يې منل شوي ديني عالمان، تقوا داره، د زمان، مکان او ټولنې له شرايطو باخبره کسان وټاکل شي چې هم د خلکو پوښتنو ته ځواب وويل شي او هم د اختلاف مخه ډب کړي.

ټولنه قانون ته ډېره اړتيا لري، له نړۍ سره اړيکې، سياست، نظام، اقتصاد، ملي مسايل، د مشر ټاکنه، د واک موده، د چارواکو صلاحيتونه او ګڼ مسايل خو د ملا په فتوا نه حل کېږي، د دې لپاره خو د قوانينو اړتيا ده چې هر څه په مکمل ډول تشريح کړي، داسې خو نه کېږي چې له نړۍ سره د اړيکو لپاره يو ملا فتوا در کړي، نو که يوه ملا يوه فتوا در کړه او بل بيا بل ډول، بيا به څه کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډېره د شرم خبره ده چې په معاصره نړۍ کې د قانون پر ځای زموږ د هیواد چارواکي حکومتداري او سیاست د ملا په فتوا کوي، دا نه په اسلام کې اساس لري او نه د قانون له مخې جواز.

د عالم فتوا دې یوازې عبادت اړخ مسایلو پاتـه شي چې هغه هـم د دولت له دار الافتاء څخه حل و فصل شي، د هیواد ټولو علماء دې په دې مکلف شي چې یوازې دې همدا فتوا بیان کړي، په دې سره به هم د خلکو پوښتنې ځواب شي او هم به د اختلافاتو مخه ونیول شي.

یو شمېر کسان فکر کوي چې موږ ته را پاته علمي فقهي میراث دومره بډایه دی چې د هر ډول مسایلو حل یې وړاندې کړی دی، د هر وخت او هر ځای لپاره بسنه کوي او هره ټولنه خپلو مسایلو ته په کتو له دې میراث څخه ګټه اخیستلی شي او ستونزې یې په اوارېږي.

دا خبره تشه ادعا ده، نه یوازې دا چې حقیقت نه لري، بلکې غلطه هم ده، حتا که ووایم دغه ډول ادعا ناروا ده. ولې؟ ځکه یوه لور ته د انسان ګڼ محدودیتونه دي او بل لور ته په ژوند کې لا یتناهي مسایل دي، نو څنګه امکان لري چې مسایل دې پیدا شوي نه وي او یوه فقیه دې پخوا لا حل ورته موندلی وي؟ که داسې وي، نو د نویو مسلو لپاره دې د اجتهاد دروازه بنده کړي، قرضاوي، غزالي، وحید الدین، ذاکر نایک، غامدي، سروش، محق او دې ته ورته د نړۍ په سلګونو علماء دې د نویو مسایلو د حل لپاره سرګردانه کېږي نه، بلکې دا هر څه په همدې میراث کې حل و فصل پراته دي، زموږ د کلي ملا لا په خبر دی، نو ولې یې له قران او سنت څخه د بیا حل لپاره مجلسونه کېږي، غونډې دایرېږي، اجتهادونه کېږي او نوې فتواوې صادرېږي؟ هغه ادعا دغه عمل په خپله ردوي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسمه ځکه ده چې ډېرې مسایل اصلن دیني جنبه نه لري، نو څنګه به یوه فقیه له وړاندې چې مسایل لا پیدا شوي نه وي او نه هم له دین و شریعت سره سر و کار ولري، حل ورته پیدا کړی وي؟ که د اسلامي نړۍ په ډېرو پرمختللو هیوادونو کې موږ وګورو نو هغوی د دې وړ مسلو لپاره نور وضعي قوانین جوړ کړي دي څو غیر شرعي مسایل پر هماغو قوانینو حل و فصل کړي. د دې لپاره خپل زموږ په فقه کې هم د استناد توکي شته، موږ چې کوم مسایل په قیاس او اجتهاد حل کوو، د هغو یوه برخه د علت مشترکه له امله سمه ده چې شرعي مبنا پیدا کولای شي، مګر داسې هم شته چې هسې په زور یې سره تپلي دي، ځکه هغه د شریعت پر همدې مبنا نه جوړېږي، له دې امله یې ترمنځ خورا ژور اختلافات وي، دوه کسان یې پر یوه لار نه سره ځي، وجه یې داده چې اساسن هغه دیني نه دي، دوی په زور له دین سره تړلي دي، ښه نو یو شی یا ستونزه چې له دینه را پیدا نه وي، او موږ یې په لوی لاس په دین پوري تړو بیا یې حل نه شو وړاندې کولای، د دې اړتیا څه ده؟ رسول الله ص واضح ویلي دي چې اوتیت جوامع الکلم، زه فارمولې بیانوم، موږ ته غټ چوکاټونه دین ایښي دي، د هغو په رڼا کې او د همدې چوکاټ په رعایتولو سره موږ حق لرو چې ځیني قوانین نویو مسایلو د حل لپاره جوړ کړو. د فقهې دغه تعزیري مسایل د کوم ایت یا حدیث پر بنا ور کول کېږي؟ یوه کس ته نغدي جریمه ور کول کېږي، بل ته له جریمې سره بند هم، یو کس وهل کېږي او بل له وهلو سره بندي کېږي هم؟ دلته خو شریعت یوازې فارموله در کړې ده، د هغه لوی چوکاټ ته په کتو تاسو د همدې جزیو په اړه خپله پرېکړه کوئ، حالات، ټولنه، وخت، ځای، مجرم، جرم او دې ته ورته نکتې ټولې په نظر کې نیسئ او پرېکړه کوئ، دې ته تاسو حتمن د شرعي مسلې نوم ور کوئ، خو که یو څوک د شریعت له همدې فارمول

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه په استفادې د شرعي چوکاټ په رعایت سره د مدني قانون پـه نـوم یو قانون جوړ کړي او د هغه قانون په ساحه کې مسایل په حل کړي، نـو ستا ورسره څه مشکل دی؟ که یو فقیه د خپل اجتهاد پـه مـټ سـل، دوه سوه، درې سوه ان زر کاله مخکې د یوې مسلې په اړه نظر ورکولای شي چې لا هم هغه مسله ایجاد شوې نه ده، نه یـې ټولنـه پـه نظـر کـې نیـول شوې، نه یې نوعیت ته پام شوی، نه وخت ورته مطرح دی، نه ځای، نو ستا عقل څنگه دا اجازه هغه چا ته نه ورکوي چې هم ټولنه په نظـر کـې ساتي، هم وخت او مکان ورته مطرح دي، هم نوعیت تـه توجـو کـوي، هم د تېرو علماؤ تعبیر د هغوی په وړاندې دی، هم د خپل وخت علمـي پانگه ورسره ده او له دې ټولو سره د یوه فقیه یا قانون پـوه پـر ځـای یـوه درسته کمېټې دغه کار ته اوږه ور کوي، که څه هم دا کار د فقهې په نوم نه کوي، د وضعي قانون په نوم یې کوي، نـو سـتا یـوازې پـر نـوم ورسره شخړه ده او که تاته یوازې اسـلاف پرستي خونـد درکـوي د نـن زمـانې علماء درته علماء نه ښکاري؟ ته مسایل او ستونزې حل کـول غـواړې او که په دې توگه نه یوازې ایجاد شوې ستونزې نـه حلـوې، بلکـې د نـورو ایجاد ته زمینه سازي کوې؟ له دې سره ته هم د یوه فقیه په کتاب یا فکـر عمل نه کوې، د امام صاحب د مذهب په نوم دې مسلک کې څـو سـلنه مسایل د هغه خپل دي؟ څومره فقهي اصول د هغه لیکل شوي دي؟ څـه دا شاگردان به هم د هغه په شان فرض کړو، څومره مسایل ته اوس د هغه وخت د علماؤ په تعبیر حلـوې؟ ایـا تاسـو اوس نـوي اجتهادونـه نـه دي کړي؟ تا له یوه مسلک څخه بل ته منډه نه ده کړې؟ د مفقود په مسله کې پر خپل مسلک ولاړ یې که د امام مالک په مذهب دې عمل پیـل کـړی دی؟ که تاسو دا حق لرئ، نو نورو ته ولې نه یاست په قایل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دغه قانون مقدسه جنبه نه لري، نو ستا اجتهادي قوانین یې هم نه لري، ځکه دا خو له شرعي متن څخه د یوه انسان فهم دی، د هغه برداشت دی، انساني فهم او برداشت ته څنګه مقدسته صبغه ور کوې؟ تاسو په دې توګه دوه سنګین جرایم کوئ: یو د شریعت له مقدس متن سره خپل برداشت/فهم/کتاب په یوه درجه کې ږدئ او دویم دا چې په دې سره د خلکو خولې بندوئ او د واقعیت له درک پرته ستونزو ته ستاسو په اند رسېدګي کوئ چې د حل پر ځای یې نوره خرابي را منځته کوئ، دا تجربو ثابته کړې ده او هسې خوشې چتې ادعا نه ده!!!

دا خبره باید ومنل شي چې فقه د اسلامي امت یو ډېر غوره علمي میراث دی، پر خپل ځای له پوره اهمیت څخه برخمن دی، مګر د یوه شي تاریخي اهمیت دا معنا نه لري چې حتمي باید اوس هم نافذ شي، هغه تاریخي میراث موږ ته د خپلې ماضي په اړه معلومات راکوي، د هغوی د ټولنې، کلتور، علمیت، مسایلو، ستونزو، حل او فصل، حکومتداري، اقتصاد او نورو په اړه له موږ سره د موادو یوه بډایه ذخیره ده، خو له دې ټول اهمیت سره سره د اوس مسایلو ته له ځواب ور کولو عاجزه ده. دا اقعیت که درک نه شي، نو هم به د ځان تاوان وکړئ، هم د ملت و وطن او په خاص ډول دین ته به ځانګړې ضربه ور کړئ، تر کومه ځایه چې د پخوانو پوهانو تعبیر د اوس وخت له مسلو سره ربط لري، ځواب یې وایي، نافذ یې کړئ ستونزه نه لري، ورسره دا واقعیت باید ومنئ چې ډېر داسې مسایل شته چې نوي قوانین غواړي، دا قوانین دې ولیکل شي، بیا د فقهې نوم پر ږدې که د قوانینو، هغه ستاسو کار دی، مګر هو چې مسایلو ته یې سمه معقوله رسېدګي کړې وي، نه وخت صرف نظر شوی وي، نه مکان، نه ټولنه، نه اړتیاوې، مسایلو ته یې حل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کړی وي، داسې نه چې يوه حل کوي، لس نورې را ولاړې کړي، دا حل نه دی بلکې لا زياته خرابي ده.

که په اخير کې يو څه سپين وږغېږم نو فقه په خپل وخت کې د پوهانو له لوري د وخت مسايلو ته د حل يوه هڅه وه چې هغه وخت ورته فقه ويل کېده او اوس يې خلك د اساسي، مدني، حقوق تجارت او پلان و پلان د قوانينو په نوم پېژني، نور يې ماهيت يو شی دی، که څه هم نوم به يې سره جلا وي، د شکل له مخې ممکن يو او بل ډول اوډل شوي يا ليکل شوي وي، خو ماهيت، ماهيت دی په دې شيانو له منځه نه ځي. نو تر اشکالو را تېر شئ، ماهيت وپېژنئ، تېر ايله کړئ، په حال کې ژوند وکړئ، خيالونه پرېږدئ واقعيت درک کړئ، د خپل غرور له بامه را کښته شئ له ملت سره د ځمکې پر همدې متواضع مقام يوځای کېنئ، ستا د فهم تقدس او زما د فهم ناتقدس، تر دې کيسو تېر شئ ټول غير مقدس دي، راځئ په ګډه د دې ملت د خادمانو او دې خاورې د ساتونکو په توګه يو بل ته لاسونه ور کړو، ستونزې حل کړو او د خپل دې ژوند او اينده ژوند لپاره يوه کارنده، معقوله نقشه تياره کړو چې ستونزې راته ايجاد نه کړي، بلکې په عملي کېدای يې د ښه ژوند خاوندان شو.

۲۰۲۲/جولای/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علم کتاب د بې علمو په لاس کې

پښتانه وايي: د زرو قدر له زرگر سره وي؛ سم وايي، ځکه يو ماشوم د زرو په گوتمۍ څه پوهېږي، يو کس د هسې ژړو او زرو څه توپير کولای شي، گڼ کسان مې ليدلي دي چې په همدې توگه بازار کې چلبازو دوکه کړي وي او ژړ يې د زرو په نوم پرې تېر کړي وي.

د خدای د کتاب په حق کې له موږ سره همدا د زرگر او نازرگر معامله کېږي، تاسو فکر وکړئ چې له نن څخه شاوخوا ۱۴۰۰ کاله وړاندې د يوه کتاب د نزول پيل د لوست په الفاظو وشو او وسره په خوا کې يې د علم يادونه د يوه نعمت په توگه وکړه، بيا يې د خپل نزول په تدريجي مراحلو کې گڼ ځايونه پر انسان د خدای د دې نعمت يادونه وکړه چې د علم تر لاسه کولو وړتيا يې ور کړې ده، د علم په وسيله قلم يې قسم وکړ، قران کريم يې د پوهانو لپاره د خدای وروستی کلام او حجت وباله(البقره: ۲۳۰، الانعام: ۹۷، الانعام: ۱۰۵، الاعراف: ۳۲، التوبه: ۱۱، يونس: ۵، النمل: ۵۲، فصلت: ۳).

د عربو په خرافاتي ټولنه کې يې د علم ډېوې بلې کړې، ښځو ته د انسانيت له لاسه وتلی مقام يې بېرته ورکړ، د نرانو په څنگ يې د علم پر ميدان ودرولې، هغه عرب چې د لور پيدايښت ورته د شرم و عار سبب و، اوس يې د خپلو لوڼو په کارنامو وياړ کاوه، د عائشې صديقې رض نوم د علم په ډگر کې له هيجا پټ نه دی، د تقوا او زهد په ميدان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رابعه بصري نوم د تاریخ په پاڼو کې ثبت دی، په نبوي دور کې د کار له میدانه، بیا تر جنګ، سیاست، عبادت، علم، تجارت، ټولنیز او اجتماعي کارونو پورې نر او ښځه یو له بل سره اوږه په اوږه روان شول او په لسو کلونو کې یې یوه داسې ټولنه رامنځته کړه چې د هغه وخت لپاره یوه نمونه وه. د تاریخ په پاڼو کې دا هم ثبت دي چې د عمر فاروق رضي الله عنه غوندې یوه هیبت لرونکي خلیفه چې د جمعې په خطبه کې له نبوي منبره خلکو ته وویل: زما په نظر که د ښځو په مهرونو کې دا ډول اصطلاحات راولو، نو یوې ښځې تر بل هر چا وړاندې د قراني کریم له یوه ایت په اجتهاد د هغه پر خبره نیوکه وکړه. دا هغه ټولنه وه چې تر دې لس و شل کاله وړاندې یې همدا ښځې په خاورو کې پټولې خو لس کاله وروسته له خلکو په ډک جومات کې د وخت خلیفه ته خبره ور ګرځوي او د خپل ورسره علم په مټ عمر رض بې ځوابه کوي.

د حدیثو په کتابونو کې داسې ډېر روایات شته چې د یوې مسلې د ځواب لپاره لویو اصحابو له نبوي میرمنو د پوښتنې لپاره خلک لیږلي دي او په دې سره یې د هغوی علمي ستر مقام ته درناوی کړی دی.

د خدای د کتاب غوښتنه وه چې له نبوي کاروان سره به هر ځای مسلمانې میرمنې همرکابه وې، د بدر او احد جنګي میدانونه وو که د حجة الوداع د سخت عبادت ډګر، په کور کې د علم د زده کړه وه که په اجتماعي کارونو کې فزیکي حضور یا هم د مالي مرستې اړتیا به یې وه، ښځو ځان نه دی سپمولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ستر انقلاب د هغه کتاب معجزه وه چې نن هم زموږ په کورنو کې را سره پروت دی، مگر د دې پر ځای چې خپلې ټولنې د سوکالۍ تعبیر ځنې وکړو، موږ داسې تعبیر ځنې کوو چې حتا نیم ملت ته د کار، تعلیم او اجتماعي عبادت اجازه نه ور کوو!

علم یوازې هغه نه دی چې زموږ تعبیروال یې معرفي کوي، د قران کریم له مخې د علم میدان ډېر پراخ دی، تاسو پر دې دوو ایتونو فکر وکړئ:

{إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ (١٩٠) الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ}.

[آل عمران: ۱۹۰، ۱۹۱]

د اسمانو او ځمکې په پیدایښت او د شپې و ورځې یو په بل پسې راتلو کې د عقل خاوندان ته د عبرت غټې نښې دي، دوی هغه کسان دي چې د الله دین پاس په ولاړه، ناسته او پر اړخ په پروته ساتي(یعنې ټول وخت یې پرې نظر وي عمل په کوي) د کایناتو د لوړو او کښتو برخو په اړه تر فکر وروسته وایي: اې زما ربه! دغه ټول نظام دې بې گټې نه دی پیدا کړی، له بې گټې کارو څخه ته ډېر لرې او منزه یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



{أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَاتٍ مُخْتَلِفًا أَلْوَانُهَا وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ (۲۷) وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَابِّ وَالْأَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ كَذَلِكَ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ}.

[فاطر: ۲۷، ۲۸]

دې ته دي فکر نه دی کړی چې الله له اسمانه اوبه نازلوي، موږ په همدې یو رنګه اوبو ګڼ رنګه مېوې را پیدا کوو، غرونو ته دې پام نه دی کړی چې ځینې تکسپین، نور یې سره او یو بل ډول یې تکتور دي، ځنګه یې رنګونه سره مختلف دي، همدا شان خلک، خزندې او چارپایان هم بېلابېل رنګونه لري، بېشکه چې یوازې د الهي حقیقت پېژندونکي بندګان د هغه په وړاندې خپل ځانونه کم بولي.

دغه دواړه ایاتونه د هغو شیانو د علم یادونه کوي چې ټول یې له ساینس سره تړلي دي، د ایت په پای کې یې یو ځای د عقل خاوندان او بل ځای هغه علماء بللي دي چې د خدای عظمت په خپلو سترګوویني، تر دې وروسته خپل ځان د هغه په وړاندې کم ګڼي او د علم، معرفت، سمې پېژندنې او مینې له مخې د هغه قوانین عملي کوي او ځان ته دا حق نه ور کوي چې د داسې یوه ستر او عظیم رب له قوانینو مخالفت وکړي. د یخشی اصل معنا هم دغه ده چې د یو چا د عظمت تر پېژندلو وروسته خپل ځان دهغه په وړاندې کم وبلل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره چې قران کريم د علم پر ټولو برخو ټينګار کړی دی، مګر زموږ تعبيروال يوازې د فقهې کتابي پوهي ته علم وايي، هغه ته يوازې ځان عالم ښکاري، څوک چې رياضي پوه وي، يا فزيک پوهي يا هم ټولنپوه، دوی ته عالم نه ښکاري، بلکې په خپلو مجلسونو کې يې امي (نالوستی) بولي، له ځانو ماورا ټول ورته اميان ښکاري، هغوی ګرده خلک اميان بولي، که تاسو ورسره خبرې وکړئ، نو دوی په خپلو خبرو کې له ملايانو ماسيوا د هر چا لپاره د امي لفظ کاروي، له دې ښکاري چې د خدای له علمه ډک کتاب څنګه ناخبره عالمانو؟! ته په لاس ور غلی دی!

زموږ تعبيروال د علم له همدې جالب کتاب څخه تر اوسه پر دې مسلې سره يوه خوله نه شول چې ايا دغه کتاب ښځې ته د يوه بشر په توګه د علم زدکولو او کار اجازه ورکوي که نه؟ که ورکوي يې نو طريقه يې څه ده؟ دا چې د طريقې بيان يې نه دی راغلی، نو حتمي خبره ده چې ښځه يا د کور ده يا د ګور، د علم او کار له ميدان به يې باسو، ځکه قران کريم ويلي دي!!!

اصلن د قران کريم له رويه د ښځې د کار او علم مسله د بحث وړ نه ده، قران کريم د ګرده بشر لپاره دی، نران او ښځې ورته علی السويه دي، که د لمانځه امر کوي، نو هر وار ښځې ته نه وايي، که د روژې امر وي، حتمي نه ده چې هرې نوعې ته جلا امر وکړي، بلکې ټول د هغه د احکامو په وړاندې برابر دي، د قران کريم په رڼا کې علم ډېر ګټور دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک يې ورته هڅولي دي، دا توپیر يې نه دی کړی چې نران دې وکړي او ښځې دې په کور کې بندې کېني!

ښځه د يوه انسان په توګه د کار، تعليم، تجارت او ګرځېدا راګرځېدا حق لري، قران کريم د عبرت تر لاسه کولو لپاره انسانانو ته امر کړی دی چې تاسو په ځمکه کې سفر وکړئ، د عبرت او درس تر لاسه کولو ډېرې نښې به ومومئ، نو ايا دې ښځه حق نه لري؟ قران کريم بايد ښځو ته ځانګړی امر وکړي او بيا يې د سفر طريقه هم بيان کړي، که نه ملا صاحب بنديز پر لګوي؟!

څوک چې په قران کريم رښتيا خبر وي، د هغه په تعليماتو او پيغام پوه شوی وي او تر څنګ يې په رښتني ډول ۲۱ پېړۍ کې ژوند هم کوي، هغه ته بايد دا موضوع بيخي د بحث وړ نه وای چې ښځه د وتلو، تعليم، کار، تجارت، مشري او نورو کارونو اجازه لري که نه؟

دا چې تر اوسه هم دا مسله حل نه ده، او خدای مه کړه د ابد لپاره يې فتوا او عمل همداسې نه شي، له دې ښکاري چې د علم پالونکی، ستايونکی او هڅونکی کتاب د څنګه خلکو تعبير او تفسير ته پاته دی!!!

۷/۹/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبادات او له ژوند سره یې تړاو

موږ عبادت د یوه عادت له مخې کوو، ځکه نو نه په عبادت کې شته پیغامونو ته متوجې کېږو او نه یې له عملي ژوند سره په تړاو پوهېږو.

قران کریم د عباداتو په اړه ویلي دي چې د دې کارونو په کولو له بدو را منعه کېږئ[العنکبوت: ۴۵)، ښه انسانان در ځخه جوړېږي(البقره: ۱۸۳)، د خدای د قوانینو پابند مومنان در ځخه جوړېږي، له دې معلومېږي چې عبادات د انسانیت لپاره ځانګړي پیغامونه لري او د کولو فلسفه یې هم په همدې پیغامونو کې ده، که نه الله د یو چا لمونځ ته څه اړتیا لري او روژه یې څه کوي؟ عبادات په خپل ذات کې هدف نه دي، خو مهم دي.

د زمانې په یوه مقطع کې عبادت کول د ټول ژوند لپاره تمرین دی، لکه پوځي چې د خپل ټول ژوند لپاره یوه ټاکلې موده تمرین کوي، مسلمان هم د خپل ژوند لپاره عبادات د تمرین په توګه کوي .

د لمانځه لپاره طهارت او نظافت څومره مهم دی؟ په ټول ژوند کې همدومره مهم دی، په دې حرکاتو پوهېدل څومره اړین دي؟ د خدای په دین پوهېدل هم اړین دي، ورته خاصه توجو او عملي کول یې څومره ارزښتمن کار دی؟ د خدای احکامو ته توجو او عمل په کول هم په دغه کچه ضروري دي. د عبادت یاد او کول یې باید هر وخت موږ د الهي احکامو لور ته متوجې کړي، عابد باید هر وخت د خپل بادار د احکامو پابندي وکړي، موسی علیه السلام ته وایي: **اقم الصلاة لذکري**، دغه مفهوم نه ور کوي چې زما د یاد لپاره لمونځ کوه، هدف یې دادی چې ستا لمونځ دې زما د نور دین او احکامو د پابندي سبب شي، نه دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازې لمونځ وي، خو اخلاق نه، معاملاتو کې بد کرداري، زموږ يوه بدبختي داده چې د خپلو چټلو اعمالو د جبران لپاره روژه نيسو، لمونځ کوو، حج ته ځو، عمره کوو، په داسې حال کې چې دغه عبادات بايد ددې سبب واى چې موږ ناسم معاملات نه کولاى، اخلاق مو سم واى، له ټولنې سره مو ښه تعامل واى، خلکو ته مو ګټه رسېدلاى، د درست انسانيت لپاره تعميري کارونه کولاى، د قران کريم پيغام پر همدې شيانو را څرخي. له بولو يا نجاسته د جامې پاکې د لمانځه لپاره شرط ده، نو ايا د غلا په جامه کې لمونځ کېږي؟ دا چې له خپلو بولو ځان ساته، نو دا معنا لري چې د بل مال او د بل حق به هيڅ وخت نه دراخلې، غلا به نه کوې، په ناسم ډول د بل حق وړل تر هغه لوى نجاست دى چې د لمانځه پر وخت يې له جامې د لرې کولو امر راته شوى دى. دغه تمرين دى، له خپل ژوند سره تړاو ور کړئ، که لمونځ په پاکه جامه کوئ، نو د غلا او ناسم کاروبار په پيسو اخيستې جامې کې يې هم مه کوئ، د لمانځه لپاره پاک ځاى شرط دى، نو دا هم ورته شرط ده چې ځمکې به نه غصبوي، جومات به دې د غصب پر ځمکه نه وي جوړ، که وخت پېژندل ورته لازمي شرط دى، نو د په ټولنه کې د کارونو لپاره د وخت تنظيم هم درښيي، که د جومات پاکوالى د اسلام لارښوونه ده، نو د کور، کلي، ښار، لارې او بل هر ځاى د نظافت تعليم هم در کوي، که د خداى په وړاندې په لمانځه کې د باادبه درېدو درس در کوي، نو د خداى د مخلوق په وړاندې هم بايد ادب او احترام ولرې، که عبادات د خداى امر دى، په وړاندې يې تسليم يې، نو له دې پرته نور الهي وامر او نواهي هم شته چې د هغو په وړاندې هم بايد د تسليمۍ سر ټيټ کړې او په ټولنه کې د نظم په خاطر نور قوانين هم شته، د هغو پاسداري هم بايد له دې وړوکي تمرين څخه زده کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبادات بیخي ډېر تړاو له عملي ژوند سره لري، دا د الهي دین شعایر دي، شعار نښې ته وایي، دغه عمل کول د دې نښه ده چې ته نو په ټول دین عمل کوې، ته مومن يې، د خدای د احکامو په وړاندې دې سر ټیټ کړی دی، ځکه لمونځ له دې وجې کوې چې الله ویلي دي، نو غلا، فساد، رشوت، تخریب، بد اعمال او ټولنې ته ضرر رسونکې کارونه هم له دې امله نه کوې چې الله يې د نه کولو امر کړی دی، ستا لمونځ ستا د دې ټولو کارونو لپاره شعار دی، ته لکه یو پوځي چې خپل مشر ته سلامي کوي، لومړی وار لمانځه ته په داخلېدو سلامي کوې، بیا په خپل لمانځه کې د خالق د دومره کارونو یادونه کوې چې اخیر يې تر تاثیر لاندې په راتلو ورته ټیټېږې او په دې دې هم زړه نه یخېږي، سجده ورته کوې، د هغه تسبیح وایې، سبحان ربي العظیم او سبحان ربي الاعلی، یعنې هغه ستر پالونکی، تربیه کوونکی، روزونکی ذات ستر او اوچت دی، په دې توګه لکه یو ځوک چې تر ډېرې ملامتیا وروسته د یو انسان پښو ته ور لوېږي، موږ د خپل خالق په وړاندې په سجده کې همدغسې حالت ته ځو، تر دې دومره تمرین وروسته که ځوک بیا هم غلا کوي، ناسم کارونه کوي، خلکو ته زیان رسوي، بد اخلاقه وي، د تعمیر پر ځای يې تخریب زیات وي، هغه نه د سجدې، رکوع، لاسونو پورته کولو، قران لوستلو او ټول لمانځه په پیغام او فلسفه پوهېږي، نه د درست دین فلسفه ورته معلومه ده او نه هم د انسان ارزښت باندې قایل دي.

دوی یوازې میراثي مسلمانان دي، د خدای دین يې له دې امله نه دی منلی چې په هغه کې يې د حقانیت نښې لیدلې دي، پر تول پوره ختلی دی، دوی له دې امله مسلمان ځان نوموي چې دمسلمانانو په کور یا ټولنه کې پیدا شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ورځ ځکه بده ده چې موږ شعوري مسلمانان نه یو، زموږ د نوي فیصده خلکو د لمانځه ترجمه هم نه ده زده، دا خو پرېږده چې د دین او عبادت په پیغام ځان پوه کړي، موږ ته هغه ګټه مهمه وي چې زما لاس ورته رسېږي، که څه هم په دې کار کې د ټولنې زیان وي، هغه ګټه چې د ټولنې تر اصلاح وروسته په مجموع کې زه هم ور څخه برخمنېږم، هغې ته انتظار نه شم کولای، زموږ هر سړی په خپل فردي ژوند کې یوازې د ځان ګټې غواړي، که په دې توګه ټولنه بد وضعیت ته ځي، هم بې پروا نه کوو، له دې امله زموږ ټولنه تر ښې بدې ورځې ته نژدې کېږي، زموږ تخریبي اعمال تر تعمیري هغو ډېر دي، موږ د اخلاقیاتو په لحاظ په اسفل السافلین کې پراته یو، هیڅ ډول اخلاقي معیارونو ته ژمن نه یو او هر هغه کار کوو چې په وس مو پوره وي، زموږ تقوا، دین منل، عبادت او اخلاق یوازې تر رسمي چوکاټه محدود دي، که زه پر خپل ځان ونه ډارېږم، د زیان وېره را سره نه وي، نو هیڅکله به ښه انسان ونه اوسم، موږ ځکه د ښه انسانیت تظاهر کوو چې نورو ته ځان ښکاره کوو، له خپله ځان د اذیت مخه نیسو، پر لمن مې د تور داغ لګولو مخنیوی کوم، های که له ما سره د دې هیڅ وېره نه وای یا هم څوک په ما نه خبرېدلای، نو انسان به هغه کارونه کړې وای، چې حیوان به هم ورته ګوته په غاښ کړې وای.

موږ اهداف ورک کړي دي، وسیلې مو هدف جوړې کړې دي، ما وړاندې وویل چې عبادت هدف نه دی، دا لکه د یوه حکومت ځینې شعارونه، لکه بیرغ، ملي سرود، مشر ته سلامي، په اصل کې هدف دا وي چې په ټولنه کې نظم براقرار وي، خلکو ته خپل حقوق ورسېږي، هیڅوک پر بل ظلم ونه کړي، د مظلوم لاسنیوی وکړي او د ظالم مخه ډب کړي، خلکو ته خدمات وړاندې کړي، تعمیري ټولنه جوړه کړي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخریب په هره ممکنه وسیله مخه ونیسي، که څوک یـوازې بیـرغ تـه د خلکو په مخ کې احترام وکړي، خو د ټولنې براقرار نظم بیا اخلالوي، نـو دا بد سړی دی، دغه اصلن د هغه بیرغ احترام هم نه دی کړی، که احترام یې ور ته در لودای، نو د همدې بیرغ چتر لاندې جغرافیه کې به یې فساد نه کولای، ځکه دا د هغه بیرغ قدر او درناوی پـه خلکـو کـې کمـوي، د ملك او هیواد بې عزتي یې ده، د پاچا او مشرانو بې قدري یې ده.

نو زموږ عبادات هم شعارونه دي، اهداف لـه دې ور هـاخوا دي، تـر ټولو لوی هدف پر خدای ایمان دی، که یو څوک سل سلنه بـاور ولـري چې زما اعمال څارل کېږي، یو څوك شته چې ما ته سزا راکوي او که ښه کار وکړم ښه بدله یې راکوي، نـو بیـا تعمیـري کارونـه کـوي تخریـب نـه کوي، عینن کله د یوه پاك نظام، که څوك یې په ساحه کې غیر قـانوني کار وکړي، نو د هغه نظام پاسداران یې نیسي، له قانون سره سمه سـزا ور کوي، په دغسې ټولنو کې ولې جرایم کم وي؟ ځکه د دوی د باور کچـه پخه ده چې زما پر تخریبي عمل حتمن ما ته سزا راکـول کېـږي، لـه دې امله یې نه کوي، که عبادت په مسلمان کې پر خدای باور او ایمان راسخ نه کړ، هغه عبادت بې ګټې دی، که یې له عبادت سره تر تعمیر تخریـب ډېر وي، ټولنې ته د ګټې پر ځای یې زیان زیات وي، دا نـو دینپـالی نـه دینکاری دی، چې یوازې د خدای په نوم د خدای مخلوق تـه دوکـه او فریب ور کوي، له دوی څخه هر وخـت ځانونـه خونـدي کـوئ، ځکـه دوی یوازې چانس ته په تمه ناست دي، که یې د هر ډول تاوان او زیان چانس تر لاسه کړ، نو ځنډ به ونه کړي.

۲۰۲۲/جولای/۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فقه که قانون

له دې سرلیک څخه زما هدف د فقهې او قانون ترمنځ تقابل او تعارض نه دی، بلکې موخه مې یوازې د همدې دوو لفظونو پر انتخاب ده چې له دیني متن څخه زموږ دغه علمي تفسیري میراث ته د فقهې نوم کارول ښه دي که د قانون؟

که د دغه تعبیر شالید په پام کې ونیول شي، نو جوتیږي چې په فقهي کتابونو کې راغلي ټول مسایل راسن واضحه دیني منبع نه لري، حتا ډېر داسې مسایل لا هم شته چې اصلن دیني ریښه نه لري، بلکې زموږ تېرو فقهاؤ په لوی لاس دین رنګ ور کړی دی او په خپلو کتابونو کې یې ځای ور کړی.

پر دې خبره ټول مسلمانان سره یوه خوله دي چې دین د رسول په وسیله خلکو ته ښودل کیږي، عملي بڼه یې رسول وړاندې کوي، دا هم اتفاقي خبره ده چې محمد رسول الله ص وروستی نبي دی(۱)، تر هغه وروسته بل نبي نه شته، دې ته د ختم نبوت اصطلاح کاریږي، یعنې اوس نه نوی شریعت نازلیږي او نه څوک دغه ادعا کولای شي، مګر له دې اتفاق سره، د مسلمانانو لویه برخه مفکرین په دې باور دي چې د شرعي مسلو د حل لپاره له قران او سنت سره په خوا کې د امت اجماع، قیاس یا اجتهاد، مصالح مرسله، قول صحابي، ادیان سابقه او ګڼ نور شیان د سرچینې په توګه کار ور کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته خورا ژور تناقض موجود دی، که ختم نبوت سهي وي، نو بیا د بل چا قول څنګه دیني سرچینه کېږي؟ زما په نظر دې یادو شیانو کې یوازې د تېرو ادیانو را پاته سنت زموږ لپاره د یوې دیني سرچینې ارزښت لري ځکه قران کریم یې هم یادونه کړې ده(الانعام: ۹۰)، البته چې له قران کریم سره ټکر ونه لري، نور اجماع، قیاس، مصالح مرسله، قول صحابي او هر بل شی چې په هر نوم یادېږي، دیني سرچینه نه شي بلل کېدای، اجماع به د هغوی لپاره چې کوي یې، پر هماغه مسلو د حجت کار ور کوي چې دوی یې په حل و فصل کړي، مګر د بل چا لپاره ځکه حجت نه ده چې هغه یې نه په استدلال پوهېږي، نه یې د اخذ اصل مصدر ور معلومېږي او نه په دې خبر دی چې اجماع رښتیا هم شوې ده که نه؟ د دې په مقابل کې قران کریم امر کوي چې په ناپوهي به د یوه شي تابعداري نه کوې(الاسراء: ۳۶)، دا چې د اجماع په اړه ګڼې پوښتنې لا هم لا ینحل پرتې دي، نو دا یوازې د هغه چا لپاره کار ور کوي چې خپله یې وکړي، نه دا چې نور خلک یې هم د یوه مستقل مصدر په توګه د حرمت او حلت لپاره وکاروي.

دغه ډول اجتهاد یا قیاس، هغه څوک چې اجتهاد کوي، هغه تر خپل کوښښ وروسته همدې نتیجې ته رسېږي، دا چې په دین کې تر وس بالا مکلفیت نه شته، نو همدې اصل ته په کتو، د هغه لپاره یې خپل اجتهاد یا قیاس سهي دی، مګر دا چې د یوه چا په قیاس دې نور کسان وروسته د حلالو او حرامو پرېکړې کوي، دا نه شرعي بنسټ لري او نه یې عقل مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا لامل دی چې ځينو فقهاؤ اجماع او قياس يوازې کاشف بـولي، يعنې په ديني متن کې د مسلې لپاره د دليـل مونـدونکي دي، نـه دا چـې خپله مستقل مصدر دي، دوی وايي:

أَمَّا الإِْجْمَاعُ - إِذَا تَحَقَّقَ - فَهُوَ كَاشِفٌ عَنْ حُكْمِ اللَّهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَـالَى؛ لأِنَّ الأُْمَّةَ لاَ تَجْتَمِعُ عَلَى ضَلاَلَةٍ.

وَأَمَّا الْقِيَاسُ - عِنْدَ مَنْ يَقُول بِهِ - فَهُوَ كَاشِفٌ عَنْ حُكْمِ اللَّهِ تَعَـالَى فِي ظَـنِّ الْمُجْتَهِدِ.(۲)

اجـماع-کـه وشي-د الهـي حکـم ځرگنـدونکې ده، ځکـه امـت پـر گمراهي نه را غونډيږي، او قياس-د هغه چا په اند چې حجت يې بولي-هم د مجتهد په گومان د الهي حکم ښکارونکی دی.

په دغه عبارت کې څو مهم ټکي دي: اجماع کـه وشي، دا جملـه پـه دې اختلاف ته اشاره کوي چې ځينې کسان يې اصلن نه مني، بل خوا د ټول امت له لوري د اجماع ناممکنوالي ته اشاره کوي، دويم ټکـی پکـې دا شو چې که وي هم يوازې د کاشـف درجـه ده، خپلـه مصـدر نـه شي کېدای، د قياس په اړه هم وايي څوک چې يې حجت بولي، دا معنا لري چې ځينې يې نه مني، او بيا پسې وايي چې د مجتهـد پـه گومـان هغـه د الهي حکم کاشف دی، نه ځانگړې سرچينه، دا چې مجتهد يې لا په اړه گومان کوي، نو تر هغه وروسته به څنگـه د يـو چـا لپـاره بـاوري مصـدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي؟ حرمت یوه باوري مسله ده چې سل سلنه باوري دلیل غواړي، په ظنیاتو او ګومانو نه شي ثابتېدای.

مصالح مرسله څه دي؟ فقهاء وايي:

فِي اللُّغَةِ: صَلَحَ الشَّيْءُ صُلُوحًا وَصَلاَحًا، خِلاَفُ فَسَدَ، وَفِي الأَمْرِ مَصْلَحَةٌ، أَيْ: خَيْرٌ، وَالْجَمْعُ: الْمَصَالِحُ.

وَالْمَصَالِحُ الْمُرْسَلَةُ عِنْدَ الأُصُولِيِّينَ: مَا لاَ يَشْهَدُ لَهَا أَصْلٌ مِنَ الشَّارِعِ لاَ بِالاِعْتِبَارِ وَلاَ بِالإِلْغَاءِ. وَهِيَ أَعَمُّ مِنَ الضَّرُورِيَّاتِ، لأَنَّهَا تَشْمَلُ الضَّرُورِيَّاتِ وَالْحَاجِيَّاتِ والتَّحْسِينِيَّاتِ..(۳)

په لغت کې د یوه شي اصلاح کول دي چې د فساد ضد دی، وفي الامر مصلحة، یعنې په دې کار کې خیر دی، جمع یې مصالح ده، د اصولو علماء د مصالح مرسله په اړه وايي: هغه دي چې نه یې شرعي اصل د اعتبار شاهدي ور کوي او نه د رد. مصالح تر ضروریاتو عام دي، دا ضرویات، حاجتونه او تحسینیات ټول را نغاړي.

دلته وینئ چې شریعت یې نه د اعتبار لپاره اصل وړاندې کړی وي او نه د رد لپاره، نو له دې څخه دیني منبع جوړول د یو چا خپل شخصي-نظر دی، بل څوک دغه ډول امورو ته دیني بعد نه ور کوي.

قیاس څه شی دی؟ دوی وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْقِيَاس حجَّة من حجج الشَّرْع يجب الْعَمَل بِهِ عِنْد انعدام مَـا فَوْقـه مـن الدَّلِيل فِي الْحَادِثَة... هُوَ ترَتّب الحكم فِي غير الْمَنْصُوص عَلَيْهِ على معنى هُـوَ عِلّة لذَلِك الحكم فِي الْمَنْصُوص عَلَيْهِ. (۴)

قیاس د شریعت له حجتونو یو حجت دی، که د پیښې په اړه تر دې د لوړې رتبې دلیل وجود ونه لري، په قیاس عمل لازمي دی... قیاس دادی چې د یوه مشترک علت له امله په نص د ثابتې مسلې حکم پر یوه داسې مسله منبطق شي چې په نص نه وي ثابت.

دلته وینو چې قیاس په هغه مسله کې حجت دی چې په نص نـه وي ثابته، په دې کې خورا لوی اختلاف دی چې علت مشترکه په دې حکـم کې چشی دی او په هغه کې چیش؟ د سود په اړه د مـذاهبو تـرمنځ دغـه اختلاف دې ته رسولی دی چې د یوه مذهب له مخې یو شی سود دی او د بل له مخې نه دی سود، ځکه دوی د علت مشترکه په اړه یوه خوله نـه دي، هر څوک یې له خپل اند سره سم معرفي کوي، چـې طبیعـي خـبره اختلاف سره لري او دا اختلاف یې فرعي مسلو ته هم رسېږي.

دا ثابته شوه چې له قطعي الثبوته او قطعي الدلالته دلایلو پرته د نـورو مسلو په اړه جدي اختلاف شته، په دې کې نو داسـې اخـتلاف هـم شـته چې ځینې مسایل دیني بڼه لري که دنیوي؟ بس پر همـدې موضـوعاتو د وخت عالمانو خپل نظریات ور کړي دي چې هغه مهـال د قوانینـو د نـه رواج له امله هر لیکل کیدونکی کتاب او قانون به د فقهې په نوم یادېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څه بده خبره نه ده که نن د همدې فقهې پر ځای مدني، اساسي، تجاري، حربي او نور قوانین ولیکل شي، فقه هم د موضوعاتو په اعتبار ګڼ تقسیمونه لري، فقه عبادات شته، فقه معاملات شته، فقه السیاست شته او... دغه نومونه چې دوی په خپل وخت کې د فقهې لپاره کارولي دي، دا یو هم په شرعي نص ثابت نه دی، د هغوی د خپل وخت یو نوم و، دوی پرې پوهېدل او هیڅ بدکار نه و، دا چې نن دغه نوم بدلېږي، څه ستونزه لري؟ احکام الحدود، والجنایات والتعزیرات یې بولي، که د قانون الجزائي و الجنائي نوم ورکوي، ستونزه ولې جوړه شي؟

همدا شان پخوا د مسلمانانو په قضایي سیستم کې د څارنوالۍ په نوم شی نه و، عرب ورته نیابة وايي، لویه څارنوالي نیابة العامه بولي. زموږ په پخوانۍ فقه کې نیابت دې ته وايي چې یو څوک د بل پر ځای د هغه دعوه مخته یوسي، یا ورته وکالت هم ویل کېږي، دا په هغه وخت کې د خپل تاریخي اجتماعي کړنو محصول و، اوس چې وخت ډېر تېر شوی دی، نو د نیابت هماغه جزئي شکل اوس کلي شوی دی، پخوا به یوه کس د بل کس نیابت کاوه، اوس یوه اداره چې د یوه خاص مشر-تر نظارت لاندې کار کوي، د یوه مجرم په وړاندې د ټول ملت نیابت کوي، په دې کې نو څه ستونزه ده؟ داسې هم نه ده چې په اوسنیو قوانینو کې نو متهم یا مظنون ته هیڅ ډول رعایت نه دی ورکول شوی، بلکې هغه هم له خپل ځانه د دفاع لپاره ډېرې وسیلې په لاس کې لري، که یو څوک نن را ولاړ شي پخوانۍ نیابت شرعي وبولي او د فقهې په نوم یې یاد کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقدسه جنبه ور کړي، خو د نن نیابه(څارنوالي) په دې کوتک وهي چې دا غربي پدیده ده زموږ په فقهي تراث کې مخینه نه لري، ځکه یې باید منحل کړو؟! ایا هره غربي پدیده باید په همدې برخلیک اخته شي؟ که داسې وي، نو زموږ په فقهي تراث کې د بهرنیو چارو وزارت چېرې دی؟ دغه دولتي جوړښت چې نن یې لري، په کوم فقهي کتاب کې راغلی دی؟ دا خبره ناسمه ده چې هر نوی شی یا غربي پدیده باید رد شي، د یوه شي ګټور توب او ناګټورتوب ته کتل کېږي، که ښه وي، د ټولنې په خیر وي، باید ځای ور کړل شي، که نه رد دې شي.

دا فکر پر خلکو دومر غلبه کړې وه چې د قانون په بڼه لیکل شوي کتابونه یې هم فقهي بللي دي، پاچا ته لیکل شوي د نظام ځینې اصول هم په فقه کې شمارل شوي دي، هغه کتابونه چې مسایل یې له یوه کتابه د بل عالم کتاب ته په حواله خلاص کړي وي، هغه هم تر همدې مقدس پوښښ لاندې راغلي دي، زه دا نه وایم چې پخوانو ښه کار نه دی کړی، ممکن د هغوی به موخه دا نه وه چې تر دې نوم لاندې کتابونه ولیکي بیا یې په مقدس نوم پر خلکو داسې تېر کړي چې څوک یې د مخالفت فکر لا نه شي کولای، که څوک په دلایلو ور سره مخالفت وکړي، نو د بې دینه په ټاپه یې ووهي او د ژوند له نعمته یې محروم کړي، د هغوی د وخت علمي کچه همدومره وه، هغوی تر ګڼو اعتبارونو لاندې د فقهې وېش کړی دی، د دلایلو په لحاظ، دموضوعاتو په اعتبار، د حکمت له مخې، له یوه وخته بل ته یې ځینو نورو اصطلاحاتو هم تغییر کړی دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې په فقه کې موږ کوم پخواني اصطلاحات وینو، دا هم نه یو په قران کریم ثابت دی نه په سنت، بیا هم موږ ورته بدعت نه وایو، بلکې د یوه ضرورت پر بنیاد یې لازمي بولو، نن بیا دا ضروري ده چې له اوسنیو حالاتو سره موافق ولاړو شو، په ټوله نړۍ کې همدا فقهي اصطلاحات په نویو اصطلاحاتو اوښتي دي، احکام الاسرة ته نن مدني قوانین ویل کېږي، فقه المعاملات ته نن قانون تجارت ویل کېږي، په دې کې هم د پخوانو فقهاؤ له علمي نظریاتو ګټه اخیستل شوې ده او هم نوي پر اضافه شوي، دغه قوانین د یوه اسلامي هیواد لپاره لیکل کېږي او پر مسلمانه ټولنه نافذېږي، نو دا هیڅ امکان نه لري چې هغوی دې له شریعته مخالفت وکړي، شرعي مقاصد او د شرعي عمومي پیغاموه دې هېر کړي، هغه فقهي مسایل دې صرف نظر کړي فرضن اوس هم مسایل په حلېږي، دوی دې پر ځای نوي ایجاد کړي، بلکې له کاره لوېدلو ته نوی بدیل لټوي، نوي مسایلو ته حل پیدا کوي، دا که پخوا د فقهې په نوم یادېدل، نن د مدني یا بل قانون په نوم یاد شي، نو څه اسمان خو نه را لوېږي؟ اصلن فقه هم د هغه وخت لپاره قانون و، دوی ورته یا په شرعي متن کې حل پیدا کاوه یا یې د اجتهاد، قیاس، مصالح مرسله، قول صحابي او ګڼو نونو لاندې حل پیدا کاوه چې همدغه یو نوم ورته کارېدی، اوس هم عیني کیسه ده یوازې یې ځینې مسایل نوي کېږي، په سیستم کې یې رد وبدل کېږي، او هغه پخوانی نوم یې په نوي بدلېږي، نه پخوانی فقه له خطا خالي ده، نه نن قوانین، دواړه د انساني دماغ او علم محصول دي چې د خپل وخت د ټولنې او ګڼو نورو حالاتو وشرایطو اغېز پر جوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، نو فقه قانون ده او قانون فقه ده، په دې کې زما په نظر هیڅ شی بـد نه دی، بلکې لا به ښه شي چې موږ له حالاتو سره موافق د خپلې ژبې په قاموس کې نویو لفظونو ته ځای ور کړو.

۱۵/۹/۲۰۲۲

۱)(الموسوعة الفقهية الكويتية، مصادر الاجتهاد: ۴۳/۱)

۲) الموسوعة الفقهية الكويتية (۱/ ٤۳)

۳) الموسوعة الفقهية الكويتية (۲۸/ ۲۰۸)

۴) أصول الشاشي (ص: ۳۰۸- ۳۲۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دین او ساینس

د دین او ساینس په اړه زه تر ډېره وخته په دې نظر وم چې دواړه یو له بل څخه دومره ګوښه دي چې یو د بل په چارو کې مداخله نه، بلکې مطلق کار نه لري؛ مګر اوس دې پایلې ته رسېږم چې نه له یوه بله مطلق په هره برخه کې بېل دي او نه سره یو شی دي، خو ترمنځ یې مشترکې نکتې شته.

قران کریم د خپلې مدعا لپاره یا تاریخي شواهد وړاندې کړي دي(النور: ۳۴)، یا یې هم د علم په مټ د خپلې مدعا د تللو بلنه ور کړې ده(یونس: ۳۹) یا یې هم ورته ویلي چې تاسو خپل کار کوئ موږ خپل، د کار او عمل نتیجه به دا په ډاګه کړي چې څوک پر سمه لار او څوک پر ناسمه درومي.(الانعام: ۱۳۵، هود: ۹۳، الزمر: ۳۹)

قران کریم د انسان په اړه دا خبره په ګڼو مواردو کې کړې ده چې هغه تلواره کوي او د هر شي پایله ژر او ځای پر ځای غواړي، البته عیني شرایط داسې نه دي لکه انسان په ذهن کې جوړه کړې نقشه، عیني شرایط د ډېر وخت په تېرېدو د یوه حقیقت د منلو لپاره، د یوه کار د نتیجې لپاره، د انقلاب د راتلو او یوه اوښتون لپاره سازګاره کېږي، نو له دې امله الله تعالی انسان ته د علم په میدان کې د خپلې مدعا د تللو بلنه ور کړې ده، خو تر څنګ یې دا هم ورته ویلي چې دوی تلواره کوي، د یوه شي نتیجه ژر غواړي، د هر شي په اړه داسې فکر کوي چې دلته هیڅ اصول نه شته او هر څه بس همداسې تصادفن را منځ ته کېږي، که یې غوښتنه پوره نه شي، د یوه قاطع حقیقت له منلو هم انکار وکړي، که څه هم د هغه د رد لپاره یوازې دومره توجیه کولای شي چې دوی یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت نه پوهېږي، الله تعالی وايي دوی د علم په میدان کې همدومره مخته تللي دي،(النجم: ۳۰) نور د هغې ادعا د رد لپاره هیڅ نه لري، یوازې خپله ناپوهي یې بانه کړې ده او د خپل شاوخوا له حقایقو ناخبره د زمري غوندي پر میدان ناست دی.

قرا ن کریم وي که بل هر کتاب چې د علم په میدان کې د درېدو توان ونه لري، هغه د دې وړ نه دی چې پیروي یې وشي، قران کریم که هغه پیغام د بشریت لپاره ونه لري چې د بشر- ښېگڼې پکې شته، په تاریخي شواهدو یې خپله مدعا ثابته نه کړه، د علم په میدان کې د هغه کړې وړاندوینې د منل شوي حقیقت په توگه زبات نه شوې او په لارښونو تر عمل وروسته یې که د ښې او غورې نتیجې په بڼه د انسانانو مخته د خپل حقانیت شواهد وړاندې نه کړل، نو بیا قران کریم نه د الله کتاب دی او نه د علم په دې نړۍ کې د دې وړ دی چې پوهان، عاقلان، تجربه کاره او مفکرین خلک یې ومني .

اوسپنسکي وايي:"کوم مذهب چې ساینس رد کړي او یا هم ساینس مذهب رد کړي، هغه دواړه باطل او ناسم دي".

ډاکټر OTTO لیکي: «تر هغو چې یو دین د عقل او بصیرت عناصر له ځان سره لري، هغه به د تعصب او تصوف په گنده ډنډ کې له لوېدو خوندي وي، دغه مذهب په ځان کې د بشریت شموله دین د جوړېدا وړتیا لري.»(۱)

قران کریم کله هم په ړندو سترگو خلکو ته دعوت نه دی ور کړی چې د هغه ادعاوې دې په پټو سترگو ومني، قران کریم د رسول الله ص په ژبه وايي:

قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي} [یوسف: ۱۰۸]

ووایه: دغه زما او زما د پیروانو لار ده چې په بشپړ بصیرت ورته بلنه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل ځای قران کریم د احد تر ماتې وروسته مسلمانانو د الهي اصولو د بیان په لړ کې وايي:

إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِثْلُهُ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا} [آل عمران: ۱۴۰].

که تاسو ته زیان رسېدلی، نو دښمن مو هم عیني زیان لیدلی دی او د خلکو ترمنځ د (بریا و ناکامۍ) دغه وختونه د الهي اصولو له مخې بدلیږي او څو مسلمانان په همدې (حقیقت) پوه شي.

د بدر په میدان کې بریا او د احد په میدان کې ناکامي، تقریبن د یوه کال په اوږدو کې دوې یو د بل مخالفې حادثې وې، قران کریم پر دواړو تبصره کړې ده، د احد په اړه دغه تبصره کې راغلي دي چې دلته له نافذو قوانینو سره هماهنګي د انسانانو د بریا اسباب چمتو کوي، همدې نکتې ته باید د همدې دوو پېښو په رڼا کې وګورئ او دغه حقیقت په مجسم شکل ستاسو مخې ته پروت دی، ولې په ډېرو کمو کسانو مو د بدر میدان وګټی او له ډېرو کسانو سره مو د احد میدان وبایلی؟ پر دې عواملو په فکر کولو تاسو پوهېږئ چې موږ ته قران کریم د څه ډول ژوند د منلو بلنه راکوي او موږ څنګه په دې حقیقت تر پوهاوي وروسته د ژوند پر سختیو بریا موندلای شو؟!

زما په نظر که دا معیار له منځه یوسو چې پر ساینسي حقایقو د قران کریم یا دین مدعا نه شو عرض کولای، یا په بل عبارت د دیني ادعاؤ لپاره که داسې یو معیار ونه لرو چې پر هغه په تول کولو د دې دروندوالی او سپکوالی را معلوم شي، نو بیا یې حقوالی و ناحقوالی څنګه جوت شي او انسانان یې د کومو دلایلو و شواهدو پر بنیاد ومني؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې مسلمانان ادعا کوي زموږ دین تر نورو حق دی، نو ایا یوازې په دې حق دی چې لمونځ کوي، که د حج یا روژې له امله حق دی؟ که په دین کې دا راغلي چې دروغ مه وایه، غلا مه کوه، زنا مه کوه، له خلکو سره همدردي کوه، دا یې د حقانیت معیار شو؟ زما په نظر دا خبرې او د عبادت یو ډول هر دین لري، نو بیا هر دینپالی ویلای شي چې زما دین هم حق دی، د دې هرې ادعا د اثبات لپاره خو باید داسې یو معیار وجود ولري، چې پر هغه په تول سره سپک او دروند سره معلوم شي، که ساینس د دې لپاره معیار ونه ټاکو، نو بل هیڅ داسې تول منلی معیار تر اوسه وجود نه لري، چې پر هغه معیار سپک شوی دې خلک سپک ومني او دروند یې خلک درووند وبولي.

قران کریم د خپلو خبرو د اثبات لپاره له تاریخي شواهدو سره سره د کایناتو لور ته هم زموږ پاملرنه اړولې ده، د انسان خپل جسم او نفس ته یې هم ګوته نیولې ده، د اسمان او ځمکې په لوړو او ژورو کې داسې حقایقو ته یې هم زموږ توجو جلب کړې ده چې نن یې موږ د علم په مټ درک کولو ته نژدې شوي یو، قران کریم دې خبرې ته داسې اشاره کړې وه:

سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ () أَلَا إِنَّهُمْ فِي مِرْيَةٍ مِنْ لِقَاءِ رَبِّهِمْ أَلَا إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُحِيطٌ} [فصلت: ۵۳، ۵٤]

ژر به موږ دوی ته د خپل (قدرت او شتون) نښې په کایناتو او د دوی په نفسونو کې ور ښکاره کړو، څو دوی پوه شي چې قران کریم حق (له واقعیتونو سره موافق) دی او ایا دا خبره بس نه ده چې ستا رب پر هر شي حاضر و څارونکی دی؟ حقیقت دادی چې دوی د خپل رب د ملاقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه شک کوي، خبره داده چې هغه د (خپلو قوانینو) په مټ پر ټولو شیانو احاطه کړې ده.

په دې ایاتونو کې قران کریم د علم لور ته د خپلو مخاطبانو توجو جلب کړې ده، الله تعالی وایي تاسو لږ انتظار شئ، موږ به د خپل شتون او قدرت نښې په کایناتو او انساني نفسونو کې درته وښیو، د قدرت داسې نه بدلېدونکي او له یوې مرجع څخه کنټرولېدونکي قوانین به کشف کړئ چې ګوته په غاښ به ورته پاته شئ، هغه مهال به پوه شئ چې د کایناتو هیڅ شی هم د تصادف له مخې نه را منځته کېږي او نه د تصادف له مخې ختمېږي، بلکې دا هر څه د محکمو اصولو په رڼا کې ترسره کېږي، له دې اصولو نه کاینات مستثنا دي او نه انسانان، نه یو فرد ځان ترې خلاصولای شي او نه درسته ټولنه، د هر چا لپاره دلته اصول دي، هر څه د هغو اصولو په رڼا کې ترسره کېږي، هیڅوک دې بې وخته د یوه شي د تلو یا راتلو تمه نه کوي، پښتانه وایي؛ په تلواره اوګره نه سړېږي، نو په تلواره د کارونو نتیجه هم نه راوزي، د هر شي لپاره چې ذهني او عیني شرایط مساعد نه شي، هغه شی نه موجودېږي او نه په عالم خلق کې د الله تبارك وتعالی تګلاره داسې ده چې په یو دم هر څه ترسره کېږي، دلته که د کایناتو پیدایښت دی هم یې تر دې وخته پر وجود دومره زمانه تېره شوې ده چې انسان یې د ورځو او کلونو په شمار سترې کېږي او که د انسان خپل پیدایښت دی هم داسې دی چې له یوې نکتې پیلېږي، په سوکه سوکه تدریجي ډول د خپلې ودې وروستۍ څوکې ته رسېږي، همدا ډول که زموږ په شاوخوا کې وګورو د هر شي لپاره همداسې د تدریج لار تعین شوې ده، حتا د انسان خپل افکار هم تاثیرات لري، قران کریم یې یادونه کړې ده:

﴿وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ﴾ [البقرة: ۲۸٤].

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ستاسو په نفس کې شته افکار که ښکاره کړئ یا یې پټ وساتئ، الله یې درسره محاسبه کوي.

هدف ورځخه د الله قوانین دی، ستا خیالات او افکار خپلې پایلې لري، که عملي یې کړې هم به خپله نتیجه په خپلو سترګو وګورې او که ستا په ذهن کې پاته شي، هم به یې پایلې حتمي ووینې. تاسو نن د قران کریم دغه وینا د علم اصول النفس له یوه ماهر څخه وپوښتئ چې هغه د انسان د لا شعور او تحت شعور له نړۍ څومره جالبې درته کوي، بیا به پوه شئ چې زموږ افکار څنګه زموږ په کړنو او وجود اغېز کوي او څنګه یې محسوسې پایلې زموږ په وړاندې راځي؟

هغه څوک چې د علم له میدانه قران کریم د خانقا تاریکیو ته لـه دې ډاره ځغلوي چې هسې نه د ساینس تحقیقات یې پر شویو ادعاګانو د بطلان چلیپا راکاږي، هغوی دې لومړی د قران کریم په مفاهیمو، ژبه، اصولو، بیان، دلایلو، د ادعا په حقیقت بیا یې د ثبوت لپاره په طریقه ځانونه پوه کړي، تر دې وروسته دې د علم له میدانه هغه ثابت شوي حقایق ورسره پرتله کړي چې د دې میدان اهل ذکر ور باندې د ثبات اخیري ټاپه وهلې ده، بیا دې ترمنځ د توافق یا تضاد موندلو په فکر کې شي چې قران کریم د علم په تله کې خپل ځان څنګه ثابتوي؟

د قران کریم د حقانیت لپاره ساینسي لاسته راوړنې، د بشریت علمي وده او د سیاست و اقتصاد په میدانو د انسانانو ورځ تر بلې علمي تیوریانې او ور پسې یې په علمي ډګر کې ارزونې یو په یو د قران کریم د حقانیت او صداقت چیغې وهي، دا چې څوک یې له تعصبه نه مني، هغوی ممکن د خپل ځان له وجوده هم منکر شي، بل لور ته که مسلمان یې له قران کریم څخه په ثابتولو کې پاته راغلی، دا د هغه پر ناخبرۍ او ناتوانۍ دلالت کوي، په دې کې د قران کریم نقص نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملوکیت لپاره د تابوت جوړول د قران کریم وړاندیز و، قران کریم د واک لپاره د مسلمانانو خپل منځي مشوره پیشنهاد کړه(الشوری: ۳۸) قران کریم د فرعون او دې ته ورته پاچاهانو په یادولو د دې د بـدوالي بېلگـې ور کړې دي، تر ډېرو تجربو وروسته انسانان هم دې پـایلې تـه ورسـېدل چې د ملوکیت پایلې د بشر په گټه نه دي، د ملوکیت دور یې ختم کړ. د غلامانو په نیولو لومړی نیوکې قران کریم وکړې، د انسانانو پیدایښـت یـې له یوه نفس وباله او ټول بشریت یې د احترام او درناوي وړ وباله، په ټولنه کې د شته غلامانو د ازادولو امر یې وکړ او انسـانان ډېـر وروسـته همـدې نتیجې ته ورسېدل. د روحانیت او مادیت په کشمکش کې انسـانانو یـا د افراط لوری نیوی یا هم تفریط ته یې پنا وړه، ځوک به له مادیته په گوښه کېدو د رهبانیت لمنې ته په لوېدو د مادیت له لزتونو بـې برخـې شـول او ځوک به دومره مادیت پرسته شول، چې په دې ټس کې به یې روحانیت بیخي هېر کړ، هر څه به یې ماده بلل، د ماده پرسـتانو ټـول اعـمال هـم د خلکو په وړاندې دي، داسې کارنامه یـې نـه ده کـړې چـې ځـوك پـرې وویاړي، قران کریم د اعتدال لار ونیوه، نـه یـې یـو مخیـز خپـل پـیروان مادیت ته هڅولي او نه یې روحانیت ته، بلکې دواړه خواو ته یـې لازمـه پاملرنه کړې ده. نه یې له مادیته انکار کـړی دی، چـې ژونـد یـوازې تـر خانقا را محدود کړي او نه یې هر څه ماده بللي چې د روحانیت بیخ پـه وکاږي، بلکې اصول یې ور کړل چې همدې چوکاټونو ته په کتو دې لـه مادي نړۍ گټه واخلي او خپله روحاني دنیا دې په ودانه کړي، داسې نـه کېږي چې له مادیته په انکار روحانیت قوي کېږي او نه داسې حل راوزي چې روحانیت نفي شي یوازې مادیت دې هر څـه وبلـل شي. د مـذهبي ازادي په اړه لومړی قران کریم خپلو پیروانو تـه امـر وکـړ چـې اسـلام تـه راتگ او تگ هم د خلکو په خوښه دی او هر دین هم د دینپـالو کسـانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله خوښه پوري اړه لري، د يو چا چې هر دين زړه غواړي، خوښ يې وي، هغه دې ومني، په دې لړ کې زور زياتی بايد ونه شي(البقره: ۲۵۶)، دا يادې يې يوازې يو څو بېلگې وې چې دلته مې يادې کړې، که نه په قران کريم کې دې ته ورته مثالونه بيخي ډېر دي.

قران کريم په قاطعانه توگه څېنو ساينسې حقايقو ته اشاره کړې ده چې له دې ډگره د قران کريم په ايستلو به کله هم هغه قراني حقايق را برسېره نه شي، د قران کريم د حقانيت معيار به د خرافاتو په گرداب کې ورک شي او د الله له انقلابي کتاب څخه به يوازې يو څو خرافاتيان د خپلو خرافاتو د زبات لپاره کار اخلي، چې هم انسانان له علمه په لرې کړي، هم يې په دنيا کې د دې په وسيله وشکوي او د اخروي ژوند له نعمتونو يې هم د خپلو خرافاتو په ذريعه محروم کړي. قران کريم د علم کتاب دی او تل به د علم په ميدان کې ځلېږي، هيڅوک نه شي کولای چې د خپلو خرافاتي باورونو د لزېدو له امله پر قران کريم نيوکې وکړي او د قران کريم اهميت په دې سره کم کړي، قران تر بل هر چا د خرافاتو ډېره مقابله کړې ده، د عربو په خرافاتي ټولنه کې همدې قران کريم انقلاب راوستی، د علم ډېوه يې هغه وخت روښانه کړه چې پر نړۍ باندې د ظلم، جهالت او وحشت تورتم پروت و، دا ډېوه به تر هغو له همدې ځايه بله ساتله کېږي چې دا نړۍ په علماؤ او د عقل په خاوندانو ودانه وي.

۲۰۲۲/جولای/۳۰

سرچينه:

۱)انسان نې کيا سوچا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پر دیني سرچینو زیاتونې او ترې کمونې

دیني متن د الهي کلام او کتاب په بڼه نازلیږي، بیا د همدې کتاب هدایاتو ته عملي او تشریحي جنبه د همدغه خدای رسول ور کوي، له دې امله په قران کریم کې وایي:

{هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ} [التوبة: ۳۳].

دی هغه ځوک ذات چې خپل رسول یې له حق دین او عملي تګلارې سره لیږلی دی.

دغه مطلب یې د الفتح په (۲۸) او د الصف په (۹) نمبر ایاتونو کې هم بیان کړی دی.

هُدی چیش ته وایي؟ د عربي ژبې د لغت کتابوه وایي:

الطَّریق، الشَّریعة ".(۱)

لار، تګلاره.

ابن فارس په خپل کتاب کې وایي:

هدی: الهدی: خلاف الضلال...، وأصله التقدم.(۲)

هدی د ضلال(ګمراهي) خلاف دی... او اصلن وړاندېتوب ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښکاره او روښان معنا هم لري، ورځې ته هم هم وايي. د ړانده په لاس کې لکړې ته الهادية وايي، نو د دې مادې بنسټيزې معناوې ښکاره، روښانه، وړاندې او تګلاره دي. له دې امله حرم ته روانه کړې قرباني هم هَدي بولي، ځکه د کاروان مخته روانه وي، لکړې ته هم وايي، ځکه تر ړوند وړاندې وي، په اوبو کې راوتلې ډبره هم هادِيةٌ بولي، لامل يې دادی چې له ورايه ښکاري، د حيوان د مخ حصه هم هادٍ بولي، تر نور بدن يې مخکې وي او ژر ښکاري.

په ايت کې چې الله تعالی د کوم هدايت يادونه کړې ده، هلته يې هدف تګلاره او لارښوونه ده، دين خو د ژوند لپاره عملي احکام او هدايات دي، نو رسول په دې مکلف وي چې دغه عملي بڼه په خپل عمل او کړنو سره امت ته وښيي.

تر هغه وروسته چې پر رسول الله صلی الله عليه وسلم احکام نازلېدل، هغه يې تشريح کوله، څه وخت چې احکام تکميل شول، نو په قران کريم کې د دې اعلان هم وشو او د رسول الله ص د رسالت دنده ورسره بشپړه شوه او د هغه د کوچ وخت را ورسېد، قران کريم وايي:

{الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا} [المائدة: ۳].

نن ورځ مې تاسو ته ستاسو دين پوره کړ، او خپل نعمت مې در باندې بشپړ کړ او تاسو ته مې اسلام د دين په توګه خوښ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې اعلان وروسته باید دا خبره روښانه شوې وای، چې کوم شیان دیني دي او کوم غیر دیني؟ په دې باید خلک پوه وای چې دین د الله وي، هغه يې نازلوي، حکم يې هغه کوي، هر څه يې د هغه په خوښه کېږي، له دې پرته پر بل شي د دین نوم ایښول ناسم کار دی.

یوه خبره باید واضحه وکړم چې یو انساني برداشت دی او یو اسماني دین، د دواړو ترمنځ فرق دادی چې انسان د خطا امکان نه شي ختمولای او په دیني متن کې دغه احتمال له لویه سره نه شته، په دین کې بیا یو هغه مسایل دي چې امت يې پر مفهوم اجماع لري، لکه: د الله وجود، د لمونځ فرضیت، د زنا حرمت، رشوت، سود او دې ته ورته کلي مفاهیم دي چې پر کلي مفهوم یې اجماع ده او دغه ډول کلي مفاهیمو کې اختلاف نه وي، دا له بدهیاتو څخه بلل کېږي، نو دغه هم مقدس دي که څه هم د انساني فهم او برداشت مالګه ورګډه شوې وي، یو هغه جزي مسایل دي، لکه په قسطونو کار سود دی که د بیې یو ډول؟ پر دې اختلاف دی او هیڅ ټول منلې فتوا د دیني سرچینو په ملاتړ نه شته، اوس د دې دویمې کټګورۍ مسایلو ته حتمي دیني رنګ ورکول او د لومړۍ برخې په شان يې مقدس بلل ناسم کار دی او ډېر غلط او ناقص افکار ور څخه سرچینه اخلي. هغه بدهیات حتمي یو داسې کامل فرد لري چې پر هغه یې ټول امت سره یوه خوله وي، خو له هغه سره د نورو په ورګډولو کې اختلاف رامنځته کېږي، مثلن: سود څه دی؟ له قرضدار څخه تر خپل اصل مال اضافه مال اخیستل سود دی، دا یې هغه اتفاقي فرد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ټول امت پر متفق دی، تر دې وروسته افراد یې مختلف فیه دي، زنا چیش ده؟ له نکاح پرته له ښځې سره د یوه نارینه د مخ په فرج کې جنسي اړیکې دي، دا چې متعه زنا ده که نه؟ په زور نکاح شوې زنا وبلل شي که نه؟ د بدل نکاح سهي ده که په زنا کې شمار شي؟ دا ټول اختلافي دي، هغه اتفاقي مفاهیم یې حتمي دي، مقدس هم دي او دین هم بلل کیږي، ځکه دغه اتفاقي مفهوم یې له صدر اسلام څخه منقول دی.

په اختلافي مسلو کې حتمي نه ده چې یو څوک دې له بل چا سره د نظر اتفاق ولري، له دې امله موږ په اسلامي دنیا کې ډېر اختلافات او مذاهب وینو، ټول لمونځ کوي، ډېر څه یې سره مشترک دي، خو په جزئیاتو کې اختلاف لري، حج هم ټول کوي، غټ اعمال یې سره متفق دي، وړې مسلې یې اختلافي شته، خدای هم ټول مني، په اړه یې ځینې واړه اختلافونه له ناسمو برداشتونو څخه را پیدا شوي دي، دا هر څه د دې بېلگې دي چې اختلاف نه ختمیږي او د انسانیت په همدې متغیر ژوند او د دغو خاصیتونو لرونکې ژبه کې یې ختمول هیڅ امکان هم نه لري.

نو چاره څه ده؟ چاره یې زغم دی، یو څوک که خپل برداشت باوري بولي، هغه دې په خپل فهم عمل وکړي، پر یو چا یې باور شو، له هغه تر پوښتنې وروسته دې حکم عملي کړي، زما فهم دا نه لازموي چې زما پلار دې هم زما له فهم او فکر سره سم عمل وکړي، ځکه زه په خپل فهم مکلف یم او هغه په خپل وس او فهم، نو زه حق نه لرم چې خپل فکر مې پر نورو تحمیل کړم، مگر په دې مکلف یم چې تر خپله وسه په دین

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان پوه کړم، هر سړی په مکلف دی، ځوک به خپله وس لري، اصل سرچینې به یې د پوهانو له هدایاتو او وسیلوي علومو سره یوځای کتلای شي، ځوک به داسې وس نه لري، هغه به له نورو د پوښتنې په کولو پوهاوی تر لاسه کوي.

دین په اصل کې پر یوه سرچینه ولاړ دی، هغه سرچینه یې وحې ده، تر هغو چې الله تعالی یو حکم نازل نه کړي، رسول الله ص یې په عملي نمونې وړاندې کولو هم مکلف نه دی، تر هغه وروسته چې حکم نازل شي، رسول مکلف دی چې عملي نمونه یې خلکو ته وښيي، دغه دین شو او دغه یې عملي طریقه. دغه دواړه شیان که ځوک په هر نوم یادوي پر وحې ولاړ دي او اصل دین له همدې ځایه سرچینه اخلي.

تر دې وروسته چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو، د دیني احکامو د نزول زمانه ختمه شوه، دغه دروازه د ابد لپاره وتړل شوه، نور احکام نه نازلېږي، دین په خپل متن کې ځینې مسایل واضح بیان کړي دي، نور یې د یوه فارمول په چوکاټ کې ایښي دي او حکم یې واضح کړی دی، ځینې یې بیخي نه په چوکاټ کې شته او نه په واضحو لارښونو کې، دغه کټګوري مسایل یې په دیني رنګ نه دي رنګولي، زما په نظر ښه به وي چې ثابت مسایل یې دیني وبولو او غیر ثابت یې ټول دنیوي، څو یې ترمنځ د بیلتون ښه واضحه کرښه وایستل شي چې خلکو ته یې تمیز اسانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس که یو څوک راځي پر همدې دیني سرچینو اضافه کوي، مثلن وایي: په قران کریم کې دا مسله نه شته، په سنت کې هم نه شته، تر یوه فارمول لاندې هم نه راځي، مگر د دې شي په اړه د حرمت پرېکړه دوه زره علماؤ کړې ده، نو دا شی ځکه حرامېږي چې اجماع حرام وبالی او اجماع یوه دیني سرچینه ده، لکه قران چې یو شی حراموي یا سنت، همدغسې اجماع هم د دغه شي په اړه د حرمت پرېکړه وکړه او اسلامي امت پر گمراهي نه را یوځای کېږي، نو معلومه شوه چې د دوه زره علماؤ اتفاق پر حق دی او د هغه شي د حرمت پرېکړه بالکل سهي ده.

زما په نظر دلته بنسټیزه تېروتنه دا کېږي چې پر دیني سرچینو زیاتوب کوي، دا که د اجماع په نوم وي چې مستقله سرچینه یې بولي، که د مصالح مرسله په نوم وي، یا د قول صاحبي په نوم وي یا بل هر نوم، دا له دین سره ظلم دی، دا پر هغه څه نه اکتفا ده چې الله او رسول ور باندې کړې وه. زما په اند باید له دې سرچینو هیڅ شی نه کم شي او نه هم پر زیات شي، هماغه دین الحق او الهدی دوې سرچینې بیخي کافي و شافي دي، الله د شارع او رسول ص یې د شارح په توگه زموږ لپاره د دنیا او اخرت د بریا ضامن دي، تر دې اضافه والی که په داسې توگه وشي چې مسایلو ته حل وړاندې کړي، یا له دیني متن او شرحې څخه د اجتهاد په توگه یا هم غیر له دینه د یوه قانون په توگه یې وړاندې کړي چې د هغه وخت خلک پرې اجماع وکړي، دا به تر هغه ډېره ښه وي چې په اجماع حل شوې مسلې ته کامل دیني رنگ ور کوي او اجماع یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیني مرجع معرفي کوي، ځکه دلته دوی خلکو ته د استدلال دروازه خلاصه کړه، هره ډله د خپلې مخالفې ډلې په مقابل کې چې له قران او سنت څخه دلیل نه شي موندلای نو اجماع ته پنا وړي او دا نو بیا څوک ثابتوي چې په دې وخت کې ټولو خلکو اجماع کړې وه که نه؟ ایا شونتیا یې هم وه که نه؟ عقل یې مني که نه؟ بس ادعا وکړي چې پر دې مسله د امت اجماع ده، دا که وي که نه، یوه ډله یې د بلې په مقابل کې کاروي او مثالونه یې د ګڼو مذاهبو په فقهي کتابونو کې تر شمار وتلي موجود دي.

زه دې جرأت ته حیران یم چې د الله پر بشپړ شوي دین زیاتونې کوي، سرچینې یې ګڼې ور وړاندې کوي، یو شی د خلکو په خوله یوه ورځ حرام او بله ورځ حلالوي، له دیني احکامو یې د لوبو وسیلې جوړې کړې وي، توخدای دغه صیغه به یو څوک نن د خپلې خور، لور، وریرې، خورځې او بلې خپلوانې په حق کې خوښه کړي؟ که دا نه شي برداشت کولای، نو د بل لوڼو ته څنګه فتوا ور کوي او په تاریخ کې یې څنګه تر دې ډېرو پاکو ښځو او نرانو ته ثابتوي؟ بل مثال ته فکر وکړئ! یوه ښځه له مېړه درې واره طلاقه شوه، د قران کریم د حکم له مخې نور دغه مېړه او ماینه نکاح نه شي سره کولای، مګر په هغه صورت کې چې له یوه بل مېړه څخه کونډه یا طلاقه شي، بیا که اول مېړه ته ځي، نکاح یې جواز لري، د دې حکم هدف دا نه دی چې یوه طلاقه شوې ښځه دې د هغې پخوانی مېړه تر لاس ونیسي، یوه مینده ته دې ور نکاح کړي، هغه دې ورسره جماع وکړي، بیا دې طلاقه کړي او بېرته دې اول مېړه ته نکاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور وکړي، زموږ په وخت کې مذهبي قِشر دې ته حلاله وایي، دا نو حلاله نه ده سمه (ملعنه) ده، په دې کې ښځې له لومړي طلاقه عده نه وي پوره کړې، دویم دا چې اول مېړه د هغې نور مېړه نه شو پاته، هغه پردی سړی دی او دا پردۍ ښځه، هیڅ اړیکه نه سره لري، هغه څه واک لري چې تر لاس نیولې یې یوه میندہ ته دروي او بیا یې په زور نکاح کوي؟ دواړې نکاوې بې مهره کېږي، د دویم مېړه نکاح فقط د یوه ګړي لپاره وي چې هغه له دې ښځې سره یوځای شي نور بس خلاص، هغه به یې حتمي طلاقوي، تر طلاقه وروسته ځای پر ځای اول کس ته په نکاح کېږي، عده او مهر سر خوړلی دی، ځکه د نر واکې ټولنې یوه فرد په غوسه کې خپلې ښځې ته طلاق ور کړی، اوس یې بېرته ځان ته حلالوي نو سزا یې ښځې ته ور کوي؟ دا یوه زړه بړنونکې ډرامه نه ده، نو چیش ده؟ دغه کسان هم بیا پر منبر ناست وي، نارې وهي مخ یې سور وي او غرب ته پېغور ور کوي چې اسلام ښځو ته حقوق ور کړي دي، تاسو خو د جنسي تندې اله ترې جوړې کړې ده؟! هغوی به اله کړې وي، مګر تاسو خو هم اله کړې ده او هم مو په زور کړې ده او دې کار ته مو د خدای د دین نوم ور کړی دی، چې یوه مقدسه فحاشي ورته ویلای شو، د یوه انسان په زړه کې که یوه ذره انسانیت هم پاته وي، توخدای له یوه انسان سره به دغه ډول معامله وکړي؟ دا یې نو مشت نمونه خروار دي، دغه ډول کیل تماشه والا مسایل نور هم په پیخر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د حلالې لپاره يو ناسم ديني استدلال نه واى شوى، خبره قانون ته تللې واى، تر دې په مراتبو ښه حل کېده او مېږه و ماينه دواړه بـه راضي واى او دين به پکې نه بدنام کېداى. د خداى لپاره دا مو دين ته په نسبت څه مقدسه لوبه او فحاشي پيل کړې ده؟

پر اصلي ديني سرچينو د نه درېدا به همدغه نتيجـه وي، څـوک چـې اضافې پر کوي، هغوى به حتمن له دين څخه داسې مسـخره شـى جـوړه وي چې هم به د ظلم سبب وي، هم د فحاشۍ، هم د بل د حق خوړلو او گڼو نورو ناروا، ځکه اوله ناروا يې داده چې د خـداى پـر سرچينـو يـې بسنه ونه کړه او له دې ځاى يې د ظلم بنياد کېښودل شو.

دوکتور يو سف قرضاوي پر خپل ټويټر پاڼه يوه ورځ ډېره ښه يادونـه کړې وه: «موږ د هغو پوښتنو حل له اسلامه غواړو چې هغه نه دي مطرح کړې او د هغو ستونزو حل لار پکې لټوو چې له هغـه مـوږ تـه نـه دې را پيدا، بلکې په خپلو لاسونو مو ايجاد کړې او نه مو له دې ستونزو د ځـان ساتنې هغه اسلوب غوره کړي چې اسلام يې سپارښتنه کړې».

له مسايلو سره که برخود داسې کړو چې پر ديني او دنيوي کټگوريـو يې وووېشو، ښه به وي؛ په ديني نص ثابتې مسلې يې په همدې کټگورۍ کې شمار کړو او له دې پرته پـه نـورو سرچينـو ثـابتې مسـلې کـه پخـوا د همدې برخې گڼل شوې هـم وي، اوس لازمـي نـه ده چـې همدلتـه يـې شمار کړو، دغه برخه د اوس لپاره ښه ده چې ځنې بېله شي او د قانون په

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوکاټ کې ورته حل ومونډل شي، بیخي دې کټګورۍ ښېله شي، په دې سره به هم مسایلو ته د هر وخت له حالاتو سره سم حـل مونـدل کېـږي، غیر مقدس مسایلو ته به په وچ زور مقدس پوښ نه ګنډل کېږي، د الهي دین پر سرچینو به ناحقه زیاتونې او کمونې نه کېـږي او پـه دې توګـه بـه دین له خرافاتو خلاص شي هم به د خلکو د کیل تماشه له میدانه ووزي، د هرې مسلې د حل لپاره دین را وړاندې کول او بیا تر همدې نوم لاندې یې له بلې مرجع حل کول او بیا دې عمل تـه دینـي رنـګ ور کـول هغـه مسله دیني او شرعي بلل، د خورا ډېرو بدو پایلو سـبب کېـږي چـې حتـا خلک یې له دینه زړه تـوري کـړي دي، دغـه ټـول مزخـرف مسـایل لـه همدې ځایه سرچینه اخلي، د ملنګانو خرافات، د زیـارتونو کرامـات، پـه کامل دین کې نورو ته اختیارات او پر هغه څه اضافات چې الله یې اجازه نه ده کړې، ټول همدې بنسټیزې تېروتنې ته ور ګرځي.

یوه ډېره جالبه اوس دا شوې ده چې که پر اصلینو سرچینـو خلکـو تـه سپارښتنه وشي، نو په بدو نومونو دې یـادوي، خـو دوی چـې پـر دینـي سرچینو اضافې کړې دي او له دې څخه په را پېښو ستونزو کې ګیـر پاتـه دي، دوی څوک نه یادوي، څومره ستر ظلم دی چې د خدای پـر بشـپړ شوي دین څوک اضافې کوي هغه د یوه ښه مسلمان په توګـه یـادېږي او څوک چې پر هماغه منزل دین بسنه کوي، هغه بیا بد بلل کېږي؟! زما پـه نظر له کتاب الله او سنت الرسول پرته هیڅ سرچینه باید نه زیاته شي او نه کمه، په دیني تعبیر کې د میزان مقام د الله د کتاب دی، ټول هغـه اقـوال،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعبیرونه، تفسیرونه، روایات، اعمال، عقاید او ټول دین ته منسوب څه باید پر همدې ترازو وتلل شي، وزنداره یې د منلو دي او بې وزنه یې د ردولو.

له دې پرته نورې سرچینې دې وي، مگر دیني دې نه گڼلې کېږي، له هغو څخه دې د مسلو په حل و فهم کې کار واخیستل شي، د یوې وسیلې په توگه دې ځای ور کړل شي، مگر د حرمت او حلت واک دې نه ور کوي، ثواب او عذاب دې نه په ټاکي، معیار دې نه گرځوي، که اجتهادي مسایل علماء حل کړي، دوه اړخه لري: دا چې دین ته یې نسبت کېږي، نو دیني جنبه یې ردېدای نه شي او دا چې د خلکو فهم ور گډ دی، نو خالص دیني نه دي، بلکې د خلکو برداشت پکې رول لري، له دې امله دې همدغه ډول مسایل د اوس وخت لپاره د هیواد په کچه یا سیمه ییزه کچه د پوهانو یوه کمېټه حل کړي، په دې توگه هم ښه حل شي او هم به حساسیتونه نه پاروي یا به ټولنیز مشکلات نه ایجادوي، پر خلکو دې په دیني بڼه نه اجباري کېږي، بلکې په قانوني توگه دې خلکو ته ور وپېژندل شي، ځکه منصوصي نه دي، بلکې اجتهادي بڼه لري او د کامل باور درجه نه لري، نو پر خلکو یې د الهي دین په توگه جبري کول، نه یوازې له دین سره بې انصافي ده، بلکې پر خلکو هم ظلم دی، دوی به یې د ثواب په نیت کوي، په داسې حال کې چې سل سلنه به یې ثبوت قطعي نه وي، البته که داسې ورته وړاندې شي چې تاسو یې عملي کړئ، هیله ده چې بدله به یې درته ښه وي، ځکه که عیني دین نه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د یوه قانون بڼه لري، د مسلمان لپاره د خپل اولي الامر قانون منل چې له دیني چوکاټ سره ټکر نه لري، هم ښه کار دی، هیله ده الله یې بدله در کړي، په دې کې زما په نظر ډېر احتیاط دی، که دغه بعد یې په نظر کې ونیول شي، زما په اند ډېر به ښه وي.

۲۲/۹/۲۰۲۲

۱) معجم اللغة العربية المعاصرة (۳/ ۲۳۳۸)

۲) مجمل اللغة لابن فارس (ص: ۹۰۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دوو بنو د رضاعي اولاد نكاح

كه يو سړی دوې ښځې ولري، يوه ښځه يې د بل چا هلك ته تی ور كړي او بله ښځه يې د بل كور نجلۍ ته تی وركړي، ايا دغه هلك او دغه نجلۍ تر خپل منځ نكاح سره كولای شي؟

دا مسله اجتهادي بڼه لري، عيني هغه ډول نه ده لكه يو ماشوم ته چې ښځه تی ور كړي، د هغه ماشوم نكاح د دې ښځې له اولاد سره نه كيږي او نه يې له هغه كس سره كيږي چې عيني همدې ښځې هغه ته هم تی ور كړی وي، ځكه دواړه رضاعي وروڼه يا خوندې يا ورور او خور دي، په دې ياد صورت كې نوعيت يو څه تغيير كوي، دوې بېلې ښځې دي، مگر مېړه يې يو دی.

كه دې ته وكتل شي چې د يوې ښځې له لوري ماشوم ته تی ور كولو باندې د هغې مېړه د ماشوم رضاعي پلار بلل كيږي، نو په دې صورت كې هم د دواړو ماشومانو پلار د هماغو دوو ښځو يو مېړه دی، نو دغه هر او هغه نجۍ د يوه پلار رضاعي اولادونه بلل كيږي، احتياط په دې كې دی چې دغه هلك او هغه نجلۍ نكاح سره ونه كړي.

زما له معلوماتو سره سم په دې مسله كې ټول فقهاء پر دې خوا دي چې نكاح يې جواز نه لري، حتا فقهاء دا هم ليكي چې كه يو كس دوې، درې يا ځلور ښځې ولري، يوه ښځه يو ماشوم ته تی ور كړي، نو ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې يې مندې دي، هغه سړی يې پلار دی او د هغه سړي هر څومره اولادونه چې له ټولو ښځو څخه دي هغه ټول يې ورونه او خوندې دي، څوك چې يې په مور او پلار دواړه ګډ دي هغه يې رضاعي سكيني ورونه يا خوندې دي او څوك چې يې يوازې په پلاره دي، هغه يې ناسكه رضاعي ورونه يا خوندې بلل كيږي. په الامام ابن باز سايټ كې د يوې پوښتنې ځواب ته هغه ليكي:

إذا كان للرجل زوجتان أو ثلاث أو أربع، فأرضعت احداهن طلفلة أو طفلاً في الحولين خمس رضعات أو أكثر، فان هذا الرضيع يكون ولدا للزوج، ويكون أخا لأولاده من النساء كلهن، يكون أخا لأولادهن جميعا، لكن أولاد المرضعة يكونون اخوانا أشقاء، وأولاد الزوجات الأخريات يكن إخوة لأب؛ لأن الفحل واحد.

فالتي أرضعت أولادها اخوة للرضيع من أمه وأبيه بالرضاع، وبقية الأولاد من الزوجة الثانية أو الثالثة أو الرابعة يكونون اخوة من الأب، كالنسب سواء، كمال قال النبي صلى الله عليه وسلم: يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب.

كه يو كس دوې، درې يا څلور ښځې ولري، يوه يې نجلۍ يا هلك ته په دوه كلنۍ كې پنځه واره/پنځه غوړپه يا زيات تې وركړي، دغه ماشوم د مېړه اولاد شو، د هغه له ټولو ښځو د اولاد ورور شو او د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځو د اولاد هــم ورور دی، د تي ور کـوونکې ښـځې اولاد یـې سـکني وروڼه او د نورو ښځو اولادونه یې له پلاره وروڼه دي، ځکه پلار یې یو دی.

د هغې ښځې اولاد چې تـی یـې ور کـړی دی لـه مـور او پـلاره یـې رضاعي وروڼه دي، له دویمې، دریيمې او څلورمې ښـځې اولادونـه یـې یوازې پلرني وروڼه دي، عیني د نسب په شان، لکـه چـې رسـول الله ص ویلي: رضاعت هغه څه حراموي چې نسب یې حراموي.

دغه ته ورته وضاحت په حنفي فقه کې هم ور کړل شوی دی، مـا پـه دې اړه تر اوسه هم د هیچا اختلاف نظر نه دی لیدلی.

۱/۱۰/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرون او نن د مرییتوب بڼې

د بشري تاریخ یوه ډېره ناوړه پدېده د بشر په لاس د بشر مرییتوب هم ده، غلامي د پخوا زمانې یو رواج و، له نن څخه تقریبن (۱۱۰۰۰)کاله پخوا تر زراعتي انقلاب وروسته د غلامانو د نیولو او ساتلو کرغېړن دود رامنځته شوی دی، غلامۍ پر اقتصاد ښه اغېز درلود، د همدې غلامانو په مټ پاچاهانو له مزدورۍ پرته نهرونه کښل، ودانۍ یې په جوړولې، پوځ کې یې ګډول، خرڅول یې، د دربار کارونه یې په کول او ګڼ نور، ور سره جوخت یې د جنسي تندې د تسکین ذریعه هم وه، هغوی د ښځو په توګه زیاتې میرمنې نه شوای کولای، پاچاهان، امیرانو او د زر و زور خاوندان به خپله خپښي هم له خپلو کفو کسانو سره کولې، په دې توګه یې خپل کور ته نه داسې میرمنې زیاتې مونډلای شوای او نه یې په کور کې د دغه ډول کورنۍ میرمنې خپه کولای شوای، له دې امله به یې مینځې راوستې، دا به یې هم د ښځې خادمان وې او هم به دوی خپله جنسي تنده په ماتوله، د جنګ په میدان کې د جنګي کسانو نیولو لړۍ او بیا یې غلامول ښایي د نورو عواملو تر څنګ په دې هدف را منځته شوې وي چې هم خپل دښمن ذلیل کړي او ور سره خپلې اړتیاوې په پوره کړي، دا که د خدمت ضرورت وي، که په خرڅلاو یې د اقتصاد پیاوړتیا وي یا هم جنسي تنده ماتول، د غلامۍ رواج خورا ډېره مخینه لري، د مصر په لرغوني تمدن کې هم د غلامۍ څرک ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام د راتلو مهال په عربي جزيره کې غلامي ښه په خرپ رواج وه، د عربو په خوا کې دوې سترې امپراتورۍ وې چې هرې يوې کلونه کلونه له بلې سره جنګ کړی او په ضمن کې يې هرې يوې له بلې څخه جنګي بنديان نيول، هر ښار ته چې به فاتح ځواکونه ننوتل، نو د هغه ښار له خلکو سره يې د غلامانو سلوک کاوه، څوک چې يې خوښېدل، هغه يې غلامان يا منيځې کول، دغه غلامان به په ښارونو کې خرڅېدل، په دې توګه به عربو ته هم راتلل، نه يوازې دا چې په عربو کې بهرني غلامان موجود ول، بلکې عربي قبايلو هم يو پر بل بريدونه کول، هرې قبيلې له بلې قبيلې څخه ښځې او نران بندي کول چې وروسته به يې يا د دښمن په قبيله کې غلامي/مينځيتوب کاوه يا هغوی نورو ځايونو ته نقلول او هلته يې وسلې، خوراکي توکي يا د هغه وخت په چلېدونکو مالونو خرڅول، نو غلامي که يو خوا ځينو انسانانو ته د هلاکت او له ژوندي د لاس مينځو په معنا وه، بل خوا بيا اميرانو او د اشرافو کورنيو ته د زوی زېری و.

د اسلام راتګ په عربي جزيره کې يو ښه اوښتون و، اسلام له پيله د غلامۍ او هغو موانعو غلام و چې د دين او خدای په نوم يوې طبقې پر بلې ور تپلې ول، قران کريم دغه موانع د اصر او اغلال(الاعراف: ۱۵۷) په نوم ياد کړل او رسول يې د دې اغلالو ماتونکی وباله، د محمد په سورت کې يې د جنګي بنديانو لپاره دوه اپشنه اعلان کړل، يو يې د احسان له مخې ايله کول او بل يې په فديه کې خوشي کول و(محمد: ۴)،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې سره يې د غلامۍ سرچينه وچه کړه، بيا يې په ګڼو مواردو کې د شته غلامانو د خلاصولو فرمانونه ورکړل( النساء: ۹۲، المائده: ۸۹، المجادلة: ۳، البلد: ۱۳) فضايل يې بيان کړل او اخير يې د نور په سورت کې امر وکړ چې د ټولنې په خير ټول غلامان او مينځې ازاد کړئ او پر همدې کار له بيت الماله کومک ورسره وکړئ(النور: ۳۳)

۱۹ پېړۍ کې فردي غلامۍ ته د پای ټکی ورکول شو، عثماني خلافت، سعوديان، سوډان او ګڼ نور هيوادونه د غربي فشار په نتيجه کې دې ته اماده شول چې غلامي ختمه کړي، دا ډېر ښه کار وشو، له دې سره چې د اسلام په تر ټولو معتبر متن کې د غلامۍ پای له نن څخه ۱۴۰ کاله وړاندې اعلان شوی دی، خو مسلمانانو د ګڼو عواملو له وجې غلامۍ ته دوام ورکړ او دادی فقط څو لسيزې وړاندې يې ور څخه توبه وکړه، اما بدمرغي دا شوه چې له فردي غلامي سره جوخت د غلامۍ يوه بله بڼه را پيدا شوه چې دا تر هغې غلامۍ ډېره بده او نتايج يې ډېر خطرناک و ډارونکي دي. يو عرب روڼ اندی په دې اړه ليکي:

وليست لفظة «العبودية» في الاستخدام المعاصر من قبيل المجازات الميتة، فأشكال امتلاک الانسان للانسان وسيطرته عليه واستغلاله له لا تزال قائمة بأشكال متعددة في المجتمعات المعاصرة. ولعله ليس من قبيل المبالغة أن نعتبر «التفرقة العنصرية» بكل ألوانها وأشكالها، سواء مارسها البيض ضد السود في أفريقيا و أمريكا، أو مارسها الصهاينة المحتلون ضد العرب من أبناء الارض، شكلاً حديثا من أشكال الاستبعاد. و تتعدد العبودية وتختلف مستوياتها،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکنها لا تعني الامتلاک الکامل للروح والجسد کما کـان الحـال في النظـام الاجتماعي/الاقتصادي المسمى«العبودية».(۱)

او د غلامۍ لفظ په معاصر استعمال کې له کاره لوېدلی مجاز نـه دی، د بشر پـه لاس د بشرـ غلامـي، پـر هغـه واك او د خپلـو ګټـو لپـاره يـې استعمال اوس هم په ګڼو بڼو همدې معاصرو ټولنو کې وجود لري، ښايي دا به زياتوب نه وي چې مـوږ د جنسي- تـوپير او تبعـيض ټـولې بڼـې د غلامۍ اوسنی شکل وبولو، دا توپير نه کوي چې سپين پوستی يې د تـور پوستي ضد توپيري چلنـد کـوي، لکـه پـه افريقـا او امريکـا کـې يـا هـم اشغالګر اسرائيليان يې د عربي خـاروې د عـربي بچيـانو پـر ضـد کـوي، غلامي خپلې بڼې بدلوي او کچه يې هم ورسره توپير کوي، خـو پـه دې توپير چې نن د پخوا پـه شـان د بـدن او روح مالـك يـې نـه وي لکـه د غلامۍ په نوم پخواني ټولنيز اقتصادي نظام کې چې به مالکان کېدل.

د پخوانۍ غلامۍ او اوسنۍ ترمنځ خورا ډېر مشترکات شته، هلته به هم يو څوك بې واکه شو، اوس هم فرد بې واکه کـړي او هـم درسـت قـوم، هلته به يې د ملکيت ګټه مالك ته تله، اوس د قومونو شخصي ملکيتونـه نور ځنې وړي او دا خو پرېږده چې ګټه يې ور ورسېږي، بلکې د همدې پر سر يې نور هم پسې ټکوي چې اينده ته يې د پوښتنې څـوك پاتـه نـه شي، هلته به د هغوی برخليك د بل چا له خوا ټاکل کېدی، اوس هـم د قومونو برخليکونه نور ټاکي، هغوی هم ازاد فکر نه در لود، اوس قومونـه په دې عذاب اخته دي چې د بيان ازادي نه لري، هغوی به زياتره په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښه تعلیم نه شوای کولای، بادار چې به یې د کوم هنر لپاره یو هنرمن ته اړتیا وه، هغه به یې په زده کړ، بیا به یې شخصي- استفاده ور څخه کوله، اوس هم د خلکو په خوښه تعلیمي سیستم نه دی جوړ، بلکې څه چې پر وتپل شول، هغه به وایي، د هغه وخت مالکان چې په کومه ژبه رږغېدل، غلامان به یې هم رږغېدل، اوس هم د غلامو قومونه په ژبه پسې نور قومونه خاندي، دوی حتا د خپلې ژبې په ویلو شرمېږي، د غلام به اوادونه هم غلامان ول، اوس هم عیني معامله ده، د قوم هغه ماشومان او ناخبره کسان یې هم د دوی په تور نیولي دي، نه په خپله ژبه د زده کړې حق لري، نه په خپله خوښه د تعلیمي سیستم د جوړولو واک لري، ټول کوښښ پر دې دی چې اینده نسلونه همداسې غلام فکره پاته شي، دا ټول هغه مشترکات دي چې د پخواني شکل او اوسني ترمنځ شته دي.

پخوا د غلامۍ تر ټوله لویه سرچینه جنگونه ول، د جنگونو یو لوی سبب بیا اقتصاد و، د یوه قوم واکدار به غوښتل چې خپله د واک سیمه پراخه کړي، ثروت به یې زیات شي او ښه په مستۍ په ژوند وکړي اینده نسل ته به هم د سوکاله او خرمستیو د ژوند وسایل پرېږدي، بس پر یوه سیمه به یې حمله وکړه، د نورو شیانو تر څنگ به یې انسانان هم غلامان کول، د غلامۍ دا لویه سرچینه وه، دلته په په ډله ییزه توگه له لسگونو کسانو نیولې تر سلگونو زرگونو کسان په یوه وخت کې له ازادۍ څخه لاسونه مینځل، د ازادۍ حس به یې وژل کېدی او د بې حسۍ په دې له کړاوه ډک ژوند کې به یې د ژوند پیټی تر منزله ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر نن یوازې جنګ د غلامۍ وسیله نه ده، د لویو قدرتونو په دې لویو لاسته راوړنو کې یوه دا هم ده چې د غلامۍ یې ډېرې نوې بڼې او وسایل را پیدا کړل، که ځوک د خپلو ګټو فکر کوي، نو دې ته یې مجبوروي چې د ماښام وچه ګوله پر ودروي، ښه مثال یې ایران او شمالي کوریا ده، د علم په مټ را پورته شوې نړۍ چې شعار یې په علمي ډېوه د اذهانو تنویر او د علم په وسیله انسانیت ته خدمت دی، خو همدغه علم یې د بشر د غلام کولو تر ټوله غټه وسیله ګرځولی دی، د همدې علمي تفوق په وجه درست ملتونه تر سخت جبر لاندې دي یا به د ذلت په مرګ مري یا به د هغوی غلامۍ ته غاړه ږدي، د علم په مټ جوړو شویو وسایلو بشر ته له سوکالۍ سره ډېر کړاونه هم وزېږول، پخوا به یوه جنګ کې لسګونه کسان مړه کېدل، خو اوس په یوه ثانیه کې زرګونه وژل کېږي، پخوا به جنګونه دومره تخریب نه پېښاوه لکه نن، اوس نه یوازې انسان پکې مري، اقتصاد ضربه ویني، بلکې د چاپېریال له ککړتیا سره یې هوا هم ککړه کړه او د ګڼو مرضونو له خطر سره یې نه یوازې بشر مخ کړ بلکې حیوانات یې هم له ضرر څخه خوندي نه دي، اوس بیا دا نارې سورې هم وهي چې که حالت همداسې دوام وکړي، د بشر-یوازینۍ ټیکانه به هم له جدي خطر سره مخ شي او بشریت به له دې کرې د تل لپاره پوپنا شي.

یوازې دا هم نه ده چې یو لوی قدرت لرونکی هیواد نور هیوادونه غلامان کوي، بلکې په هیوادونو کې واکمنه طبقه هم نورې طبقې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلامانو په توګه کاروي، دا چې ستا په شخصي ژوند کې مداخله کوي، اساسي بشري حقوق نه درته مني، هر کار ستا له خوښې پرته په زور او جبر در باندې کوي، دا هم د غلامۍ یوه بڼه ده، دا چې د ژبې له وجې تعصب در سره کوي، بلکې په پالیسي کې یې ځانګړی ځای ور کړی وي، مذهبي تعصب در سره کوي، سمتي در سره پالي، قومي درسره کېږي، د هنر او تعلیم میدان لا هم له دې توپیري چلند څخه خالي نه وي، نو دا د غلامۍ معاصره بڼه ونه بولو څه نوم به د بشري ژبې په قاموس کې ورته ومومو؟

د معاصرې نړۍ پوهان خوشي چټي په دې لاس ته راوړنه ویاړ کوي چې د بشر له لمنې مو د غلامۍ تور داغ ومینځی، بلکې دا داغ ورسره ډېر پراخ، پوخ او جوت شو، د دوی د خپلو علمي لاسته راوړنو په مټ د هغوی بېلچې ته ښه نه ماتېدونکی او نه کرېدونکی لاستی ور واچاوه، که پخوا یو لک کسان په نړۍ کې د غلامۍ ژوند کاوه، اوس څو سوه میلیونه کسان د غلامۍ په همدې مردار ډنډ کې پراته دي.

د هغې ورځې په تمه چې بشر له هر ډول تبعیض څخه پاک شي، هره ازادي ولري چې اخلاقیات او قانون یې ورته جواز ورکوي، خپل ټول بشري حقوق د بشریت جمله افراد ولري، هیڅوک په هیڅ ځای کې نه د قوم، نه رنګ، نه وطن، نه مذهب، نه هنر، ژبې او... په پلمو وځورېږي او داسې زمانه شي چې بشر د بشر په خوا کې د ارامۍ سا واخلي نه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يو بشر د بل له ضرره د خونديتوب لپاره جنګي او دفاعي وسايل جوړ کړي.

۱۴/۹/۲۰۲۲

**سرچينه:**

۱)نقد الخطاب الديني

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ایا د دوو ښځو شاهدي له یوه نر سره برابره ده؟**

قران کریم د معاملاتو په برخه کې لـه یـوه سـړي سره د دوو ښـځو د شاهدۍ یادونه کړې ده، دا په ټول قران کریم کې یـوازې یـو ځـای ذکـر شوي دي، نور ځایونه یې د شاهدۍ په اړه د نر یا ښځې قید نه دی ذکـر کړی، بلکې په عمومي توګه د شاهد یادول یې همداسې عام ایله کـړي، څو نر و ښځې ټولو ته شمولیت وکړي.

د دې ایت یوه برخه داسې ده:

{وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى}.

[البقرة: ۲۸۲].

او ستاسو دوه سړیان شاهدان کړئ، کـه دوه سـړیان نـه ول، نـو چـې فریقینو ته خوښ وي، له هغو دې یو سړی او دوې ښځې شاهدان کړي، دا ځکه چې که یوې اشتباه وکړه، بله به یې ور یادوي.

له دغه ایت څخه داسې برداشت شوی دی چې ښځې نـاقص العقلـه دي، لامل یې همدا یاد کړی چې د یـوه نـر پـه مقابلـه کـې دوې ښـځې شاهدي ور کوي، په دغه ډول تفسیر یې له دې ایـت او ښـځو سره لـوی ظلم کړی دی. د عربو هغه وخت داسې یوه ټولنه وه لکـه د نـن پښـتانه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې د راکړې ور کړې په کار کې ډېر فعالې نه وې، له دې امله یې په ډېرو جزئیاتو هم نه پوهېدلې، دا وجه چې د ښځو تر یادولو وروسته یې دا جمله اضافه کړې ده چې ستاسو خوښ وي، یعنې داسې څوک وي چې فریقین په راضي وي او دغه چاره کې لږ و ډېر اشنایي ولري، خو له دې سره که بیا هم ښځې اشتباه وکړه، دویمه ښځه به مداخله کوي او هغه اشتباه به یې رفع کوي.

په ایت کې د «تضل» لفظ ذکر شوی دی، چې معجم اللغه العربیه المعاصره تر ض ل ل مادې لاندې په ۳۱۳۸ شمېره لیکلي دي:

زلَّ عن الشّيء ولم یهتدِ إلیه، انحرف عن الطریق الصحیح.(۱)

په یوه شي کې اشتباه شو، ورته ونه رسېدی، له سمې لارې کوږ شو.

یوه بله ترجمه یې په هېره هم شوې ده، دلته یې لومړۍ ترجمه سمه ده، ځکه د هغه وخت د عربي ښځې له حالت سره همداسې لګېږي، هغوی په معاملاتو کې زیات حضور نه درلود، نو د شاهدۍ په برخه کې یې د اشتباه امکان زیات و، له دې امله یې دوې ښځې یادې کړې دي، بیا یې ویلي چې که له یوې اشتباه کېده بله دې ور یاد کړي، یعنې د هغې اشتباه ازاله دې وکړي، له دې ښکاري چې حتمن دوې ښځې ضروري هم نه دي، ځکه که یوې اشتباه ونه کړه، بیا د بلې ښځې مداخلې ته اړتیا نه شته، د هغې مداخلې ته هغه وخت ضرورت پیدا کېږي چې یوه ښځه اشتباه وکړي، دلته الفاظ هم دغه ډول دي، وایي که یوې اشتباه وکړه، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله دې ور یاده کړي، دا خپله ثابتوي چې په شریعت کې دوې ښځې حتمي نه دي، دلته یوازې د اشتباه د ازالې لپاره دوې یادې شوې دي، که یوه داسې ښځه پیدا شي، چې په دې معامله کې د نرانو غوندې مهارت ولري، تر یوه نر یې ښځه تشریح کولای شي، نو بیا به هم د هغه نر په مقابل کې چې د تجارت په الف او با نه پوهېږي دوې ښځې شاهدي ور کوي؟

د دې ایت په اړه عمومي فکر دادی چې د ښځې شاهدي د سړي په نیمایي ده، په داسې حال کې چې قران کریم داسې نه دي ویلي، دا یوازې د هغه وخت ظروفو ته په کتو دغه حکم و، که دغه ظروف بدل شي، دغه حکم هم وررسره بدلېږي، ځکه د مکان او زمان تغیر د حکم پر تغیر هم تاثیر لري.

بلکې په ځینو ځایونو کې قران کریم د ښځې شاهدي د نر پر هغې معتبره ګڼلې ده، هغه وخت چې یو مېړه پر خپلې ښځې د زنا تور ولګوي، هیڅ شاهد یې ترمنځ نه وي، نو نر به څلور واره د الله په نوم قسم کوي چې دی رښتنی دی او پنځمه پلا به وایي چې که دی درواغجن وي، پر ده دې د خدای لعنت وي، ښځه به څلور وار په خدای قسم کوي چې هغه دروغ وایي، پنځم وار به وایي چې که هغه رښتنی وي، دا دې د الهي غضب مستحقه شي.(النور: ٦-٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د ښځې شاهدي ته د نر مساوي اعتبار نه ورکول کېدای، نو دلته باید پر ښځه حد جاري شوی وای، مګر قران کریم یوازې د هغې په قسم اکتفا کړې ده او هیڅ ډول عذاب، حد او تعزیر ور ته نه شته، نو د هغې شاهدي یې تر نر ډېره معتبره بللې ده.

په نورو چارو کې قران کریم د ښځې شاهدي کمه نه ده ګڼلې، د زنا په اړه د لیدلي حالت په بیان کې یې د نر او ښځې فرق نه دی کړی، قران کریم وایي:

{ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنْفُسُهُمْ} [النور: ٦].

او هغه چې پر خپلو ښځو تور لګوي او دوی له خپلو ځانو پرته نور شاهدان نه لري.

دلته وینو چې د شاهدانو ترمنځ یې هیڅ توپیر نه دی کړی، بس مطلق شاهدان یې یاد کړي، نر وي که ښځې توپیر نه لري، ځکه شاهدي داده چې په سترګو یو شی ووینې بیا یې د بیان لپاره غوښتنه ځنې وشي، نو هغه د ده په حضور کې شوې واقعه بیان کړي، دا چې په معاملاتو کې د ښځو حضور کم و، له دې امله یې د اشتباه امکان ډېر و، خو دا چې زنا په پېښه کې دا امکان کم دی، نو ځکه یې دلته توپیر ونه کړ.

۲/۱۰/۲۰۲۲

۱) معجم اللغة العربية المعاصرة (۲/ ۱۳۶۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په میراث کې د لمسي حق

په څینو صورتونو کې لمسی محجوب شوی دی، حجب د لغت لـه مخې منعې ته وايي او په اصطلاح کې د میـراث لـه ټـول یـا بعضـې حق څخه د یو معین شخص منعه ده، فقهاء کرام لیکي:

وَهُوَ فِي اللُّغَةِ الْمَنْعُ وَفِي اصْطِلَاحِ أَهْلِ هَذَا الْعِلْمِ مَنْـعُ شَـخْصٍ مُعَـيَّنٍ عَـنْ مِيرَاثِهِ إِمَّا كُلُّهُ وَيُسَمَّى حَجْبَ الْحِرْمَانِ أَوْ بَعْضُـهُ وَيُسَـمَّى حَجْـبَ النُّقْصَـانِ بِوُجُودِ شَخْصٍ آخَرَ.(١)

حجب په لغت کې منعې ته وايي او د دې علم د پوهانو په اصطلاح د یو بل کس د وجود په وجه له ټول میـراث یـا بعـض څخـه د یـوه معین شخص منعه ده چې لومړي ته یې حجب الحرمان وايي او دویـم تـه یـې حجب النقصان ویي.

دا هغه موضوع ده چې د اسلامي نړۍ خورا لویـه برخـه علـماء پکـې منفي نظر لري، دوی وايي که یو کس د خپل پلار په ژوند کې مـړ شي، زوی یې پاته شي، نو که د دغه یتیم نیکه ومري، د هغه په ترکه کې دغـه یتیم ماشوم هیڅ حق نه لري، ځکه د هغه چې له نیکه سره کومـه واسـطه وه(د ده پلار) هغه نه شته، نو حق د هغې واسطې په وسیله دوی تر لاسـه کاوه، دا چې هغه واسطه اوس نه شته او تر لمسي نژدې کسان یې نیکه ته شته، نو دی محجوبیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو زما په نظر دا انصاف نه دی، که عقلن دې موضوع ته وکتل شي، نو باید ماشوم ته حق ورکړل شي، ځکه هغه لا ډېرې مرستې ته اړتیا لري، دا خو بیخي له عدالت څخه لرې فیصله ده چې د هغه میراثي حق دې ترې واخیستل شي او هیڅ دې هم ورنه کړل شي.

ما په خپل ژوند کې دوې پرېکړې لیدلې دي چې خلکو له دې میراثي مسلې پکې سرغړونه کړې ده، یوه زموږ په کلي کې د یوه هلک وه، د هغه پلار د روسانو خلاف جنګونو کې وژل شوی و، بیا یې نیکه تر مرګ مخکې د هغه لپاره خپله حصه بېله کړه چې پاته درو زامنو یې نیوکه پر وکړه، مګر نیکه ویل چې زه خپل اولاد بې حصې نه شم ایله کولای چې د بل مزدورۍ ته پاته شي، نه واده لري، نه کور، نه پلار، نه یې مور پاته شوه ځکه تره یې وکړه بیا پسې مړه شوه، لنډه دا چې له نیکه، ترونو او ناسکه ورونو پرته یې څوک نه در لودل، نو نیکه هغه خپل اولاد بالی، له دې امله یې د یوه زوی حصه ورته جلا کړه، خو هغه لمسی یې د تېر دولت خلاف په یوه جګړه کې ووژل شو او د هغه حصه بېرته اکاګانو سره جلا کړه.

یوه بله پېښه د کندهار د پنجوایي په سلاوات کلي کې وه، هلته ورونو جنګ سره وکړ، یو ورور را ولاړ شو له خپلو درو ورونو څخه یې یو قتل کړ، په دې سره له ځلورو ورونو یوازې اوس درې پاته شول چې یو پکې د خپل ورور قاتل هم و، دا چې هغه ظلم کړی و، نو پاته دوه ورونه ورته پخوا شول، دغه قاتل یې هم قتل کړ، په دې سره دوه ورونه مړه شول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه پاته، د یوه ورور یې یو یتیم زوی هم و، نیکه یې ژوندی و، کله چې د دوو ورونو پلار خپلو زامنو ته حصې ور کولې، نو یتیم ماشوم یې څنې وایستی، د هغه کشر زوی ورته وویل چې هغه یوځل ټول وخت د پلار له مینې او شفقت څخه محروم و، اوس یې د هغه له حصې هم بې برخې کوې، یا به هغه ته هم پوره حصه ور کوې یا به یې مور ته هم نه راکوې، لنډه دا چې پلار یې مجبوره کړ، لمسي ته یې کامله حصه ور کړه، پر هغه په سیمه کې ډېرو ملایانو نیوکې وکړې، مګر ده ما ته ویل: پلانیه! دا بې انصافي نه ده چې زه کور لرم، ښځه لرم، لوی سړی یم، زه به حصه اخلم او هغه چې لا پوره ځوان شوی نه دی، واده نه لري، ټول وخت یې د پلار او مور له مهربانۍ پرته تېر کړی دی، هغه دې همداسې د بل مزدوري ته پاته شي؟ ما ورته وویل چې بالکل انصاف نه دی.

د پوهنتون په دوره کې مې له خپل یوه استاد سره یوه ورځ پر دې موضوع بحث شو، استاد ډېر مغرور و، زما خبرې ته یې غوږ نه نیوی، نه یې په صنف کې د خبرو اجازه راکوله، ما ځو پلا ورته وویل چې زه د دې لپاره شرعي دلایل لرم، خو ده ویل چې نه دا مسله کې د لمسي لپاره هیڅ دلیل نه شته، نو ځکه لمسی محجوب دی او هیڅ ډول حصه ورته نه رسېږي، د استاد تر تلو وروسته همصنفیانو پوښتنه وکړه چې په لنډه توګه مې خبره تشریح کړه، مګر دا مسله دومره اسانه هم نه ده چې په یو څو خبرو دې خلک په پوه شي، باید سمه بیخکي تشریح شي چې خلک یې سم په شرعي اړخ پوه شي او د هغه بل لوري کمزوری هم ورته جوتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځینو هیوادونو په قانون کې دا ډول مسله حل شوې ده چې یو ثلث میراث ور کوي، لکه د مصر قانون، ځینو بیا پر نیکه وصیت لازمي کړی دی چې د لسمي لپاره به حتمي وصیت کوي، نورو بیا پر تره د یتیم ماشوم تربیت ضروري کړی دی، اما که په شرعي مسله له ماشوم څخه حق واخیستل شي، بیا یې د تره ټوک ته کېنوې، په دې سره به د ماشوم ورځ سمه نه شي، هغه به هم د تره تر جبر لاندې وي هم به یې روحن ځپي.

دویم دا چې د حرمت په برخه کې لسمی د زوی ځای لري، یعنې زوی ته د خپل پلار ښځه نه ده روا، عیني مسله له لمسي سره هم ده، هغه هم نه شي کولای چې د نیکه په نکاح شوې ښځه وکړي، ځکه په دې برخه کې هغه د زوی حکم اخلي، لکه زوی ته چې یې د پلار ماینه میره وه، د لمسي لپاره یې هم انا بلله کېږي، نو حرمت یې قطعي دی او نیکه ته د لمسي ښځه نږور ده قطعي ورته حرامه ده. دغه مسله کې د قرانکریم دغه ایت د استدلال ښه مرجع ده:

{قَالُوا نَعْبُدُ إِلَهَكَ وَإِلَهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ} [البقرة: ۱۳۳].

دوی ویل: موږ ستا د معبود عبادت کوو ستا د پلرونو د معبود لکه ابراهیم، اسماعیل او اسحاق.

دلته د یعقوب علیه السلام پلار اسحاق علیه السلام دی، مګر د هغه تره او نیکه یې هم په پلرونو کې شمېرلي دي، له دې څخه فقهاؤ د اصولو او فروعو اصل استنباط کړی دی چې د پلار، پلار، د مور، مور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه لکه مور و پلار داسې دي، نو فروع هم دغسې دي، د لمسي ـ لـور هم نیکه ته لمسی ده ځکه د هغه لپاره نه روا کیږي.

د اولاد په برخه کې قران کریم بل ځای هم وایي:

{ يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ} [النساء: ١١].

الله ستاسو د اولاد په اړه سپارښتنه درته کوي.

اولاد یوازې لور او زوی ته نه وایي:

وَلَد الرَّجل: رَهْطه، أولاده وذرّيته " {وَاتَّبَعُوا مَنْ لَـمْ يَـزِدْهُ مَالُـهُ وَوَلَـدُهُ إِلاَّ خَسَارًا} ".(۲)

د سړي زوی: ډله/کورنی، اولاد او ذریت، الهي وینا ده: دوی د هغـه چا پیروي وکړه چې مال او اولاد ته یې خساره ور پېښوله.

د قران کریم په ایت کې اولاد ته زیان یې یوازې هغه یـاد کـړی چـې خپل سکني اولاد ته یې ور رسوي، که په دې کې لمسی او نور هم شامل دي؟ دا خـو هـیڅ سر نـه سرخـوري چـې زیـان دې د هغـوی تـر اولاده ځانگړی و، تر دې به یې تجاوز نه کاوه!

ذریه په قران کریم کې هم استعمال شوی دی، معجم اللغه وایي چـې ذریه نسل و اولاد ته ویل کیږي، په قران کریم کې دي:

{وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَى وَهَارُونَ}.

(c) ketabton.com: The Digital Library



[الأنعام: ۸٤].

او د هغـه (ابراهیم ع) لـه اولاده داؤد (ع)، سـلیمان (ع)، ایـوب (ع)، یوسف (ع)، موسی (ع) او هارون (ع) ول.

دلته تر ابراهیم ډېر پشتونه وروسته راغلي کسان یې هم د هغه په ذریه کې شمار کړي دي، نو اولاد یوازې لور او زوی نه دي، په عربي ژبه کې د اولاد الفاظ کارول د بلا واسطه اولاد لپاره خاص نه دي.

فقهاء هم دا خبره مني، دوی د زوی پلار ته جد صحیح وایـي، دوی یې داسې تعریف کوي:

وَهُوَ الَّذِي لَا يَدْخُلُ فِي نِسْبَتِهِ إِلَى الْمَيِّـتِ أُنْثَـى، وَهُـوَ بِمَنْزِلَـةِ الْأَبِ عِنْـدَ عَدَمِهِ عَلَى مَا يُذْكَرُ فِي بَابِهِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى، وَلِأَنَّ اسْمَ الْأَبِ يَنْطَلِـقُ عَلَيْـهِ، قَالَ - تَعَالَى - خَبَرًا عَنْ يُوسُفَ - عَلَيْهِ السَّلَامُ -: {وَاتَّبَعْتُ مِلَّـةَ آبَـائِي إِبْـرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ} [يوسف: ۳۸] وَإِسْحَاقُ جَدُّهُ وَإِبْرَاهِيمُ جَدُّ أَبِيهِ.(۳)

جد صحیح هغه دی چې له مړي سره په نسبت کې یې ښځه نـه وي، نیکه د پلار په نه شتون کې د هغه درجه لري، په خپل باب کې به دا خبره راشي، او بل د اب (پلار) نـوم اطـلاق پـر نیکـه هـم کېـږي، الله تعـالی د یوسف ع په اړه ویلي: او ما د خپلو پلرونو ابراهیم و اسحاق پیروي وکړه، اسحاق ع د هغه نیکه او ابراهیم یې د پلار (یعقوب) نیکه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته موږ ولوستل چې فقهاء هم په دې کې راسره موافق دي چې پلار نیکه ته هم ویل کیږي، د اولاد په برخه کې هم کاږي:

الْأَبُ، وَلَهُ ثَـلَاثَةُ أَحْوَالٍ: الْفَرْضُ الْمَحْضُ، وَهُوَ السُّدُسُ مَـعَ الِابْـنِ وَابْـنِ الِابْنِ وَإِنْ سَفَلَ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: {وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ} [النساء: ۱۱].(۴)

پلار درې حاله لري: فرض محض دی، چې له زوی یا لمسي یـا هـم تر دې کښته درجه لرونکي سره یې شپږمه برخه کیږي، الهـي وینـا ده: د مور و پلار هر یوه د زوی له ترکې شپږمه برخه ده که د هغه ولد وي.

دلته له ولد ځخه دوی لمسی، کړوسی او... هم اخیستي دي، په قران کریم کې یوازې ولد ذکر شوی دی، خو د عـربي ژبې سره بلـد کسـان پوهیږي چې له ولد ځخه هدف څوک وي؟ د زوی د لور په اړه وایي:

الثَّانِيَةُ بِنْتُ الِابْنِ وَلِلْوَاحِـدَةِ النِّصْـفُ وَلِلثِّنْتَـيْنِ فَصَـاعِدًا الثُّلُثَـانِ، فَهُـنَّ كَالصُّلْبِيَّاتِ عِنْدَ عَدَمِ وَلَدِ الصُّلْبِ ; لِأَنَّ اسْمَ الْوَلَـدِ يَنْطَلِـقُ عَلَـيْهِنَّ حَقِيقَـةً وَشَرْعًا.(۵)

دویم د زوی لور ده، یوې ته یې نیمه حصه، دوو یا زیاتو ته یـې دوه ثلثه دي، دوی د اولاد په نه شتون کې د اولاد ځای نیسيـ، ځکـه د ولـد اسم اطلاق د (ژبني/عرفي) حقیقت او شریعت دواړو لـه مخـې پـر دوی کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې مقدماتي بحث وروسته راځم دې ته چې فقهاؤ د کومو اصولو په عملي کولو لمسی محجوب کړی دی او ایا هغه اصول هر ځای د عملي کېدای وړ دي که ځینې ځایونه دوی خپل هم د هغو ماتولو ته اړ شوي دي؟

لمسی د کوم قانون له مخې محجوب شوی دی، فقهاء وايي:

فَالْأَقْرَبُ يَحْجُبُ الْأَبْعَدَ، وَمَنْ يُدْلِي بِشَخْصٍ لَا يَرِثُ مَعَهُ.(٦)

نژدې قریب لرې محجوبوي او که څوك د بل په واسطه له یو کس سره خپلوي لري، نو له هغه سره یوځای میراث نه شي وړای.

دوه اصله یې بیان کړل، نژدې لرې محجوبوي او که په واسطه له یو چا سره قرابت وي، نو د هغه واسطې په شتون کې له هغه سره یوځای میراث نه شي وړلای.

مثلن: یو کس مړ شي، ورونه هم لري او زوی هم، نو د زوی په شته والي کې، وورنه د هغه په ترکه کې حصه نه لري، دویم مثال: یو کس مړ شو (ایمل)، پلار (میوند) لري، زوی (بریالی) لري او ورور (اباسین) لري، اوس که د ایمل پلار چې میوند دی، ومري په دې صورت کې د هغه اقرب د ده زوی دی اباسین، نو لمسی (بریالی) یې محجوب شو. همدا رنگه که ایمل ژوندی وي، بیا یې پلار میوند ومري، هم یې زوی بریالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نیکه په میراث کې حصه نه لري ځکه دی له نیکه سره د پلار په وسیله قرابت لري، نو د واسطې په شتون کې حصه نه ور کول کېږي.

دویم اصل د ایمل په مرگ سره ختم شو، دلته د نیکه او لمسي ـ تر منځ واسطه پاته نه شوه، لهذا لکه نیکه چې د لمسي په مال کې حصه لري، لمسی هم د نیکه په مال کې حصه لري، ځکه هغه واسطه ختمه شوه چې لمسی یې د نیکه له ترکې محجوب کړی او نیکه یې د لمسي له میراثه، فقهاء د لسمي په ترکه کې د نیکه حصه مني، خو د نیکه په ترکه کې لمسي ته حصه نه ور کوي، دوی دلته د الاقرب فالاقرب اصل پر راوړي چې د لمسي تره موجود دی، راشئ پر دې اصل لاندې تفصیلي خبره وکړو.

دلته لومړۍ خبره دا ده چې د اقرب الاصل له کوم ځای څخه اخیستل شوی دی؟ او ایا هدف یې همدا دی چې څوك مړي ته ډېر نږدې وي هغه به حصه وړي او که موخه دا ده چې په خپلوي کې یې واسطه پاته نه شي؟

د الاقرب فالاقرب اصل له دې ایت څخه اخیستل شوی وي:

{لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا} [النساء: ۷].

(c) ketabton.com: The Digital Library



نر د مور او پلار یا ډېرو نژدو خپلوانو په ترکه کې برخې لرې او ښځې د مور و پلار او ډېرو نژدو قریبانو په ترکه کې برخې لري، لږ وي که ډېر، معلومې شوې حصې دي.

نو دلته له الاقربون څخه هدف هغه څه نه دي چې دوی فهمولي دي، دلته د اقرب جمع ذکر شوې ده، دا نه شته چې حتمي دې ډېر قریب لرې قریب محجوب کړي، کـه دغـه ډول اصـل شي بیـا خـو پـه دې لانـدې صورتونو کې دغه اصل دوی خپل هم نه دی مرعات کړی:

میراث نیکه او د مړي زوی ته پاتـه شـو، دلتـه زوی لـه واسـطې پرتـه قریب دی او نیکه په واسطه قریب، مگر بیا هـم حصـه ور کـول کېـږي، دلته اقرب، ابعد نه دی محجوب کړی.

ځیني کسان دلته د عربي ژبې مغالطې ور کـوي، چـې د پـلار لپـاره د اب لفظ استعمال شوی دی او د زوی لپاره د ولد، نـو اب خپـل پـلار او نیکه ته هم ویل کېږي او ولد یوازې خپل سکني زوی ته ویل کېږي، که ابن وای بیا لسمی هم پکې شاملېدی، دوی زیاتوي چې والد پلار ته ویل کېـږي نیکـه نـه پکـې شـاملېږي او کـه أب لفـظ وي، بیـا نیکـه تـه هـم شاملېږي، که دارنگه په والدَین یا هم والدان کې هغه مـور و پـلار شـامل دي چې خپل سکه یې وي، نه هغه چې ناسکه یې وي او نـه هغـه چـې نیکه یا جد یې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اړه که د عربي ژبې یوه لغت دا یادونه کړې وي، نو بل بیا وایي چې توپیر نه لري، یوازې د اسلوبو تغییر دی، د یوې پوښتنې په ځواب کې د اسلام ویب ټکی نیټ انلاین دار الافتاء کاږي:

الحمدلله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه، أما بعد:

فإن كلمة الوالدين والأبوين معناهما واحد، ولا إشكال في تنوع الأسلوب فيهما، وقد ذكر بعض المفسرين أن أم يوسف ماتت وهو صغير، وأن زوجة يعقوب كانت خالته ولم تكن أمه، واذا كانت كذلک فيكون عندها نسبة أبوة ووالدية ليست كاملة، ولكن الأولى عدم التكلف في الأمر وأن يحمل على أنه من باب تنويع الأسلوب. والله اعلم

ترجمه: د والدین او ابوین کلیمو معنا یوه ده، د اسلوبو په تنوع کې ستونزه نه شته، البته ځینو مفسرینو ویلي دي چې د یوسف ع مور د هغه په ماشومتوب کې مړه شوې وه، د یعقوب ع میرمن د هغه خاله وه، مور یې نه وه، که خبره همداسې وي، نو بیا د ابوت نسبت ورسره لري، نه د بشپړ والدیت، خو ښه خبره داده چې دغه تکلف پکې ونه شي او خبره یوازې د اسلوبو پر تنوع حمل شي.

که دا ومنل شي چې والدین خپل سکني مور و پلار ته وایي، نیکه او غیر سکني پکې نه شاملیږي، بیا دلته هم یوازې مور والده ده، ځکه هغه زیږول کوي، پلار ولې والد دی؟ نو دا خبره کیږي چې دلته تغلیب شوی دی، په مور کې یې معنا حقیقي دي او د پلار په اړه یې یوازې نسبت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، دا سمه ده چې په عربي کې به يو لفظ خاص معنا ولري او بل به عامه، مگر دا حتمي نه ده چې عام دې د خاص پر ځای نه کارېږي او خاص دې د عام، په قران کريم کې دين او شريعت هم توپير سره لري، مگر دواړه يو د بل پر ځای کارېږي. يوه بله پوښتنه دا هم پيدا کېږي چې قران کريم له والدينو سره د ښه سلوك امر کړی دی، ايا په دې ښه سلوك کې نيکه، جد، انا، ناسکه مور و پلار نه دي شامل؟ که وايي نه دي شامل، د دې لپاره خو عرف له ده سره ملتيا نه کوي، په عربي ټولنه کې د نيکه، جد، ناسکه پلار و مور هغه ډول احترام کېدی او خبره يې منل کېده، لکه د خپل پلار و مور، او که وايي چې شامل دي، نو په کوم دليل يې ور شاملوي؟ په قران کريم کې د اطاعت او احسان په برخه کې هر ځای د والدين الفاظ راغلي دي.

د اولاد په برخه کې هم دغه مغالطه سمه نه ده، د عربي ژبې د لغت گڼو کتابونو او هم د فقهې مشهورو کتابونو اولاد لمسي ته هم شامل کړی دی، هغه څوك چې له دې څخه منکر دي، دوی د فقهې په کتابونو کې دا نه گوري چې ميراث کې همدغه تگلاره عملي شوې ده، لاندې مثالونه وگورئ:

که مړی يوه لور او يتيم لسمی ولري، نو نيمه ترکه لور ته ور کوله کېږي او پاته يې د لسمي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مړی تر يوه زياتې لونې ولري، نو دوه ثلثه د لونو دي او پاته يې د يتيم لسمي ده.

په دې دواړو صورتونو کې اقرب څوک دی؟ که د ولد په برخه کې لمسی شامل نه وي، نو بيا څه اړتيا ده چې د لور (قريبترين) شخص په موجودگي کې ابعد ته مال ورکول کېږي او د لونو حصه يې هم ورکمه کړه.

که د مړي مېره او يتيم لسمی وي، مېړه څلورمه وړي او پاته ترکه د لسمي ده. دلته بيا اقرب څوک دی؟ دا عيني هغه صورت دی لکه د مړې ښځې چې خپل اولاد پاته وي، نو که لسمی په اولاد کې شامل نه دی،بيا يې د مېړه حصه له نيمايي څخه ولې څلورمې ته پورته کړه؟

د اقرب په يوه بله مسله کې که له يوه مړي سره اولاد د خپلې مور په واسطه خپلوان وي، نو د مور اقربيت هغه اولاد نه شي محجوبولای، بلکې مور ته يې هم حصه ورکوله کېږي او زامن يې هم حصه وړي، نو که اقرب ابعد محجوبولای، دلته به مور اولادونه محجوب کړي وای!

إِلاّ أَوْلَاد الْأُم حَيْثُ يدلون بهَا ويرثون مَعهَا وتحجب الْأُخوة بالابن وَابْنه وَإِن سفل وبالأب وَالْجد ويحجب أَوْلَاد العلات بالأخ لِأَبَوَيْنِ أَيْضا.(۷)

مگر مورني اولادونه، هغوی په دې سره خپلوان شوي دي، او له دې سره ميراث هم وړي، وروڼه بيا په زوی، لمسي ـ او تر دې کښته درجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکي، پلار او نيکه سره محجوبېږي او پلرنی اولاد بيا حقيقي اولاد محجوبېږي.

په دې ځای کې مور له اولاد سره ميراث وړي، مور اقربه ده، مگر بيا هم اولاد ورسره حصه وړي ده، د ميراث په برخه کې چېرې د ولد يا اولاد پر ځای ابن يا ابناء ذکر شوي دي چې دلته بيا لـه لمسي ـ څخه د زوی ځای ناستی جوړ شوی دی او د لمسي په شتون کې يې د مړي ورونه محجوب کړي دي؟ حتا که تر لمسي هم کښته درجه وي، بيا هم د مړي ورونه محجوبوي، که فکر وشي دلته مړي ته اقرب څوک دی؟ کړوسی که د مړي ورور؟ کړوسی په څو واسطو له مړي سره قرابت لري او ورور يې له واسطې پرته، نو بيا ولې په کړوسي سره اقرب محجوب شي؟ د امام صاحب رح په نظر نيکه د سړي سکني او ناسکني ورونه محجوبوي:

سَمِعت مُحَمَّدًا يَقُول قَالَ ابو حنيفَة رَضِي الله عَنهُ الْجد مَعَ الاخوة بِمَنْزِلَة الاب لَا يَرث مَعَه الاخ لاب وام وَلَا لاب وَلَا لَام.(۸)

له محمده مې واورېدل، ويل يې چې امام ابو حنيفه رض ويل: د ورونو په نسبت نيکه د پلار درجه لري، د هغه په شتون کې حقيقي ورونه، پلرني او مورني ورونه يو هم ميراث نه شي وړای.

دلته نيکه په واسطه د مړي قريب دی او ورور يې د خپلې مور او پلار زوی دی، ولې په نيکه سره سکني او ناسکني ټول محجوبېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په نظر د دلته د اقرب څخه داسې اقرب هدف نه دی چې مړې ته به حتمن ډېر نژدې وي، بلکې د واسطې له منځه تګ خپله اقربیت ته لار جوړوي، نو که پلار له منځه ولاړ شي، له نیکه سره د لمسي۔ قرابت په اقرب کې شاملیږي، لکه دوی چې یې د مړي د ورور په صورت کې اقرب کوي، عیني معامله باید د نیکه او لمسي په صورت کې هم ورسره وشي.

لمسی که له نیکه سره ترمنځ واسطه ولري، هم حصه نه لري، ځکه پلار یې شته او د هغه په وجود کې حصه نه لري، که پلار یې له منځه ولاړ شي، بیا هم حصه نه لري، ځکه تر ده اقرب موجود دی چې د ده تره دی، د پلار یې ورور دی او د نیکه یې زوی دی، له دې امله بیا هم بې برخې پاتېږي، ځینې کسان دا خبره کوي چې لمسی برخه نه لري، د برخوال اصلن پلار دی، نو که پلار موجود وي، لمسی حق نه لري، که پلار ولاړ شي، نو د هغه حصه ده ته نه نقل کیږي، ځکه یو څوک چې په میراث کې برخه وړي، هغه یې د ژوند په حالت کې وړي نه د مرګ، نو چې پلار حصه یې ختمه شوه، لمسی بیا د چیشي حصه وړي؟

دا خبره په هغه صورت کې سهي وه چې لمسی په هر حال کې دوی محروم کړی وای، دوی خو یې محجوب بولي محروم یې نه ګڼي. لمسی له دغه یوه صورت پرته په نورو کې حق لري، ما یې د دوی له کتابونو وړاندې مثالونه ذکر کړل، که په دې نورو صورتونو کې حصه وړي، نو هغه ولې وړي؟ لمسیتوب خپله په میراث کې حصه لري، که د لمسي۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار وجود ونه لري، په میراث کې د لمسي-لپاره ځای خالي شو، د واسطې له منځه تگ هم د لمسي لپاره د میراث حصې ته ځای خالي کړ او هم يې د نيکه لپاره خالي کړ، دغه خبره چې نيکه د ابوت له وجې په پلار کې شامليږي او لمسی بيا د ولد په لفظ کې نه شامليږي، نو ځکه نيکه د لمسي په ميراث کې حصه لري او لمسی يې د نيکه په ميراث کې نه لري؛ دا خبره ما وړاندې ناسمه ثابته کړه، هم د لغت له کتابونو او هم د فقهاؤ له کتابونو، دغه کسان بيا په کوم سند او برهان د لمسي په شتون کې د هغه ترونه د خپل ورور له ترکې محجوبوي؟ که دلته فقهاؤ لسمی د زوی پر ځای درولی دی، دليل يې همدا ور کړی دی چې لمسی او تر دې کښته درجه لرونکي د زوی پر ځای حسابيږي، له دې امله يې تره محجوب دی، اما هغه کسان چې په ولد کې لمسی نه شاملوي، دوی يې بيا دغه ډول مسايلو ته په کوم نظر گوري؟

يوه نيوکه دا هم کيږي چې دلته د زوی ځای لمسي ته ور کول کيږي، نو دا معنا چې گواکې لمسی د زوی ځای ناستی دی، بيا به نو احکام هم د زوی پر جاري کيږي، په دې سره يې يو صورت جوړ کړی دی چې که له لمسي سره په يوه مرتبه کې د دوو ورونو له اولادونو څخه يو لمسی پاته وي او بل خوا د لمسي اولاد وي، نو دلته به لمسی تر دوی ډېره حصه وړي او هغوی به کمه وړي؟ دا نيوکه يې له څو وجو ناسمه ده، يوه دا چې حتمن ځای ناستی د هغه اصل حکم کامل نه اخلي، دا کار يوازې د لمسي حق منونکي هم نه کوي، بلکې فقهاء يې هم کوي، نو دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیوکه دې اول پر فقهاؤ ده، دویم دا چې که د زوی ځای نیسي، نو بیا د لمسي د اولاد ستاسو له انده باید هیڅ حصه نه وي، ځکه زوی چې راغی نو بیا لمسی یا د لمسي اولاد څوك دي؟ دلته اقرب موجود دی، نو بیا څله ابعد ته حصه ور کوئ؟ بله خبره دلته دا ده چې د پلرونو له منځه تلو کښته رتبه لرونکو ته له نیکه څخه د مخامخ میراث وړلو ته لار برابره کړه، په دې کې نور لمسی او کړوسی توپیر نه لري، دواړه باید یو ډول حصه یوسي، زما په نظر دلته اقرب مفهوم د نژدې رتبې قریب ته یوازې نه دي، بلکې له واسطې پرته پر قریب ښه تطبیقېږي، نو چې ترمنځ یې واسطې وشلېدې، بس لمسی یې هم اقرب دی او کړوسی یې هم اقرب شو.

یو وخت مې په دې اړه د دوکتور یوسف قرضاي رحمه الله مقاله وکته، هغه لمسی بې برخې کړی و، بیا یې د هغه پر حالت د شفقت له مخې ځینې وړاندیزونه کړي ول، هغه ویل: نیکه دې تر مرگ وړاندې وصیت وکړي، په دې سره دې د لمسي لپاره حصه بېله کړي، که داسې ونه شول، بیا دې پاته میراث خواره د ترکې د جلاوالي په وخت کې هغه ته یو څه ور کړي، او داسې نور.

مهمه خبره داده چې که یوځل محجوب شو، بیا به نو ښه هغه ته یو څه ورسېږي، دا مسله په ښکاره نص ثابته نه ده، نو بیا ولې دومره ټینگار پر وشي لکه په قطعي ایت چې ثابته وي؟ مسله ټوله د ژبې پر ظرافتونو ولاړه ده، که خبره د قطعي الثبوته او قطعي الدلالته نص وای، بیا اختلاف چا نه کاوه، دلته اختلاف له دې امله را پیدا دی چې ځای ور ته شته، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایاتونو عبارات دا مجال ور کوي چې ګڼ مفاهیم ځنې وایستل شي، له دې امله باید د لمسي۔ حالت ته په کتو دغه اجتهاد بدل شي، نور وړاندیزونه کار نه ور کوي، که یې ور کولای، په نورو ځایونو کې خلکو څومره د دغه ډول احکامو خیال ساتلی دی؟ که یوځل د ترونو حق وبلل شي او لمسی محجوب شي، بیا یې د هغوی له جیب یا خولې ورته را ایستل ستونزمنه چاره ده، زما په نظر ښه به دا وي چې له لومړي سره د نیکه په ترکه کې لمسي ته خپله حصه ومنل شي.

تر دې ګڼو بعدونو وروسته غواړم دا وضاحت وکړم چې دا مسله اجتهادي ده، که فقهاء په دې اړه دلیل وایي، هم یې د اجتهاد پر بنیاد وایي، که مخالفت کې یې څوک بل لور ته تللي دي، هم یې نص نه دی پکې وړاندې کړی، بلکې ژبني ظرافتونو ته په کتو دغه ځای ته رسېدلي دي، نو په دې اختلاف کې یو پر بل تاپې لګول، څوک په یوه نوم او نور په بل نوم یادول، به مناسب کار نه وي، دا نه د نورو د تقلید نتیجه ده، نه په دې کې غرب کار لري او نه شرق، نه د غربي تمدن اغېزې دي او نه د شرقي، بلکې خبره د ګڼو زاویو ده چې په یوه مسله کې څوک له یوې زاویې ورته راګوري او نورو له نورو، له دې امله د مسایلو تعدد رامنځته شوی دی، په دې برخه کې بېل نظر ور کول به جرم نه وي، حتا که له جمهورو فقهاؤ څخه جلا هم وي، ځکه ډېر واره نورو علماؤ هم دغه کار کړی دی، زموږ په زمانه کې هم دا کار کېږي، ان په ډېرو وړو مسلو کې هم دغه کار شوی دی، زموږ په سیمه کې یو ملا و، د مړي په کور کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې چاى لا نه کولې، ويل به يې د مړي پر کور ناسته او خوراک مکروه دي، نورو ملايانو به مزغنې غوړې ډوډيانې پر وهلې، په دې مسله کې هغه عالم يوازې و او نور يې ټول بل اړخ ته ولاړ ول، نو د هغه يوه عالم په ګټو نومونو يادول سهي کار نه دى، دغه ډول نو په نورو ځايونو کې بيا تر دې په غټو مسلو کې اختلاف کېږي او شوى دى. دا خبر هم ډېره بې وزنه ده چې کله ناکله يو څوک ښه په برګو سترګو درته وايي: نو ته لکه لوى عالمان داسې اختلاف کوې، ته د هغوى درجې ته رسېدلى يې، ته اجتهاد کولاى شې، ته له هغوى سره ځان ږدې؟ اما که له بله دغه پوښتنې کوي، خو خپله بيا دغه اصل نه ساتي، هر ملا له بل سره اختلاف لري، حتا په حرامو او حلالو کې يې لري، دا که په مذهب کې دننه وي، نو د مجتهد في المذهب کار دى يا که د راجح او مرجوح خبره وي، نو د هغو عالمانو کار دى چې د دې د تعينولو اهليت ولري، تاسو خو دا يوه مرتبه هم د ځان لپاره نه منئ، نو بيا ځله اختلاف کوئ؟

صفا خبره داده چې اوسني عالمان که د تقوا له مخې د پخوا عالمانو ځاى ته نه وي رسېدلي، په علمي لحاظ که تر هغو زيات نه وي، کم هم نه پاتېږي، دا خبره ډېره چټې خبره ده چې پخوا د اجتهاد ټولې درجې وې او اوس يې يوه هم نه شته، دا اوس په داسې مسايلو کې دوى خبرې کوي چې په يوه مذهب کې هم ور باندې بحث نه دى شوى، نو بيا کوم مجتهد دغه مسايل حل و فصل کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوند کې هره ورځ نوي مسايل را پيدا کيږي او دغه مسايل لازمي حل غواړي، که څوک په ځان کې د دې توانويني، هغه به حتمن يو څه لاس و پښې خوځوي او که څوک يې نه مني، خپله وړتيا يې وژلې وي او پر ځان يې بنديزونه لګولي وي، بيا دې لاس تر زنې کښې د نورو پر تحقيق دې ټيغونه کاږي. دغه تحقيق ته که څوک هر نوم ور کوي، هغه د خلکو خپل کار دی، مګر د تحقيق او څېړنې مخه په هيڅ ډول تبليغاتو څوک نه شي نيولای.

۱۵/۱۱/۲۰۲۲

۱) مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (۲/ ۷٥٦)

۲) معجم اللغة العربية المعاصرة (۳/ ۲٤۹۳)

۳) الاختيار لتعليل المختار (٥/ ۸۷)

۴) الاختيار لتعليل المختار (٥/ ۸۷)

۵) الاختيار لتعليل المختار (٥/ ۸۸)

٦) الاختيار لتعليل المختار (٥/ ۹٤)

۷) ملتقى الأبحر (ص: ٥۱۰)

۸) الحجة على أهل المدينة (٤/ ۲۰٥)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په مصنوعي ډول اولاد پيدا کول

ځينې وختونه نر يا ښځه وچ وي، عوامل يې ډېر دي، دلته مهمه نه ده چې د وچوالي په اړه بحث وغځوم، په دې اړه هغه څوک ښه بحث کولای شي چې همدغه يې د تخصص ميدان وي، زموږ تر بحث لاندې موضوع داده چې که څوک وچ وي، هغه کولای شي چې په مصنوعي توګه اولاد پيدا کړي؟

دا مسله په نورو ژبو کې ډېره شاربل شوې ده، عربي کې د اطفال الانابيب يا دې ته ورته عنوانو لاندې بحث پر شوی دی، ګڼ اړخونه يې را سپړلي دي، زه يې د ډولونو خوا ته هم نه ځم، ځکه زياتره يې زما په اند اسلام کې ممنوع دي، دلته يې پر هغو ډولونو بحث کوم چې په اسلامي متن کې ورته اجتهادي ممانعت نه شي پيدا کولای او د اوس وخت ډېری اهل علم هم د هغو پر جواز فتوا ور کړې ده.

د وچو کسانو فيصدي ډېره نه ده، له دې سره زموږ په ټولنو کې د کمفيصده خلکو لپاره هم وچوالی لويه ستونزه ده، ځکه دلته نه په دولتي کچه د کمزورو او بې سرپرسته کورنيو ساتلو انتظام شته او نه ټولنه د دې ستونزې لپاره حل لري. زما په اند دلته بايد له اسلامي نصوصو او معقولو عقلي دلايلو سره پر دې اول بحث وشي چې ولې دولت او خلک د دې ډول خلکو او کورنيو د ساتلو لپاره سوچ وفکر نه کوي؟ تر دې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا د مصنوعي اولاد موضوع مهمه ده. داسې امکان لري چې څوک اولاد ولري، خو نه پايي، دا هم شته چې اولاد يې ځنې بېل شي، په اخير عمر کې د نورو مرستې ته اړ شي، يا په يوه طبيعي پېښه کې مړه شي، يا هم نور، مطلب يوه کورنۍ بې سرپرسته شوه يا داسې ضعف ته ورسېده چې خپل ځان نه شي ساتلای، د دې لپاره اړينه ده چې خلکو او دولت يې په وړاندې ځان مسوول احساسولای او د دې ډول کسانو پالنه يې حتمي کړې وای.

په هر حال دا کار د يوه فرد له وسه نه کېږي، يوازې مې د خلکو متوجې کول هدف و، راځم خپلې خبرې ته، له واده دوه هدفه ډېر مهم دي، پاک لمني او انساني توليد، که څوک پر دې قادر نه وي چې توليد وکړي، نو کولای شي چې په يوه هدف اکتفا وکړي، خو چې اينده ژوند يې له سختو ګواښونو سره نه مخېږي، مګر زموږ په ټولنه کې دا شی امکان نه لري. بې اولاده کور د نر او ښځې دواړو لپاره ښايي د ډېريشن او ګڼو ناروغيو سبب شي، له دې امله که يې درملنه وشي، ډېر به ښه وي، څو مېړه او ماينه له ناروغيو خوندي شي او اينده يې هم تر خپله وسه تضمين وي. له دې امله د اولاد اړتيا ډېره احساسيږي، نو که څوک وچ وي، هغه د مصنوعي اولاد لپاره زيار باسي، څو لوړې موخې تر لاسه کړي.

د مصنوعي اولاد په اړه ستونزې له دوو ځايونو را پيدا دي، يوه دا چې په دې کې کشف عورت راځي، يعنې د ښځې د هګۍ اخيستو مهال يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په رحم کې د موادو د ښوولو پر وخت د هغې د عورت لځېدل هغه ټکی دی چې مسلمان علماء یې د دې موضوع په اړه سره وېشلي دي. دویم ټکی پکې دادی چې اولاد یې په فطري توګه نه کېږي، بلکې انساني لاسوهنې او تر یوه حده د نسب اختلاط ته پکې زمینه برابرېږي، له دې امله هم ځینو پوهانو د منعې رایه ور کړې ده.

دا خبره د علماؤ ترمنځ د بحث موضوع ده چې ایا وچوالی ناروغي ده که نه؟ ځینې کسان په دې اند دي چې وچوالی د الهي قدرت له نښو څخه دی، قران کریم ویلي دي چې یوه برخه انسانان الله تعالی وچ کړي دي، نو باید په الهي تخلیق کې لاسوهنه ونه شي، او پر خپل حال پاته شي.

مګر دا خبره زما په نظر مناسبه نه ده، وچوالی یوه ناروغي ده، فطرت(له قانون سره سم پیدایښت) په انسان کې هغه دی چې عمومن انسانان پرې پیدا کېږي، لکه سالم پیدا کېدل، باید ټول اعضاء او وړتیاوې یې پوره وي، دا یې اصل فطرت دی، نه دا چې په اعضا یا غړو کې یې کمی وي. لویه برخه انسانان داسې دي چې اولاد یې په خپل طبیعي شکل کېږي، دا چې وړه برخه کسان دا کار نه شي کولای، نو ښکاري چې دوی کې د ځینو عواملو له مخې هغه انساني فطرت ختم شوی دی، دا هم د خدای له لوري مستقیم کار نه دی، بلکې دلته په جهان کې اصول دي، اصولو ته نه پام یا ورسره ټکر د دې سبب کېږي چې ځینې انسانان داسې پیدا شي چې انساني فطرت کې یې کمي وي، یا یې غړي ناقص وي یا هم وړتیاوې، دا چې له طبیعي قوانینو سره د انسان ټکر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې سبب کېږي چې پایله یې دغسې شي، نو الله تعالی یې ځان ته منسوبوي، لامل یې دا دی چې دلته نظام د الله له لوري جوړ دی، هغه اصول او پر هغو مرتبه نتیجه د الله له لوري وي، له دې امله یې ځان ته منسوب کړی دی، که نه د اولاد په پیدا کولو کې هم انسان په خپله دخیل وي، نر او ښځه سره یوځای کېږي، د حیض وخت به نه وي، هګۍ به تیارې وي، په نر کې به مواد پوره وي، بیا حمل اخلي، تر دې وروسته که ښځه ناسم درمل وخوري، یا دروند کار وکړي، یا هم ولوېږي یا ووهل شي، دغه اولاد یې ضایع کېږي، خو له دې سره الله تعالی دغه پیدایښت ځان ته منسوبوي چې موږ یې ور کوو، ځکه دغه سیستم الله تعالی جوړ کړی، نو پایله یې ځکه د هغه لور ته منسوبېږي.

که له هغه ایت څخه دا مفهوم واخلو چې الله تعالی ځینې انسانان په لوی لاس وچ پیدا کوي، دا نو بیا د الله پر عدالت سوال پیدا کېږي، د هغو اصولو او قوانینو له مخې چې الله تعالی انسان پیدا کوي، که په یوه نه یو ډول په دې کې لاسوهنه ونه شي، بالکل به انسان کامل پیدا شي، نه به یې اعضا کم وي او نه وړتیاوې، دا چې پر انسان د تاثیر لپاره خورا ډېر عوامل په طبیعت، اجتماع او د هغه په بدن او روان کې شته، له دې امله یې بدني اعضا او جسمي وړتیاوې هم اغېزمنېږي او موږ یې په خپلو ټولنو کې ژوندي مثالونه لرو. له دې ټولو څخه که یو مثال یوازې د پوهاوي لپاره یاد کړم، ښه به وي. ډاکټران توصیه کوي چې ودونه له خپلوانو سره مه کوئ، له دې څخه ځینې ستونزې را پیدا کېږي، د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزو عوامل یې هم بیان کړي دي، بیا که څوک یې کوي، نو لومړی باید د نر او ښځې وینه په لابراتوار کې چیک شي، که ډاکټران ورته اجازه ور کړي، بیا دې وشي، مګر زموږ خلک په دې خبره پسې خاندي، هر څه پر تقدیر تاوانوي، که تر واده وروسته یې په اولادونو کې مشکلات پیدا شول، یو علت یې له خپلوانو سره واده کېدای شي، یعنې ګڼ عوامل پر دې تاثیر کوي، له هغو څخه یو یې دغه واده هم امکان لري، په انسانانو کې دا قوانین چا پلي کړي؟ الله کړي دي، ځکه یې نتیجه هم هغه ته منسوبېږي، مستقیم الله تعالی د چا په کموالي او نقص کې لاس نه لري.

ښايي دا روښانه شوې وي چې وچوالی مرض دی، اصلن د الهي قانون له مخې هغه بشپړ پیدا کېږي، نقص یې د نورو عواملو پایله شوه، نو باید علاج یې وشي، یا به نر و ښځې ته درمل ور کوي چې تر علاج وروسته یې په طبیعي توګه اولاد پیدا شي یا هم له دې پرته نورې لارې چارې ورته لټوي.

زما په نظر تر دې ځایه خبره صفا شوه چې وچوالی مرض شو او په دې کې نور د شک ځای پاته نه دی، اوس بلې پوښتنې ته راځو چې ایا د دې مرض د علاج لپاره باید د ښځې کشف عورت وشي؟

زه چې څومره پوهېږم او د څومره پوهانو نظریاتو مې کتلي دي، باید وشي؛ ځکه له دې بې اولادۍ غټې ستونزې پیدا کېږي، د نورو امراضو خطره ده، د همدې لپاره اړینه ده چې علاج وشي څو یې مخه ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د نوور علاجونو لپاره هم د نر او ښځې کشف عورت کوو، د هر ډول علمیاتو مهال د نر او ښځې بدن لځېږي، دې ټولو ته هر عالم په جواز قایل دی، نو د مصنوعي اولاد په برخه کې ولې باید ممانعت وشي؟

ځینو پوهانو د سد ذریعې په توګه هم د مصنوعي اولاد د حرمت خبره کړې ده، مګر سد ذریعه هغه وخت کار ور کوي چې یوه اتفاقي حرمت ته زمینه سازي کوي، دلته خبره داسې نه ده. لکه له یوې پردۍ ښځې سره له اړتیا پرته خلوت، اخیر د زنا سبب کېږي، نو قران کریم امر کړی دی چې زنا ته مه نژدې کېږئ، هدف یې همدا دی چې له هغه ځایه او کاره ځان ګوښه کوئ چې زنا ته مو رسوي، زنا د ټولو په اتفاق حرامه ده، دلته مصنوعي اولاد دی، یا وچوالی دی، یو مرض دی او بل د واده هدف او د بشري ژوند اړتیا، نو د سد ذریعې اصل دلته نه تطبیقېږي.

تر دې روښانه کوونکي بحث وروسته اصل موضوع ته رسېږو، د مصنوعي اولاد هغه ډولونه دلته لنډ بیانوم چې په اسلامي کې ورته جواز موندل کېږي:

۱ـ د نر نطفه د ښځې په رحم کې له هګۍ سره یوځای کوي، بیا اولاد ځنې پیدا کېږي.

۲ـ د نر او ښځې نطفه و هګۍ بهر سره یوځای کوي، کله چې د پیوند لګېدا باوري شي، ډاکټران یې د ښځې رحم ته وړي او هلته یې ځای پر ځای کوي، چې بیا په طبیعي توګه اولاد پیدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ـ د نر او ښځې نطفه و هگۍ په لابراتوار کې سره يوځای کوي، بيا يې د هغې ښځې د بنې په رحم کې يو ځای کوي، دويمې ښځې ته مزدوري ور کوي يا هم په خپله خوښه دې کار ته اوږه ور کوي.

۴ـ د نر او ښځې سپرم و هگۍ بهر سره يو ځای کوي، د هيڅ ښځې په رحم کې يې نه ږدي، همداسې يې په لابراتوار کې ۹ مياشتې ساتي او بيا يې همدغې جوړې ته سپاري.(زما له معلوماتو سره سم که څه هم د دې عملي تجربه تر اوسه بريالۍ شوې نه ده)

لنډه دا چې که د خپل مېړه او ماينې سپرم و هگۍ سره يو ځای کړي، بيا له يادو لارو چې په هره يوه اولاد ځنې پيدا شي، ستونزه نه لري، له دې ماسيوا که د نر سپرم د پردي سړي وی يا هم هگۍ د بلې ښځې وي، هر صورت چې يې وي، په اسلام کې ورته جواز نه شته، ځکه دلته د نسب اختلاط رامنځته کېږي، د حجاب ستونزه پيدا کوي او ميراث و دې ته ورته احکامو کې مشکلات ايجادوي، له دې امله جواز نه لري.

که د يوه مېړه او يوې ماينې سپرم و هگۍ سره يوځای کړي، اولاد ځنې پيدا شي، دغه صورت يې ستونزه نه لري، دا سمه ده چې په دې برخه کې يو څه انساني لاسوهنه شته، مگر د اړتيا له مخې هغه لاسوهنه جواز لري، لکه يو ماشوم په طبيعي ډول نه پيدا کېږي، نو ډاکټران يې د اپريشن په ذريعه د مور له نس څخه اخلي، په دې کې هم انسان لاسوهنه وکړه، يا د يوه انسان وينه بل ته ور لگول، دلته هم لاسوهنه ده، يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتورګۍ بل ته ور کول، بیا هم لاسوهنه ده، پلاستکي کولمې یا نور غړي هم لاسوهنه ده، په ټوله اسلامي دنیا کې یې خلک کوي او ډېر پخوا ورته جواز ور کړل شوی دی، که دغه لاسوهنه جواز لري، نو د مصنوعي اولاد په پیدایښت کې هم کامله لاسوهنه نه ده شوې، د نر سپرم او د ښځې هګۍ د پیدایښت اصل منبع دي، دا چې ځای یې بدل شو، نو دا څه مشکل لري؟ قران کریم چې د کوم ډول پیدایښت یادونه کړې ده، له هغه څخه یې هدف یوازې د طریقې بیان دی، نه دا چې امر یې هم په کړی دی، بیا انسانان په عمومي توګه داسې نه کوي، بلکې د یوه ضرورت له مخې خلک مجبورېږي، د هغې اړتیا د رفع کولو لپاره مصنوعي لار غوره شوې ده.

په یوه خبره که سر خلاص شي، ممکن په ډېرو ځایونو کې له ستونزو د خلاصون سبب شي، یو د قران کریم امر وي او بل یې د یوه شي په اړه بیان، قران کریم د اوبو پیدایښت هم د الهي نعمت په توګه کوي، که نن انسانان اوکسیجن او هایدروجن سره یوځای کړي، اوبه ځنې جوړې کړي، ایا دا به حرامې وي؟ ځکه چې په طبیعي توګه نه دي پیدا شوې؟ دلته به د حرمت لپاره قطعي الثبوته او قعطي الدلالته نص له کومه کوي؟ په طبیعت کې د یوه شي پیدایښت کم کېږي یا سولو وي، انسان په خپلې مداخلې سره د هغه سرعت زیات کړي، نو دا څه خلل جوړوي چې باید حرام شي؟ دا نن شنې خونې څومره لوی نعمت دی د انسان لپاره؟ د دې موادو په تولید کې هم انسان مداخله کوي، بیا ولې جواز لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ها دا خبره تر اوسه حتا د نړۍ په هیڅ کونج کې قانوني جواز نه لـري چې څوك دې د انسان په اعضاؤ کې مداخله وکړي، سترګې يـې تـوري کړي، بدن یې غټ کړي، مخ یې نری یا پلن کړي، خوله یـې وړه او پـزه یې پلنه کړي، دا موضوع تر بحث لاندې ده، په اخلاقي لحاظ هـم دې ته جواز نه دی پیدا شوی، ځکه د یوه انسان په ذات/جسم کې لاسـوهنه ده چې نه په اخلاقي لحاظ جواز لري، نه په قانون او شریعت کې.

که د خپلې مور رحم یې د تولید وړتیا نه لري، نو د بلې ښځې (بنـې) په رحم کې سپرم او هګۍ یوځای شي یا بهر تر یوځای کېـدای وروسـته هلته ځای پر ځای شي، یا هم په لیباتړي کـې وسـاتل شي، دا ټـول هغـه صورتونه دي چې علماؤ په اجتهادي توګه جـواز ور کـړی دی(یـوازې د بلې ښځې رحم ته بیخي کـم جـواز ور کـړل شـوی)، دا یـوه خـبره بایـد روښانه وي چې که څوك جواز ته دلایل وړانـدې کـوي هـم اجتهـادي درجه لري واضح نص څوك نه لري او که ممانعت ته یې پیدا کوي، هم د هغوی خپل برداشت ځنې همدغه ډول دی، نه واضح نص.

په دې صورتونو کې دغه اولاد د یوه مور و پلار اولاد دی، دوی یې د پیدا کولو مهال د نر او ښځې په ټاکلو کې اختیار لري، له دې ماسیوا یـې باید د بدن په غړو کار ونه لري، البته که له طبیعـي مسـیر څخـه د ماشـوم وده ناسم لوري ته تله بیا د مداخلې حق ورته شته، اما که له طبیعي قانون سره سمه وده یې کوله، بیا یې په بدني غړو د کار لرلو حق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د بلې ښځې (بنې) رحم د يوې جوړې د اولاد لپاره ونيول شي، نو هغه ښځه يې رضاعي مور هم بلله کېږي، ځکه د هغې له بدن څخه يې استفاده کړې ده، لکه يوه مور چې د بل چا ماشوم ته تی ور کوي، تی ور کوونکې ښځه د ماشوم رضاعي مور بلله کېږي، دغې ښځې ته که د همدې کار لپاره اجرت ور کړي هم پروا نه لري او که په خپله خوښه يې دا کار وکړ، بيا خو ډېر ښه کار دی. ځکه د تي ور کولو لپاره که يوه ښځه د ټاکلي عوض په بدل کې ونيول شي، شريعت کې جواز لري، نو د اولاد د ساتنې لپاره که يې رحم د معين مقدار اجورې په مقابل کې استفاده شي، ولې به مشکل ولري؟

ځينې شرايط پوهانو بيان کړي دي چې حتمي خبره ده هغه يو مسلمان په نظر کې نيسي، يوه خبره داده چې له دې پرته به بل علاج نه وي، د ماهر ډاکټر تر وينا وروسته به وي، د سپرم او هګۍ په وخت کې به احتياط کېږي چې د بل چا له سپرم او هګۍ سره خلط نه شي، د ښځې هګۍ به اضافه نه ساتل کېږي چې بيا د بلې ښځې لپاره کار ځنې واخيستل شي او نه به د نر سپر مني ساتل کېږي، تر خپلې اړتيا وروسته به د ښځې او نر دواړه اضافي هګۍ او مني له منځه وړل کېږي.

له دې پرته که د يوه بل نر مني د خپلې ښځې له هګيو سره يو ځای کړي، يا هم له بانک څخه زاړه د معين يا نامعين شخص مني په قيمت را نيول شي، بيا د خپلې ښځې له هګيو سره يوځای شي، يا هم نر خپل مني د پردۍ ښځې له هګيو سره بهر تلقيح کړي يا هم د خپلې ښځې په رحم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې، دغه ته ورته ټول صورتونه ځکه ناجايزه دي، چې دلته د نسب اختلاط راځي، اينده د حجاب ستونزې را پيدا کوي او په ميراث کې هم مشکلاتو ته لار جوړوي، دا چې پر دې وروسته نورې ستونزې بنا دي، له دې امله بايد يو مسلمان ځنې ډډه وکړي او پر خپله هغه برخه راضي شي چې په دې جهان کې ورته رسېدلې ده. دلته موږ د خپل چاپېريال او ټولنې له لوري په ځينو کارونو کې را محصور يو، واک نه لرو، لکه په يوه فقيره ټولنه کې پيدا کېدل، د يوه ناامنه هيواد په غېږ کې منځته راتګ، توروالی، سپينوالی، وچ محيط، ډېر ګرم محيط، ښه رنګ او بد رنګ، نيمګړي اعضا او ناقص استعداد يا ورته مسايل، دا چې د هغو په برخه کې کله ناکله بې وسه شو، يوه يې بيا دا هم پر اضافه، زما په نظر دغه مسله په هغه کچه نه ده مهمه چې ورته ډول ووهل شي لکه د بې سرپرستانو او کمزورو کورنيو ساتنې ته د دولت او ټولنې نه پاملرنه؛ که زموږ په ټولنه کې دا ستونزه حل شي، نو يو وچ سړی له يوې وچې ښځې سره ژوند تېرولای شي، دوی که په اينده کې د بل مرستې ته اړتيا ولري، نو دولت او ټولنه به يې دغه ستونزه ورته حل کړي، دغه ستونزه يوازې وچ کسان هم نه لري، نور کسان هم په دې برخليک اخته کېدای شي چې ټولنه بايد لاس ور کړي، بشر بايد يو د بل لپاره د تکيې او مسند کار ور کړي نه د چپه کېدو، نو يوه وړه فيصدي کسان که د اولاد اهل پاته نه وي، زما په نظر لازمي نه ده چې دا هم يوه اړتيا وبلل شي او يوه حرام شي ته د استعمال جواز په پيدا کړو، په اسلام کې حجاب، نسب او ميراث هم ډېر اهميت لري، البته که انساني نسل د ختمېدو له ګواښ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ وای، بیا ستونزه نه وه، لکه اول پیدایښت چې یې لـه خـاورې شـوې دی، دلته به یې هم بېرته یوه بله کړی په تولید کې اضافه کړې وای، مگر دا چې بشر له دې کمښت سره مخ نه دی، نو حتمـي نـه ده چې د یـوې ډېرې کمې فیصدي کسانو لپاره دې حتمن د ناروا لارو استعمال ته جواز ومومندل شي.

دا چې انسانانو نن پر گڼو لارو د تولید لپاره تجربې پیل کړې دي، لـه حیوان څخه د انسانانو پیدایښت، له پردي نر او ښځې د اولاد کېدل، نر د حمل او تولید لپاره کارول، د نر جنس ښځې ته او د ښځې جنس نـر تـه اړول، د حیوان او انسان ماده سره گډول بیا انسان څنې پیدا کول، دا هغـه لارې دي چې که انسانان یې تجربه کړي، بریالي هم شي، نو په شریعت کې انساني کرامت ته په کتو باید جواز ور نـه کـړل شي، ځکـه بشر ـ لـه کمښت سره مخ نه دی چې دغه ډول ناروا لارې را خپلې کړي.

البته که انسان د خپلې جـوړې سـپرم او هکـۍ پـه لابراتـوار کـې سره یوځـای کـړي، همالتـه یـې د سـاتنې او ودې انتظـام وکـړي، ماشـوم پـه لابراتوار کې پیدا شي، نو د سپرم ور کونکی کس یې پلار او د هغه ماینه یې مور ده، په دې کې به ستونزه نه وي، یو لور ته به یې ښځه له تکالیفو هم خلاصه شي، د انسان پیدایښت به هم په هغه توگه وشي، چې ټـولنې ته به تر ډېره حده سالم راځي، شاید پـه اخلاقـي او شرعـي لحـاظ بـه دا خبره ستونزه نه لري چې د نـر او ښـځې انتخـاب یـې خپلـه مـور و پـلار وکړي، ځکه دواړه بشر دي او کله څوک نر ته اړتیا او کله بیا ښځې ته، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب که یې وشي، ستونزه به نه لري. ځکه دا کار په طبیعي لحاظ هم کېدای شي، که ښځه د خپل حیض پر ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶ ورځو له نر سره یوځای شي، هغه له جماع یا انزال څخه یو څه وخت پرهیز وکړي، نو په غالب احتمال چې نر اولاد به یې پیدا شي. که دا کار په طبیعي لحاظ ممکن وي، نو په مصنوعي لحاظ به هم ستونزه ونه لري.

یوه خبره چې علماء یې د جواز قایل نه دي او حتا دا نه مني چې ممکن دې شي، هغه دا صورت دی چې که انسان په مصنوعي لحاظ دا ممکنه کړه چې سپرم او هگی جوړې کړي او بیا یې په یوه مصنوعي رحم کې سره پیوند کړي، نو که له دې څخه انسان پیدا شي، دا کار به جواز ولري که نه؟

ځیني دینپوهان دا کار ناممکن بولي، دوی د قران کریم له هغه ایت څخه استدلال کوي چې د مشرکانو د خدایانو په اړه یې ویل: دوی یو مچ نه شي پیدا کولای. پوهان وایي نو چې د مچ پیدا کول امکان نه لري، انسان خو بیخي نه شي کولای، مگر دا خبره یې له ناسمه برداشته ده، قران کریم یوازې د مشرکانو خدایان یاد کړي دي، هغه رښتیا هم دومره عاجزه ول چې که مچ هغو ته له صدقه شیانو یو شی وړی وای، نو دوی ترې د اخیستلو توان نه درلود، د هغو دغه حالت ته په کتو به نو انسان ځنگه پیدا کړي؟ مگر دا خبره یې د علم په اړه نه ده کړې، قران کریم رب العالمین په اړه ویلي دي چې هغه انسان پیدا کوي، دا نه نفې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې انسان دا کار نه شي کولای، انسان تر يوه حده په دې ميدان کې بريالی شوی دی، ځينې حيوانات يې مثال کېدای شي.

زما په نظر که انسان د مقدار له مخې کمښت وکړي، بيا که دغه طريقه استعمال شي، لا به يوه لار ولري، که نه نو دغه خلک به په ټولنه کې چېرې اوسي؟ د چا به زوی وي، د چا به ورور، د چا خور، له نورو انسانانو سره به يې د څه شي اړيکه وي؟ دغه طريقه ښايي په انسانانو کې خواخوږي را کمه کړي، عاطفه له منځه يوسي، يو پر بل زړ سوی ختم شي، کورنی نظام ورسره وران شي او ټوله کيسه همدې تصنع ته ودرېږي او اخير کار د ربوټانو را پيدا کول چې شي بشر له يوې مخې ختم کړي، که تر سختو نړۍ والو جنګونو يا طبيعي افتونو وروسته بشري قوه کمه شي، نو بيا د اشد اړتيا له مخې کامل مصنوعي توليد به ستونزه نه لري، مګر نن يې خوشي چتې پيدا کول، په ټولنه کې د هغه کرامت ته صدمه رسول دي، ځکه هيڅوک به نه لري، نو چې دغه ډول تکي تنها شي،بيا به له يوازيتوبه کړېږي او خپل عزت النفس او کرامت به ور پاته نه شي، ښايي دا په اخلاقي او ديني لحاظ نور هم په نړۍ کې ډېر وشاربل شي، چې يوه اجتهادي مسله ده او ممکن د راتلونکي وخت علماء په دې اړه ښه نظر ور کړای شي.

۱/۱۰/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## استقلال او اشغال

دواړه عربي الفاظ دي، لومړی يې د محکم، مضبوط او پياوړي په معنا دی او دويم يې د مشغول، ځای نيول او دندې معنا ور کوي.

له خپلې لغوي معنا سره په يو څه همږغی دواړه الفاظ په عامه محاوره کې موږ د خپلواکی او عدم خپلواکی لپاره کاروو.

د استقلال او اشغال الفاظ په اوس وخت کې بيخي ډېر کارېږي، زموږ د هيواد په دې وروستيو لسيزو کې دغه دواړه اصطلاحات د سخت او افراط او تفريط ښکار شول. ډېر واره استقلال د اشغال او اشغال د استقلال لپاره استعمال شو، موږ له الفاظو او مفاهيمو سره په دې وجه ظلم کوو چې د يوه روان او نوي کېدونکي ژوند په بهير کې موږ له الفاظو او اصطلاحاتو هماغه پخواني مفاهيم غواړو، په داسې حال کې چې دلته هره څه هر ګړی د نوي کېدا په حال کې دي، د انسان فزيکي وجود هر ګړی نوی کېږي، ذهن يې د ودې په حال کې وي، معلومات يې اپډيټ کېږي او د علم نوې دريځې پرانيستل کېږي، نو دا ظلم نه دی چې په دغسې يوه نړۍ کې موږ د يوې پېړۍ نه بلکې څو پېړيو تر تېرېدو وروسته هم له الفاظو او اصطلاحاتو څخه هغه مفاهيم اخلو چې سونه کاله پخوا خلکو ورته کارول؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا ښايي هغو قومونو/ملتونو استقلاليت درلود چې د هغوی په هيواد کې د زور له لارې خارجيانو شتون نه درلود، د هغوی پر داخلي او بهرنۍ پاليسي يې اغېزې نه درلودې، دوی د خپلو تصاميمو په نيولو کې د يوه بهرني قووت تاييد ته اړتيا نه درلوده، دوی همدې ته استقلاليت ويلی دی، که څه هم اوسنيو شرايطو ته په کتو يې ما مفهوم يو څه پراخ ونيوی، که نه هغوی دومره ډېره محاسبه نه ورته کوله، بلکې تر دې يې ورته ليد ډېر کم و.

اشغال يې د خارجي قووتونو شتون او واک ته کاراوه، که به پر يوه هيواد د بل ملک لښکرې ور وختې، د هغه هيواد خاوره به يې لاندې کړه، هلته به يې خپل واک چلاوه، نو دې ته يې اشغال وايه او که به يې خپل لاس پوځي واکمن کړل، هغوی ته يې د اشغال ګوډاګيان يا بالواسطه اشغال وايه.

دا چې د هغه وخت له حالاتو سره به دې دواړو تعريفونو څومره سمون درلود زه په دې اړه بحث نه کوم، هر څه چې وو اوس تېر شوي دي، زه يې د اوس وخت په اړه لنډ تحليلوم چې ايا استقلال او اشغال اوس هم پر هماغه پخوانی بڼه لا پاتې دي که ډېر نوي څه هم پکې اضافه شوي دي؟

زما په نظر د استقلال او اشغال په اړه اوس تګلاره بدله شوې ده، ښايي تر نيمايي هم ډېره بدله وي، پخوا چې کوم شي ته استقلال ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېده یا ورته اشغال، اوس عیني په هماغه بڼه نه استقلال وجود لري او نه اشغال. موږ ډېر هیوادونه وینو چې نه پکې خارجي قووتونه پراته دي او نه ظاهرن داسې ګواښونه ورته وینو چې هغوی له خطر سره مخ کړي، لـه دې سره بیا هم مستقل نه دي، دا ځکه چې پخوا یوازې د زور له لارې پر نورو تسلط ممکن وو، خو نن د علم او اقتصاد په مټ تر فزیکي حضور ډېر ښه اشغال را منځته کېږي او د یـوه ملت/هیواد اسـتقلالیت لـه منځه تلای شي.

که زه په خپل هیواد کې هیڅ بهرنی اشـغالګر ونـه وینـم، ټـول هیـواد زموږ د خپلو ځواکونو په کنټرول کې وي، ایا خپل هیواد مسـتقل بلـلای شم؟ که د پخوا تعریف ته شي، هو، او که د نن تعریف او مشـاهدې تـه شي، نه.

که زه په علمي لحاظ دومره کمزوری یم چې زما د پوهنتون علمـي و تخنیکي برخه د بل هیواد د علمي کادرونو په مټ چلېږي، نو زه مسـتقل نه یم، که زما ناروغان بل هیواد ته ځي، زه مستقل نه یم، که زما اقتصاد پر بل متکي وي، زه خپلواک نه یم، که داخلي تولیدات د خپلو خلکو لپاره بس نه وي، زما خپلواکي حتمي د نورو تر تاثیر لانـدې راځـي، کـه زه د دې وړتیا ونه لرم چې خپلو خلکو ته د اړتیا وړ توکي تولید کړم، دا که في الحاله ما کړي وي یا یې بالقوه وس لرم، نو زه څنګه مستقل کېدلای شم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې توګه نو په نړۍ کې ډېر کم هیوادونه شته چې هغوی دې مستقل وي، ډېری هغه هیوادونه چې ځانونه مستقل ښیي په اصل کې نه مستقل دي او نه کېدای شي، په نظامي، اقتصادي، سیاسي او علمي ډګرونو کې یې نورو هیوادونو ته د سوال ځولۍ غوړولې وي، که په هر میدان کې د بل احتیاج شوې، هغه شرطونه در باندې بړدي، ستا خپلواکي له ګوابښ سره مخ ده، ستا بهرنۍ او داخلي پالیسي ستا په خپله خوښه نه وي، حتا که بیخي کمه یې هم د بل په خوښه وي، بیا هم خپلواکي نه شوه.

زموږ په ډېری هیوادونو کې د غرب هیڅ نظامي حضور نه شته، مګر اشغال کړي یې دي، د هغوی برنامې مخته وړي، که د پخواني استقلال تعریف شي، نو بیا ولې مستقل هیوادونه د بل په اشارو چلېږي؟ او که واقعیت ته وګورو او د اشغال و استقلال لپاره نوي تعریفونه وضع کړو، بیا نو دغه هیوادونه چې په یوه نه یو ډول د بل په وسیله خپلې اړتیاوې پوره کوي، نه یې دمدرحاله وړتیا لري او نه بالقوه، دوی نه مستقل دي او نه کېدای شي.

۲۰۲۲/اګست/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رؤیت هلال (میاشتې لیدلو) ستونزه

د ۲۰۲۲ میلادي کال چې له ۱۴۴۳ هجري قمري سره سمون لري، د واړه اختر مسله ډېره جنجالي وه. په اسلامي نړۍ کې ناجیریا، مالي، افغانستان او د وزیرستان خلکو د مې پر یوه تاریخ اختر کړ، په دوه تاریخه یې د سعودي په شمول ۲۵ هیوادونو اختر کړی و او پر درېیم تاریخ یې د پاکستان و ایران په شمول پاته هیوادونو اختر کړی جوړ کړ.

بل خوا یوازې په پاکستان کې هم درې اختره وو، وزیرستان پر اول تاریخ اختر کړ، پېښور، چمن، کلا سیف الله، د بلوڅو ځینې سیمې او زیاتره پښتني علاقو کې په دویم تاریخ اختر وشو او په درېیم تاریخ یې رسمي دولتي اختر کړ.

دا اختلافات هر وخت وي، په اسلامي دنیا کې اصلن د رؤیت هلال په اړه نظریاتي اختلاف موجود دی چې په نتیجه کې یې د اختلافي اختر عملي بڼه هم په را وینې.

د مسلمانان یوه ډله په دې باور دي چې د هر هیواد لپاره خپل مطلع معتبر دی، که په هغه هیواد کې میاشت ولیدل شوه، خبر یې رسمي دولتي کمیټې تایید کړ، نو اختر باید وشي، که روژه وه، باید روژه ونیول شي او که چا د میاشتې لیدو خبر ور کړ، خو شاهدي یې کمیټې ونه منله، بیا اختر او روژه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بله ډله مسلمانان په دې نظر دي چې که د هر ځای څخه باوري شاهدي د میاشتې لیدلو را ورسېږي، هغوی یې ورسره مني، که روژه وه، روژه نیسي او که اختر و، اختر جوړوي.

که د دې دواړو ډلو په اړه پلټنه وکړو، چې د کومو دلایلو له مخې هغه او دغه تګلاره لري، نو د شریعت په نصوصو کې دواړه خپل دریځ ته ملاتړي دلایل موندلای شي. لومړی به پر همدې نصوصو سرسرکي نظر وکړو:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ وَأَفْطِرُوا لِرُؤْيَتِهِ، فَإِنْ غُمِّيَ عَلَيْكُمْ فَأَكْمِلُوا الْعَدَدَ».(۱)

ژباړه: له ابو هریره رض روایت دی چې رسول الله ص وویل: د میاشتې په لیدو روژه نیسئ او د میاشتې په لیدو یې خورئ، که مو میاشت ونه لیده، نو شمېر یې پوره کړئ.

له دغه حدیث څخه د دویم مذهب خاوندان استدلال کوي چې لیدل د هر مسلمان معتبر دي، نو که هر چا ولیده، شاهدي یې ور کړه، نورو مسلمانانو ته یې شاهدي په باوري ډول نقل شي، بس همدا معتبره ده او د روژې یا اختر فیصله پر کېږي. یو بل حدیث کې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ الْحَارِثِ الْجَدَلِيُّ، أَنَّ أَمِيرَ مَكَّةَ خَطَبَ، ثُمَّ قَالَ: «عَهِدَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَنْسُكَ لِلرُّؤْيَةِ، فَإِنْ لَمْ نَرَهُ، وَشَهِدَ شَاهِدَا عَدْلٍ نَسَكْنَا بِشَهَادَتِهِمَا»، فَسَأَلْتُ الْحُسَيْنَ بْنَ الْحَارِثِ مَنْ أَمِيرُ مَكَّةَ، قَالَ: لَا أَدْرِي، ثُمَّ لَقِيَنِي بَعْدُ، فَقَالَ: هُوَ الْحَارِثُ بْنُ حَاطِبٍ أَخُو مُحَمَّدِ بْنِ حَاطِبٍ، ثُمَّ قَالَ الْأَمِيرُ: إِنَّ فِيكُمْ مَنْ هُوَ أَعْلَمُ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ مِنِّي، وَشَهِدَ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى رَجُلٍ، قَالَ الْحُسَيْنُ: فَقُلْتُ لِشَيْخٍ إِلَى جَنْبِي مَنْ هَذَا الَّذِي أَوْمَأَ إِلَيْهِ الْأَمِيرُ؟ قَالَ: هَذَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، وَصَدَقَ كَانَ أَعْلَمَ بِاللَّهِ مِنْهُ، فَقَالَ: «بِذَلِكَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ».(۲)

ژباړه: له ابو مالک الاشجعي روايت دی، ده ويل موږ ته حسين بن الحارث الجدلي حديث بيان کړ، چې د مکې امير بيان وکړ، زياته يې کړه: موږ ته رسول الله ص امر کړی چې د ليدلو له مخې عمل وکړو، که موږ مياشت ونه ليده او دوو عادلو کسانو يې د ليدو شاهدي ورکړه، د هغوی په شاهدي عمل وکړو. ما له حسين بن الحارث څخه پوښتنه وکړه چې د مکې امير څوک و؟ ده ويل: زه نه پوهېږم، بيا وروسته راسره مخ شو، وې ويل: هغه حارث بن حاطب د محمد بن حاطب ورور و، امير پسې زياته کړه: په تاسو کې داسې څوک شته چې تر ما هم د الله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ص په اړه ښه خبر دی، دغه کس له رسول الله ص څخه شاهدي ور کوي، نو په لاس یې یو کس ته اشاره وکړه، حسین ویل: ما د څنگ یوه بوډا ته وویل: هغه کس څوك دی چې امیر په لاس اشاره ورته وکړه؟ هغه ویل: عبد الله بن عمر رض، او امیر رښتیا ویل چې ابن عمر تر هغه د رسول الله په حال ښه خبر و، هغه ویل: موږ ته رسول الله ص دغه امر کړی دی.

له لیدو څخه هدف د هر سړي لیدل نه دي، بلکې موخه یې باوري کول دي، نو که دومره کسان یې وویني چې د نوور مسلمانانو باور پر وشي، همدا لیدل دي، چې د اختر او وروژې دواړو لپاره کفایت کوي، لکه د اوس وخت لپاره چې کمېټۍ ټاکل کېږي، د هغوی کار همدا لیدل دي، نو که هغوی اعلان وکړي، خلك یې ورسره اختر کړي، که یې اعلان ونه کړ، خلك یې نه اختر کوي او نه روژه، یعنې د هغوی په شاهدي خلك عمل کوي.

د لومړي دریځ د خلکو دلیل دغه حدیث دی:

عَنْ كُرَيْبٍ، أَنَّ أُمَّ الْفَضْلِ بِنْتَ الْحَارِثِ، بَعَثَتْهُ إِلَى مُعَاوِيَةَ بِالشَّامِ، قَالَ: فَقَدِمْتُ الشَّامَ، فَقَضَيْتُ حَاجَتَهَا، وَاسْتُهِلَّ عَلَيَّ رَمَضَانُ وَأَنَا بِالشَّامِ، فَرَأَيْتُ الْهِلَالَ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ، ثُمَّ قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فِي آخِرِ الشَّهْرِ، فَسَأَلَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، ثُمَّ ذَكَرَ الْهِلَالَ فَقَالَ: مَتَى رَأَيْتُمُ الْهِلَالَ؟ فَقُلْتُ: رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ، فَقَالَ: أَنْتَ رَأَيْتَهُ؟ فَقُلْتُ: نَعَمْ، وَرَآهُ النَّاسُ، وَصَامُوا وَصَامَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مُعَاوِيَةُ، فَقَالَ: " لَكِنَّا رَأَيْنَاهُ لَيْلَةَ السَّبْتِ، فَلاَ نَزَالُ نَصُومُ حَتَّى نُكْمِلَ ثَلاَثِينَ، أَوْ نَرَاهُ، فَقُلْتُ: أَوَ لاَ تَكْتَفِي بِرُؤْيَةِ مُعَاوِيَةَ وَصِيَامِهِ؟ فَقَالَ: لاَ، هَكَذَا أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " (۳)

ژباړه: کریب روایت کړی چې زه ام الفضل بنت الحارث په شام کې معاویه رض ته ولېږلم، ده ویل: زه شام ته ولاړم، د هغې غوښتنه مې پوره کړه او پر ما په شام کې روژه شوه، د جمعې په شپه میاشت ولیدل شوه، بیا د میاشتې په اخیره کې مدینې ته راغلم، له ما عبد الله بن عباس رض پوښتنه وکړه، په خبرو کې د میاشتې یادونه راغله، ده ویل: تاسو میاشت څه وخت ولیده؟ ما ویل: موږ د جمعې په شپه ولیده. ده ویل: تا په خپله ولیده؟ ما ویل: هو، خلکو هم ولیده، خلکو روژه کړه او معاویه رض هم روژه ونیوه، ده ویل: خو موږ د شنبې په شپه ولیده، نو تر هغو به روژه نیسو چې دېرش پوره کړو یا میاشت ووینو. ما ویل: ته د معاویه رض لید او روژه بس نه بولې؟ هغه ویل: نه، موږ ته په دغه ډول رسول الله ص امر کړی دی.

پر دغه حدیث امام نووي رحمه الله هم باب ایښی دی چې د هر ښار لپاره خپل لید دی، ده هم دغه فهم ځنې اخیستی دی چې د هر ښار د خلکو لیدل د هغه ښار د خلکو لپاره معتبر دي. د لومړي دریځ خلک هم دغه فکر ځنې اخلي، ابن عباس رض چې کومه خبره کړې ده، هغه واضحه نه ده، دغسې حدیث چې د هر ښار لپاره خپل رؤیت دی، په دې الفاظو حدیث نه شته، ابن عباس رض چې وایي، موږ ته دغه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر رسول الله ص کړی دی، هدف یې هماغه عمومي حدیث دی چې رسول الله ص ویلي له لیدو یې نیسئ او له لیدو یې خورئ، ابن عباس رض له دې حدیث څخه همدا فهم اخیستی دی، چې د هر ښار او سیمې لپاره خپل لید معتبر دی، نو ځکه یې ویلي چې رسول الله ص موږ ته دا امر کړی دی، په داسې حال کې چې هغه نور حدیث نه دی بیان کړی چې رسول الله ص څنګه امر ورته کړی دی؟ چېرې یې ورته کړی؟ بل چا ولید په دغه ډول حدیث نه دی نقل کړی؟

دا مسله اجتهادي ده، زما په نظر ترجیح دا ده چې د هر مسلمان شاهدي که په باوري ډول نقل شي، هغه معتبره ده، د هر ښار لپاره نه ده، بلکې د ټولې نړۍ لپاره. هغه وخت چې ابن عباس رض دغه اجتهاد کړی دی، د خپل وخت له شرایطو سره سم یې کړی دی، په هغه وخت کې د دې امکان نه وو چې یو کس دې له افغانستان څخه د مدینې خلکو ته شاهدي ور کړې وای، نو دوی چې د رؤیت اعتبار ته کتلي دي، نو د خپل وخت حالاتو او شرایطو اړ کړي دي چې تر هغه ځایه یې معتبر وبولي چې په یوه ورځ یا یوه شپه کې یې د رسولو امکان وي، له دې امله یې د شام لیدلو ته اعتبار نه دی ور کړی، ځکه له شامه مدینې ته شاهدي په یوه ورځ نه شي رسول کېدای او نه له مدینې و مکې ته، له دې امله یې د هر ښار لپاره خپله مطلع معتبره بللې ده. البته نن شرایط له هغو شرایطو سره توپیر لري؛ موږ کولای شو چې په یو څو دقیقو کې ټوله نړۍ خبره کړو، شاهدي هم تر پخوا په ډېر باوري ډول نقل کېږي. دویمه خبره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن عباس پر اجتهاد دا هم کېدلای شي چې هغه د یوه ښار لپاره معتبره بللې ده، د بسته هیواد لپاره یې نه ده بللې، که د ټول هیواد په کچه وای، بیا خو مدینه او شام د یوه هیواد دوې ببلې ببلې سیمې وې، نو ابن عباس رض ولې د خپل خلیفه په لیدو نه روژه کوله او نه یې اختر کاوه؟که خبره د یوه ښار شي، نو اوس خلك تر یوه ښاره محدود نه دي، بلکې له همدې حدیث څخه د درست هیواد لپاره استدلال کوي، په داسې حال کې چې دا استدلال یې له دغه حدیث څخه زما په اند سم نه دی. دریمه خبره دا هم ده چې پاس د ابن عمر رض په حدیث کې راغلي دي چې یا لید معتبر دی یا هم د عادلو شاهدانو شاهدي، له عادلو څخه هدف د شاهدي کره او باوري کول دي، چې دروغ پکې نه وي او خبره پاکه و صافه شي؛ هلته هم ابن عمر رض ویلي دي چې موږ ته رسول الله ص دغه ډول امر کړی دی. که د ابن عباس رض له حدیث څخه هغه ډول استدلال کېږي، نو د ابن عمر رض له حدیث څخه پر دې بل ډول استدلال کېدلای شي. ابن عمر رض هم ویلي دي چې موږ ته رسول الله ص دغه امر کړی دی. نه یې د شاهدۍ لپاره حدود ټاکلي دي چې له کومه ځایه شاهدي تر کومه ځایه معتبره ده او نه یې د لید لپاره ځایونه تعین کړي دي چې له دې ځایه تر هغه ځایه لید معتبر دی او له هغه ځایه ور هاخوا به خلك خپله میاشت ویني، بیا تر پلاني ځایه د هغوی لید اعتبار لري. څلورمه خبره داد چې د هیوادونو جغرافیې غټېږي او کمېږي، یو وخت د افغانستان جغرافیه ډېره لویه وه، نن بیا ډېره وړه ده، پاکستان یو مهال بیخي وجود نه در لود، نن شته، په دې توګه هر هیواد د وړېدو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لويدو امکان لري، نو که نن يو ښار د يوه هيواد برخه وي، د هغه هيواد ليد او شاهدي به پکې معتبره وي، که سبا هغه ځان ته بېل هيواد شي يا له بل هيواد سره پيوست شي، بيا به ځان ته ليد او شاهدي لري يا به د بل د ليد او شاهدي تقليد کوي، په دې توګه شرعي احکام د پسخند او استهزاء درجې ته راکښته کېږي، د مسلمانانو اتحاد او يووالی ماتوي، هيوادونه د خلکو په شخصي عبادت کې خپل سياستونه ور ننباسي، دا او دې ته ورته زيانونه له همدې پېښېږي چې د هر ښار خپل مطلع د هغه ښار يا هيواد لپاره معتبر وګڼل شي.

دا اختلاف خو د ډېر وخت دی، فکر نه کوم چې د يوه سړي، يوې ډلې، يو عالم، يوه مفتي او يوه ليکوال په فتوا، سپارښتنه يا راجح و مرجوح دې خبره حل شي، اوس يې د حل وخت تېر شوی دی، پر دې اختلاف کتابونه ليکل شوي دي، د هر دريځ په ملاتړ او رد کې ويناوې و مناظرې شوې دي، په اسانه د خلکو يوه کول اوس د عامو خلکو د وس خبره نه ده، که پر دې مسله د امت اتحاد غوښتل کېږي، بايد په دولتي کچه څو کارونه وشي چې اتحاد ته لار جوړه شي:

اول: د اسلامي نړۍ په کچه دې يوه کمېټه جوړه شي، دې کمېټې ته که له هره ځايه د مياشتې د ليدو خبر ورسېد، تر خپلو څېړنو وروسته دې روژه يا اختر اعلان کړي چې په اعلان يې بايد ټول مسلمانان عمل وکړي، هيڅ هيواد دې له دې څخه ځان نه باسي او دغه يوه کمېټه له سياستونو او هر هغه څه څخه لرې وساتل شي چې د هغوی پر کار اغېز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، دا که د کمېټې د غړو پر کار وي یا هم د هغوی د اعلان پر تاثیراتو وي. دا وړاندیز ښایي په اوسنیو حالاتو کې د عملي کېدا شونتیا ونه لري، ځکه مسلمانانو تر خپل منځ یوه د بل ګرېوان ته لاسونه اچولي دي، سیاستونه یې سر ټکر دي، د اختلاف او جنګ لپاره ګڼې نورې پلمې هم پیدا شوې دي چې د اسلامي نړۍ اتحاد ته یې کلکه ضربه ور کړې ده، له دې امله به څوک په دې خبره د پوهاوي کولو زحمت هم ونه کاږي. هغه وخت یې د منلو امکان زیات دی که ایینده په اسلامي نړۍ کې د اسلامي اتحادیې څرکونه ولیدل شول، یا هم پر شرعي عباداتو ته یې د یووالي هوکړه وکړه، دغه وړاندیز به منل کېږي او عملي جامه به ور اغوندي.

دوه: د اسلامي نړۍ علماء دې د اوس وخت شرایطو ته په کتو پر دې مسله بیا فکر وکړي، یوځل دې بیا وارزوي، په دې اړه راغلي شرعي نصوص دې ټول یو د بل ترڅنګ کښېږدي، وخت، مکان، ټولنه، غوښتنې، زموږ حالات او د شرعي نصوصو صحت و سقامت، د اجتهاد سموالی و ناسموالی دې ټول وارزول شي، د علماؤ په څنګ کې دې فلکیاتو ماهرین هم وي، د هغوی پرېکړه دې دوی هم وارزوي، هغوی دې ځانو، دولتونو، ملتونو او د هر ځای مسلمانانو ته قانع کوونکې دلایل وړاندې کړي چې دغه لوری د مسلمانانو د اتحاد لپاره ګټور دی، له نصوصو سره برابر دی، له حالاتو، ځای، مکان، غوښتنو او ټولنو سره سمون لري، پر عبادت د سیاست او نورو اغېز ته اجازه نه ده ور کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې او فردي عبادت د حاکمې طبقې د سیاستونو قرباني شوی نـه دی، بلکې یوازې د مسلمانانو اتحاد، د نصوصو واضح مفهوم، د خلکو فردي عبادت او له خپل خالق سره یې د مخلوق اړیکې ته پکې پام شوی دی، دغه فتوا دې د اسلامي امت د اتحاد لپاره یو ښه قوي مصدر وګرځـي او خلک دې عمل په وکړي.

درې: پـه مسـلمانان کـې د اخـتلاف د مخنیـوي لپـاره یـوه بلـه لار د فلکیـاتو د مـاهرینو او سـاینس پوهـانو ده. د کـال لـه سر څخـه دې جنتري/کلېنډر جوړه شي، د متخصصو کسانو په مټ دې د ټولو عبـاداتو ورځې ورټاکل شي او هیڅ اختلاف ته دې زمینه نه برابـروي. البتـه دا تـر هغه وروسته چې د جنتري په اړه خلک یوه خوله شي، جنتري د رؤیـت ځای ناستې وګڼله شي، که څه هم د ساینس پوهـانو دغـه کـار د رؤیـت هلال کمېټې تر اعلاناتو ډېر باوري دی، یو شی چـې ممکـن د اخـتلاف سبب شي هغه له دې کار سره ظاهرن د نصوصو نه همږغي ده چې ممکن د ځینو کسانو د اختلاف سبب شي. زما په اند که د دین او شریعت کـلي پیغام ته متوجې شو، پوهېږو چې پر جنتري اختر او روژه ستونزه نه لري، په حدیث کې د روژې او اختر لپاره د میاشتې لیدلو امر هم د اتحاد لپاره و، دا چې خلکو ګڼ مفاهیم ترې واخیستل او د یووالی امر یې د اختلاف سبب کړ، دا یوه بدمرغي وه چې اسلامي امت ورسره مخ شـو، خـو مـوږ کولای شو چې نویو حالاتو ته په کتو یې د نوي اجتهاد په مټ مخنیـوی وکړو او یوځل بیا د دیـن اوشریعـت کـلي پیغـام او اصـل روح تـه امـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهبري کړو. له دې هر څه سره په احادیثو کې دوه داسې شیان ذکر شوي دي چې موږ یې ددې لپاره لاسوند ګرځولای شو، لومړی به دغه دواړه حدیثونه راوړم:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذَكَرَ رَمَضَانَ فَقَالَ: «لَا تَصُومُوا حَتَّى تَرَوُا الْهِلَالَ، وَلَا تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ، فَإِنْ أُغْمِيَ عَلَيْكُمْ فَاقْدِرُوا لَهُ» (۴)

ژباړه: ابن عمر رض له رسول الله ص څخه روایت کړی چې ده رمضان ذکر کړه، وې ویل: روژه د میاشتې په لیدو ونیسئ او د میاشتې په لیدو یې وخورئ، که میاشت درڅخه پټه شوه، نو اندازه ور ته وکړئ.

«إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ، لَا نَكْتُبُ وَلَا نَحْسُبُ، الشَّهْرُ هَكَذَا وَهَكَذَا وَهَكَذَا» وَعَقَدَ الْإِبْهَامَ فِي الثَّالِثَةِ «وَالشَّهْرُ هَكَذَا، وَهَكَذَا، وَهَكَذَا» يَعْنِي تَمَامَ ثَلَاثِينَ (۵)

ژباړه: موږ نالوستی امت یو، چې نه لیکل کولای شو او نه حساب(علم نجوم) میاشت دومره، دومره او دومره ورځې ده، په درېیم وار یې بټه ګوته کت کړ او میاشت دومره، دومره او دومره ده، یعنې پوره دېرش ورځې.

په لومړي روایت کې د اندازې یادونه او په دویم کې دا ذکر چې موږ نالوستي یو، په علم نجوم نه پوهېږو، له دې امله نو د لید او شاهدۍ خبره شوې ده، که امت اوس له هغه حالت څخه را ووزي، هم نالوستی نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ليک لوست پوه شي او هم د فلکياتو ماهرين پکې داسې دقيقه وړاندوينه وکړي چې يوه ذره غلطي پکې نه وي، بيا هم موږ په دې مکلف يو چې مياشت به وينو؟ زما په اند دغه حديث علت ذکر کړی دی، د مياشتې ليد ځکه ضروري و، چې موږ له بلې لارې نه شوای کولای چې د مياشتې راختل باوري کړو، يوازې په هغه صورت کې اجازه ور کړل شوې ده چې وريځ وي، افق نه ليدل کېږي، نو له اندازه کوونکو څخه د مرستې طلب شوی دی، چې هغوی د خپل علم نجوم له مخې دا معضله حل کړي. که په حديث کې هغه وخت د دې جواز ور کول شوی دی، چې اټکل يې باوري هم نه و، نو اوس چې يوه ذره خطا نه لري، دا کار به څنگه جواز نه لري؟ ايا ليد به ډېر باوري وي که د همدې علم له مخې د مياشتې راختل؟ د ليدو خبره باوري نه ده، که وای دومره اختلاف به نه وای، په يوه ښار کې د چا اختر وي او د چا روژه. نو که د ليد اعتبار دومره ضعيف شوی وي، بيا نو د فلکياتو د ماهرينو دريځ پرې پياوړی دی، هغوی کولای شي چې د ټولې اسلامي نړۍ لپاره يوه ورځ په ډېر دقت وټاکي، څو د مسلمانانو اختلاف ختم کړي، ټول مسلمانان په يوه ورځ اختر او ورژه وکړي او په دې سره د مسلمانانو اتحاد او يووالی بېرته خپل لومړني حالت ته را وگرځي. دا د دين له کلي پيغام او عمومي روح سره ښه لگېږي.

که دا هيڅ نه وي، بيا نو زما په اند شاهدي معتبره ده، که د هر ځای شاهدي په باوري ډول هر مسلمان ته ورسېږي، نو روژه يا اختر ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای شي، په دې کې د حکومتونو د ټاکلې تګلارې اطاعت ته اړتیا نه شته، خلک په شریعت کې په لید او شاهدي مکلف شوي دي، نه د فردي عبادت په چارو کې د حکومت په تصمیم، حکومتونه د خپل سیاست له مخې نه یوازې ټولنیزې چارې کله ناکله ناسم لور ته وړې، حتا فردي شرعي چارې هم په خلکو کې د اختلاف وسیله ګرځوي. مسلمانانو ته لازمه ده چې خپل فردي عباداتو د وخت د حکومتونو د ناسم سیاست قرباني نه کړي، دولتونه دې هم د فردي عبادت بې قیده ازادي ورکړي چې خلک روژه نیول او اخترکول یوازې د خپل خالق لپاره وکړي، نه د ټولنې لپاره او نه د حکومت له امله.

۵/۵/۲۰۲۲

**سرچینې:**


۱)صحیح مسلم، کتاب الصیام، باب وجوب صوم رمضان لرؤیت الهلال...، ح: ۱۰۸۱.

۲)سنن ابي داؤد، کتاب الصوم، باب شاهدة الرجلین علی رؤیة هلال الشوال، ح: ۲۳۳۸.

۳)صحیح مسلم، کتاب الصیام، باب بیان ان لکل بلد رؤیتهم...ح: ۱۰۸۷.

۴)صحیح مسلم، کتاب الصیام، باب وجوب صوم رمضان لرؤیة الهلال... ح: ۱۰۸۰.

۵)تېره حواله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په دولتي محکمو کې د نکاح راجسټرول(ثبتول)

زموږ په ټولنه کې د نکاح مروجه بڼه که له یوه لورې ځینې نقصانونه لري، نو بل خوا د ټولنې په خیر هم نه ده تمامه شوې. په دې نکاح کې کله د دواړو خواو، کله د یوې خوا حقوق تر پښو لاندې کېږي. داسې نکاح هم شوې ده چې مېړه او ماینه دواړه واړه وي، مور و پلار یې نکاح ور کړې ده او کله چې هغوی را لوی شي؛ نو یوبل یې نه وي خوښ، یا د یوه د خپل ژوند ملگری نه وي خوښ، خو بل لوری یې بیا بېلولو ته تیار نه وي.

داسې پېښې شوې دي چې له نجلۍ هیڅ پوښتنه نه ده شوې او د خپل پلار یا ولي له لورې ورکول شوې ده. داسې هم کېږي چې له نره هم نظر نه غوښتل کېږي، مور یا د کور نورې مېرمنې یې یوه نجلۍ خوښه کړي، نور هلك یا نجلۍ ته وخت نه ور کول کېږي، چې سره ووینې، د خپل اینده ژوند لپاره خبرې سره وکړي، که سره خوښ یې شول توافق وکړي او که نه نو هر یو خپله لار ونیسي؛ افسوس چې داسې نه کېږي، بلکې هر یو دومره خبر وي چې کوژده یې ده، نور د خپل ژوند د ملگري په اړه یو فیصد معلومات هم نه لري. دلته که یو لور ته په لومړي سر کې د یوه یا دوو انسانانو حقوق خوړل کېږي، نو بل لور ته ځینې وختونه د مېړه او ماینې مزاجونه نه سره جوړېږي، یو د بل په طبیعت نه پوهېږي، نو د کور دننه د دوی تر ژونده خشونت دوام کوي، چې نه یوازې د دوی دوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند یې تریخ کړی وي؛ بلکې اولادونه، نور کورنیان او حتا همسایه ګان لا ترې په زحمت وي. دا هر څه له دې امله چې موږ په نکاح کې لومړی ورځ ځینو مهمو ټکو ته پام نه کوو او بیا هغه خپل جوړ کلتور پښې را بندې کړي او په خپل لاس د جوړ شوي زندان بندیوان شو. زموږ ګډه ژوند د لاټرۍ په شان دی، خالي ختل یا له انعام سره دواړه احتماله وي، زموږ لپاره خوشاله ګډ ژوند د لاټرۍ چانس دی، که وختی که نه.

نور باید دا قبایلي رواجونه بدل کړو؛ د نکاح مراسم یوازې د یوه ملا په خوله د څو الفاظو له ویلو څخه راپیل او خلاص نه کړو. بلکې د حکومت په محکمه کې د قاضي مخته مېړه او ماینه د اقرار ترڅنګ پر ټاکلو شرایطو لاسلیکونه هم سره وکړي، چې د نه تعمیل په صورت کې دواړه حق لری چې شکایت وکړي او که بیا هم معضله حل نه شوه؛ نو قضا دې د جلاوالي پرېکړه وکړي، چې نه مېړه ته نور زحمت جوړ شي او نه ماینې ته. دا هرڅه به له لومړي سره په نکاح نامه کې لیکلي وي، نکاح نامه باید د دولت له لورې رسمي پارچه وي چې شرایط یې ټول له شریعت او قانون سره سم لیکلي وي. له دې شرایطو سره نکاح نه وي تړلې؛ بلکې دا د ګډ ژوند اصول دي، که پر ځای نه شول ګډ ژوند ورسره ختمېږي چې نه یې باید وخت ټاکل شوی وي، لکه د موقتې نکاح او نه د نکاح د صحت لپاره شرط وي، چې فاسده نکاح ترې جوړه نه کړي.

په محکمو کې د نکاح د تړل کېدا او فسخې دواړه ثبوتونه په احادیثو کې راغلی دي. دلته مو دوو حدیثو ته پام غواړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، أَنَّ امْـرَأَةً جَـاءَتْ رَسُـولَ اللَّهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ جِئْتُ لِأَهَبَ لَكَ نَفْسِي، فَنَظَرَ إِلَيْهَا رَسُـولُ اللَّهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَصَعَّدَ النَّظَرَ إِلَيْهَا وَصَوَّبَهُ، ثُمَّ طَأْطَأَ رَأْسَهُ، فَلَمَّا رَأَتِ الْمَرْأَةُ أَنَّهُ لَمْ يَقْضِ فِيهَا شَيْئًا جَلَسَتْ، فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: يَـا رَسُـولَ اللَّهِ إِنْ لَـمْ يَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ فَزَوِّجْنِيهَا.

ژباړه: سهل بن سعد روایت کړی چې یـوه میـرمن رسـول الله ص تـه راغله، وې ویل: د الله رسوله! زه ځان تاته هبه کوم. رسـول الله ص هغـې ته لوړ او کښته وکتل بیا یـې سر ټیـټ کـړ، مېرمنـې چـې ولیـدل ده هـیڅ پرېکړه ونه کړه، نو کېناسته. له اصحابو یې یو کـس ولاړ شـو، وې ویـل: ای د الله رسوله! که ستا ورته اړتیا نه وي، ماته یې په نکاح راکړه.

د حدیث په اخیر کې دي: «اذْهَبْ فَقَدْ مَلَّكْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ».

ورځه، ما دا تاته د هغه قران په مقابل (مهر) کې په نکاح درکړه.(۱)

پـه دې روایـت کـې مـوږ ولیـدل چـې رسـول الله ص د وخـت امیـر، سیاسي، نظامي، ټولنیز او د قضا مشر دی، لـه دې هـر څـه سره یـې یـوه صحابي ته په خپل مجلس کې نکاح ور وکړه. له دې حدیث څخه موږ د اوس وخت لپاره دا استفاده کولای شو چې د راتلـونکي شرونـو د دفعـې لپاره نکاح په محکمه کې وتړو، شاهدان هم موجود وي، قاضي هم وي، شرایط یې معلوم شي او د اینده شر مخه ونیوله شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو بل حدیث کې دي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ امْرَأَةَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ، مَا أَعْتِبُ عَلَيْهِ فِي خُلُقٍ وَلاَ دِينٍ، وَلَكِنِّي أَكْرَهُ الكُفْرَ فِي الإِسْلاَمِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَتَرُدِّينَ عَلَيْهِ حَدِيقَتَهُ؟» قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اقْبَلِ الحَدِيقَةَ وَطَلِّقْهَا تَطْلِيقَةً».

ژباړه: ابن عباس رض روایت کړی دی چې د ثابت بن قیس میرمن رسول الله ص ته راغله، وې ویل: ای د الله رسوله! زه پر ثابت بن قیس د هغه د اخلاقو یا دین له امله نیوکه نه لرم، مگر په اسلام کې له ناشکرۍ وېره لرم. نو رسول الله ص ورته وویل: ایا هغه باغچه یې بیرته ور کوې؟ دې ویل: هو، رسول الله وویل: باغچه څنې قبوله کړه او دې ته طلاق ور کړه.(۲)

په دې حدیث کې روښانه شوه چې یوه میرمن له خپل مېړه په شکایت راغله، کله چې رسول الله ص پوه شو هغه وخت نه شي ورسره تېرولای، نو د خلعې صورت یې ښځې ته وړاندې کړ، هغې ومانه او مېړه ته یې امر وکړ چې ښځې ته طلاق ور کړي.

که نکاح په محکمه کې وشي، څو گټې به ولري: یو، مېړه او ماینه به مخامخ سره ووینې، دوه، یو د بل تر لیدو وروسته یې رضایت هم معلوم شي. درې، که فرضن یو لوری دې نکاح ته مجبور شوی وي ، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضي او شاهدانو په مخکې کولای شي خپل مشکل بیان کړي او له اینده ستونزې ځان وساتي. ځلور، قاضي به مېړه اومایني ته لیکلي شرایط اورولي وي، د دوی ترڅنګ به یې شاهدان او د کورنۍ غړي هم خبر شي، که اینده د هر لورې له خوا مشکل ایجاد شو، مخکې له مخکې به یې د اواري لپاره حللارې په ګوته شوې وي او هر یو به خپل وجایب پېژني چې د کورني تاوتریخوالي په کمولو کې مهم رول لري. پنځه، په محکمه کې د نکاح راجستر کول به د ښځو تیښتې مخه هم ونیسي، د جبري ودونو ګراف به هم ورسره کم شي، میرمنو ته به حقونه هم ور کړل شي، مېړونه به د خپلو میرمنو حق ته متوجې کړي او تر دې ټولو وروسته به کورنۍ کې زورزیاتی کم شي چې مستقیم پر ټولنه او نوي نسل مثبت اغېز کوي.

دا یو ډېر مهم ټرون دی، دوه انسانان، دوې کورنۍ اوحتا دوې قبیلې یو له بل سره پیوند کېږي. له دې امله دې په سپکه نه ورته کتل کېږي چې د هر کول و پتي پر سر یې سره وتړي. که لومړی میرمن او مېړه ته اجازه ور کړل شي چې سره وپېژني، وویني، خپل شرایط یو بل ته بیان کړي او په لنډو وختونو کې ځینې صفات د یوه بل درک کړي، دا به تر هغه نکاح ډېره ښه وي چې په پټو سترګو وشي. دا کار شرعن حرام نه دی، بلکې سنت دی. رسول الله ص هغې ښځې ته کښته پورته وکتل، هغه بل صحابی هم ولیده او هغه میرمن په جومات کې د اصحابو په وړاندې ناسته وه. موږ د دې پر ځای چې د غیرت او ناموس ساتنې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم میرمنې په پوښونو کې پټې کړو، حقونه يې ترې واخلو، نور له دې قبایلي او پخواني کلتور څخه څه تر لاسه کړي دي؟ میرمنې پریږدئ چې د خپل ژوند مسیر په خپله وټاکي، الله ورکړی حق دی او اخلاقیات و قانون يې ایجابوي. که موږ په خپله ټولنه کې د میرمنو په وړاندې همدې روان جبر اوستم ته دوام ورکړو، نو د نورو مشکلاتو تر څنګ بد اخلاقي او د میرمنو تیښته به ورځ تر بلې ورسره زیاتېږي چې د شریعت او قانون دواړو له مخې ناوړه کارونه دي.

په دې اړه باید هغه میرمنې ډېر کار وکړي چې د نکاح د ثبت په ګټو پوهېږي. ښځې تر نارینه میرنو ته زیات لاس رسی لري او په ښه ډول کولای شي چې هغوی پوه کړي. میرمنو ته قناعت ور کول او د خپل حق په اړه يې پوه کول ممکن په کلیوالو سیمو کې يو څه ګرانه خبره وي، اما که ښځې دا کار وکړي، نو تر نارینه ژر کولای شي چې میرمنې په دې کار قانع کړي. نارینه به د نارینه وو په خوا کې خپل کار ته دوام ور کړي او نارینه ته به قناعت ور کړي چې نکاح د مسجد یا یوې کوټې پر ځای محکمه کې وتړي.

مدني ټولنې، علماء، روښنفکران، لیکوال، شاعران، رسنۍ، اړونده دولتي ادارې او نړۍ والې مؤسسې هم باید تر خپله وسه د بشر د ساتنې او حق ور کونې په دې انساني پروسه کې برخه واخلي او زموږ د ملت تر نیمایي زیاته برخه چې لا په تیارو کې ژوند کوي؛ راوباسي، د حق اخیستنې لارې چارې لا ورته نه دي معلومې او هغه مرجع يې نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونډلې چې د حقونو د تلف په وخت کې ورته رجوع وکړي، یاد بنسټونه باید راوړاندې شي او دا هر څه د خپلې بشري خواخوږۍ او انساني مسوولیت له مخې په ښه ډول مخته یوسي.

۲۰۲۱م

**سرچینه:**

۱)بخاري، کتاب فضائل القران، باب القراءة عن ظهر القلب، ح: ۵۰۳۰.

۲)بخاري، کتاب الطلاق، باب الخلق وکیف الطلاق فیه؟ ح: ۵۲۷۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د انسان د بدني غړو پیوندکاري

په طبي برخه کې له نویو پرمختګونو سره ځینې داسې مسایل هم را برسېره شول چې پر طب برسېره یې له شریعت، قانون او اخلاقیاتو سره تعلق در لود. له هغو مسایلو یوه هم د انساني بدن د اعضاؤ پیوندکاري ده. په دې اړه خورا ډېر اختلاف موجود دی، اختلاف ځکه پکې ډېر دی چې یو خو مسله ډېره نوې ده، دویم دومره اسانه هم نه ده لکه ځینو چې فکر ورته کړی دی، لامل یې دادی چې پر دې موضوع له شرعي، قانوني او اخلاقي بعدونو بحث کېدای شي او ور باندې شوی هم دی.

نو یوه مسله چې هم یې ډاکټر پر روایښت و ناروایښت بحث کوي، هم یې پر دواړو اړخونو قانون پوه خبرې کوي، همدارنګه له اخلاقي زاویې هم بحث پر کېدای شي او له شرعي هم، دې ټولو نکتو ته په کتو ویلای شو چې مسله ډېره ساده هم نه ده او په دې کې د حرمت او حلت دواړه لوري باید په تېرو ونه وهل شي، ځکه مسله منصوصي نه ده بلکې د علماء ترمنځ پر اجتهاد ولاړه ده او په اجتهاد کې طبیعي خبره ده اختلاف موجود وي او هر لور د خپل موقف لپاره ځینې لاسوندونه وړاندې کوي چې د هغه د علم له مخې ورته سم برېښي، زه لومړی د هغو کسانو له لوري بحث را پیلوم چې پیوندکاري ورته له څو وجو ممنوع ښکاري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول: انسان په خپل بدن کې د تصرف واک نه لري.

د حرمت منونکو لومړی دلیل دادی چې انسان ته د هغه بدن د امانت په توګه ور کړل شوی دی، په امانت کې که هغه د ورکړل شوي واک لـه دایرې بهر عمل کوي، نو دا یو ډول خیانت دی او په شریعت کې خیانت حرام دی.

دویم: له انساني کرامت او شرافت سره منافي ده.

انسان ته الله تعالی کرامت او شرف ور کړی دی، قران کریم وایي چې موږ بني ادم ته کرامت ور کړی دی، په دې کې ټول انسانان شاملیږي، نو د انسان هر غړی چې ځنې پرېکېږي، دا یې په دغه شته بـدن کـې نقـص راولي او قران کرامت ته یې زیان رسېږي او قران دا هـم ویـلي دي چـې انسان مو په ډېر ښه شکل کې پیدا کـړی دی، نـو هـر نقـص یـې لـه دې دواړو ور کړل شویو نعمتونو سره ټکر کوي.

دریم: د انساني بدن د غړو پیوندکاري د انساني اعضاؤ تجارت ته لار جوړه کړه.

دا هم یو خطر دی چې کـه شرعـي اجـازه ور کـړل شي، نـو ښـایي د انساني اعضاؤ تجارت او راکړې ور کړې ته لار جوړه کړي، د دې لپـاره چې غریب او بې وزلي وګړي د شتمنو او مړو خلکو لپاره وسیله نه شي، هغوی د پیسو په مقابل کې د د وی اعضاء ونه پېري، باید د سد ذریعې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه د انساني غړو پيوندکاري ممنوع شي، څو د شريعت او قانون له مخې پابندي د دې کار تر ممکنه بريده د کمولو انساني هڅه وشي.

څلورم: دا په الهي تخليق او فطرت کې لاسوهنه ده.

بل دليل دا هم دی چې الله تعالی چې انسان څنګه پيدا کړی دی، پر کوم فطرت يې پنځولی دی، انسان که په دې کې لاسوهنه وکړي، نو دا په الهي تخليق کې او فطرت کې انساني و بشري لاسوهنه ده چې د قران کريم واضحو اياتونو سره مخالفه ده، شيطان په انسان هغه کارونه کوي چې د الهي تخليق د تغيير سبب کيږي.

پنځم: د واصلې او مستوصلې له حديث څخه دليل ويل.

په يوه حديث کې دا راغلي دي چې پر ويښتو ور ښوونکې او وېښته غوښتونکې ښځو دې د الله لعنت وي، نو چې له عذر سره د وېښتو لپاره جواز نه موندل کيږي، تر دې د لوی تغيير جواز به څنګه پيدا شي؟

شپږم: هغه کس چې بل ته غړي ور کوي، د ده څه اړتيا ده؟ ناروغ که مجبور وي، ور کوونکی کس يې د کوم مجبوريت له مخې ور کوي؟

شپږمه خبره دا ده چې ناروغ به د اعضاؤ لګولو ته مجبور وي، دغه کس چې روغ جوړ دی، څه اړتيا لري چې بل کس ته خپل اعضاء ور کوي او په دې کار سر د الهي احکامو مخالفت ته ملا تړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شپږ هغه نکتې دي چې د پیوندکاري مانعینو په خپلو مقالو او کتابونو کې ذکر کړې دي، که فکر ورته وشي، دا پر خپل ځای ښې نکتې دي، دوی د خپل دریغ لپاره ښه لاسوندونه موندل دي، دې دلایلو ته په کتو باید دغه دریځ لرونکي کسان په ناسمو الفاظو یاد نه شي او نه یې موقف ضعیف او بې بنسټه وبلل شي، بلکې له دلایلو سره مل موقف دی او هر څوک چې همدې دلایلو ته په کتو د منعې لوری راجح بولي، هغه د خپل علم او بشري وس له مخې په خپل ذات کې سهي دی، خو یو کار باید دغه موقف لرونکي او جواز ور کوونکي هر وخت وکړي، هغه دا چې د مخالف موقف دلایل په سړه سینه وګوري، که ورته سم او مناسب ښکاره شي، هر وخت باید د حق له منلو ونه شرمېږي، خپل موقف دې تغییر کړي او هغه څه دې برملا ومني چې دلایل یې هغه ته ښه او قوي ښکاري.

اوس به د هغو کسانو دلایل را واخلم چې د انساني بدن د غړو پیوندکاري ته یې د شریعت له مخې جواز ور کړی دی:

اول: {وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا} [المائدة: ۳۲].

او که چا یو نفس را ژوندی کړ، ګواکې ټول انسانان یې را ژوندي کړل.

د جواز ور کوونکو لومړی دلیل له قران کریم څخه دغه ایت دی، دوی وایي چې دومره لوی فضیلت د بل هیڅ شي نه دی ذکر شوی، یوه انسان ته د ژوند اسباب برابرول دومره لویه نیکي ده لکه ټولو انسانانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې همدا معامله وکړې. له دې امله نو دوی جواز ور کړی دی چې کـه انسان د صدقې لپاره یو بل کس خپل اعضاء ور کوي، دا یوه صدقه ده او دا یو ډېر لوی بهتر کار دی.

دویم: {فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِإِثْمٍ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ}.

[المائدة: ۳].

نو که څوک له لوږې ډېر اړ شو ګنا ته یې میلان نه و، بیا الله غفور او رحیم دی.

په دې ایت کې الله تعالی د حرامو شیانو خوراک ته د سختې اړتیا لـه مخې اجازه ور کړی دی، کـه پـه لـوږه، تنـده کـې د سـختې اړتیـا مهـال محرماتو ته د استعمال اجازه وي، بیا نو د انسـاني ژونـد د ژغـورنې لپـاره ولې یو حرام کار ته اجازه ونه شي؟ د انسان ژوند تـر هـر شي مهـم دی، حتا په دغسې حالت کې د کفر کلیمې ته جواز ور کړل شوی دی، نو که فرضن حرام هم شي، دومره سختې اړتیا ته په کتو به اجازه ونه لري؟

دریيم: په قران کریم او نبوي حدیثونو کې د صدقې لوی فضایل ذکر شوي دي، امر په شوی دی، نو که مال صدقه کېږي، تر مال خو انساني اعضاء ډېر مهم دي، دا بیا تر مال هـم لویـه صـدقه ده، د قـران کـریم او حدیثو عام فضیلت ته پـه کتـو انسـاني اعضـاء د یـوه بـل انسـان د ژونـد ژغورلو لپاره صدقه کول، ډېره لویه قرباني او صدقه ده، چې فاعل به یې د مال تر صدقې د ډېر اجر مستحق وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم: د حرمت په اړه يې صريح نص وجود نه لري، بل خو د صدقې او انساني ژوند د ژغورنې په اړه واضح نصوص شته، نو دې دواړو طرفو ته په کتو دا خوا راجحه ده چې اجازه ور کړل شي، ځکه د يوه شي حرمت په قاطعو دلايل ثابتېږي او دلته قاطع دلايل وجود نه لري.

پنځم: دلته ځينې فقهي قاعدې شته چې له هغو څخه هم د دې پر اباحت دليل ويل کېداى شي. يوه قاعده داسې ده: اذا تعارضت مفسدتان روعي اعظمها ضرراً بارتكاب اخفهما. كه د دوو مفاسدو ترمنځ تعارض واقع شو، نو د واړه په ارتکاب به له لوى څخه ځان ساتل کېږي. بله قاعده ده: الضرر يزال بقدر الامكان، تر وسه به د زيان مخه نيول کېږي. بل اصل دى: واذا ضاق الأمر اتسع، د سختي په وخت کې پراخي وي، دغه ته ورته قواعد نور هم شته، دې ټولو ته په کتو د اباحت لورى راجح بلل شوى دى.

پاته شوه د مانعينو د دلايلو خبره، نو د هر يوه لپاره يې دوى ځينې توجيهاتې وړاندې کړې دي. انساني کرامت په دې کار سره له منځه نه ځي، بلکې د يوه انسان په ژوندي کولو نور هم دغه کرامت درنېږي، ځکه د يوه انسان دومره احترام وشو چې حتا بل انسان د خپل غړي تر سر ورته تېر شو، نو دا عيني د کرامت ساتل دي نه د هغه بې حرمتي، بل دا چې ممکن يو وخت چې طب په سم ډول د دې کار تر سره کول نه شواى کولاى، نو دا به د انسان لپاره بې حرمتي بلل کېده، له دې امله به عرف هم دغسې و، مگر نن چې دا هر څه په ډېر برياليتوب سره کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



عرف ورسره بدل شوی دی، خلك دغه ډول یو انسان ته په ډېره درنه سترګه ګوري، له دې امله نو هغه کرامت تر پښو نه دی لاندې کړی، بلکې د انسان کرامت يې په ډېره ښه توګه ساتلی دی.

دا چې دوی وايي د فطرت او الهي تخليق له منځه وړل دي، نو دوی ورته وايي چې تاسو هم د یوه انسان اپریشن یا هم د یوه خراب غړي ببلولو ته جواز ور کوئ، که هغه د اړتیا له مخې جواز لري، نو دغه هم د اړتیا له مخې جواز لري، ځکه هلته د یوه انسان ناچله غړی دی، ممکن دهغه لپاره خطر وي، یا هم له درد څخه يې دی په تکلیف وي یا احتمالي خطر ور څخه احساسوي، نو باید چې پرې شي، دلته احتمال هم نه شته، ډاکټر په سل سلنه باور وايي چې د هغه ژوند یوازې په هغه صورت کې ممکن دی چې بل انسان ورته خپل یو غړی هدیه کړي، نو ایا دغه به ډېر لوی زیان وي او که هغه؟ دا به ډېره لویه اړتیا وي او که هغه؟

دا چې اباحت يې د انساني اعضاؤ تجارت ته لار جوړ وي، نو باید د سد ذریعې په توګه حرام شي، دغه دلیل يې له دې امله سهي نه دی چې که حرام شي یا حلال، تجارت يې اوس هم جاري دی، موږ دا نه وایو چې خلك دې خپل اعضاء خرڅ کړي، بلکې صدقه دې کړي، په زور او جبر په خپله خوښه، نو تجارت يې نن هم غیر شرعي او غیر قانوني دی، له انساني اخلاقیاتو سره ټکر عمل دی، باید په اړه يې کوټلي ګامونه واخیستل شي او د قانون له مخې سختې سزاوې ورته وټاکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره چې انسان د خپل بدن واک نه لري، ځکه دی د خپل بدن د مړ کولو، یا غرقولو یا وژلو اجازه نه لري، نو د صدقې اجازه هم نه شته، بیا هم سهي نه دی، ځکه له انسان سره یوازې ځان امانت نه دی، بلکې مال هم امانت دی، قران کریم ویلي: {إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ} [التوبة: ۱۱۱]، الله تعالی له مومنانو څخه د دوی ځانونه او مالونه اخیستي دي، نو د مال صدقه جواز لري د بدن صدقه یې ولې نه لري؟ یو بل ټکی دا هم چې انسان ولې د خپل بدن غړي کله ناکله پرېکوي؟ اپریشن ور کوي، لاس یې پرې کړي، پښه ځنې قطع کړي، تریخی تړې ایسته کړي، میده ور نیمایي کړي، دا ډول نور، که هغه جواز لري، نو دلته بیا ولې جواز نه لري؟ که هغه په امانت کې خیانت نه وي دغه ولې شي؟ که هغه واک په ایت و حدیث ور کول شوی دی دغه یې هم په عینې ایت و حدیث ور کړل شوی دی. بله خبره دا هم ده چې د وینې پر ور کړه ټول علماء اتفاق لري، نو وینه هم د انسان جز ده، هلته ولې ور کړه جواز لري یا هم انسان یې اختیار لري؟ دې ته ورته د شیدو ور کړه، یوه ښځې ولې د خپل بدن اجزاء د بل ماشوم ته ور کوي؟ دغه هم د بدن اجزاء دي، نو که د دې ور کړې اختیار لري، هغه هم ورته ثابتېږي.

پاته شو دا حدیث چې د وېښتانو له پر سر کولو یې منعه کړې ده، نو دا دومره جدي اړتیا نه ده لکه د انسان ژوند ژغورل، بله خبره دا هم ده چې د واصلې او مستوصلې په حدیث کې ښایي یوه خاصه قضیه وي، له راوي څخه عمومي شوې وي، په دغه ډول خبر واحد باندې دومره لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حرمت فتوا نه شي ور کول کېدای، هغه حدیث که ثابت هم شي، نو ډېره ساحه یې د غالب ظن او گومان ده، مگر حرمت په گومانو او ظنیاتو نه ثابتېږي.

دا چې مریض اړ دی، دغه بل کس ولې دا کار کوي، د ده څه اړتیا ده؟ دا خبره هغه وخت سهي وه چې انسانانو انفرادي ژوند کولای، دا چې انساني ټولنیز موجود دی، نو په ټولنه کې کله ناکله داسې پېښېږي چې د یوه انسان ژغورنه د سلو د ژغورلو سبب کېږي، کله د کور سرپرست ناروغ وي، د هغه مرگ د ټولې کورنۍ لپاره د خطر زنگ دی، نو چې ټولنه کورنۍ یې خطر ته ولاړه شي، دا به ښه وي، که یو کس خپل یو غړی ور کړي او هغه بچ کړي؟ کله مریض مېړه وي، یا هم ماینه، نو که ماینه تر یوه غړي تېره شي یا هم مېړه، په دې سره د هغوی دواړو کورنۍ ژغورل کېږي، دا به ښه وي که دا چې کورنۍ له منځه ولاړه شي، ولې یوازې دا فرض کړو چې یو څوک له هر ډول اړتیا پرته بل ته خپل غړي ور کوي؟ دویم دا چې د مال په شان د خپل غړي صدقه هم د خیرات په نیت کوي، هیڅ اړتیا نه لري، یوازې د بشر ـ غم ورسره دی، د خدای لپاره د هغه ور کړي غړي د هغه مخلوق ته د گټې لپاره ور کوي، نو په دې کې څه ستونزه ده؟

تر دې وروسته به دې بحث ته راشم چې دا اجازه عمومي ده او که په خاصو صورتونو کې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځواب دادی چې نه د دې لپاره خپل شرايط بيان شوي دي، که له ژوندي څخه ژوندي کس ته اعضاء نقل کېږي، نو دا شرايط ورته لازمي دي:

اول: د سختې اړتيا له مخې به دا کار کېږي، په بل عبارت مريض لـه دې پرته چې د يوه سالم انسان غړی يې بدن ته پيوند شي، په بـل ډول د رغېدو هيڅ چانس نه لري، له دې امله نو جواز ورکړل شوی دی.

دويم: هغه کس چې خپل غړی ور کوي، هغه ته به په دې سره زيـان نه رسېږي، نه به يې شکل او صورت ته زيان رسېږي، بلکې هغه به خپلې ټولې چارې په هغه ډول مخته وړلای شي لکه تر دې وړانـدې چې يـې ترسره کولې. نو په دې صورت کې د سترګې ور کول د ژوندي انسان لپاره جواز نه لري، اما زما په اند که د سترګې له ور کړې پرته بلـه هـيڅ لار نـه وه، د سختې اړتيا مهال سترګه هم ور کول کېدای شي، ځکه د سترګې د ښکلا خلا ډاکټران ډکولای شي، نو په يوه سـترګه هغـه خپـل ژونـد هـم کولای شي، زه له دې خبرې سره جوړ نه يم چې د سترګې ور کړه جايزه نه بولي.

دريیم: د غړي ور کول به د هيڅ مادي او معنوي عوض په بدل کې نه وي، ځو دغه کار يوازې د انساني خواخوږۍ او صدقې لپـاره شي، نـه د بيې او تجارت وسيله، موږ وړاندې هم يادونه وکړه چې د دې پـه مقابـل کې دې سختې قانوني اجراءات وشي، که هر څوک دغه کـار کـوي، نـه شرعن و اخلاقن جواز لري او نه دې قانون پر دغه ډول مجرمينو رحم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم: تر دې کار وړاندې به په ليکلې بڼه ډاکټران اقـرار نامـه ليکـي چې دوی په همدې ضوابطو خبر دي، دغه اقرار نامه به د عمليـاتو دواړه طرفونه ځنې اخلي، ډاکټران به دا هم ليکي چې دوی ته په دې کـار کـې هيڅ ډول مصلحت نه شته. يا کـه ووايـم دغـه کـار دې د دولـت تـر ښـه نظارت لاندې وشي، څو نورو ناسمو کارونو ته لار جوړه نه شي.

پـنځم: د غـړي نقـل بـه د خلکـو تـرمنځ د نسـب اخـتلاط تـه لار نـه جوړوي، لکه د تناسلي الې نقل.

که له مړي څخه ژوندي ته اعضاء نقل کېږي، نو دغه شرايط به په پام کې نيول کېږي:

اول: هغه څوک چې غړی/غړي ځنې نقل کېږي، هغه بـه پـه خـدايي مرگ کامل مړ شوی وي، درې ډاکټران به پر دې خبره شاهدي ور کوي چې هغه مړ دی؛ يا بله لار چې مرگ يې يقيني کړي.

دويم: د سختې اړتيا له مخې به دا کار کېږي، له دې پرته چې غـړی ور پيوند شي، بله به هيڅ لار نه وي.

دربيم: هغه مړي به د دې کار وصيت کړی وي، که هغه اجازه نه وي کړې، بيا يې غړي نقلولو جواز نه لري. همدا شان به هغه په خپله خوښـه وصيت کړی وي، په دې کې به پر هغه هيڅ مادي او معنوي جـبر و زور

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي شوی او نقل به هم داسې کېږي چې د مړي انساني کرامت تـه بـه صدمه نه رسوي.

ځلورم: د غړي نقل به د نسب اختلاط ته لار نه جوړوي.

پنځم: د غړي نقل به په یوه داسې روغتون کې تر سره کېږي چې هغه د همدې کار لپاره کاملن وړ او ځانګړی وي، له دولـت څخـه بـه جـواز لري، پر همدې کار به له دواړو طرفونو څخه مادي یا معنوي ګټـه نـه تـر لاسه کوي. یعنې د همدې نقل له امله به عـوض نـه غـواړي، هسـې خـو روغتون او ډاکټر د هر ډول عملیاتو خپل بدل غواړي، دلته هـدف دادی چې یوازې پر همدې نقل ځانګړې پیسې وغـواړي او د عملیـاتو یـا دې کار بیا ځانګړی رقم طلب کړي.

تر دې وروسته بحث دادی چې مسلمان کـافر تـه اعضـاء ور کـولای شي؟ ځینې علماؤ ویلي دي چې حربي او مرتد کـافر تـه یـې نـه شي ور کولای، ځکه حـربي لـه مسـلمانانو سره پـه جنـګ دی، نـو لـه هغـه سره دښمني په کار ده، خلک ددې لپاره قرباني ور کوي چې هغه مـړ شي او دلته بیا یو څوک د هغه د ژوند لپاره کار کوي، نو دا جواز نه لري. د مرتد په اړه ځینې کسان فکر کوي چې هغه هـم د حـربي پـه حکـم کـې دی، ځکه وژل یې واجب دي، مګر زما په نظر دا اسلامي حکم نـه دی چـې مرتد باید ووژل شي، نو زما په نظر مرتد ته یـې هـم جـواز شـته، یـوازې حربي کافر ترې مستثنا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نژدې قريب او لرې انسان توپير پکې نه شته، که څوك يې په خپله خوښه او هغو شرايطو ته په کتو چې لوړ بيان شول، دغه کار کوي، هيڅ ستونزه نه لري.

له دې بيان څخه نو دا ثابته شوه چې خپله د يوه انسان يو غړی بل ته نقلول هم جواز لري، مثلن تر عملياتو وروسته ډاکټر د هغه ځای د ډکولو لپاره له کوناټي غوښه وکښه، يا هم دې ته ورته بل کار، دا هم پروا نه لري، خو هغه شرايط به په نظر کې نيسي، داسې نه چې يو غړی ورته رغوي، بل يې له کاره ولوېږي.

يوه پوښتنه دا هم مطرح کېږي چې که د يوه انسان يو غړی بل ته ورکړل شي، نو هغه کس که ګنا په وکړه، سزا به يې دواړو ته ور کول کېږي، که يوه ده؟

ځواب يې داسې دی لکه د مال په صورت کې، که زه يو چا ته لس زره افغانۍ صدقه کړم، هغه ولاړ شي په دې سره زنا وکړي، نو ايا دا کار کې زه هم ورسره شريك يم؟ په هيڅ صورت نه، دا کار هغه په خپله خوښه کړی دی، نو سزا يې هم يوازې هغه ته ور کول کېږي، دلته هم د غړي تر لګولو وروسته که هغه ګنا کوي، دا د هغه د بدن غړی دی، سزا يې هم ده ته ور کول کېږي، هغه صدقه کوونکی کس په دې کې ګرم نه بلل کېږي.

تر دې را وروسته که پر دې هم لنډ نظر ورکړو چې انسان ته مصنوعي اعضاء يا د حيوان اعضاء څنګه دي؟ خصوصن هغه حيوانات چې حرام دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصنوعي اعضاء که د هغه اړتیا پوره کوي، نو دا تر ټولو ښه کـار دی، مثلن د کولمې یوه برخه یې خرابه شي، ډاکټر ورته کولمه پرېکړي او پـر ځای یې نوره مصنوعي ورته پیوند کړي، هیڅ پروا نه لري، دغه ډول نور هم. د حیوان اعضاء هم پروا نه لري، ځینې کسـان پـه دې کـې د خنزیـر استثنا کوي چې هغه نجس العین دی، مگـر دا خـبره یـې سـهي نـه ده، نجس العین څه معنا؟ په قران کریم کې له مږزگې سره یوځای یـاد شـوی دی، مږزگه نجس العین نه شوه او خنزیر نجس العین شو؟ پـه دې برخـه کې د ټولو محرماتو حکم یو دی، انساني اړتیا ته په کتـو چـې د انسـان د غړي پرېکولو جواز ورکول کېږي، نو ایا حیوان به ترې مستثنا وي؟ که په حیوان دا کار پـوره کېـدی، انسـان دې بیخـي غـړی نـه ور کـوي، ځکـه حرمت دوه ډوله دی: یو هغه حرمت دی چې د کرامت او احترام له امله وي، مثلن د انسان غوښه خوړل حرام دي، ځکه انسان ډېـر محـترم دی، شریعت ور ته شرافت ور کړی دی، نو د هغه خوښه خـوړل لـه دې املـه حرامه شوې ده او بل د نجاست له امله حرمت دی، نو هغـه شـی چـې د نجاست له امله یې حرمت بیان شوی دی، د هغه حرمـت نسـبت دې بـل ته سپک دی، ځکه نو د اړتیا پر وخت اول د همدې سپک لور ته رجوع کېږي، که په هغه سره کار ونه شو، بیا د انساني اعضاؤ جواز او اسـتعمال ته خبره درېږي.

۲۵/۱۱/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما حقیقت او ستا حقیقت

د مطالعې پر وخت له داسې لیکنو سره مخ شوی یم چې لیکوال وايي: دا یو ښکاره حقیقت دی، دا منل شوی حقیقت دی او دې ته ورته نور الفاظ.

په داسې حال کې دا خبره کوي چې کوم شی ته دی د حقیقت نوم ور کوي، هغه په اصل کې یوازې ده ته حقیقت ښکاري، له هغه سره پر خپل دې دریځ خورا ډېر کسان مخالف هم وي، نو بیا د روښانه حقیقت نوم یا منل شوي حقیقت نوم ور کول، سهي کار نه دی.

لیکنه په دغسې عباراتو را پیلول، اصلن له تحقیقي او علمي میتود سره مخالف عمل دی، د یوه شي حقیقت ښکاره کول په دې نه کېږي چې زه یوازې حقیقت ورته ووایم، بلکې منطقي دلایل خپله د یوه حقیقت له مخه پرده پورته کوي البته که په مناسب او متوازن ډول واوډل شي.

زموږ د سیمې زیاتره مذهبي کړی د خپل موقف د بیان مهال همدغه ډول روش خپلوي، دوی زیاتره وخت د خپل دریځ په ملاتړي دلیل پسې سرګردانه وي، د مخالف دلیل او موقف یوازې د دې لپاره ګوري چې خواب یې څنګه پیدا کړي، له دې امله هغوی له ځان سره وختي لا پرېکړه کړې وي چې زما دریځ حق اوثابت دی او د مخالف دریځ مې ناسم او ناثابت دی، ځکه یې نو لیکنه له پیله په داسې الفاظو را پیل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې ښيي دی د موضوع په اړه دلایل نه سره پرتله کوي، بلکې یوه پله درنه نیسي او بله په لوی لاس ورته سپکوي، دا نه د حقیقت ښکاره کولو علمي و څېړنیزه تګلاره ده او نه په دغه توګه چا تر ننه حقیقت ښکاره کړی یا ورته رسېدلی دی.

زموږ لپاره لویه بدمرغي له دې ځایه جوړه ده چې د یوه شي په اړه منطقي او د بل له وجوده ماسیوا فکر نه شو کولای، موږ په هره موضوع کې له ځانه مخالف څوک فرض کړی وي، ځان ته یو دریځ لرو او هغه ته بل دریځ ور کوو، بس ټوله لیکنه پر دې ولاړه وي چې څنګه خپل ځان سلامت ثابت کړم او مخالفت ملامت؛ حیرانتیا به مو هله نوره هم ډېره شي چې د پوهنتون په مونوګراف، تیزس یا د پي ایچ ډي لپاره لیکل شوې رساله کې له عیني حالت سره مخ شي.

سړي ته پوښتنه پیدا شي، چې که د علمي مرکزونو له تحقیق سره دغه ډول چلند وي، نو له دې میدانه بهر به څوک ولې ملامت شي؟ دغه ډول شوې څېړنې هسې په نوم تحقیق وي، که وکتل شي لویه برخه یې ټوله پر نقل ولاړه وي، پلاني داسې ویلي پلاني هغې ویلي، له ځانه یوه خبره نه شته، تحلیل نه شته، ټول د پخوانو تقلید دی او د هغوی پر قدمونو ور پسې روان دي.

سره له دې چې تحقیق کې له لویه سره له ځان سره فرضیه نیول ناسم کار دی، د یوې موضوع ګڼ بعدونه به دې په نظر کې نیولي وي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحقیق لپاره به دې میدان ته څکه راځې چې معلومه کړې کوم لوری یې د دلیل او منطق له مخې پیاوړی دی، د څېړنې په دوران کې که هر لوری درته سهي معلوم شو، له هغه به انکار نه کوې او نه بـه پـه خـوشي چټـې پلمو د هغه له حقیقت منلو ځان خلاصوې.

زموږ د سیمې محققین څه کوي؟ ما تر نن څوک نه دی لیدلی چې د یوې موضوع په اړه یې تحقیق کړی وي، بیا یې دلته د حـاکم ذهنیـت او پخوانو له تګلارې څخه مخالف دریځ نیولی وي، دوی یوازې پخـوانی خبرې له حوالو سره راوړې وي، د مخـالف دریـځ لپـاره یـې د پـلاني و پلاني ځوابونه په ریفرینس کتار کړي وي او د خپل دریځ لپـاره یـې لـه نصوصو سره د پلاني و پلاني خبرې هم کتار کړې وي، بس دغه تحقیق دی او دغه یې د ثابتونې میتود!!!

زموږ په حاکم چاپېریال کې زه له ځان سره فرضیه ږدم هغه مـې سـل سلنه حقیقت منلې ده، تا له ځان سره فرضیه ایښې ده هغه دې سل فیصده حقیقت منلې، نه زه ستا د دریځ په اړه داسې مطالعه کـوم چـې کـه سـمه خبره وه، باید ومنل شي، نه ته زما د موقف په اړه له انصافه ډکـه تګـلاره لرې، یوازې له ځانه په بې عدالته دفاع او د بل په بې انصافه ډکولو زمـوږ کتابونه ډک دي او دغه کیسه له مدرسې تر پوهنتونه پسې غزېدلې ده.

دوی بیا له ځانو سره د غټو محققینو القاب او مختاړي هم کتار کـړي وي، په دوو درو لیکو کې د محقق صاحب نوم نه ځايېږي، چې د کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځپانګې ته ورشي، ځان به ګرموي چې ولې مې په دې سره وخت ضایع کړ، ولې مې پیسې پر ور کړې او د څه لپاره مې په کتابتون کې ځای په ونیوی؟

یو غټ دوکتور دی، د مرتد لپاره د فقهاؤ له سزا یې په دې خاطر دفاع کوله چې په حدیث ثابته ده او خلکو پرې اتفاق کړی دی، مګر د مخالف لوري د قران کریم له ایاتونو څخه یې صرف نظر کاوه، که یو مسلمان په انصاف فکر وکړي، نو د قران کریم ایت به ډېر قوي وي او که د خلکو اجماع یا یو خبر واحد روایت؟ پر دې هم فکر نه کېږي چې که یو څوک اسلام مني، باید په خپله خوښه یې ومني، که د خلکو له امله یو کار وکړي، دې ته ریاء او شرک اصغر ویل کېږي، نو مرتد چې په زور اسلام ته اړ ایستل کېږي، دا خو نوره هم د دین له اړخه کیسه خرابېږي، ایا دلته معقول دریځ د فقهاؤ او د هغه چا دی چې یوه خبر واحد ته یې سر نیولی دی او که د هغه چا دی چې له قران کریم څخه یې د دې مسلې حل ته مخه کړې ده؟ دې ته هم فکر نه کوي چې د انسان مرګ په خبر واحد څنګه روا کېږي؟ ایا خبر واحد دومره باوري دی چې د یوه انسان د مرګ پرېکړه په وشي؟ په داسې حال کې چې همدا فقهاء وایي د حرمت لپاره د قطعي الثبوته او قطعي الدلالته نصوصو اړتیا ده، خبر واحد چې هم د عقل مخالف وي او هم له قران کریم سره اړخ نه لګوي، هغه نه قطعي الثبوته دی او نه د هغې درجې شو چې د انسان مرګ په روا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، له دې هر څه سره يې د مخالف لوري دلايلو ته خوله هم نـه ده ور وړې، نو دا انصاف دی او که دا تحقيق شو؟

موږ يوازې زما حقيقت او ستا حقيقت لرو، درېيم شی چې په واقعيت کې څه دي، هغه نه شته ځکه د واقعيت ليدلو لپاره خلاصې سـترګې پـه کار دي چې له بده مرغه موږ پټۍ پر تړلې دي، د هيچا خلاصې سـترګې نه ايله کوو.

داسې څېړنه چې حقيقت د خپل حقيقت له مخې څه شی دی؟ دغـه شی يا موضوع په اصل واقعيت کې څنګه ده؟ مـوږ نـه کـوو، پـه خـاص ډول زموږ مذهبي کړۍ په دې برخه کې تر وروستي بريده پاته دي او پر دې اړخ يې اصلن فکر لا نه دی کړی چې د يوې موضوع شننه او تحليل دغه ډول بايد وشي يا يې خلک کوي او دا علمي، تحقيقـي، منطقـي او انساني روش هم دی.

موږ حقايق زما او ستا پر حقايقو سره وېشلي دي، درېيم اېشن پکې نه شته، يا به زما خبره مني، زما ملګری يې، يا به زما د مخالف دريځ منـې، زما دښمن يې، د دليل له مخې پر حقيقيت بنا شوی دريځ دلته نه شـته او که څوک يې ولري، هغه تر ټولو ډېر بدنامېږي، دلته که نـوم کـوې هـم د بل پر قدمونو په تګ سره يې کولای شې، که دې دريځ ملاتړ پيدا کوي، هم د اسلافو له تاييد وروسته يې درسره مني، که درناوی دې کېږي هم له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې امله دې کېږي چې د نورو پر لار اونقش قدم روان يې، که يوه نوې خبره دې وکړه، هر څه به دې په اوبو لاهو شي.

دلته نوې خبره حرامه ده، يوازې به نوی پوښ د زړې خبرې لپاره تیاروې، قالب نوی وي، خو محتوا هماغه زړه پکې پرته وي، دا پوښتنه نه کېږي چې د دې نو ګټه څه ده؟ دوی دې په دې تبر وهي چې ښه پخواني نه پوهېدل؟ ته تر هغوی ډېر پوهېږې؟ دا فکر نه کوي چې نو دا مسلې د پخوانو په وخت کې چېرې وې؟ هغوی خو عالم الغیب نه ول چې زموږ د وخت په مسلو به يې هم سر خلاص و او حتمي به يې راته حل کړې هم وي.

زموږ اساسي ستونزه له اسلاف پرستي ده، تر هغو چې خپل مشکلات په خپلو سترګو ونه وینو، په خپل عقل يې درک نه کړو او د حل لپاره يې هم يوازې پر خپلو سترګو، عقل او علم بسنه ونه کړو، له دې ستونزو د وتلو يوه لار هم بله نه شته.

نوره دنيا چې مخته تللې ده، په همدې روش سره تللې ده، هغوی د ساينس په نړۍ کې داسې ثابتې تابلو ګانې (که دا تعبير ورته سهي وګڼل شي) ماتې کړې چې که زموږ په ټولنه کې وای، تر اوسه به هم چا د نیوکې سوچ هم نه پر کولای. دوی حتا په علمي او عملي میدان کې ناسمې ثابتې کړې، همدغه روش هغوی مخته بېولي دي او موږ همدغه زاړه پاله روش شاته کړي یو. تر هغو چې له خپل وخت سره سم د خپلو ستونزو لپاره له خپله عقله کار وانه خلو، په ژوند هم له دې مشکلاتو د وتلو بله لار نه شته، موږ بايد دا شعار ور ګرځو چې د هرې ستونزې حل په خپل عقل او خپل مټ!

۲۱/۱۱/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم ملت او هم امت؛ توازن يې څنګه ساتلای شو؟**

ځينې کسان مې ليدلي دي چې پر ټولنيزو رسنيو يې ليکلي وي: تر هر څه مخکې وطن، بل بيا ليکلي وي: تر هـر شي مخکـې اسـلام، دا دواړه مې په خپلو سترګو ليدلي دي، ښايي څوک بـه وليکـي چـې تـر هـر څـه مخکې اسلامي خلافت، بل به وايي: تر هر شي وړاندې ټول امت، يا هم تر ملت مخکې امت، بل به نو وايي: تر امت مخکې ملت.

که فکر وکړو دلته ټول ياد شوي شـيان ارزښـتونه دي، د هـر يـوه بـل خپل مقام وي، بايد يو له بل سره يې ټکر نه کړو، يو د بل خلاف يې ونه بولو، يو د بل پر ضد يې ونه کار وو، په يوه سره بل ونه وهو، دا چې زه وليکم تر هر څه مخکې پلانی، په دې سره يو بل کس فکر کوي چې دا خو يې د پلاني ارزښت مقام کم کړی دی، نو راشه ته بيا هغه وليکـه، دا کيسه همداسې سره اوږدېږي، خو سالم حل يې نه راوزي.

که د دې په اړه د پوهاوي يو مثال بيان کړم ښايي د پوهاوي لپاره به بد نه وي، هر څوک په خپل کور کې مور و پلار لري، که يو څوک وليکي چې تر هر چا وړاندې مور، بل بيا وليکي چې تر هر چا وړاندې پلار، نو دا کار مناسب دی؟ ايا په کور کې مور و پلار هر يو خپل ځای نه لـري؟ دا خبر سهي ده چې ممکن يو چا ته مور ډېره ګرانه وي يـو چـا تـه پـلار زيات ګران وي، خو يو بل په دې نه خبروي چې ما ته پلاره ته ډېر نه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



گران مور راباندې گرانه ده، په دې سره ښايي د مور او پلار زړه بد شي، مگر هيڅ لاسته راوړنه به ونه لري. هغه شيان چې انسان ته ارزښتونه وي، بايد يو له بل سره يې ټکر نه کړي، هر يوه ته خپل ځای ور کړي او د خپل مقام په اندازه ورته اهميت ور کړي او هم کار ورته وکړي.

وطن انسان ته مهم دی، مگر کله داسې وختونه پېښ شي چې وطن خلک ترک کړي، بل وطن ته کډوال شي او هلته په هغه هيواد پوري يې ټوله راتلونکې وتړله شي، دلته له دې سره چې وطن پاته شو، مگر خپل ايمان، اسلام او امت بيا هم هر يو پر خپل ځای پاته دي او د خپل مقام په تناسب به کار ورته کوي.

يو بل کس بيا له دينه گرځي، هغه ته بيا وطن او ملت مهم دي، خو ايمان، اسلام او امت نور ورته ارزښتونه نه دي، په دې صورت کې بيا دغه کس ته ځينې ارزښتونه بې اهميته شول، خو وطن او ملت پر خپل ځای ور پاته دي او تر خپله وسه به کار ورته کوي.

نو دا هر ارزښت د خلکو ذهنيتونو ته په کتو ښايي يو تر بل سره مهم وي، مگر هر يو پر خپل ځای بيا ارزښت دی، اهميت لري، د يوه په ملاتړ بايد بل ته لخته ورنه کړل شي، د يوه په را ټينگولو بل ترک نه شي، يوه ته په اهميت ور کولو بل بې اهميته نه شي.

که انسان اجتماعي ژوند ته نظر وکړي، د اوسېدو لپاره هيواد ته نظر وکړي، د ملاتړ لپاره ملت ته فکر وکړي، نو وطن او ملت په دې لحاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیخي ډېر مهم دي او تر بل هر ارزښت په دې برخه اولویت لـري. اوس که بل لور ته نظر وکړو، یو کس له اجتماعي ژوند سره انفرادي ژوند هـم لري، په اجتماعي ژوند کې ځینې داسې اړخونه دي چې دین ډېر زیـات مثبت تاثیر پرې لري، هماعه ورسره په نظر کې ونیول شي، د انسان رواني حالت، اخرت، پر خدای له ایمانه ورتـه را پیـدا مثبـت اړخونـو تـه فکـر وشي، نـو بیـا پـه دې ځـای کـې دیـن، اسـلام او ایـمان تـر بـل هـر شي لومړیتوب لري. هدف دا چې هـر یـو مهـم دی، کـه لـه یـوې زاویـې را وګورې، نو یو تر بل هر شي ډېر مهم ښکاري او که له بلـې زاویـې ورتـه نظر وکړې، نو بل مهم شي.

اوس بلې دریڅې ته درېږو، یو کس له وطنه لرې ولاړ، هغه ته د وطن هغه اهمیت چې پخوا یې په زړه کې ورته درلود، سوکه سـوکه کـم شـو، ځکه ټوله اینده یې له بل هیواد سره وتړل شـوه، مګـر لـه دې سره کلـک مسلمان پاته شو، هغه ته که وطن ارزښت هم وي، نـو ښـایي د نـورو پـه نسبت ورته لومړیتوب ونه لري، ایمان او اسلام د خپل شخصي ـ ژونـد او اخرت له امله ورته ډېر مهم وي. یو بل کس لـه وطنـه نـه وزي، همدلتـه اوسي، خو دغه باریک ټکي ته نه متوجې کېږي، لـه وطـن او ملـت سره مینه ورته ګنا ښکاري، له دې امله تر هر څه ورته اسلام او دین لومړیتوب ولري، د وطن او ملت په کیسه کې نه وي، موږ دغه ډول کسان په خپـل ژوند کې بیخي ډېر لیدلي دي. د دې وروستي ډول بـرخلاف بیـا ځینـې کسان داسې دي چې دین او اسلام ورته ارزښت نه لري، هغه یوازې وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ملت مهم بولي، له دې امله د دې مخکینو برخلاف وطن او ملت ورته هر څه وي، ایمان، اسلام او دین بیخي بې اهمیته وبولي، دوی هم دغه نکته نه ده درک کړې چې که ما ته ارزښتونه نه دي، نو په کوم هیواد او ملت کې چې زه اوسم دا ټول د هغوی لپاره ارزښتونه دي، د خپل ځان لپاره، د ملت او وطن لپاره باید ارزښت یې وګڼم، که عمل نه په کوم برملا یې سپکاوی هم ونه کړم، ما ته دې وطن او ملت مهم وي، خو دا چې زما پلار، ورورو، خور، مور، لنډه دا ټول هیوادوال پر دې ارزښت سرونه قربانوي، نو زه د هغوی د احترام له امله ورته په ارزښت قایلېږم او هغومره درناوی یې کوم چې څومره ورسره مناسب او د قانون و انسانیت په رڼا کې ده ته معقول بریښي.

هغه څوک ما ته نارمل انسان نه ښکاري چې یا د دین په ارزښت د وطن ارزښت کموي یا د امت په ارزښت د ملت ارزښت ته زیان رسوي، انسان په خپل ژوند کې دې ټولو ته اړتیا لري، د اوسېدو لپاره وطن مهم دی، د اجتماع لپاره ملت مهم دی، د نړۍ والې سولې او ورورګلوۍ لپاره که امت په سمه معنا وپېژندل شي، ترمنځ یې مشترک ټکي وموندل شي او په د اوس وخت په اصطلاح یوه اسلامي اتحادیه جوړه شي، نو هیڅ تاوان نه لري، بلکې ګڼو غریبونو هیوادونو ته به ډېره ګټه هم ولري، دا پر خپل ځای یو ارزښت دی چې که سالم کار ورته وشي، انسانانو ته به یې ډېره فایده ورسېږي، د انسان د خپل سکون او اخرت لپاره ایمان او دین مهم دي، یو نارمل انسان ښایي دغه ډول فکر ورته وکړي، هر ارزښت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ځای پیدا کړي، څومره چې ده ته مهم ښکاري په هغه کچه لـه هـر یوه سره مینه وکړي، کار ورته وکړي په ټول ژوند کې دومره ورته اهمیـت ور کړي څومره چې ده ته ارزښت لري، داسې ونه کـړي چـې د یـوه پـه ملاتړ بل ټپله کړي، د یوه په مینه کې له بل سره کرکه وکړي، په یوه سترګه یوه شي ته د ارزښت په توګه وګوري او بـل تـه بیـا پـه دې بلـه سـترګه د دښمنۍ کاته زده کړي، دا غیر انسان رویه ده، له افـراط او تفـریط څخـه خالي نه ده، انسان ته د اعتدال مسلك مناسب دی، د یوه شي په اړه باید واقعبینه اوسو، پر هر شي د هغه په خپل ذات کې فکر وکړو، نه دا چې له بل سره یې په تقابل کې کښېردو، بیا ور باندې له یوې زاویې فکر وکړو، په دې توګه موږ هغه واقعیت چې زموږ پر سترګو د شته عینکو لـه املـه را څخه پټ پاتېږي، نه شـو لیـدلای، د دې لپـاره چـې د هـیڅ شي د مینـې عینکې له موږ څخه واقعیت پټ نه کړي، د یوه شي خپل اهمیت را څخه وانخلي، باید لومړی د هر شي په اړه د هغه د ذات له مخې فکر وشي.

۲۳/۱۱/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنس بدلول

د جنس بدلولو په اړه درې دریځه وجود لري، مطلق ناروا، مطلق روا او په خاصو حالاتو کې له ځینو شرایطو سره روا.

که د انسان د پیدایښت په اړه فکر وشي، یوازې مادي ژوند ته فکر ونه شي او نه دغه ژوند د انسان لپاره اصلي ژوند وبلل شي، نو بیا د انسان تمرکز تر دې خاورین بدن او دې مادي ژوند باید پر اخرت او روح زیات وي، په دې ژوند کې موږ ته یوه د واک ساحه ده او یوه ساحه د مجبوریت ده. د انسان په جنس ټاکنه کې د هغه واک نه شته، له دې امله باید لاسوهنه پکې ونه شي، مګر که اشد ضرورت وي. د خدای له لوري دغه ډول دوه رنګه حیات همدې ته اشاره کوي چې په ځینو شیانو کې ستاسو واک باید نه وي، بلکې تاسو باید د قانون پیروي وکړئ، د انسان جوړښت هم داسې دی چې د دغه دریځ لپاره دلایل پکې شته.

موږ په طبیعي لحاظ تر ځینو جبري قوانینو لاندې ژوند کوو، د هغوله تاثیره موږ ځانونه نه شو ایستلای، دا زموږ د جبر اړخ دی، بل بیا خوا داسې دایره هم لرو چې زموږ اختیار پکې چلیږي، یا موږ د ځینو وسایلو په کارولو کولای شو چې د طبیعي قانون جبر مات کړو او په هغه نیمه خود مختاره دایره کې هم د ازادۍ احساس وکړو، دغه اړخ مو د واک دی. په یوه انسان کې د دې دوو اړخونو امتزاج ته په کتو داسې ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زموږ د واک پر ساحه هم باید ځینې قوانین د هغه چا له لوري نافذ وي چې زموږ روان او فزیکي وجود یې په جبري ډول تر ځینو قوانینو لاندې راوستلی دی. د واک په دغه دایره کې هم زموږ لپاره قانون شته او هغه د قران کریم په شکل کې له انسانانو سره محفوظ دی، دلته په قران کریم کې الله تعالی یوازې انسان دغه مادي جوړښت نه بولي، بلکې د قران کریم ادعا پر دې خوا ته چې له دې وجود پرته هم انسان وجود لري او د انسان اصل حقیقت هماغه دی، د هغه حقیقت ته په کتو نو بیا دغه ژوند هدف نه دی، بلکې له دې ور هاخوا هم د ژوند یو بل پړاو شته او د هغه لپاره باید انسان په دې دنیا کې تیاري وکړي، دغه تیاري د الهي قوانینو په رڼا کې امکان لري او د هغه ژوند لپاره تکاملي سیر د همدې الهي وحې په رڼا کې شونی دی، نو ځکه باید د ځینو طبیعي قوانینو ماتېدا ته بې ځایه زړه ښه نه کړو او هسې د فطرت له قانون د مخالفت لپاره پلمې ونه لټوو.

له دې فطرت څخه د ځان ایستلو لپاره یوازې د ضرورت له مخې اجازه شته، هغه هم د داسې چا لپاره چې په نارینه یا ښځینه جنس کې نه وي داخل، بلکې له دې پرته نرښځی وي، زموږ په ټولنه کې د هغو لپاره ژوند ډېر ستونزمن دی، بیا که ځینې کسان ظاهرن نر وزمه وي او په فزیکي لحاظ ښځینه صفات ولري، یا هم ظاهرن ښځینه وزمه وي، او په بدن کې یې نروانو ته مشابهت زیات وي، یا که داسې وي چې سره ګډوډ وي، نه په جسم کې یوه لور ته کامل مشابهت لري او نه بل ته، بلکې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مابينځ پاته وي، دا مشکلترينه طبقه هم ده چې دوی ټول د خپل عذر له مخې کولای شي چې يا د نر لور ته د ځان بدلولو عملياتو ته اجازه ليک پيدا کړي او يا هم ښځينه جنس ته.

په قران کريم کې د انسانانو دوه جنسه عمومن ذکر کېږي، يو يې ذکر (نارينه) او بل يې انثی (ښځينه) دی (الحجرات: ۳)، دا چې له دې پرته هم په انسانانو کې يو بل جنس شته، له دې ښکاري چې د عمومي فطرت برخلاف دغه جنس رامنځته شوی دی، دا چې عوامل يې څه دي؟ بايد ډاکټران دا خبره روښانه کړي چې ولې له نر او ښځې څخه يو بل مخالف جنس پيدا کېږي؟ ښايي زموږ فزيکي يا محيطي عوامل پکې رول ولري، خو له دې هر څه سره، هغوی حق لري چې د عملياتو په کولو هغه جنس ته ځان بدل کړي چې دوی ورته خپله ميلان لري. ځکه دوی له عمومي فطري قانون څخه په يوه استثنايي توګه را منځته شوي دي، نو د هغوی لپاره د شريعت په عمومي قانون کې استثنا وجود لري، بايد په قانون کې هم ورته ومنل شي او انساني اخلاقياتو کې هم د هغوی په اړه منفي فکر ونه شي. د هغوی جنس بدلول يوه غير اخلاقي کړنه ونه ګڼل شي، قانون دا د جرم په توګه ثبت نه کړي او شريعت پوهان هم په دې اړه له نرمښت څخه کار واخلي او د حالاتو په نظر کې نيولو سره د هغوی ستونزه درک کړي او د حل لپاره يې له شرعي متن څخه د تساهل او اساني تعبير ته لار جوړه کړي.

عام انسانان په دې حکم کې نه دي داخل، يوه ښځه نه شي کولای چې ځان نارينه جنس ته بدل کړي، او نه يو نر کولای شي چې ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځینه جنس ته واړوي، دوی ته شرعن اجازه نه شته، حتا که میلان یې خپل مخالف جنس ته وي، دا جبر یوازې پر یوه کس نه دی او نه پر یوه خاصه طبقه دی، بلکې ټول انسانان تر همدې جبر لاندې ژوند کوي، له دې امله باید ځنې شکایت هم ونه شي، په خپل ژوند کې مقاومت وکړي او خپل طبیعي ژوند په هغه توګه مخته یو سي لکه نور انسانان چې ژوند کوي، د یو چا ذهني ژور خپګان دې د دې سبب نه ګني چې هغه که خپل جنس بدل کړي، نو دغه خپګان به یې رفع شي، دوی په خپل فزیکي جوړښت کې مشکل نه لري، یوازې له چاپېریال سره یې ستونزه ده او هغه په رواني تکلیف اخته کړي دي، نو باید د همدې چاپېریال پر ضد مبارزه وشي، نه دا چې یوه ناسم کار ته لار جوړه شي. د جنس په بدلولو سره دا ستونزه پای ته نه رسېږي، مثلن که له ښځینه قِشرـ سره غیر انساني سلوک کېږي او هغوی له دې په تکلیف وي، نو ځومره تعداد ښځې به دا کار وکړي؟ ټولې خو نه شي کولای، او نه د یو ځو ښځو په دې کار سره دغه ستونزه هوارېږي، له دې امله باید ناسم کار ته د جواز پلمې ونه لټولې شي، هغه ځوک چې واقعن مشکل لري، دا یوازې هغه ځوک دي چې موږ ورته نرځښیان وایو، عرب یې خنثی بولي، دوی په خپل فزیکي جوړښت کې ستونزه لري، دوی له رواني ستونزې سره جسمي مشکل هم لري، په ټولنه کې هم په ښه سترګه نه ورته کتل کېږي، دا ټول عذرونه چې سره یوځای شي، نو د هغوی لپاره په شریعت، قانون او اخلاقیاتو کې د جواز لار موندلای شي، خو دا یوازې تر همدې جنس پورې خاص ده نه د بل چا لپاره.

۲۸/۱۱/۲۰۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مراجع

۱)قران کریم.

۲)بخاري، محمد بن اسماعيل، صحيح البخاري، دار طوق النجاة، کال: ۱۴۲۲هق.

۳)قشيري، ابو الحسن مسلم بن الحجاج، صحيح مسلم، دار احياء التراث العربي، بيروت.

۴)سجستاني، ابوداؤد سليمان بن الاشعث، سنن ابي داؤد، المكتبة العصرية، صيدا-بيروت.

۵) ابو عيسى، محمد بن عيس بن سورة، الجامع الكبير سنن الترمذي، دار الغرب الاسلامي-بيروت.

٦)قاسمي، محمد جمال الدين بن محمد، محاسن التاويل، د محمد باسل عيون السود په تحقيق، د دار الكتب العلمية بيروت چاپ، ۱۴۱۸هـ.

۷) معجم اللغة العربية المعاصره، د احمد مختار عبد الحميد عمر او يوې ډلې تاليف، د عالم الكتب چاپ، لومړی چاپ: ۱۴۲۹هـ ۲۰۰۸م، څلور ټوکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸)الباني، ابو عبد الرحمن محمد ناصر الدين، جلباب المرأة المسلمة في الكتاب والسنة، د دار السلام چاپ، ۲۰۰۲م کال.

۹)الموسوعة الفقيه الكويتية، د کويټ د حج او اوقافو وزارت، ۴۵ ټوکه، لومړی چاپ له ۱۴۰۴ تر ۱۴۲۷هـ پوري.

۱۰)الشاشي، ظام الدين أبو علي أحمد بن محمد بن إسحاق، اصول الشاشي، دار الكتاب العربي بيروت.

۱۱)رازي، حمد بن فارس بن زكرياء القزويني الرازي، أبو الحسين، مجمل اللغة، د زهير عبد المحسن سلطان په تحقيق، دوه ټوکه، ۱۹۸٦م.

۱۲)ابو زيد، نصر حامد ابو زيد، نقد الخطاب الديني، د سينا للنشر چاپ، ۱۹۹۴م.

۱۳)حلبي، براهيم بن محمد بن إبراهيم الحَلَبي الحنفي، مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر، د خليل عمران المنصور په تحقيق او تخريج، څلور ټوکه، د دار الكتب العلمية چاپ، ۱۹۹۸م.

۱۴)حنفي، ابو الفضل، عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي، الاختيار لتعليل المختار، د لشيخ محمود أبو دقيقة په تعليق، پنځه ټوکه، ۱۹۳۷م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵) شيباني، أبو عبد الله محمد بن الحسن بن فرقد الشيباني، الحجة على اهل المدينة، د مهدي حسن الكيلاني القادري په تحقيق، څلور ټوکه، د عالم الكتب بيروت چاپ، دويم چاپ ۱۴۰۳هـ.

۱۶)پرويز، غلام احمد پرويز، انسان نې كيا سوچا، د طلوع اسلام ټرسټ چاپ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**